موضوع : متضادي كلمې معلومول

د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۵ – ۲ متن يو خل بيا لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۲۵– ۲
۲. په متضاده كلمه د زده كوونكو د پوهولو له پاره د ښوونكي له خوا لاړښوونه كول : الف- دوه كاڼي ، يو غټ او يو وړوكى ، د توپيرونو د معلومولو په باره كې پوښتنه كول . ب – پر توره تخته يوه دايره او يوه مربع جوړول . ج – متضادي كلمې ويل : وړوكى ، غټ ، غونډى ، ځلور ګوټيز ، دروند ، سپك .	دوه كاڼې تـــوره تختـــه
۳. د زده كوونكو له خوا د متضادو كلمو نور مثالونه معلومول ، د ښوونكي له خوا مرسته كول : د يوه زده كوونكي درېدل او هغه كلمې معلومول او ويل چې يوه متضاده كلمه لري ؛ د نورو له خوا قياس كول او د متضادي كلمې ويل ؛ مثلاً : ژمى ، اوړى ، د ښوونكي له خوا ډېرو زده كوونكو ته موقع وركول چې د متضادي كلمې پوښتنه وكړي (مثالونه : دننه ، دباندې ، پاس ، لاندې ، ورځ ، شپه ، تور ، سپين) او داسې نور .	
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۵ – ۳ كار كول : الف – د كتارونو او ستونونو كلمې لوستل وړومبى له يوه انډيوال سره او بيا تولګي ته . ب - خان پوهول چې د كتار كلمې ستون له كلمو سره د متاضدو كلمو جوړې جوړ وي . ج - د جوړو ويل . د - د كتارونو كلمې د ستونونو په مناسبو خايونو كې ليكل چې د متضادو كلمو صحيح جوړې جوړې شي . هـ - جوړې تولګي ته لوستل .	مشـــق پـــاڼه پ۲– ۲۵– ۳
۵. په خاموشي سره كار كول : الف - په لاندينۍ برخه كې جملې لوستل . ب - د پاسنۍ برخې غيبې كلمې ليكل . ج – د لوستلو مشق كول . د- په خالي خايونو كې د ليكل شويو كلمو پر سلېتونو مشق كول .	
۶. تولګي ته يوه په بلې پسې د جملو لوستل .	

د ستونونو د كلمو ضد كلمې دي، د كتارونو په كلمو كې پيدا او په مربوطو تشو خايونو كې ليكل شي
د جملو تش خايونه دي په مناسبو كلمو ډك شي.

پ۱	۲۵-۳

سپك لوند مځكه سيوري سپين
نوى تېټ پخ ژمى مانبام شپه تياره

لمر ـــــ اوړى ـــــ
رڼا ـــــ اوچت ـــــ
ورځ ..... وچ ـــــ
اسمان ..... زوړ ـــــ
ګرم ..... دروند ـــــ
تور ..... سپېڅلى ـــــ

خلك په ژمي كې لمر ته اوږه ـــــ كې ـــــ ته كښيني .
زما كتاب نوى دى او ستا كتاب ـــــ دى .
د ورځې رڼا وي او د شپې ..... وي .
د چا ژمى خوښ وي او د چا ..... .
برګر سهار په پټيو كې كار كوي او ـــــ كور ته راځي .
اسمان پاس دى او ..... لاندې ده .
ورځ د كار له پاره وي او ..... د آرام له پاره .
موټر دروند او بايسكل ..... وي .

درسي پلان ۳۶ ب۲ - ۲۶ - ۱	موضوع : يوازې لمر شيان نه تودوي (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- اعلاتول چې تاسو به اوس يوه تجربه کوئ . - د ښوونکی له خوا د لاسونو مينځل زده کوونکو ته ويل چې تاسو هم خپل لاسونه سره ومينځئ ! اول ورو غوندې او بيا تهز او سخت ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه پېښيږي هغه په غور سره وګوري . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لاسونو په مينځلو سره چې څه پېښيږي هغه ووايي . - د يوې بلې تجربې اعلان کول ؛ زده کوونکو ته ويل چې په ډيرې توجه سره مشاهده وکړي . - د يوه تيلي بلول چې تول زده کوونکي يې په سترګو ليداى شي ؛ په زده کوونکو د دغه عمل تشريح کول . - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې تيلى ولې له واره ولګېدو ؟ په دې مطلب ياندې په پوهولو کې مرسته کول چې تيلى اول ګرم شو او بيا ولګيدو . - په ډهرو مثالونو د زده کوونکو لازښوونه کول : په تيلي سره څه شى اور اخلي ؟ (۲) د مختلفو شيانو بيا بيا ښودل ؛ پوښتنه کول چې دا شى اور اخلي او که نه ؟ شي ته د اور اچولو کوشش کول (ځينو شيانو لکه کاغذ يا شمع ته اول له لرې او بيا له نږدې څخه لګيدلى تيلى نيول) . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي دا تجربې څه را ښيي .	*۱. يوه تجربه کول او بحث پرې کول :* - غوږ نيول ، خان تيارول . - غوږ نيول ؛ د ښوونکي د لاسونو مينځلو ته په غور کتل ؛ د خپلو لاسونو مينځل . - ويل چې د لاسونو په مينځلو سره لاسونه ګرميږي ؛ معلومول چې لاسونه څومره کلك ومينځل شي هغومره ډېر تودېږي . - غوږ نيول ، متوجه کېدل . - په غور سره کتل ، تشريح کول چې په مينځلو سره تيلى څنګه بل شو . - معلومول او پوهيدل چې په مينځلو تيلى اول ګرميږي او بيا اور اخلي . - مشاهده کول ، د خپلو توقعاتو اظهار کول ، دليلونه ويل چې دا شيان اور اخلي او که نه ؛ معلومول چې د اور اخيستلو له پاره مختلف شيان مختلف مقدار حرارت (تودوخې) ته ضرورت لري . - ويل چې د لاسونو له مينځلو څخه تودوخه پيدا کيږي ؛ اور ګرمول کوي ، اور رڼا هم کوي ، د شيانو د بلولو له پاره د حرارت (تودوخې) يو خاص مقدار ته ضرورت وي .	د اور لګيت ډبلى له تيلي سره مختلف شيان څه کاغذونه ، يوه شمع ، يو وچ لرګى ، د توکر يوه توته ، دوه بکرى (کله پيدا کېدلې) .
- د مشق پاڼې پ۲ - ۲۶ - ۱ دمطالعه کولو او څه چې په کې ويني د هغه د ويلو غوښتنه کول . - له زده کوونکو غوښتل چې معلوم کړي د مشق پاڼې د پاسنې کتار په درې رسمونو کې څه شى مشترك دى . - له زده کوونکو څخه غوښتل چې معلوم کړي په لاندنيو درې وارو رسمونو کې څه شى مشترك دى . - له زده کووتکو څخه د نورو داسې مثالونو د معلومولو غوښتنه کول چې له اور څخه د شيانو د ګرمولو له پاره کار په کې اخيستل کيږي .	*۲. د اور د استعمال په اړه په رسمونو باندې خان پوهول :* - د مشق پاڼې مطالعه کول او د ښه ښه رسم تشريح کول . - معلومول چې دغه درې رسمونه په مخکنيو تجربو پورې اړه لري : د مينځلو يا په يو بل د وهلو په وسيله تودوخه يا اور پيدا کيږي . - تشريح کول او پوهيدل چې په دې درې رسمونو کې اور د شيانو د ګرمولو له پاره استعمال شوى دى . - دمثالونو پيدا کول ؛ لکه : چاى تيارول ؛ ډوډۍ پخول ؛ له ګنيو څخه بوره جوړول ؛ خښتې پخول او داسې نور .	مشق پاڼه پ۲- ۲۶- ۱

- د مشق پاڼې پ۲ - ۲۶ - ۱ دعنوان د لوستلو غوښتنه کول . - تر رسمونو لاندې د بهل بهل عبارت د لوستلو غوښتنه کول ؛ د یوه زده کوونکي له خوا د یوې جملې تر لوستلو وروسته ، هغه پر توره تخته لیکل . - غوښتنه کول چې له اشاري سره سم عبارتونه ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر تخته لیکل شوي عبارتونه په ساده جملو کې استعمال کړي ؛ د هر رسم له پاره یوه جمله پر توره تخته لیکل . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له اندیوالاتو سره دغه جملې ولولي او بیا یې څو څو خله سلېتونو ته نقل کړي .	*۳. دنویو کلمو لوستل :* - څو څو خله د دغه عنوان لوستل . - تر رسمونو لاندې کلمې یوه په بلې پسې لوستل . - په ګډه یې لوستل . - دغه کلمې په ساده جملو کې استعمالول ؛ لکه : هلك خپل لاسونه مینې . خلك له اور څخه چاپېره کېني . مور پخلی کوي . او داسې نور . جملې په خاموشۍ سره لوستل . - له اندیوالاتو سره ددغو جملو لوستل ؛ سلېتونو ته یې بنه بنایسته نقلول .	

(۱) په درسې پلانونو پ۲ - ۲۵ - ۱ او پ۲ - ۲۶ - ۱ دوارو کې تودوخه (حرارت) د بحث موضوع ده. نو په پ۲ - ۲۵ - ۱ د رسې پلان کې لمر د تودوخې د لویې منبع په حیث اوبه درسې پلان پ۲ - ۲۶ - ۱ کې تري هغه تودوخه مراد ده چې خلك یې په وسیله په مختلفو طریقو پیدا کوي . ماشومانو ته به ډېرې ډېرې موقعې ورکول کیږي چې د دې عنوان په باره کې زده کړه وکړي .

(۲) بنوونکی به تجربې په داسې طریقه ترتیبوي چې زده کوونکي پرې بنه وپوهیږي او زده یې کړي چې اور تودوخه تولیدوي او په دې هم وپوهیږي چې د یوه شي د بلولو یا لګولو له پاره کافي تودخې ته ضرورت دی . د تودوخې دا مقدار د ډېلو ډېلو شیانو له پاره مختلف دی . تیلي یا د شمعې لمبې ته په مختلفو فاصلو کې په لاس نیولو زده کوونکي دا معلومات او تجربه حاصله کړي چې تودوخه په فاصلې پورې څومره اړه لري : له دې څخه دا معلومیږي چې که کاغذ لمبې ته نژدې ونیول شي نو اور اخلي .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي . ودې ویل شي چې د لومړي کتار په رسمونو کې څه شی مشترک دی ؟ دغه راز ، د دوهم کتار په رسمونو کې څه شی مشترک دی ؟ تر رسمونو لاندې عبارتونه دې ولوستل او د هر یوه له پاره دې یوه یوه جمله وویله شي :

موضوع : اور رڼا هم کوي	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د تېري ورځې تجربې رايادول . ۲. را په زړه کول چې اور څنګه تودوخه پيدا کوي (مثلا په دوډۍ پخولو کې) . ۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ – ۲ کار کول : الف - رسمونه تشريح کول ؛ معلومول چې ټول شيان رڼا کوي ؛ معلومول چې د برېښنا له څراغ څخه پرته نور ټول شيان له اور سره تړلي دي ؛ معلومول چې د برېښنا په څراغ کې اور نشته خو ډېر ګرم دی او برېښنا ته ضرورت لري . ب - پر دې تجربو خبرې کول چې دا شيان چېرته او کله د رڼا له پاره استعماليږي . ۴. د عنوان لوستل او خان پرې پوهول . ۵. له يوه انډيوال سره په چپه خوله کار کول : الف - د جملو لوستل ، جملې له اړونده رسم سره تطبيقول ، تر رسم لاندې بکس کې د اړونده جملې شمېر ليکل . ب - وار په وار د جملو د لوستلو مشق کول . ۶. ببله ببله جمله ټولګي ته لوستل . ۷. دغه جملې سلېټونو ته نقلول او مشق يې کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ – ۱ سلېټونه

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي جملې دې ولوستلې او شمېرې يې دې تر مربوط رسم لاندې وليکلې شي :



اور رڼا لري .

۱ اور تياره کوټه رڼا کوي .

۲ د تيلي له لګولو سره رڼا پيدا کيږي

۳ شمع د رڼا کولو له پاره ده .

۴ لاتين هم د رڼا له پاره دی .

۵ ډېوه لږه رڼا کوي .

۶ خو ګروپ ډېره رڼا لري .

موضوع : ځيني شيان اور اخلي او ځيني يې نه اخلي ؛ اور ګټه هم لري او ضرر هم	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۶ – ۲ جملې يو خل بيا لوستل او په دې باره کې خبرې کول چې د رسمونو په ارتباط يې نور څه زده کړې دي .	مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ – ۲
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ – ۳ کار کول : الف - شيانو ته کتل ، نومونه يې اخيستل او تشريح کول . ب – عنوان لوستل ، خان پرې پوهول او معلومول چې دوی به پر هغو شيانو باندې د صحيح نښه (✓) لګوي چې اور اخلي او په هغو شيانو به د چليپا نښه(×) لګوي چې اور نه اخلي . ج – له غوښتنې سره سم د صحيح او غلط نښې لګول . د - څه چې يې صحيح يا غلط ګڼلي دي په دليل سره يې ثابتول .	مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ – ۳
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ - ۴ کار کول : الف - د ښوونکي له خوا د مشق پاڼې د کېن ستون نوې کلمې پر توره تخته ليکل. ب- هره يوه کلمه د ښوونکي په مرسته لوستل (جلا جلا او په ګډه سره). ج – له اندېوال سره يو خای د مشق پاڼې متن لوستل . د- څه چې ور په زړه کېږي هغه ټولګي ته ويل ؛ پر تفصيلاتو بحث کول . هـ - ټولګي ته د متن لوستل ، يو ز ده کوونکی يوه جمله . و – د خپلې خوښې څلور جملې پر سلېټونو ليکل .	مشق پاڼه پ۲ – ۲۶ – ۴ سلېټونه

د رسمونو نومونه دي واخيستل او تشريح دي شي . هغه شيان چې اور اخلي ټيک مارک (✓) او هغه چې اور نه اخلي چليپا (✗) دي شي :

د متن تر لوستلو دمخه دي د ستون دکلمو د لوستلو او ليکلو مشق و شي :

پ۲ ۲۶ - ۴
خطر
ګټه
خښتې
پخېږي
چاپېره
احيتاط
سوځي
سوځوي

اور هم خطر لري او هم ګټه

مور په اور پخلی کوي . خښتې هم په اور پخېږي .
په ژمي کې خلګ له اور څخه چاپېره کښيني .
خلک د اور له رنا څخه کار اخلي .
که احتياط ونه شي ، نو په اور انسان سوځي .
اورکور سوځوي . په اور جامې سوځي .
اور د پر شيان سوځوي . نو احتياط وکړئ چې له اور څخه ځانونه وساتئ !

درسي پلان ۲۷
ب۳ – ۲۷ – ۱

موضوع : نظافت : لاسونه مينځل د ځان د نظافت ساتلو يوه مهمه برخه ده (۱)

د بنوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱. پر يوه رسم بحث کول :	
– د لاسونو مينځلو د يوه فعاليت تصويري کارډ ښودل ؛ ورته د کتلو غوښتنه کول او څه چې په کې ويني د هغه بيانول . (۲)	– رسم ته کتل ، د شيانو او حالت پېژندل او بيانول .	د يوه فعاليت تصويري کارډ يا مشق پانه پ۲ – ۲۷ – ۱
– د لاسونو مينځلو په باره کې د خبرو لارښوونه کول ؛ ممکن سوالونه دا دي : • په رسم کې ښودل شوي هلکان څه وخت خپل لاسونه مينځي ؟ • دوی ولې خپل لاسونه مينځي ؟ • دوی خپل لاسونه څنګه مينځي ؟ • دوی په رسم کې له ښودل شويو شيانو سره څه کوي ؟	– بحث کول چې په رسم کې هلکان خپل لاسونه څه وخت، ولې اوځنګه مينځي د ببلو ببلو زده کوونکو بيانونه ورکول ؛ د نورو غوږ نيول او تبصري کول .	
	۲. د نظافت د ضرورت په باره کې خبرې کول :	
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی کله او چېرته لاسونه مينځي ؟	– له لاسونو مينځلو سره د خپلو اړوندو تجربو / عادتونو په باره کې خبرې کول .	د لاسونو د مينځلو لوښی
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لاسونو مينځل عملاً وښيي . (۳)	– د يو څو زده کوونکو له خوا د لاسونو مينځل عملاً ښودل ؛ د نورو ورته کتل ، تبصري کول ، اصلاح کول .	
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې تولګيوالو يې خپل لاسونه څنګه مينځل ؟	– د جلا جلا زده کوونکو له ببل ببل قدمونه په تفصيل سره بيانول او د ضروري لوښو نومونه اخيستل ؛ د نورو غوږ نيول او تبصري کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لاسونو له مينځلو له پاره څه ضروري دي هغه تکرار کړي ؛ د زده کوونکو له خوا ښودل شوي کلمې (اوبه، صابون، ځان پاکی) پر توره تخته ليکل ؛ له زده کوونکو څخه يې د لوستلو غوښتنه کول . (۴)	– په چپه خوله او لوړ آواز د شيانو نومونه اخيستل : اوبه ، صابون ، ځان پاکي .	توره تخته
– له زده کوونکو څخه په دې خبره د فکر کولو غوښتنه کول چې د دوی لاسونه او نور شيان ولې صفا ساتل په کار دي ؟ د خبرو لارښوونه کول .	– د ګنده ګي دخطر په باره کې خبرې کول؛ مثلاً: ګندګي خواړه خرابوي. خيری زخم کې داخليږي او خرابوي يې . او داسې نور ؛ د مچانو او نورو چنجيو په باره کې هم خبرې کول چې ګندګي هر ځای جراثيم ور انتقالوي .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي خپل ځان ، خپل کور او خپل خواړه به څنګه صفا ساتي .	– څه چې کول په کار دي ، هغه ويل ؛ مثلاً : هره ورځ کور جارو کول ، جامې مينځل ، خواړه پټول ، بدن مينځل (لاښل) ، غاښونه صفا کول او داسې نور .	
	۳. يو متن لوستل :	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ – ۲۷ – ۱ مطالعه کړي .	– مشق پانه مطالعه کول ، په کوم رسم چې دوی دمخه خبرې کړې دي ، هغه پېژندل .	مشق پانه پ۲ – ۲۷ – ۱
– ويل چې اوس به دوی د متن ګراني کلمې (ساتل ، پاک ، خوراک ، نوکان) ؛ پر توره تخته يې يوه په بلې پسې ښه ښايسته ليکل؛په لوستلوکې مرسته يې کول	– غوږ نيول ، د کلمو د لوستلو کوشش کول ، دا لوستل ، کلمې جلا جلا اوپه ګډه لوستل .	

– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له انډيوال سره د متن هره جمله ولولي .	– جملې په دوه دوه کسه لوستل .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ټول متن ولولي.	– د جلا جلا زده کوونکو له خوا جملې لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) .	تـــوره تختـــه
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې ټولګي ته ولولي .	– د جلا جلا زده کوونکو له خوا د ټول متـن لوسـتل، د نورو له خوا ورته په خاموشۍ غوږ نيول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د وروستۍ او آخرۍ جملې مشق پر سلښټونو تر هغه وکړي چې په آسانه يې وليکلای شي.	– وروستۍ او آخرۍ جمله سلښټونو ته نقلول .	
– زده کوونکو ته ويل چې رسم رنګ کړي .	– رسم رنګول .	سلښټونه

(۱) نظافت يو ډېر مهم عنوان دی . د يوه صحتمند ژوند د تېرولو له پاره د خان او چاپېريال پاک ساتل ضروري شرط دی . زده کوونکو ته د يو ښه مثال د ښودلو په غرض ښوونکي ته خان پاک ساتل په کار دي . په دې درسيَ واحد کې يوازې دا کافي نه ده چې زده کوونکي د پاکوالی په باره کې خبرې يا لوستل او ليکل وکړي ؛ بلکې ځومره چې ممکن وي د مختلفو فعاليتونو مشق دې وکړي . له دې کبله په کار ده چې د ضرورت وړ په ټولګي کې وي .

(۲) که د ټولګي مخې ته يو لوی رسم وي نو بحث به ښه وشي . ځکه چې د زده کوونکو توجه به د ټولګي مخې ته را ګرځيدلې وي . که چېرې د يوه فعاليت تصويري کارډ نه وي نو درس به د کار کتابونو له رسم څخه شروع کيږي .

(۳) د دې له پاره چې يو څو زده کوونکي په خاص ډول د لاسونو د مينځلو عملي مشق وکړای شي نو په رسم کې د ښودل شويو لوښو په شان يو لوښی ، يو صابون او يو خان پاکی دي وي . د مشق کولو له پاره به کافي وخت ورکول کيږي . که په ټولګي کې د زده کوونکو شمېر ډېر زيات نه وي نو د لاسونو د مينځلو مشق به بهر که کيږي چې زده کوونکي په کې معمولاً تخته او خپل لاسونه مينځي .

(۴) زده کوونکي به په دې پوهيدلي وي چې خان پاکي هر وخت او هر چېرته نه وي . کوم خان پاکی چې استعماليږي ، هغه به پاک وي . په ناولي خان پاکي لاسونه وچول د لاسونه بېرته ناولي کوي . د ناولي خان پاکي په خای ښه دا ده چې لاسوه په تازه هوا کې وچ کړای شي.

د رسم په باره کې دې خبرې وشي . نوې کلمې دې بيا بيا ولوستلې او وليکلې شي . رسم دې رنګ شي

پ۲ | ۲۷ ـ ۱

لاسونه ومينځئ !

له خوراک څخه مخکې لاسونه ومينځئ .

خپل نوکان پاک ساتئ .

غاښونه هر وخت پاک کوئ .

د منګي او چاتې سرونه پټوئ .

ډوډۍ له مچانو څخه پټه کړئ .

پاکې جامې اغوندئ .

خپل ټول بدن پاک ساتئ .

موضوع : پاکوالی هر چېرته او هر وخت ضروري دی	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۷ – ۱ متن یو ځل بیا لوستل (په تکرار سره) .	مشق پاڼه
۲. د صحت په باره کې د تېرې ورځې بحث رایادول او تکرارول .	پ۲ – ۲۷ – ۱
۳. را په زړه کول چې خلك د بدن مختلفې برخې کله ، ولې او څنګه مینځي ؟	
۴. یوه لوبه کول : په پټه خوله په حرکاتو سره د پاکوالی فعالیتونه تر سره کول ؛ مثلاً : د لاسونو مینځل، د مخ مینځل ، د پښو مینځل ، د غاښونو مینځل صفا کول ، د ګوتو نوکان پرې کول او د زده کوونکو له خوا د دغو فعالیتونومونه اخیستل .	
۵. په مشق پاڼه پ۲ –۲۷ –۲ کار کول : الف – د جارو کولو او جامو مینځلو دوارو فعالیتونه پېژندل، هر رسم او په هغه کې ښودل شوی فعالیت په تفصیل سره تشریح کول . ب - د عنوان لوستل او بحث پرې کول . ج - تر هر رسم لاندې دوه جملې په خاموشۍ سره لوستل . د - دغه جملې ټولګي ته لوستل . هـ – د هر رسم ورومبی جمله سلېټونو ته نقلول . تر هغې د جملو مشق کول چې له یادې یې په آسانۍ سره ولیکلای شي (چتك زده کوونکی ځلور واړه جملې لیکلای شي) .	مشق پاڼه پ۲ – ۲۷ – ۱
٦. رسمونه رنګول .	سلېټونه

په رسم کې ښودل شوی فعالیت دې تشریح شي . تر رسمونو لاندې جملې دې ولوستلې او رسمونه دې رنګ شي :

پ۲ | ۲۷ - ۲

پاکي ډېره ښه ده

پاکې جامې بدن پاک ساتي . نکور باید همېشه پاک وساتل شي .

خیرنې جامې اغوستل ښه نه وي . ښځې کورونه ډېر پاک ساتي .

موضوع : نظافت : سوالونه او ځوابونه

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د هغو دوو جملو املا چې تېره ورځ يې مشق شوی دی : الف - د ښوونکي له خوا ورو ورو ويل (کتابي علامه وګورئ !) . ب – پر توره تخته له لیکلای شویو جملو سره يې مقايسه کول (هغه چې ښوونکي ليکلي دي) . د - اصلاح کول .	سلېټونه توره تخته مشق پانه پ۲ – ۲۷ – ۳
۲. په مشق پانه پ۲ – ۲۷ – ۳ کار کول : الف – مشق پانه مطالعه کول ؛ رسمونه تشريح کول ؛ د فعاليتونو نومونه اخيستل . ب – د سوالونو او ځوابونو په وړومبيو دوو مثالونو يو ځای کار کول : د يوه سوال لوستل له اړونده رسم سره ورته ربط ورکول ، يو ځواب ورکول ، د ليکل شوي ځواب لوستل . ج – معلومول چې په راتلونکو مثالونو کې به ځوابونه زده کوونکي په خپله پيدا کوي . د- په دوه دوه کسه کار کول : د سوالونو لوستل او په شفاهي توګه د هغوی اړونده ځوابونه پيدا کول . هـ – ټولګي ته د ښلو ښلو سوالونو لوستل ، ممکن ځوابونه ويل ، کوم ځواب چې د ښوونکي له خوا پر توره تخته ليکل غواړي پر هغې موافقې ته رسېدل . و- په خاموشۍ سره کار کول : د توري تختې ځوابونه اول سلېټونو او بيا مشق پانې ته ور نقلول . ز- په دوو دوو کسو د لوستلو مشق کول : د يوه زده کوونکي له خوا د سوال لوستل او د بل زده کوونکي له خوا ځواب ورکول (وار په وار) .	توره تخته سلېټونه

رسمونه دې تشريح او د فعاليتونو نومونه دې واخيستل شي . پوښتنې ته دې له رسمونو سره په ارتباط کې ځوابونه وويل او وليکل شي :

د پاکۍ په باره کې خبرې اترې

ته د ډوډۍ له خوړولو څخه مخکې څه کوې ؟ زه لاسونه مينځم .

ته د ډوالونه او چتونه په څه شي پاکوې ؟ په جارو يې پاکوم .

ته سر په څه شي پاکوې ؟ .....

خلک خواړه له مچانو څخه څنګه ساتي ؟ .....

تر خوراک وروسته خلک په لوښو باندې څه کوي ؟ .....

چې پښې دې خيرنې شي نو څه به کوې ؟ .....

چې بدن دې خيرن شي نو څه بې کوې ؟ .....

ته له ويده کېدو څخه مخکې څه کوې ؟ .....

د درسي ساتن ۲۸	موضوع : پرون مور څه وکړل ؟ ساده ماضي زمانه په وینا او لیک کې معرفي کول (۱)

د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱ . په ماضي زمانه کې په شفاهي توګه ساده جملې استعمالول :	
- تشریح کول چې ښوونکی به د یوه سوال پوښتنه کوي او زده کوونکي به یې ځوابونه ورکوي . (یو زده کوونکی یوه جمله)	- غوږ نیول .	
- یوه پوښتنه کول (تا پرون څه وکړل ؟) ، په وضاحت سره خبرو کولو او د صحیح زماني په استعمالولو کې مرسته کول . (۲)	- د ډېرو زده کوونکو ځوابونه معلومول ؛ مثلاً : ما فوټبال وکړ . ما له خپلې مور سره مرسته وکړه؛ ما د کور کار وکړ .	
- تشریح کول چې اوس به دوی د سوال او ځواب یوه لوبه کوي ؛ یو زده کوونکی به سوال کوي (تاپرون څه وکړل؟)، کوم زده کوونکی چې ځواب ورکړي هغه به هم دغه سوال له یوه بل زده کوونکي څخه کوي اوداسې به لوبه جاري ساتي.	- د یوه زنځیر په شکل د سوال او ځواب لوبه کول؛ مثلاً: ورومبنی زده کوونکی : تا پرون څه وکړل؟ زده کوونکی : ما یو ام وخوړو. تا پرون څه وکړل ؟ درېم زده کوونکي : ما یو څه میتایي واخیستل . تا پرون څه وکړل ؟ او داسې نور .	
	۲ . په لوستلو کې د ماضي زماني فعلونه معرفي کول :	
- تشریح کول چې په دې درس کې به زده کوونکي داسې جملې جوړوي او لولي چې د مخه یې د هغو مشق کړی دی .	- غوږ نیول .	تـــوره تختـــه
- ورومبنی جمله بې له فعل څخه پر توره تخته لیکل : نازو پرون یو خط ولیکه . (۳) په ماضي زمانه کې د فعل په کارولو سره جمله مکمله .	- نا مکمله جمله لوستل ؛ د غیب فعل صحیح شکل معلومول او ویل : (ولیکله)	تـــوره تختـــه
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د "ولیکلو" سر او آخر ته وګوري او په وضاحت سره یې ووایي .	- د کلمې په سر او اخر کې د [و] پېژندل او د کلمې په وضاحت سره ویل .	
- په همدې طریقه په لاندنیو جملې کار کول : • پلوشي دوه خطونه (ولیکل) . • کریم پرون یوه جمله (ولیکله) . • سلېم پرون ډېرې جملې (ولیکلې) .	- نا مکملې جملې لوستل ، د فعل صحیح شکل معلومول ، د کلمو په اخر کې راغلی تغییر (مختلف وروستي توري) پېژندل او په وضاحت سره یې ویل .	
- له زده کوونکو څخه دجملو د لوستلو غوښتنه کول؛ جملو ته یې له ترتیب څخه اشاره کول .	- د ښوونکي له اشاري سره سم جملې لوستل.	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې یوازې هغه فعلونه دي ولولي چې دی ورته اشاره کوي .	- د هغو فعلونو لوستل چې ښوونکی ورته اشاره کوي .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر سلېټونو د څلورو فعلونو د لیکلو مشق وکړي : ولیکلو ، ولیکل ، ولیکلې ، ولیکه .	- پر خپلو سلېټونو د څلورو کلمو تر هغه مشق کول چې په اسانه یې ولیکلای شي .	ســـلېټونه مشـــق پـــانه پ۲- ۲۸ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پاني پ۲ - ۲۸ - ۱ ته وګوري او له اندیوالانو سره د	- په هره جمله کې د ماضي زماني فعلونه لوستل .	

- لاندېنۍ کلمې پر توره تخته لیکل ؛ له زده کوونکو څخه پر سلېټونو د دوی د لیکلو غوښتنه کول: لیکي، لولي ، کوي ، وایي ، ګوري . (۴) - د مشق پاڼې پ۲ - ۳ - ۱ د رنګولو غوښتنه کول .	*د ځینو فعلونو د لیکلو مشق کول :* - د دې کلمو تر هغه پر سلېټونو مشق کول چې په آسانه یې ولوستلای اوله یاده یې ولیکلای شي. - مشق پاڼه رنګول .	تـــوره تختـــه ســـــلېټونه مشـــق پـــاڼه پ۲ - ۳ - ۱

(۱) هغو کلمو ته چې فعالیتونه بیانوي ، فعلونه ویل کیږي ؛ مثلاً : لیکل ، لوستل او نور . خو هغو کلمو ته اسمونه وایي چې د اشخاصو ، شیانو ، ځناورو او نورو نومونه دي . خو د درس د ښوولو په دې مرحله کې به ښوونکی دا ګرامري اصطلاحات په ټولګي کې نه استعمالوي .

(۲) په دې قدم کې به ښوونکی مداخله نه کوي . زده کوونکو ته پر هغه څه خبرې کول په کار دي چې وینې یې او ویل یې غواړي . هر زده کوونکی یوه رسم ته په خپل خاص انداز ګوري .

(۳) دا رسم یوه تدریسي منشاء لري . په عام ډول زده کوونکي انتظار کوي ؛ یا هیڅ نه کوي او یا یوازې شور کوي . دا رسم زده کوونکو ته دامفکوره ورکوي چې دوی باید څه وکړي. دوی ته په رسم کې پر ښودل شویو ممکناتو بحث په کاردی.

(۴) ښوونکي ته وخت په وخت په کار دي چې زده کوونکو ته دا خبره ور یاده کړي چې له یاده د کلمو د لیکلو مشق څنګه په کار دی؟ له یاده دکلمو د لیکلو مطلب دا دی چې بې له نقل کولو څخه او یا بې له دې چې یوه مثال ته وګوري په آسانی سره یې ولیکلای شي .

د فعالیتونو د بیانولو په وخت کې دې د [هغه] او [هغوی] کلمې په خبرو کې وکارولې شي:

جملې دې ولوستلې او په نسبتاً غټ خط لیکل شوې کلمو ته دې پام وشي:

پ۲ | ۳ - ۲

په ټولګي کې

دا یو خط لیکي .	دا بل خط لولي .
هغه یو حساب کوي .	هغه بل شمېر کوي .
یو چارټ ته ګوته نیسي .	بل لور لیکي .
هغه یو خبرې کوي .	هغه بل غوږ نیسي .
څوک درېږي .	څوک کښېني .
څوک پوښتنه کوي .	څوک ځواب وایي .
یو چارټ ته ګوته نیسي .	نور ورته ګوري .

اوس استاد راځي . ټول درېږي او سبق به وایي .

هرې جملې د آخرۍ کلمې د لوستلو کوشش وکړې. - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دا کلمې ټولګي ته یوه په بلې پسې ووایي ، ځنګه چې یې زده کوونکي ووایي هغسې یې پر توره تخته لیکل. - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې ولولي ؛ کلمو ته یې له ترتیب څخه اشاره کول .	- فعلونه یو په بل پسې ویل ، د ښوونکي لیکلو ته په غور کتل ، په خاموشۍ سره لوستل . - د ښوونکي له اشارې سره سم کلمې لوستل .	تـــوره تختـــه
	۳ . د لوستلو مشق کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ – ۲۸ – ۱ کې جملې په خاموشۍ سره یا په دوه دوه کسه ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې ټولګي ته یوه په بلې پسې ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې تر هغه د جملو د لوستلو مشق وکړې چې روانې یې ولوستلای شي .	- په خاموشۍ سره یا په دوه دوه کسه لوستل . - د جلا جلا زده کوونکي لـه خـوا پـه اوچت آواز لوستل ، د نورو له خوا په خاموشۍ سره لوسـتل او ګوته ورسره سمه وړل . - په دوه دوه کسه جملې وار په وار لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲– ۲۸ – ۱

(۱) دا درسي واحد به زده کوونکي د دې قابل کړي چې په ماضي زمانه کې ساده جملې ووایي / ولولـي . دوی بـه د دې زمـانې ځینې ساده فعلونه هم ولیکي . په دې مرحله کې به ښوونکی د ساده ماضي جملې د خاص استعمال یعني کله اوځنګه نـه تشریح کوي . بلکې د زده کوونکو لارښوونه به په دې کوي چې د ماضي زمانې جمله په عملي حقیقي حالتونو کې هغه چې د دې زمانې تقاضا کوي ووایي . تـاکید بـه پـه واضحه ځبرو کولـو ، د کلمـو د مختلفـو انجـامونو پـه پـېژندلـو او د هغوی په سم تلفظ کولو کیږي .

(۲) له دې قدم څخه د سوال او ځواب لوبه جوړیږي . یوازې د ځو سوالونو اوځوابونو مشق به تر هغه کیږي چې زده کوونکي په کار پوه شي او صحیح ځوابونه ورکړي . که په دې مرحله کې د ډېرو سوالونو او ځوابونـو مشـق وکړای شـي نـو کومـه لوبـه چې وروسته کیږي خپل په زړه پورې والی به له لاسه ورکړي .

(۳) دغه ځلور جملې په ماضي زمانه کې د فعلونو ځلور اساسي شکلونه لري (مفرد ، جمع ، مذکر ، مونث) . د دې لـه پـاره چې توپیرونه په وضاحت سره ولیدلای شي نو جملې به ښه ښایسته یوه تر بلې لاندې لیکلې کیږي .

د جملو د وروستیو کلمو (فعلونو) شکل ته دې پام وشي ؛ فعلونه دې مشق شي :

پ۲ | ۲۸–۱

مورِ پرون ډېر کارونه وکړل

مورِ ټولو سهار وختي خپل غاښونه پاک کړل .
مورِ سهار ټول کور ښه پاک کړ .
زما خور د غرمې د ډوډۍ له خوړلو څخه مخکې لاسونه ومینځل .
سلیم ماسپښین خپل پلار ته یو خط ولیکه .
ما ، زما ورور او زما خور مازیګر د ښوونځي کار وکړ .
ما له زرین سره مازیګر په باغ کې لوبې وکړې .
ما مابنام ټول کټونه ښه پاک کړل .
زما ورور له ویده کېدو څخه مخکې خپلې پښې ومینځلې .

موضوع : د ماضي زماني معمول شکلونه ؛ د جملو لوستل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۸ – ۱ جملې بيا لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۲۸ – ۱
۲. څه چې د زده کوونکو د کورنيو غړيو پرون کړي دي د هغوی په باره کې د زده کوونکو له خوا جملې ويل : الف – د زده کوونکو د کورنيو د غړيو نومونه ؛ لکه : پلار ، مور ، کاکا ، ورور ، ترور او داسې نور اخيستل او د ښوونکي له خوا يې پر تخته ليکل . ب - د ښوونکي له خوا پر توره تخته د دې سوال (دوی پرون څه وکړل ؟) ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا ويل څه چې د دوی مور ، پلار ، ورور او داسې نورو پرون وکړل (۱) . (يو زده کوونکی يوه جمله، تخيلي جملې به هم منل کيږي .)	توره تخته
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۸ – ۲ کار کول : الف – د عنوان لوستل او خان پرې پوهول . ب– و ړومبي دوه مثالونه په ګډه لوستل ؛ د ښوونکي له خوا د جملو آخری کلمې (وليکله ، وليکل ، وليکله ، وليکلې) پر توه تخته ليکل، د زده کوونکو له خوا يې لوستل . ج - د دريم مثال لوستل ، د غيبې کلمې (وليکله) معلومول ؛ د ښوونکي له خوا د دغې کلمې پر تخته ليکل . د – له اندېوالاتو سره پر نورو مثالونو کار کول (لوستل ، د صحيحو فعلونو موندل ، خو لا يې نه ليکل) . هـ – ټولګي ته د جملو لوستل ، په خالي خايونو کې چې کوم فعلونه ليکل کيږي په هغوی موافقه کول ، د ښوونکي له خوا يې پر توره تخته ليکل ، د زده کوونکو له خوا يې لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۲۸ – ۲ توره تخته
۴. د کلمو ليکل : الف – د دغو کلمو سلېټونو ته نقلول او مشق يې کول . ب - د مشق پاڼې په خالي خايونو کې يې ښايسته ليکل .	توره تخته سلېټونه مشق پاڼه پ۲– ۲۸ – ۲

(۱) ښوونکی به دې ټکي ته پوره توجه کوي چې زده کوونکي په واضحه ټوګه خبرې کوي او د ماضي زماني شکلونه صحيح استعمالوي .

تش خايونه دې دفعلونو په مناسبونو شکلونو ډک شي :

پ۲ | ۲۸ - ۲	
زه څه کوم ؟	ما څه وکړل ؟
زه نن غوښه اخلم .	ما پرون هم غوښه واخيسته .
زه نن ملا ته غوږ نيسم .	ما وورمه ورځ هم ملا ته غوږ ونيو .
زه نن يو خط ليکم .	ما پرون هم يوخط _____ .
زه نن يو کتاب لولم .	ما تېره هفته هم يو کتاب _____ .
زه نن يوه هګۍ خورم .	ما ورمه ورځ هم يوه هګۍ _____ .
زه نن لامبم .	ما پرون هم _____ .
زه نن په تال کې زانګم .	ما تېره هفته هم په تال کې _____ .
زه نن غوا لوشم .	ما پرون هم غوا _____ .

موضوع : دماضي زماني معمول شكلونه استعمالول ؛ جملي او رسمونه سره مقايسه كول.	
د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۸ – ۲ جملي يو خل بيا لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۲۸ – ۲
۲. په ماضي زمانه كې د دغو څلورو فعلونو (وليكله ، وليكل ، وليكله ، وليكلې) په شفاهي توګه مشق كول او لوستل : الف – د ښوونكي له خوا پر تورە تخته د څلور واړو زمانو ليكل : زه پرون سحر ښوونځي ته ولاړم . زه غرمه كورته راغلم . زه ماسپښين په كور كې پاتې شوم . زه مازيګر ناروغ شوم . ب – د زده كوونكو له خوا ټولګي ته د دغو جملو څو څله لوستل . ج - د ښوونكي له خوا په هره جمله كې په [مورِ] سره د [زه] بدلول ؛ ؛ د زده كوونكو له خوا له دې بدلون سره سم د فعلونو صحيح شكلونه ويل ؛ د ښوونكي له خوا پر تورە تخته د هغوی ليكل. د – اوس د زده كوونكو له خوا صحيح جملې ويل او په يوه نامه سره يې شروع كول ؛ مثلاً : علي پرون سهار ښوونځي ته ولاړ .	تـــوره تختـــه
۳. په پوهېدلو سره لوستل : الف - مشق پاڼه پ۲ – ۲۸ – ۳ مطالعه كول ؛ په كار څان پوهول ؛ د رسمونو اړونده جملو ته دا نښه (✓) كول ؛ د رسمونو نا اړونده جملې چليپا (×) كول . ب - جلا جلا په خاموشي سره كار كول ؛ د دغو جملو لوستل : تك (✓) صحيح كول ؛ چليپا كول. ج – له انديوال سره د نتيجو مقايسه كول . د - اړونده جملې ټولګي ته لوستل ؛ نا اړونده جملې ټولګي ته لوستل . هـ – له اړونده جملو څخه د درې جلمو پر سلېټونو مشق كول :	مشـــق پـــاڼه پ۲– ۲۸ – ۳ ســـــلېټونه

جملې دې له رسم سره په ارتباط كې ولوستلې او مربوطې - نامربوطې يې دې د مثالونو په شان په نښه شې :

پ۲ ۲۸ - ۳
پرون زمورِ په كلي كې
له تصوير سره كومې جملې لګيږي ؟

☑ ښځو جامې ومينځلې .	☐ يوه ګاډۍ له ښار څخه راغله .
☒ بزګر په ويالې كې ولمبل .	☐ سړي كور ته ولاړل .
☐ ماشومانو په ويالې كې ولمبل .	☐ بزګر په پټې كې يوې وكړه .
☐ ماشومانو لوبې وكړې .	☐ طوطي په ونه كې و .
☐ ځپون ويالې ته راغی .	☐ غواګاني تر سيوري لاندې وې .
☐ تر ونې لاندې ډېر ماشومان وو .	☐ سپی له ګډو او بزو سره وو .
☐ ښځو ډوډۍ پخې كړې .	☐ ګډې او بزې راغلې .

د درسي پلان ۲۹ پ۲ - ۲۹ - ۱	موضوع : يوه کيسه (مړې او پيشو) لوستل او خان پرې پوهول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- تشريح کول چې نن به زده کوونکي په وړومبي څل يوه مکمله نوې کيسه په خپله لولي ، خو تر دې دمخه به د دې د آسانولو لـه پـاره پـر تـوره تخته يو څو نوې کلمې لولي . - د [راغوندې] کلمه ښه ښايسته پر توره تخته ليکل؛ د ضرورت په وخت کې مرسته کول (۲) - لاندې کلمې هم په دغه طريقه معرفي کول : تنګي ، وړکول ، شرنګنی ، آخر ، راپاڅېده . - کلمو ته بې له ترتيب څخه اشاره کول .	۱ . *نوې کلمې لوستل :* - غوږ نيول . - د ښوونکي ليکلو تـه پـه غـور کتـل ، د کلمـې د لوستلو کوشش کول ، د کلمې لوستل . - د کلمو لوستل . - په ګډه سره کلمې لوستل .	تـــوره تختـــه
- لـه زده کوونکو څخه غوښتنـه کـول چـې د کـار کتابونه پرانيزي او مشق پاڼې پ۲ - ۲۹ - ۱ تـه وګوري . - تشريح کول چې زده کوونکي به يو متـن پـه غـور لولي ښوونکی بـه پـه دوی ګرځي او مرسـته بـه ورسره کوي ؛ کافي وخت ورکول ؛ مرسته کول . - له زده کوونکوڅخه غوښتنه کول چې کيسه په خاموشۍ سره يو څل بيا ولولـي چـې د يـو څو سوالونو ځوابونه ورکړای شي . - سوالونه کول ؛ مثلاً : • کيسه د کومو څارويو په باره کې ده ؟ • مړې له څه شي څخه وېرېدلې ؟ • مړو يوه ورځ څه وکړل ؟ • زړې مړې د څه سپارښتنه وکړه ؟ • مړو د دغې سپارښتنې په باره کې څه فکر وکړ ؟ • آيـا دوی هغـه څه وکـړل چـې زړې مـړې يـې سپارښتنه کړې وه ؟ • د کيسـې پـه آخـر کـې يـوې مـړې د څه شـي پوښتنه وکړه ؟ - لـه زده کوونکـو څخـه غښتنـه کـول چـې کيسـه تولګي ته ولولي .	۲ . *د کيسې لوستل او خان پرې پوهول :* - غوږ نيول ، د کار کتابونه پرانيستل ، مشق پاڼه مطالعه کول ، خان پوهول چې دا يوه کيسه لري . - کيسه په خاموشۍ سره لوستل ، کـه ضـرورت و نو د مرستې غوښتنه کول . - کيسه يو څل بيا په خاموشۍ سره لوستل . - د سوالونو ځوابونه ورکول ؛ غوږ نيول ؛ تبصـرې کول ؛ اصلاح کول . - د جلا جلا زده کوونکو له خوا دوه يا دري جملې لوسـتل ، د نـورو لـه خـوا پـه خاموشـۍ اورېدل (کيسه دېر خله لوستل) .	مشـــق پـــاڼه پ۲ -۲۹ - ۱

- له زده کوونکو غوښتل چې د کار کتابونه بند کړي او کیسه په خپله ژبه ووایي .	۳. کیسه یو ځل بیا لوستل : - د جلا جلا زده کوونکو له خوا د ټولګي مخې په وړاندې کیسه ویل ، د نورو غوږ نیول او مرسته کول .	
- له زده کوونکو غوښتل چې په دوه دوه کسه کار وکړي ، د کیسې د لوستلو تر هغه مشق کول چې په روانه یې ولوستلای شي .	۴. د لوستلو مشق کول : - په دوه دوه کسه د لوستلو مشق کول ، د یو بل وار په وار مرسته کول .	

(۱) په دې درس کې دې ښوونکی کیسه زده کوونکو ته نه لولي ؛ په وړومبي ځل به زده کوونکي کیسه په خپله لولي . د زده کوونکو د باسواده کولو له پاره د یوه متن په خپله لوستل یوه مهمه تجربه ده . دا کامیابه تجربه به د هغو متنونو په لوستلو کې د زده کوونکو ډاډ ګهرنه کوي چې بل چېرته ورسره مخامخ کیږي . په مشق پاڼه کې کیسه تر ممکنه حده آسانه کړی شوې ده خو بیا هم د ښوونکي مرسته ته ضرورت دی : الف - نوې کلمې دې تر لوستلو مخکې پر تخته معرفي کړای شي . ب - له ښوونکي څخه غوښتنه کیږي چې د جلا جلا زده کوونکوسره پته خوله د لوستلو په وخت کې وکړي .

(۲) که زده کوونکي یوه کلمه په خپله نه شي لوستلای ، نو ښوونکی یې دې نه وایي ؛ هغه دې د مختلفو حروفو د آوازونو غوښتنه وکړي ؛ مثلاً : هغه پوښتنه کولای شي چې کلمه په کوم حرف سره شروع کیږي یا ختمیږي ؟ د حرف آواز څه دی ؟ دغه راز هغه د مختلفو حروفو د ترکیبونو پوښتنه کولای شي او داسې نور . ښوونکی دې دا خبره همېشه په ذهن کې ولري چې په آخر کې به زده کوونکي په خپله لوستل وکولای شي . د دې له پاره دې هغه دوی ته د متن د موندلو یوه موقع ورکړي .

پ۲ | ۲۹ - ۱

مړۍ او پیشو

مړۍ له پیشو څخه ډېرې تنګې شوې وې . د باندې نه شوای را وتلای . یوه ورځ تولې راغونډې شوې . د پیشو په باره کې یې ډېرې خبرې وکړې . آخر یوه زړه مړه راپاڅېده . ویې ویل : " کله چې پیشو ویده وي نو په غاړه کې به یې شرنګنی واچوو . داسې به مور ته له لرې څخه پته لګېږي چې پیشو چېرته ده . مور به ترې تښتو . " په دې خبره مړۍ ډېرې خوشحاله شوې . تولو لاسونه وپرکول . دغه وخت یوه بله مړه راپاڅېده او ویې ویل : " پیشو ته به دا شرنګنی په غاړه کې اچوي څوک ؟ "

موضوع : په کيسه (مړۍ او پيشو) خان پوهول ؛ تر رسمونو لاندې د ليکلو له پاره جملې لوستل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د زده کوونکو له خوا په تکرار سره کيسه لوستل ؛ د يوه کيسه ويونکي په شان په ښه انداز کې د لوستلو کوشش کول .	مشق پانه پ۲ -۲۹ - ۱
۲. په مشق پاڼه پ۲ - ۲۹ - ۲ کار کول : الف - رسمونه مطالعه کول او په تفصيل سره يې بيانول . ب - رسمونه له کيسې سره تړل ؛ د آخري رسم مطابق د کيسې يو نوی انجام معلومول . ج - د زده کوونکو له خوا تر رسمونو لاندې د ليکلو له پاره ساده جملې پيدا کول او ويل ؛ کومې جملې چې ليکل غواړي په هغوی متفق کېدل ؛ د ښوونکي له خوا يې پر توره تخته ليکل ؛ مثلاً :	مشق پانه پ۲ -۲۹ - ۲
• مړۍ پيشو ته ګوري .	توره تخته
• توله مړو يوه جرګه وکړه .	
• زړه مړه خبرې کوي .	
• توله مړو منډې کړې .	
د - تر رسمونو لاندې جملې لوستل .	
۳. په حرکاتو سره کيسه وړاندې کول : الف - په دې باره کې خبرې کول چې کيسه به د حرکاتو په وسيله څنګه وړاندې کولای شي . ب - ځيني زده کوونکي د ټولګي مخې ته د حرکاتو په وسيله کيسه وړاندې کوي ؛ د نورو له خوا مرسته او اصلاح کول ؛ سپارښتنې کول چې څه ويل په کار دي او حرکات بايد څنګه وشي . ج - د زده کوونکو د يوه بل ګروپ له خوا حرکات څرګندول .	
۴. تر رسمونو لاندې جملې ليکل : الف - پر سلېټونو د دې جملو مشق کول . ب - دا جملې په مشق پانه کې ښه ښايسته ليکل . ج - رسمونه رنګول .	سلېټونه مشق پانه پ۲ -۲۹ - ۲

رسمونه دې تشريح او له پاسنۍ کيسې سره دې مقايسه شي . تر هر رسم لاندې دې له هغه سره مربوطه جمله وليکله شي :



موضوع : مقايسي معلومول

د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. كيسه يو څل بيا ويل : د يوه زده كوونكي له خوا كيسه بيا ويل ؛ د نورو غوږ نيول او شاباسي ورکول .	
۲. په شفاهي توګه د مړو او پيشو ګانو تر منځ مقايسه کول : د ښوونكي له خوا يو مثال ور کول؛ مثلاً : غټه ، وړه ؛ د زده كوونكو له خوا نور مثالونه معلومول .	
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۹ – ۳ کار کول : الف – د عنوان لوستل . ب – په دوه دوه کسه جملې لوستل . ج – د زده كوونكو له خوا ټولګي ته مقايسي يوه په بلې پسې په تکرار سره لوستل (د ښوونكي له خوا پر توره تخته يوه مشکله کلمه د لوښتلو له پاره ليکلای شي) .	مشق پاڼه پ۲ –۲۹ – ۳ توره تخته
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۹ – ۴ کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول او بيانول . ب - د ښوونكي له خوا پر توره تخته وړومبی جمله ليکل ؛ د زده كوونكو له خوا يې لوستل ؛ پر کار بحث کول او خان پوهول ؛ په رسمونو کې د دوو شيانو د مقايسه کولو له پاره پاسنی کلمې استعمالول . ج– دوهم مثال لوستل ، د مقايسه کولو له پاره پاسنی صحيح کلمه استعمالول . د– پر نورو مثالونو کار کول ، صحيح مقايسي معلومول ؛ د ښوونكي له خوا پر توره تخته جملې ليکل . هـ– جملې په تکرار سره لوستل . و – پر سلېټونو د آخريو درېو جملو د ليکلو مشق کول ؛ په آخر کې يې ښه ښايسته په مشق پاڼه کې ليکل .	مشق پاڼه پ۲ –۲۹ – ۴ توره تخته توره تخته مشق پاڼه پ۲ –۲۹ – ۴

د پيشو او مړې تر منځ توپيرونه دې بيان شي :

پ۲ | ۲۹ - ۳

پيشو او مړه





مړه څلور پښې لري ؛ پيشو هم څلور پښې لري .
مړه يوه لکۍ لري ؛ پيشو هم يوه لکۍ لري .
د پيشو سترګې شنې وي ؛ د مړې سترګې شنې نه وي .
مړې په سوړو کې اوسېږي ؛ پيشوګاني په سوړو کې نه اوسېږي .
پيشو تېزه منډه وهي ؛ مړه هومره تېزه منډه نه وهي .
خلک پيشوګاني ساتي ؛ خلک مړې نه ساتي .
پيشوګاني مياو مياو کوي ؛ مړې مياو مياو نه کوي .
پيشوګاني مړې نه ښي ؛ مړې پيشوګاني نه نيسي .

په رسمونو کې د هرو دوو شيانو د مقايسي له پاره دې په تشو ځايونو کې د کتار کلمې وليکلې او جملې دې بشپړې شي :

پ۲ | ۲۹ - ۳

وړه تېز خطرناک درنه غټه



پيشو تر مړې ـــ غټه ـــ ده .



مړه تر پيشو ـــــــــ ده .



موټرسايکل ـــــــــ .

زمری ـــــــــ .

تربنځ ـــــــــ .

موضوع : هغه کلمې چې واولونه يې ليکلای نه شو (۱)

د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱. املا ليکل :	
- د يوې لنډې املا د ليکلو اعلان کول .	- غوږ نيول ، خپل سلېټونه او د سلېټ پنسلونه تيار ساتل .	سلېټونه
- په ورو ورو د هغو دوو مقايسو املا ويل چې زده کوونکو يې تېره ورځ مشق کړی دی .	- جملې ليکل .	
- جملې يوه په بلې پسې ښه ښايسته پر توره تخته ليکل ، پر سلېټونو د صحيح کولو له پاره مرسته کول .	- جملې کلمه په کلمه لوستل ؛ له خپل ليک سره يې مقايسه کول او اصلاح کول.	توره تخته
	۲. د هغو لنډو کلمو تجزيه کول چې دوه توري لري خو ليکلي واولونه نه لري :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې الفبې ووايي . (۲)	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا الفبې ويل ؛ د نورو غوږ نيول ؛ اصلاح يې کول ؛ د يو څو زده کوونکو له خوا د تولې الفبې ويل .	
- يو جلا حرف لکه [خ] پر توره تخته ليکل ؛ پۀ الفبې کې تر دې د مخکې حرف پوښتنه کول .	- مخکې حرف (ح) معلومول ، نوم يې اخيستل ، پرتوره تخته يې ور پسې ليکل .	توره تخته
- هم دغه کار له نورو حروفو سره کول .	- د مخکې په شان عمل کول .	
- دوه کلمې (لاس) او (لس) پر توره تخته ليکل ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې ولولي او مقايسه يې کړي .	- د کلمو لوستل ، په آواز او شکل کې يې مشابهتونه او فرقونه معلومول ، دا حرف ور پسې پر توره تخته ليکل .	توره تخته
- د زده کوونکو لارښوونه کول چې د [لس] د کلمې توري جلا جلا تلفظ کړي او دا احساس کړي چې د يوه بل آواز تلفظ هم کيږي خو توری ورته نشته (د [ل] او د [س] د آوازونو په منځ کې د [ا] په شان يو لنډ آواز دی) .	- د کلمې د حروفو نومونه اخيستل ؛ د دې حروفو د آواز تلفظ کول ؛ خان پوهول چې د دې دواړو په منځ کې يو آواز دی ، د دې آواز په تکرار سره تلفظ کول، خان پوهول چې د دې آواز له پاره په کلمه کې حرف نشته .	
- د زده کوونکو رهنمايي کول چې د دې دوو کلمو ښه واضح تلفظ وکړي چې دوی يې واوري چې د [لس] کلمه د [لاس] تر کلمې لنډه ده ؛ يعنې د [ا] آواز لنډ دی .	- د کلمو په وضاحت سره تلفظ کول ؛ په توجه ورته غوږ نيول ، خان پوهول چې [لس] مختصر دی، په منځ کې آواز يې ډېر لنډ دی .	
- د زده کوونکو رهنمايي کول چې د کلمو په يو څو نورو جوړو کې فرقونه معلوم کړي لکه په [کار ، کر ، بال ، بل ، باد ، بد ، دام ، دم ، غار ، غر] کې .	- د مخکې په شان کار کول : کلمې لوستل ، د حروفو نومونه اخيستل ، د آوازونو تلفظ يې کول ، په هره کلمه کې نا ليکلی مختصر واول را ايستل .	توره تخته
تشريح کول چې په ډېرو کلمو کې يو لنډ آواز شته چې توری ورته نه لږو ؛ د دې کلمو لوستل ګران دي ؛ په کار دي چې دوی له دې مسالې څخه خبر وي .	- غوږ نيول .	
- کلمو ته يې له ترتيب څخه اشاره کول .	- کلمې لوستل، د دې په وضاحت سره تلفظ کول.	
	۳. د مختصر کلمو جوړولو له پاره دوه ورکړل شوي توري يو خای کول :	
- له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲-۳۰-۱ مطالعه کولو غوښتنه کول ؛ ورڅنې مثال پر توره تخته ليکل ؛ ورڅنې مثال د کار کولو له پاره د زده کوونکو لارښوونه کول .	- د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ په ورڅنې مثال يو خای کار کول ؛ د حروفو لوستل ، معلومول ، ليکل ، د اړوندو کلمو تلفظ کول .	مشق پاڼه پ۲-۳۰-۱ توره تخته

– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نور وظایف په دوه دوه کسه تر سره کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې ټولګي ته ولولي ؛ کلمې ښه ښایسته پر توره تخته لیکل . – د لوستلو له پاره کلمو ته اشاره کول ؛ په منځ کې د لنډ آواز د تلفظ کولو غوښتنه کول .	– په دوو دوو کسانو په خاموشۍ سره کار کول : دوه حرفي کلمې معلومول او لیکل . – د جلا جلا زده کوونکو له خوا ټولګي ته د کلمو لوستل ؛ د نورو مقایسه کول او اصلاح کول . – کلمې لوستل ، د مختصر واول یوازې تلفظ کول .	تـــوره تختـــه
– لـه زده کوونکـو څخـه غوښتنـه کـول چـې لـه خپلـو انډیوالانو سره د کلمو د لیکلو مشق وکړي : یـو زده کوونکی د یوې کلمې املا وایي ، بـل یـي لیکي (وار په وار) .	*۴. لوستل او د کلمو د لیکلو مشق کول :* – د حکم مطابق په دوو دوو کسانو په خاموشۍ سره کار کول .	مشـــق پـــانه پ۲– ۳۰ – ۱

(۱) د پښتو ژبې په ډېرو کلمو کې داسې واولونه شته چې تلفظ کېږي خو لیکلای کېږي نه ؛ لکه : د [لس] کلمه . په دې کلمه کې بې آوازه توري یوازې [ل] او [س] لیکل شوي دي . څوک چې دا کلمه لولي یا یې لیکي په دې خبره ورته پوهېدل په کار دي چې دا کلمه یو مختصر واول لري چې د [ا] د آواز په شان دی . د دې ډول کلمو لیکل او لوستل ډېر ګران دي او د دې بیا بیا مشق کول په کار دي . له لیکله شوبو بې آوازه تورو سره د ویلو شویو واولونو د اضافه کولو دا طریقه هغه وخت ډېره زیاته مهمه ده چې نوې کلمې لوستلای او پژندلای شي . لاندې مثال به ښوونکی ته دغه مشکل په عملي توګه وښیي .
کله چې د [شل] کلمه لوستلی کېږي نو صحیح لنډ واول معلومول او تلفظ کول په کار دي . صحیح کلمه هله ویلې کېږي چې د آواز صحیح تلفظ یې وکړای شي لکه : [هغه شل ته شل روپۍ ورکړی] دا دوه کلمې (شل ، شل) یو شان ښکاري خو دا دوه ډلې ډلې کلمې دي او د کلمو او د جملې په صحیح طریقه د لوستلو او په دې د پوهېدلو له پاره د دې تلفظ ډېل ډېل په کار دی .

(۲) په مختلفو مشقونو کې وخت په وخت د الفبې تکرارول په کار ځي . د درس دا قدم له حروفو او آوازونو سره د کار کولو له پاره تیار شوی دی . دا مشق تر ډېره وخته نه دی په کار چې وشي .

د تورې په یو ځای کولو سره دې کلمې جوړې او په مربوطو تشو کوټو کې دې ولیکلې شي :



موضوع : حرفيزه مربع ؛ له ورکړای شويو حروفوڅخه کلمې جوړول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. لـه مشـق پـانې پ۲ – ۳۰ – ۱ څخـه د اخيسـتل شـويو دوه حرفـيزو کلمـو امـلا ويـل : الـف – د ښوونکـي لـه خـوا د درېو کلمـو امـلا ويـل ، د زده کوونکـو لـه خـوا يـې ليکـل . ب - د ښوونکي له خوا دغه کلمې پر توره تخته ليکل ، د زده کوونکـو لـه خـوا يـې لوسـتل ، مقايسه او اصلاح کول . ج - په نورو کلمو دوه درې خلې دغه عمل تکرارول .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه پ۲– ۳۰ – ۲
۲. په مشق پانه پ۲ – ۳۰ – ۲ کار کول (۱) : الف – د مشق پانې مطالعه کول ؛ په مربع کې د حروفو نومونه اخيستل . ب – د کار معلومول : د ورکړای شوې کلمې (کور) لوستل ؛ ويل چې دا ټول حرفونه په مربع کې شته ، خان پوهول چې له ورکړای شويو حروفو څخه ډېرې کلمې جوړېدلای شي. ج – د يو څو مثالونو د معلومولو له پاره يو خای کار کـول ، پـر تـوره تختـه يـې ليکـل . د – د مناسبو کلمو د معلومولو له پاره د زده کوونکو له خوا په دوو دوو کسانو کار کول او پر خپلو سلېټونو يې ليکل . (۲) هـ – نتيجې مقايسه کول ؛ د ښوونکي له خوا پر توره تخته په ورکړای شويو خالي خايونو کې صحيح کلمې ليکل . و - د زده کوونکو له خوا دغه کلمې په مشق پانه کې ښه ښايسته ليکل .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه پ۲– ۳۰ – ۲
۳. پر سلېټونو د صحيح کلمو مشق کول .	

له توريو څخه دې کلمې جوړې او په تشو خانو کې دې وليکلې شې :

کور				پ۲ ۳۰ ـ ۲
	م	ل	ر	
	ا	و	خ	
	ک	س	ن	

موضوع : له ټولګي سره ترلې فعلونه له [زه] او [موږ] سره په شفاهي او تحريري توګه استعمالول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱ د تبرې ورځې متن لوستل .	مشق پانه ص۲ – ۳ – ۲
۲ د هغه څه په باره کې چې دوی يې په ټولګي کې کوي يو لړ سوالونه او ځوابونه ويل : د ښوونکي له خوا له دې بيان څخه شروع کول : " زه په ټولګي کې درس ورکوم ؛ بيا له يوه زده کوونکي څخه پوښتنه کول : " ته په ټولګي کې څه کوې ؟ " يوازې همدې زده کوونکي ته دې د ځواب ويلو اجازه ورکړای شي . دا زده کوونکی به هم دا سوال له يوه بل زده کوونکي څخه کوي . دغسې به دا سلسله تر هغه جاري وي چې نور نو نوي ځوابونه نه شي پيدا کيدای .	
۳ د ښوونکي ، يوه جلا زده کوونکي او د څلورو زده کوونکو يو ګروپ را غوښتل اود ټولګي مخې ته يې ښبل ښبل درول ؛ د ټولګي زده کوونکي به بيا دې جلا زده کوونکي او د زده کوونکو د ګروپ نه يو په بل پسې څو ځله د همدغه سوال پوښتنه کوي : " تاسو په ټولګي کې څه کوئ ؟ " جلا زده کوونکی به د [زه] په وسيله ځواب ورکوي ؛ مثلاً : " زه ليکم " ؛ او ګروپ به د [موږ] په وسيله ځواب ورکوي ؛ مثلاً : " موږ ليکو " . " موږ لولو " .	
۴ د ښوونکي له خوا يو مثال پر تخته ليکل ؛ له زده کوونکو څخه د لوستلو او د [زه] او [موږ] په استعمال کې د فرق معلومولو غوښتنه کول .	تخته
۵ مشق پانه پ۲ – ۳ – ۳ مطالعه کول : الف – له اندیوال سره جملې لوستل . ب – ټولګي ته جملې لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) . ج – په خاموشۍ سره کار کول ؛ د [زه] او [موږ] غيبې کلمې ليکل .	مشق پانه پ۲ – ۳ – ۳
۶ د تبرې ورځې کلمې پر سلېټونو ليکل ؛ د [زه] او [موږ] شکلونه استعمالول : " زه ليکم ، ګورم، وايم ، لولم ، کوم / موږ ليکو ، ګورو ، وايو، لولو، کوو.	سلېټونه

د جملو په تشو ځايونو کې دې د [زه] او [موږ] کلمې په مناسب ډول وکاروله شي :

پ۲ | ۳ – ۳

موږ

زه

موږ خط ليکو .	زه خط ليکم .
موږ کتاب لولو .	زه کتاب لولم .
چارټ ته ګورو .	چارټ ته ګورم .
په ټولګي کې درپرو .	په ټولګي کې درپرم .
په ټولګي کې کښېنو .	په ټولګي کې کښېنم .
له استاد څخه پوښتنه کوو.	له استاد څخه پوښتنه کوم .
ځواب وايو .	ځواب وايم .
سبق وايو .	سبق وايم .

موضوع : په پوهېدلو سره لوستل ؛ د رسمونو مطابق د صحيح جملې انتخابول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. [حرفيزه مربع] تکرارول : (د کار کتابونه به بند وي) الف - د ښوونکي له خوا پر توره تخته داسې مربع جوړول لکه په مشق پانه پ۲- ۳۰ - ۲ کې چې ده . ب - بې له دې چې د کار کتابونو ته وګوري د زده کوونکو له خوا د کلمو معلومول او پر توره تخته يې ليکل . (۱)	توره تخته
۲. په مشق پانه پ۲- ۳۰ - ۲ کار کول : الف - د زده کوونکو له خوا د مشق پانې مطالعه کول او رسمونه يو په بل پسې بيانول . ب - کار معلومول : د څلورو جملو په يوه ګروپ کې يوه داسې جمله انتخابول چې د رسم مطابق وي . ج - په ورومبي مثال يو ځای کار کول : دجملو لوستل ، اندول جملو ته شمېره ورکول ، د نورو اندول جملو د معلومولو له پاره په دوو دوو کسانو کار کول. د - د جملو دري ګروپونه يو په بل پسې لوستل ، معلومول چې په هر ګروپ کې يوازې يوه جمله کټ مټ د رسم مطابق ده .	په مشق پانه پ۲- ۳۰ - ۳
۳. د منتخبو جملو ليکل : الف - پر سلېټونو يې نقل او مشق کول . ب - تر اړونده تصوير لاندې يې ښايسته ليکل .	سلېټونه په مشق پانه پ۲- ۳۰ - ۳

د رسمونو په باره کې دي خبرې وشي . د جملو په هر ګروپ کې دي يوه يوه داسې جمله انتخاب او تر هر رسم لاندې وليکله شي چې ور سره مطابق وي :

۱ ښځه تنور اچوي .	۲ ترکانې مېز جوړوي . پ۲ | ۳۰-۳
ښځه په تناره ډوډۍ پخوي .	ترکانې مېز پاکوي .
ښځه تنور مينځي .	ترکانې کټ جوړوي .
ښځه تنور جوړوي .	ترکانې تر مېز لاندې کښېنې .
_____	_____
۳ هغوی دعا کوي .	۴ شپون غواګاني او مېنې څروي .
هغه قرآن ته غوږ نيسي .	شپانه ګډې او وزې څروي .
دوی خبرې کوي .	شپون ګډې او وزې څروي .
هغوی قرآن لولي .	شپون کور ته ځي .
_____	_____

درسي پلان ۳۱ پ ۲ – ۳۱ – ۱	موضوع : زمونږ پیغبر صلی‌الله علیه وسلم (نظم) (۱)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
– زده کوونکو ته ویل چې تاسو به نن د پیغبر (ص) په باره کې خبرې کوئ . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د پیغمبر(ص) په باره کې خپل معلومات وواياي ؛ د معلوماتو په ترڅ کې چې کوم نومونه ذکرشي، خپلې مهم یې لکه : مکه ، محمد(ص) او نور پر توره تخته لیکل . (۲) – په زده کوونکو دغه کلمې جلا جلا لوستل ؛ د کلمو په لوستلو کې مرسته کول . – د دې کلمو په اوربدلو چې له زده کوونکو سره کوم فکر او احساس پیدا کیږي د هغه د ویلو غوښتنه ور څخه کول .	۱ . د پیغمبر(ص) په باره کې خپل معلومات ویل : – غوږ نیول . – د ببل ببل زده کوونکي له خوا خپل معلومات وړاندې کول ؛ د نورو غوږ نیول ، تبصرې کول ؛ کوشش کول چې دغه نوې کلمې په خاموشۍ سره ولولي . – هره کلمه څو څو ځله لوستل . – د خپل فکر او احساس بیانول .	تـــوره تختـــه
– اعلانول چې دوی به نن زمونږ د پیغمبر(ص) په بـاره کې یو نظم واوري . – دغه نظم دوه ځله لوستل . (۳) – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د نظم په باره کې یې څه په حافظه کې وي ویل ، د نورو غوږ نیول ؛ ډېرو زده کوونکو ته موقع ورکول . – یو ځل بیا د نظم ویل . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په نظم کې یې څه خوښیږي هغه وواياي . – په زده کوونکو د کار کتابونه پرانیستل ؛ چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۱ – ۱ رسمونو ته کتل او هغه کول . – په رسمونو کې د موجودو شیانو په باره کې څه نور معلومات ورکول ؛ پر توره تخته د ښودل شویو شیانو نومونه لیکل ؛ لکه : کعبه ، مکه، روضه ، قرآن ، خلك ، مدینه . – دغو کلمو ته اشاره کول .	۲ . په نظم (زمونږ پیغمبر(ص) ځان پوهول : – د نظم له پاره ځای په ځای کېناستل . – په توجه سره غوږ نیول . – د ببل ببل زده کوونکي له خوا چې څه یې په حافظه کې وي ویل ، د نورو غوږ نیول ، تبصرې کول. – غوږ نیول . – مثلاً : ویل چې له ماشومانو سره د پیغمبر(ص) مینه مې په نظم کې خوښه ده . لـه ماشـومانو سـره د هغـوی مرسته مې خوښه ده او داسې نور . – د کار کتابونه پرانیستل ، مشق پاڼه مطالعـه کول ، د رسمونو تشریح کول . – غوږ نیول ، د ښوونکي معلوماتوته لـه رسمونو سـره رابطه ورکول ، د دغو کلمو لوستل . – د دغو کلمو لوستل .	مشـــق پـــاڼه پ۲–۳۱ – ۱ تـــوره تختـــه
– خپلې نوې کلمې لکه : معتبر ، پیغمبر(ص) ، ربښتونی ، همېشه، ربښتیا ، روښانه پر توره تخته لیکل ؛ د دغو کلمو د لوستلو غوښتنه کول ، مرسته کول . – له زده کوونکو سره د دغو کلمو په معنا کولـو کې مرسته کول . – په زده کوونکو وړومبې دوه کرښې په خاموشۍ سره لوستل. – په زده کوونکو دا کرښې ټولګي ته لوستل .	۳ . د نظم برخې لوستل (۴) : – د دغو کلمو د لوستلو کوشش کول ، څو څو ځله دغه کلمې لوستل . – د دغوکلمو په معنا کولو کې کوشش کول؛ په څه چې نه پوهیږي پوښتنه یې کول ؛ غوږ نیول . – په خاموشۍ سره یې لوستل . – د ببل ببل زده کوونکي له خوا یې لوستل .	تـــوره تختـــه

- د زده کوونکو لارښوونه کول چې ورومبې دوه بندونه بیا بیا ولولي : الف – په خاموشۍ سره. ب - په لوړ آواز .	- دغه دوه بندونه له هدایت سره سم لوستل : الف – په خاموشۍ سره . ب – په لوړ آواز .	
- له زده کوونکو غوښتل چې کومې کرښې یې اوس ولوستلې هغه په خاموشۍ سره بیا ولولي او په یاد یې زده کړي ؛ وروسته دغه نظم خپل انډیوال ته ویلای اورسمونه رنګولای شي .	۴. د نظم ورومبی برخه په یاد زده کول : - په خاموشۍ سره کار کول : خو خو خله لوستل ، له انډیوال سره له یاده د نظم د ویلو وار په وار کوشش کول (وار په وار) ؛ د رسمونو رنګول .	

(۱) دا نظم په دوو کرښو کې یوه پیلامه او ورپسې پنځه بندونه لري . هر بند یې درې کرښې دی . که زده کوونکي یا ښوونکی په خواږه آواز د دې نظم ویل غواړي نو تر هر بند وروسته به ورسره پیلامه تکرار وي . دا نظم په ساده او آسانه ژبه جوړ شوی او د زده کوونکو له سویې سره برابر دی . د دې خبرې مطلب دا دی چې ځینې عربي کلمې چې عموماً د حضرت محمد(ص) له ژوند سره تړلې دي په دې نظم کې نه دي معرفي شوي . د مشق پاڼې متن د حضرت محمد(ص) د ژوند پر هغو اساسي حقایقو تاکید کوي چې زده کوونکي یې په آسانۍ زده کولای شي . ژور دیني معلومات به په راتلونکو مرحلو کې په تدریجي ډول ورکړل کیږي .

(۲) ښوونکی به د پیغمبر(ص) نوم (محمد(ص)) لیکي او بیا له دغه نامه سره د نبۍ په حیث د [ص] د توري تشریح کوي چې دا د هغو کلمو د سر حرف دی چې په ویلو او لیکلو کې د حضرت محمد(ص) په درناوي کې استعمالیږي .

(۳) که ښوونکی نظم دوه خله ولولي نو زده کوونکي به زیات وپوهیږي او د متن یادول او وړاندې خبرې کول کې به اسانه کړي .

(۴) د ټول نظم لوستل د زده کوونکو له پاره سخت دي . له دې کبله به په دې درس کې یوازې په پیلامه او ورومبیو دوو بندونو تاکید کیږي.


پ۲ | ۳۱ – ۱
زموږ پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم
دنیا کې له هر چا نه دی اوچت او بختور
زموږه پیغمبر
پیدا شو په مکه کې روضه یې مدینه کې
دی نوم د محمد(ص) داسې روښانه لکه لمر
زموږه پیغمبر
ربنتونی په ربنتیا و په زړه باندې صفا و
کارونه یې کول ښه ، همېشه ګور او بهر
زموږه پیغمبر
نازل پرې خدای قرآن کړ خبر یې هر انسان کړ
پیغام یې رسولی ټول جهان ته برابر
زموږه پیغمبر
ډېر خوښ یې ماشومان وو پر ده باندې ډېرګران وو
په زړه کې یې د دوی لرله مینه لکه غر
زموږه پیغمبر
هم تاسو یې صفت کړئ ثنایې هر ساعت کړئ
لارښود به وي د ستاسو په هر حال کې معتبر
زموږه پیغمبر .

موضوع : زمونږ پېغمبر(ص) (نظم)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د نظم د وړومبۍ برخې تکرارول : الف- د خپلې خوښې څو کسان ، چې نظم يې په ياد زده کړی او ويل يې غواړي ، نظم وايي . ب- د نظم د وړومبۍ برخې لوستل . ج- د نورو زده کوونکو له خوا د نظم ويل .	مشق پانه پ۲ - ۳۱ - ۱
۲. د نظم په دوهمه برخه کار کول : الف- پر توره تخته د نويو کلمو لوستل ؛ مثلاً : معتبر ، پېغمبر(ص) ، رښتونی ، همېشه ، رښتيا ، روښانه . ب- باقي درې بندونه يو يو لوستل ، وړومبۍ په خاموشۍ سره او بيا په لوړ آواز . ج - د نظم دوهمه ټوله دريمه برخه څو ځله ټولګي ته لوستل .	توره تخته
۳. په مشق پانه پ۲ - ۳۱ - ۲ کار کول : الف - د مشق پانې پاسنۍ برخه مطالعه کول ، په منځ کې د [زمونږ پېغمبر(ص)] د عبارت او چاپېره تړې د نورو کلمو لوستل . ب- ورکړای شوې کلمې استعمالول او د پېغمبر(ص) په باره کې جملې ويل. ج- د حضرت محمد(ص) مکمل نوم لوستل او ويل . د - په لاندينۍ برخه کې د څلورو جملو لوستل ، د مشق پانې له پاسنيو کلمو څخه د غيبو کلمو پيدا کول ، دغه کلمې ښه ښايسته وړومبۍ پر سلېټونو او بيا په خالي ځايونو کې ليکل .	مشق پانه پ۲ - ۳۱ - ۲
۴. په خاموشۍ سره کار کول : د نظم د درېوو آخرينو بندونو د لوستلو او يادولو مشق کول .	سلېټونه

تش ځايونه دې په مناسبو کلمو ډک شي :

پ۲ | ۳۱ ـ ۲



حضرت محمد صلی الله علیه و آله و سلم

۱ ـ زمونږ د پيغمبر نوم _____ دی .
۲ ـ زمونږ پيغمبر په _____ کې پيدا شوی دی .
۳ ـ زمونږ د پيغمبر روضه په _____ کې ده .
۴ ـ زمونږ په پيغمبر _____ نازل شوی دی .

موضوع : زمونږ پېغمبر(ص) ؛ د نظم او اساسي معلوماتو تکرارول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د نظم تکرارول : الف – د خپلې خوښې څو کسان ، چې د پېغمبر(ص) په باره کې نظم يې په ياد زده کړی او ويل يې غواړي ، نظم وايي . ب – د ټول نظم څو څو خلـه لوستل (يو زده کوونکی يو بند) . ج – د ډېرو زده کوونکو له خوا د نظم ويل . (۱)	مشق پانه پ۲–۳۱ – ۱
۲. په مشق پانه پ۲ – ۳۱ – ۳ کار کول : الف– د کار معلومول : د مشق پانې پاسنۍ کلمې به د جملو په خالي ځايونو کې ليکلې کيږي . ب – د مشق پانې پاسنۍ کلمې لوستل ، په لوستلو کې د مشکلاتو وضاحت کول او د تورو د معنا را په يادول . ج - له يوه انډيوال سره په خاموشۍ کار کول : د جملو لوستل ، غيبي کلمې معلومول (اوس به نه ليکلې کيږي) . د- يوه يوه جمله ټولګي ته لوستل ؛ د مناسبې کلمې د ليکلو له پاره فيصله کول . هـ– د غيبو کلمو ليکل : پر سلېټونو يې مشق کول ، په خالي ځايونو کې يې ليکل .	مشق پانه پ۲–۳۱ – ۳
۳. په خاموشۍ يا له يوه انډيوال سره يو ځای کار کول : الف– د مشق پانې پ۲ – ۳۱ – ۲ د څلورو واړو جملو مشق پر سلېټونو تر هغه پورې کول چې زده کوونکي يې په آسانۍ وليکلای شي. ب – د نظم لوستل ، دنظم په ياد زده کول .	سلېټونه مشق پانه پ۲–۳۱ – ۳ مشق پانه پ۲–۳۱ – ۲ سلېټونه

(۱) ځيني داسې زده کوونکي هم وي چې ټول نظم به له ياده نه شي ويلای . ښوونکی به دې خبرې ته په دې درس کې غاړه ږدي او قبلوي به يې . تر څو درسونو وروسته به ښوونکی دې زده کوونکو ته يوه بله موقع ور کوي .

تش ځايونه دې په مناسبو کلمو ډک شي :

پ ۲ | ۳۱ - ۳

عبدالله هجرت آمنه نازل خديجه

څلويښت ابوطالب دري شپېته عبدالمطلب

زمونږ د پېغمبر(ص) ژوند

د حضرت محمد(ص) پلار _____ و او مور يې _____ وه

د دوی دتره نوم _____ او د نيکه نوم _____ و .

دوی له مکې څخه مدينې ته _____ کړی و .

د نبوت په وخت د رسوالله عمر _____ کاله وو .

قرآن پر حضرت محمد(ص) _____ شوی دی .

د وفات په وخت د دوی عمر _____ کاله وو .

درسي پلان ۳۲ پ ۲ – ۳۲ – ۱	موضوع : د لوبيا له دانې (زړې) څخه بوټی څنګه جوړيږي (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- په يوه ګلدان کې يو بوټی ښودل ؛ زده کوونکو ته ويل چې په غور سره ورته وګوري او څه چې وينې هغه تشريح کړي . - زده کوونکو ته ويل چې تاسو به نن د بوټو په باره کې ډير څه زده کړئ ، وروسبی هغه څه وايي چې پرې پوهيږي ؛ د ساده پوښتنو په وسيله ذريعه مرسته کول ؛ مثلاً : • ته کوم ډول بوټي پېژنې ؟ • بوټي چېرته را شنه کيږي (توکيږي) ؟ • بوټي کله توکيږي ؟ • خلك په بوټو څه کوي ؟ او داسې نور .	۱ . په ګلدان کې د يوه بوټي مشاهده کول (۲) : - دغه بوټي ته په غور کتل ؛ ويل چې دا يو بوټی دی ؛ شين معلوميږي ؛ په ګلدان کې زرغونيږي او لوييږي ؛ پاڼې لري او داسې نور . - غوږ نيول ؛ د ډيرو زده کوونکو له خوا د بوټو په باره کې خپل معلومات وړاندې کول ؛ (يو زده کوونکی يو مختصر بيان) ؛ د نورو غوږ نيول او تبصره کول .	په ګلدان کې يو بوټی
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې انډيوالان دې يو ځای د مشق پاڼې پ۲ – ۳۲ – ۱ رسمونه مطالعه کړي (کافي وخت ورکول) . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر څه دوی خبرې وکړي له هغو څخه ټولګي خبر کړي (په دې مرحله کې به ښوونکی هيڅ تبصره نه کوي) : - د لوبيا د بوټي او د هغه د شنه کېدلو او لوېدلو په باره کې د يوه بحث لارښوونه کول ؛ ځومره چې ممکن وي هغومره زده کوونکو ته برخه ورکول ؛ ممکن سوالونه او تجريکات : • کوم قسم بوټی ښودل شوی دی ؟ • په رسمونو کې تغيرات تشرح کړئ ! • د رسمونو ترتيب معلوم کړئ ! • تاسو ته د يوه بوټي د مختلفو برخو نومونه درځي ؟ • له غټ رسم څخه يې معلوم کړئ چې بوټی د زرغونېدلو او لوېدلو له پاره څه ته ضرورت لري ؟	۲ . هغه رسمونه مشاهده کول چې د لوبيا د بوټي زرغونېدل / لوېدل ښيي : - دغه رسمونه مطالعه کول ؛ له يوه انډيوال سره وړاندې خبرې کول . - د ځينو زده کوونکو له خوا ټولګي ته اطلاع ورکول ، د نورو غوږ نيول ، تبصرې کول . - د لوبيا د بوټي د زرغونېدلو او لوېدلو په باره کې تشريحات ورکول ؛ د بوټي د مختلفو برخو نومونه ويل (کوم بوټی چې پېژني) ؛ د بوټي د زرغونېدلو او لوېدلو د ضرورتونو معلومول .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۲ – ۱
- د مشق پاڼې د کينې خوا کلمې په زده کوونکو لوستل	۳ . د اړوندو نويو کلمو لوستل ؛ د بوټو د ټولو برخو صحيح نومونه اخيستل ؛ د کلمو په جملو کې استعمالول : - دغه کلمې څو څو ځله لوستل .	مشق پاڼه پ۲–۳۲ – ۱

- له زده کوونکو څخه دٔ دي کلمو د معنا پوښتنه کول او په رسمونو کې ښودل نومول شوي شيان وربانديې ښودل . - په زده کوونکو په صحيح ترتيب په جملو کې چې د لوبيا د بوټي لويېدل ښيي استعمالول .	- د کلمو او د دوی د معناګانو په باره کې خبرې کول ؛ په رسمونو کې د يو بل اړوند يا انډول شيان ښودل . - داسې جملې ويل : " د لوبيا تخم اول په ګلدان کې په خاوره کې وي . بيا تر څه وخت وروسته يوه غوټې وکړي . " زده کول چې يو بوټی له تخم څخه راټوکيږي وده کوي او په آخر کې د نويو بوټو له پاره تخم کوي.	
- زده کوونکو ته ويل چې په خاموشۍ سره کار وکړي : الف – پر سلېټونو د نويو کلمو د ليکلو مشق کول . ب – د رسمونو په صحيحو خايونو کې کلمې ليکل . ج – د رسمونو رنګول (کله ممکن وي نو د طبيعي رنګونو مطابق) .	*۴ . د نويو کلمو ليکل :* - په خاموشۍ سره او له يوه انډيوال سره له غوښتنې سره سم کار کول .	سلېټونه

(۱) دا درسي پلان د لوبيا د بوټي له زرغونيدلو او لويېدلو سره سرو کار لري . د دې مثال مطالعه د زده کوونکو له پاره مهمه ده . د دې په مطالعه کولو سره به ماشومان د بوټو په باره کې يو څه عمومي معلومات حاصل کړي . دا معلومات به د تدريس په جريان کې ورو ورو ورکول کيږي .

(۲) ښوونکی دې د مشاهدې له پاره په ګلدان کې يو بوټی ټولګي ته راوړي. له يادې د خبرو په نسبت زده کوونکو ته دا ډېره ګټوره او دلچسپه ده چې په خپله حقيقي شی له نژدې مشاهده کړي . که چېرې ټولګي ته په ګلدان کې د يوه بوټي راوړل ناشوني وي نو ښوونکی دې دمشاهدې له پاره ماشومان چېرته دباندې بوځي . خو د ښوونکي به دې خبرې ته پام وي چې د يوه خاص بوټي مشاهده کول مشکل کار دی . د دې مطلب له پاره به ښوونکی يو داسې بوټی په پام کې نيسي چې لويېدل او مشاهده کول يې اوږد وخت نيولای شي . هغه بوټي چې ټولګي ته يې راوړل ممکن دي : لوبيا ، جوار ، يو ګل . هغه بوټي چې له ټولګي څخه دباندې يې مشاهده کېدای شي : د ښونځي يا د کور په انګړ کې کرلي ګلان يا سابه .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي . کلمې دې په داسې جملو کې وکارولې شي چې د لوبيا د راټوکېدولو ، ودې او ثمر ته رسېدلو په باره کې معلومات ورکړي .

موضوع : د يوه بوټي لويېدل (تکرار) ؛ د يوه موسمي بوټي او يوې ونې مقايسه کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار: د لوبيا د بوټي لويېدل : الف- ښوونکی پر توره تخته ليکي : د لوبيا بوټی. له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په دې باره کې په څه پوهيږي هغه ووايي (ډېرو زده کوونکو ته د ګډون موقع ورکولای شي) يو زده کوونکي يوه جمله . ب- ښوونکی پر توره تخته يو بوټی رسموي ؛ د زده کوونکو له خوا د هغه مختلفې برخې ښودل ؛ نومونه يې صحيح اخيستل .	تـــوره تخـتـــه تـــوره تخـتـــه
۲. د يوې ونې مشاهده کول : الف- زده کوونکي چېرته د باندې د يوې نژدې ونې خواته بوول (که ونه نه وي نو له يوه مناسب رسم څخه به کار اخيستل کيږي) . ب- د دغې ونې مشاهده کول او تشريح کول : د هغې د مختلفو برخو پېژندل ؛ د لوبيا له بوټي سره يې مقايسه کول ؛ پېرته ټولګي ته راتلل .	
۳. ونه او د لوبيا بوټی مقايسه کول : الف - ښوونکی پر توره تخته ليکي : [ونه] ، [د لوبيا بوټی] ؛ د زده کوونکو له خوا يې لوستل ؛ څومره چې کولای شي هغومره مشابهتونه او فرقونه پيدا کول (په شفاهي توګه) . ب – پر توره تخته د يوې ونې په باره کې ښوونکی ساده جملې ليکي ؛ له زده کوونکو سره د جملو په جوړولو کې مرسته کول ؛ مثلاً : " ونه هم يو بوټی دی . جړې ، پانې ، ګلان ، مېوه او تخمونه لري . ډنډر نه لري ستنه (تنه) لري " .	تـــوره تخـتـــه
۴. په مشق پانه پ۲ – ۳۲ – ۲ کار کول : الف – په ګډه سره د عنوان لوستل . ب- مقايسې بيا بيا لوستل ؛ اول په خاموشۍ سره ، بيا په لوړ آواز . ج- په دوو دوو کسانو د لوستلو مشق کول .	مشـــق پـــانه پ۲-۳۲ – ۲
۵. پر سلېټونو د تورې تختې د لنډ متن د ليکلو مشق کول ؛ دا متن د يوې بلې ورځې د يوې لنډې املا له پاره يو ډول تياری دی .	ســـــلېټونه

پ۲ | ۳۲ ـ ۲

ونې او بوټي

ونې غټې وي او تنې لري . بوټي واړه وي او ډنډر لري .

ونې پانې او جړې لري . بوټي هم پانې او جړې لري .

ځينې ونې مېوه نيسي . ځينې بوټي هم مېوه نيسي .

د ونې عمر زيات وي . ځينې بوټي يوازې په يوه موسم کې وي .

خلک د ونو پانې او جړې نه خوري . خلک د ځينو بوټو پانې او جړې خوري .

د ټولو ونو او بوټو له پاره خاوره ، اوبه ، لمر او هوا په کار دي .

موضوع : مورې له بوټو خواړه تيارووموضوع : مورې له بوټو خواړه تيارووموضوع : مورې له بوټو خواړه تياروومو

درسي پلان ۳۳ پ۲ – ۳۳ – ۱	موضوع : بوتي ؛ د توت ونه (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
. - په زده کوونکو مشق پانه پ۲ – ۳۳ – ۱ مطالعه کول . - څه چې ويني هغه پرې ويل ؛ د سوالونو په حلولو کې ورسره مرسته کول . - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دا مختلف شيان د توت له ونې سره يو خای ولې ښودل شوي دي ؟ - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې آيا دوی د توت د ونې کوم بل ډول استعمال پېژني ؟	۱ . د توت د ونې د استعمال رسمونه تشريح کول او بحث وربانديې کول (۲) : - دغه مشق پانه مطالعه کول . - رسمونه په تفصيل سره تشريح کول ؛ د هغو شيانو په باره کې پوښتنې کول چې پرې نه پوهيږي . - بحث کول او معلومول چې دا ټول شيان د توت له ونې څخه جوړيږي . - ممکن ووايي چې د توت وچې څانګې د سوځولو له پاره استعماليږي .	مشق پانه پ۲–۳۳ – ۱
- د مشق پانې کلمې او عبارتونه په زده کوونکو لوستل ؛ د زده کوونکو له خوا د لوستلو په وخت کې دغه کلمې او عبارتونه ښه ښايسته پر توره تخته ليکل . - زده کوونکو ته ويل چې کومې کلمې/عبارتونه لوستلای نه شي هغوی ته اشاره وکړي ؛ د حروفو د ترکيبونو په پېژندلو او د دې کلمو/ عبارتونو په لوستلو کې مرسته کول . - زده کوونکو ته ويل چې کومو کلمو/ عبارتونو ته زه اشاره کوم هغه ووايئ . - زده کوونکو ته ويل چې د کلمو د شمېرې مطابق رسمونو ته شمېرې ورکړي او له خپلو اندېوالاتو سره يې چک کړي ؛ په زده کوونکو ګرځېدل ؛ مرسته کول .	۲ . د توت د ونې د استعمال په ارتباط د نويو کلمو لوستل : - تر کومه چې ممکن وي د دغو کلمو لوستل . - مشکلو کلمو ته اشاره کول ؛ د ښوونکي په مرسته يې لوستل . - دغه کلمې څو څو ځله لوستل . - د غوښتنې مطابق په خاموشۍ سره کار کول ؛ له اندېوالاتو سره يې کتل .	توره تخته مشق پانه پ۲–۳۳ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پانې پ۲ – ۳۳ – ۲ جملې دې له اندېوال سره يو خای ولوستلې شي ؛ دا متن آسان دی بې له دې چې مخکې له مخکې د مشکلو کلمو مشق وکړي د هغوی په لوستلو شروع کولای شي . - په زده کوونکو ويل چې په څه پوه شول او په څه پوه نه شول؛ د مسألو په حلولو کې مرسته کول.	۳ . د يوه اړونده متن لوستل : - له اندېوالاتو سره د جملو لوستل (شايد په مخکښۍ مشق پانه باندې چې دا کلمې په کې استعمال شوې دي حواله ورکړای شي . - ويل چې دا جملې د توت د ونې او د هغې د استعمال په باره کې دي ؛ له کومې مسالې سره	مشق پانه پ۲–۳۳ – ۲

موضوع : زما / زمونږ په ښوونځي کې څه خوښ دي ؛ د [زما ليکل خوښ دي .] جوړښت معرفي کول

درسي مواد	د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه
تـــوره تختـــه	۱. تېرو درسونو کې د کلمو د املا ليکلو مشق کول ؛ مثلاً : " هغه کوي " . " زه ليکم " . " مونږ لولو " . " مونږ ګورو " . ليکل ، چك کول ، مقابله کول او د کتابي علامې د قدمونو پيروي کول .
	۲. د زده کوونکو چې څه په ښوونځي کې خوښ دي ، د هغو په باره کې يو لړ سوالونه او ځوابونه ويل ؛ د ښوونکي له خوا له يوه بيان څخه شروع کول ؛ مثلاً : زما د سبق ښودل خوښ دي " ؛ بيا له يوه زده کوونکي څه پوښتنه کول : " ستا په ښوونځي کې څه خوښ دي ؟ " يوازې همدې زده کوونکي ته دې د ځواب ورکولو اجازه ورکړای شي . دا زده کوونکی يوه بل ته مخاطب کيږي او د همدې سوال په ذريعه دا سلسله جاري ساتي . هغه خپل ځواب ورکوي او په دې توګه دا لړۍ
تـــوره تختـــه	دوام کوي .
	۳. د ښوونکي له خوا يو ځواب پر توره تخته ليکل ؛ مثلاً : " زما لوبې کول خوښ دي " ؛ د زده کوونکو له خوا د لوستلو کوشش کول ؛ نوې کلمه (خوښ) او د [کول] د کلمې نوی شکل
مشـــق پـــانه	معلومول . د زده کوونکو له خوا څو خله دا کلمه لوستل .
پ۲ – ۳ – ۴	۴. په مشق پانې پ۲ – ۳ – ۴ کار کول : الف - د مشق پانې مطالعه کول ؛ د رسم په باره کې خبرې کول . ب – له انديوال سره متن لوستل. ج – د جلا جلا زده کوونکو له خوا د متن د برخې بيا ويل . د – تولګي ته د متن بيا لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) .
	۵. په مشق پانه کې ښودل شوی حالت څو خله په عمل کې ښودل . (۱)
	۶. له مشق پانې څخه د دوو يا درېو جملو پر سلېټونو مشق کول .

(۱) ښوونکي ته په کار دي چې زده کوونکو ته موقع ورکړي چې هغه حالت / وضعيت په عمل کې وښيي چې دوی يې تجربه کولای او د خپلو احساساتو او خيالاتو اظهار په کې کولای شي .

د رسم په باره کې دې خبرې وشي . متن دې ولوستل شي :

کريم او درخو ښوونځي ته ځي . د هغوی ښوونځی خوښ دی .
سليم ښوونځي ته نه ځي . هغه وړوکی دی . کريم او درخو خبرې کوي .
درخو وايي : زما ليکل او حساب کول خوښ دي .
کريم وايي : زما لوستل او لوبې کول خوښ دي .
دوی وايي : مونږ په ښوونځي کې سبق وايو او لوبې کوو . زمونږ استادان خوښ دي .

- غوښتنه کول چې جملې يوه يوه ټولګي ته ولولي، مرسته کول چې زده کوونکي لوستل صحيح وکړي .	د مخامخ کېدلو په وخت مرسته غوښتل . - د ببل ببل زده کوونکي له خوا لوستل ؛ يو زده کوونکی يوه جمله ؛ د نورو غوږ نيول ؛ له کربنې سره د لوستلو په وخت کې ګوته ورپل ؛ د جملو څو څو خله لوستل .	
- په دې باره کې د يوه بحث لازښوونه کول چې په لاندې کربنه کې دغه دوه جملې ولې دومره ښايسته او مهمې دي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دې دوو جملو د ليکلو مشق له يادې وکړي او تر هغې وروسته د ټول متن د لوستلو مشق وکړي.	۴ . د لوستلو او ليکلو مشق کول : - غوږ نيول ، بحث کول ، ځان پوهول . - د غوښتنې مطابق په خاموشۍ سره کار کول : الف – د لاندې کربنې د جملو د ليکلو مشق کول . ب – د مشق پاڼې متن لوستل .	مشق پاڼه پ۲–۳۳ – ۲ سلښتونه

(۱) دا درسي واحد هم د تېر درسي واحد په شان له ونو بوټو سره سرو کار لري . د دې عنوان [د توت ونه] دی چې په ډېرو طريقو سره تري کار اخيستل کيږي . دا عنوان په ساده رسمونو (مشق پاڼه پ۲ – ۳۳ – ۱) ، ساده بيانونو (مشق پاڼه پ۲ – ۳۳ – ۲) او د يوې کيسې په شکل چې د يوه ځوان هلک له خوا ويله کيږي او د توت له ونې سره ذاتي رابطه لري (مشق پاڼه پ۲ – ۳۳ – ۳) ، وړاندې شوی دی . د محتوی د ښوولو په خوا کې دا درسي واحد د زده کوونکو د لوستلو پر قابليت تأکيد کوي .

(۲) د ورځښمو له چنجي پرته ټول جوړ شوي شيان د زده کوونکو له ورځنيو تجربو سره سم دی . په دې صورت کې به ښوونکی اساسي معلومات زده کوونکو ته ورکوي : د ورځښمو چنجی د ورځښمو د تر لاسه کولو له پاره ساتل کيږي او د توتانو پاڼې يې خوراک دی . دوی د پانو چاپېره يو کور جوړوي چې د ورځښمو د چنجيو غوزه يې بولي او له هغې نه د جامو د جوړولو او ګنډلو ښايسته تارونه جوړيږي .

رسمونو ته دي د مربوطو کلمو / عبارتونو شمېرې وليکلې شي :

پ۲ | ۳۳ - ۱

۱ توتان
۲ ټوکرۍ
۳ د ګډو او وزو خواړه
۴ د کټ پښې
۵ سيوری
۶ لاس ګاډی
۷ د هاکې ډنډه
۸ د ورځښمو د چينجيو خواړه

پ۲ | ۳۳ - ۲

د توت ونه ډېرې ګټې لري

د توت مېوه خوږه او د هر چا خوښه وي .
د ورځښمو چينجي د توت پاڼې خوري .
ګډې او بزې هم د توت پاڼې خوري .
د توت له څانګو څخه کجاوې جوړيږي .
د توت لرګی په ډېرو شيانو کې په کاريږي .
خلک د توت د ونې سيوري ته کښيني .
ونې الله ﷻ پيدا کړي دي . د ونو ساتنه په کار ده .

موضوع : سليم وايي ؛ د توت د ونې په باره کې د يوې کيسې لوستل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د زده کوونکو له خوا تکرار کول (څه چې د توت د ونې د استعمال په باره کې معلومات لري) ؛ ډېرې جملې ويل (يو زده کوونکی يوه جمله) .	
۲. په مشق پاڼې پ۲ – ۳۳ – ۳ کې د کيسې وړومبۍ برخه د ماشومانو له خوا په خاموشۍ سره لوستل ، د ضرورت په اندازه د ښوونکي له خوا مرسته کول .	مشق پاڼه پ۲–۳۳ – ۳
۳. د ښوونکی له خوا د متن په باره کې پوښتنې کول ؛ مثلاً : " کيسه څوک وايي ؟ کيسه د څه په باره کې ده ؟ د توت ونه د سليم ولې خوښه ده ؟ " د زده کوونکو له خوا خوابونه ورکول .	
۴. د زده کوونکو له خوا د متن لومړۍ پاراګراف يوه يوه يا دوه دوه جملې په نوبت سره ټولګي ته لوستل .	
۵. په همدغه شان د کيسې په پاتې برخه کار کول (په خاموشۍ سره لوستل) ؛ سوالونه او ځوابونه په اوچت آواز لوستل .	
٦. د مشق پاڼې پ۲ – ۳۳ – ۲ د وروستۍ کرښې د دوو جملو د ليکلو مشق پر سلېټونو کول (۱)	سلېټونه مشق پاڼه پ۲–۳۳ – ۲

پ۲ | ۳۳ ـ ۲

د توت ونه ډېرې ګټې لري

د توت مېوه خوږه او د هر چا خوښه وي .

د وږې ښمو چينجي د توت پاڼې خوري .

ګډې او بزې هم د توت پاڼې خوري .

د توت له څانګو څخه کجاوې جوړيږي .

د توت لرګی په ډېرو شيانو کې په کار يږي

خلک د توت د ونې سيوري ته کښيني .

ونې الله(ج) پيدا کړي دي . د ونو ساتنه په کار ده .

موضوع : د لوستلو مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. املا : د مشق پاڼي پ۲ – ۳۳ – ۲ دوه جملې چې تېره ورځ يې مشق وشو . ۲. د مشق پاڼي پ۲ – ۳۳ – ۳ متن د زده کوونکو له خوا په خاموشۍ سره لوستل ؛ د لوستلو د مقابلې لپ مشق کول : " دا کيسه څوک په ښه طريقه لوستلای يا د يوه کيسه ويونکي په شان کولای شي ؟" ۳. د لوستلو مقابله : د ببل ببل زده کوونکي له خوا وړومبی د متن اوله يا دوهمه برخه ، په آخر کې ټول متن ټولګي ته لوستل : کوم زده کوونکی چې لوستل کوي هغه به د ټولګي مخې ته کېنې . نور ټول زده کوونکي به په پوره توجه او ښه انداز لوستل وکړای شي . تر لوستلو وروسته به د لاسونو په پرکولو سره د ماشوم ډاډګيرنه کيږي . پر ښه لوستلو به زده کوونکي تبصره کوي . يعنې د ښه لوستلو وجوهات به وايي ؛ مثلاً : دا لوستل ولې ښه وو ؟ ۴. له يوې حروفي مربع څخه ، چې په درسي پلان پ۲– ۳۰ – ۱ کې پرې کار شوی دی ، کلمې ليکل :	سلېټونه مشق پاڼه پ۲–۳۳ – ۳
الف – د ښوونکي له خوا پر توره تخته د حروفي مربع جوړول . ب– د زده کوونکو له خوا دغه حروف لوستل . ج – د زده کوونکو له خوا له دې حروفو څخه دومره کلمې جوړول څومره چې ممکن وي ؛ مثلاً : دا ، دی ، ده ، ټال ، تش ، شل ، تل ، هاتې ، دال ، شات	توره تخته

ی	د	ت
ش	ا	ه
ل	ټ	ه

پ۲ | ۳۳ – ۲

سليم وايي

زموږ د کور په انګړ کې د توت يوه ونه ده . په يوه ځانګه کې يې ما ټال اچولی دی . زه له خپلو ملګرو سره په دې ټال کې زانګم . په اوړي کې د دې ونې په سيوري کې لوبې کوم . چې سترې شم تر سيوري لاندې يې په کټ کې ځملم . د توت په يوه ځانګه کې ښارو خاله جوړه کړې ده او هګۍ يې په کې اچولې دي . څو ورځې وروسته به بچي راوړي .

په پسرلي کې چې زموږ د توت ونه پاڼې وکړي ، زه ډېر خوشحاله شم . خکه چې په اوړي کې به يې مېوه پخه شي او موږ به توتان خورو .

دغه توتان ډېر خواږه دي .

زموږ توکری چې وشلېږي ، مور مې د دې ونې وړې وړې ځانګې پرې کوي او توکری پرې بېرته جوړوي .

په مني کې د دې ونې پاڼې ګډو او بزوته اچوو .

ستاسې د کور په انګړ کې هم د توت ونه شته ؟

د درسي پلان ۳۴	موضوع : وني بوتي ؛ په کيسه (بوډا او پاچا) خان پوهول (۱)

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . *کيسې ته غوږ نيول ، بحث وريانديې کول :*	
- پر توره تخته کيږ ارخ ته پاس د [پاچا] کلمه ليکل (۲) له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دې کلمې په لوستلو سره د د وی په ذهن کې څه راځي هغه ووايي .	- د ښوونکي ليکلو تنه په غور کتل ، د کلمې لوستل ، د پاچايانو په باره کې چې دوی څه معلومات لري ، هغه ويل .	تـــوره تختـــه
- د پاچايانو په باره کې نور معلومات ورکول .	- غوږ نيول ، خان پوهول چې په پخوا زمانه کې پاچايانو هر ځای په ملکونو حکومت کاوه ، خو نن سبا دهر پاچايان نشته .	
- زده کوونکي خبرول چې يوه کيسه به اوري.	- غوږ نيول ، په خپلو خپلو ځايونو کښاستل .	
- کيسه ويل يا لوستل .	- په توجه ورته غوږ نيول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په کيسه تبصره وکړي .	- آزادې تبصرې کول ، د سوالونو کول .	کيســـه لـــه درســـي پـــلان ســـره ده .
- کيسه يو خل بيا ويل يا لوستل .	- غوږ نيول .	
- لـه زده کوونکو څخه د کيسې په باره کې د سوالونو پوښتنه کول ؛ مثلاً : (۴)	- د جلا جلا زده کوونکو خواب ورکول ؛ د نورو ورته غوږ نيول ، تبصرې کول ، اصلاح کول .	تـــوره تختـــه
• چا نيالګي کښېنول ؟		
• څوک د بوډا خواته راغی ؟		
• پاچا ولې حيران شو ؟		
• پاچا له بوډا څخه د څه پوښتنه وکړه ؟		
• بوډا څه خواب ورکړ ؟		
• باچا ولې دهر خوشحاله شو او بوډا ته يې انعام ورکړ ؟	د کيسې په پيغام خان پوهول .	
- لـه زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر توره تخته ليکلی متن ولولي .	- څو ځله لوستل .	تـــوره تختـــه
	۲ . *رسمونه له کيسې سره تړل :*	
- لـه زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۴ – ۱ رسمونه له خپلو اندیوالاتو سره يو خای مطالعه کړي .	- له اندیوالاتو سره رسمونه مطالعه کول .	مشـــق پـــاڼه پ۲ -۳۴ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسمونو ته په صحيح ترتيب سره شمېره ورکړي .	- ويل چې رسمونه له کيسې سره رابطه لري ، خو ترتيب يې غلط دی ، رسمونه په تفصيـل سره بيانول .	
- لـه زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې کيسه د تصويرونو په مرسته سره يو خل بيا ووايي .	- رسمونو ته شمېره ورکول . - د يو څو زده کوونکو له خوا د کيسې بيا ويل .	

	۳. جملې لوستل ، ترتیب یې صحیح کول :	تـــوره تختـــه
- زده کوونکي رهنمایي کول چې دا نـوې کلمې یوه په بلې پسې ولولي : پاچا ، نندارە ، حیران، بنکار ، ملګرو ، انعام .	- د بنوونکي له خوا پر توره تخته له لیکلو سره سم د کلمو یوه په بلې پسې لوستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه پ۲ - ۳۴ – ۲ کې جملې له یوه انـډیوال سره په خاموشۍ ولولي .	- له انډیوال سره په خاموشۍ کار کـول : جملې لوستل ؛ د جملو د صحیح ترتیب د معلومولـو کوشش کول (لا به شمېره نه لیکلې کیږي) .	مشـــق پـــانه پ۲–۳۴ – ۲
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې تولګي ته جملې یوه په بلې پسې په صحیح ترتیب سره ولولي ، یوه زده کوونکي یوه جمله ، په صحیح ترتیب سره جملو ته شمېره ورکول .	- جملې یوه په بلې پسې په صحیح ترتیب لوست ، یوه زدده کوونکی یوه جمله ، جملو ته په صحیح ترتیب سره شمېره ورکول .	
	۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول :	مشـــق پـــانه پ۲–۳۴ – ۲ مشـــق پـــانه پ۲–۳۴ – ۱
- له زده کوونکو څخه پـه خاموشۍ سره د کـار کولو غوښتنه کول : الف – له یوه انډیوال سره د جملو د لوستلو مشق کول . ب– له تورې تختـې څخه پر خپلو سلېټونو د متـن د لیکلـو مشـق کول. ج – د رسمونو رنګول .	- له غوښتنې سره سم په خاموشۍ کار کول .	

(۱) د دې کیسې هدف دا دی چې زده کوونکي خبر شي چې ونې ورو ورو توکیږي او څنګه چې په کیسه کې بودا خان د راتلونکي نسل له پاره مسوول ګڼي دغسې اوسنی نسل د راتلونکي نسل له پاره مسوول دی . د زده کوونکو له پاره د دې اخلاقي درس د بیانولو ضرورت نشته خو دوی دې د بودا په مثال بحث وکړي اوخان دې وپوهوي .

(۲) د درس په دوران کې به یو څو کلمې او جملې ښې ښایسته پر توره تخته لیکلای شي . د درس په آخر کې به پر توره تخته لیکلې شوې کلمې او جملې داسې ښکاري : څنګه چې درس مخ په وړاندې ځي داسې به پر توره تخته په متن کې ورسره اضافه کېږي . په آخر کې به زده کوونکي د توري تختې دمتن د لیکلو مشق کوي .

بودا	پاچا
نیالګي کښېنول	په نندارې شو
مېوه وخوري	انعام ورکړ

(۳) د لومړي ټولګي د پښتو د ښوونکي د لارښود په درسي پلان : ۲۶ کې د [تاج] کلمه معرفي شوېده . ځینو زده کوونکو ته به یاد وي چې دلته د پاچا په باره کې څه ویل شوي وو .

(۴) په دې مرحله کې چې زده کوونکي بیانونه ورکوي نو ښوونکی دې د بودا او پاچا په باره کې لنډې جملې پر توره تخته ولیکي چې د توري تختې متن ورو ورو مکمل شي (تبصره نمبر ۲ وګورئ !)

بودا او پاچا

یوه ورځ یوه بودا له خپل کور سره نژدې نیالګي کښېنول دغه وخت پاچا له خپلو ملګرو سره ښکار ته روان و . ناڅاپه یې پر بودا نظر پرېوت حېران شو چې دومره بودا سړی نیالګي ولې کښېنوي . پاچا او د هغه ملګري بودا ته ورغلل او د هغه د کار په نندارې شول . لږ وخت پس پاچا له بودا څخه پوښتنه وکړه : " بابا ، ته به د څو کالو یې ؟ " بودا ډېر په مینه ځواب ورکړ چې زه د اتیاوو کالو یم . پاچا حېران شو او ویې ویل : " ته ډېر بودا یې او دا نیالګي به ډېره موده پس مېوه نیسي . ته به د دې نیالګي تر میوې نیولو او خوړلو پورې ژوندی نه یې . نو دا دومره تکلیف ولې کوې ؟ " بودا مسکی شو او ویې ویل : " خیر دی، که ما یې مېوه ونه خوړه ؛ زما اولاد خو به یې وخوري . " د بودا خبرې پاچا دومره حېران کړ چې د هغه له پاره هم یو درس شو. ده د دې په بدل کې هغه ته انعام ورکړ او خوشحاله په خپله لاره روان شو .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي ؛ د ترتیب له مخې دې شمېره ورکړله شي ؛ رنګ دې شي :



جملو ته دې د ترتیب له مخې شمېره ورکړله شي :

پ۲ | ۳۴ ـ ۲	بوډا او پاچا
	پاچا د بوډا د کار په نندارہ شو .
	پاچا بوډا ته ډېر انعام ورکړ .
۱	یوه بوډا نیالګي کښېنول .
	بوډا وویل چې د ده اولاد یې مېوه وخوري .
	پاچا له ملګرو سره په ښکار پسې روان و .
	پاچا له بوډا څخه پوښتنه وکړه چې نیالګي ولې کښېنوي ؟
	هغه د بوډا خوا ته ورغی .
	پاچا د بوډا په خبرو ډېر خوشال شو .

موضوع : بوډا او پاچا ؛ د رسمونو له پاره تشريحي جملې معلومول ؛ د سوالونو او ځوابونو لوستل

	د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱.	کيسه يو ځل بيا ويل .	
۲.	د بوډا او پاچا په منځ کې خبرې په عملي ډول وړاندې کول .	
۳.	د مشق پاڼې پ۲ – ۳۴ – ۱ له پاره تشريحي جملې معلومول (يو رسم ، يوه تشريحي جمله) ، د زده کوونکو ساده جملې معلومول ؛ مثلاً : بوډا يوه ونه کړي . پاچا بوډا ته راځي . بوډا او پاچا خبرې کوي . باچا بوډا ته انعام ورکوي .	مشق پاڼه پ۲ -۳۴ – ۱
	د ښوونکي له خوا د تشريحي جملو پر تخته ليکل .	تخته
۴.	د مشق پاڼې پ۲ – ۳۴ – ۲ جملې په صحيح ترتيب تولګي ته لوستل .	مشق پاڼه پ۲ -۳۴ – ۲
۵.	په مشق پاڼه پ۲ – ۳۴ – ۳ کار کول : الف – مشق پاڼه مطالعه کول ، په کار خان پوهول چې دهر سوال له پاره دې صحيح ځواب معلوم او پر له پسې شمېره دې ورکړای شي . ب – له يوه اندېوال سره په خاموشۍ کار کول ، سوالونه او ځوابونه لوستل ، ځوابونو ته شمېره ورکول . ج – سوالونه او ځوابونه تولګي ته لوستل .	مشق پاڼه پ۲ -۳۴ – ۳
۶.	په خاموشۍ سره مشق کول : الف– له يوه اندېوال سره سوالونه او ځوابونه لوستل ، د يوه له خوا سوال او د بل له خوا ځواب لوستل (وار په وار) . ب– د بلې ورځې د املا له پاره له تورې تختې څخه پر سلېټونو د ځلورو جملو د ليکلو مشق کول .	سلېټونه

د پوښتنې شمېره دې له مناسب ځواب سره وليکله شي :

سوالونه او ځوابونه		پ۲	۳۴–۳
۱	بوډا يوه ورځ څه کول ؟		پاچا بوډا ته انعام ورکړ .
۲	پاچا چېرته روان و ؟		ته به د دې مېوه ونه خوړلای شې .
۳	بوډا ته څوک ورغلل .		بوډا ته پاچا او د هغه ملګري ورغلل .
۴	پاچا د چا د کار په نندارې شو؟		زما اولاد به يې مېوه وخوري .
۵	پاچا بوډا ته څه وويل ؟		پاچا ښکار ته روان و .
۶	بوډا پاچا ته څه ځواب ورکړ ؟	۱	بوډا يوه ورځ نيالګي کښېنول .
۷	پاچا بوډا ته څه ورکړل ؟		پاچا د بوډا د کار په نندارې شو .

موضوع : د يوې املا ليکل ؛ د ونو په باره کې يو متن لوستل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د يوې املا ليکل : الف – د ښوونکي له خوا دهغو څلورو جملو يوه په بلې پسې املا ويل چې تيره ورځ يې مشق شوی دی ؛ د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو املا ليکل . ب– د ښوونکي له خوا پر توره تخته ښه ښايسته يوه په بلې پسې د جملو ليکل ، د زده کوونکو له خوا يې چک کول او اصلاح کول .	تـــوره تختـــه
۲. د مشق پاڼې سوالونه او خوابونه يو څل بيا تولګي ته لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲ -۳۴ – ۳
۳. يو متن لوستل : الف – د يو څو نويو کلمو (څلنګې ، ورځېړې ، لغړې ، تازه) لوستل ، د ښوونکي له خوا يې پر توره تخته ليکل ، د زده کوونکو له خوا يې لوستل . ب – د زده کوونکو له خوا د مشق پاڼې پ۲ – ۳۴ – ۴ متن له خپل انديوال سره لوستل . ج – زده کوونکي د متن په باره کې خبرول ، په څه چې نه وې پوهيدلې د هغو په باره کې پوښتنه کول ، د – د زده کوونکو له خوا تولګي ته وړومبی د متن د يوې يوې جملې (يو زده کوونکی يوه جمله) بيا د ټول متن څو څو لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲ -۳۴ – ۴
۴. په خاموشۍ سره کار کول: د متن د لوستلو تر هغې مشق کول چې په آسانۍ سره يې ولوستلای شي.	

پ۲ | ۳۴ – ۴

ونې زمونږ ډېرې خوښې دي

خلک ونې کري . ونې په خپله هم شنې کيږي . ونې په اول کې وړې وي او بيا غټې شي . ونې غټې غټې څانګې لري . خلک د ځينو ونو مېوه خوري او سيوري ته يې کښېنې . د ونو پاڼې په پسرلي کې شنې وي . په منې کې ژېړې شي او ورو ورو ورځېړي . ډېرې ونې په ژمي کې لغړې شي . خو ځينې ونې هر وخت تازه او شنې وي .

ونې د الله ﷻ يو ډېر لوی نعمت دی . په ونو هر ځای ښه ښکاري . هر چا ته په کار دي چې ونې وکري او ويې ساتي .

درسي پلان ۳۵ پ ۲ – ۳۵ – ۱	موضوع : اوبه د ژوند یو ضرورت دی (۱)	
د ښوونکي فعالیت	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
- د مشق پاڼې پ۲ – ۳۵ – ۱ رسمونه په زده کوونکو مطالعه کول ؛ کافی وخت ورکول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسمونه تشریح او خبرې وروباندې وکړي . - د رسمونو په منځ کې د ارتباط په باره کې د یوه بحث لارښوونه کول ؛ پوښتنه کول : په رسمونو کې کوم مشترک شی شته ؟ - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې اوبو ته د ضرورت په باره کې نور مثالونه را په زړه کړي .	*۱ . درسمونو په وسیله د اوبو په ضرورت پوهېدل (۲) :* - رسمونه مطالعه کول . - رسمونه بیانول ، خبرې وروباندې کول ؛ غوږ نیول ، تبصرې کول . - د رسمونو په منځ کې په ارتباط بحث کول ، پوهېدل چې : الف – ټول رسمونه اوبو ته ضرورت ښیي . ب – د ټولو ژوندیو مخلوقاتو ژوند په اوبو پورې تړلی دی . - چېرته چې ژوندي مخلوقات اوبو ته د ضرورت احساس کوي یا یې استعمالوي مثالونه یې پېدا کول ؛ مثلاً : مارغان په اوبو کې لامبې . خلك په انګرونو او سرکونو اوبه شیندي چې د ګرد مخه ونیسي او داسې نور .	مشق پاڼه پ۲– ۳۵– ۱
- د مشق پاڼې له پاره په زده کوونکو یو عنوان پېدا کول ، د یوه ساده عنوان په پېدا کولو کې مرسته کول ، پر تورې تختې یې لیکل . (۳) - د ورومبیو تشریحي جملو (۳) او آخرۍ جملې د پېدا کولو له پاره زده کوونکي همدغه شان رهنمایي کول (۳) ؛ څه یې چې موندلي وي هغه پر تورې تختې لیکل . - پر تورې تختې لیکلی متن په زده کوونکو لوستل.	*۲ . د رسمونو له پاره د یوه عنوان ، تشریحي جملو او یوې آخرۍ جملې پېدا کول (۳) :* - د عنوان د پېدا کولو له پاره سپارښتنې کول ؛ بحث کول ، تبصرې کول ؛ فیصله کول . - د مخکې په شان کار کول .	تورې تختې مشق پاڼه پ۲– ۳۵– ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په خاموشۍ سره کار وکړي : الف – له تورې تختې څخه متنونه سلېټونو ته نقلول . ب – دغه متنونه ښه ښایسته په مشق پاڼه کې لیکل . ج – دغه متنونه له یوه اندیوال سره لوستل (وار په وار) .	*۳ . دلوستلو او لیکلو مشق کول ؛ د مشق پاڼې مکمللول :* - څنګه چې تري غوښتل شوي هغسې کار کول .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲– ۳۵– ۱

درسي پلان ۴ پ ۲ - ۴ - ۱	موضوع : هغه فعلونه معرفي کول چې د تفريح د وخت فعاليتونه بيانوي	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱. پر يوه رسم چې د تفريح فعاليتونه ښيي خبرې کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پاڼې پ۲ - ۴ - ۱ ته وګوري او د رسم په باره کې له انډيوالانو سره خبرې وکړي ؛ کافي وخت ورکول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر څه مو بحث کړی دی هغه ووايي ! (۱) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسم په تفصيل سره تشريح کړي ! - زده کوونکو ته ويل چې په دې رسم کې ښودل شوی حالت د خپل ښوونځي له تفريح سره مقابله کړي . - ويل چې د نورو خلکو پر تفريح او آرام خبرې اترې وکړي ؛ په دې خبره د پوهېدلو له پاره رهنمايي کول چې نور خلك هم وخت په وخت آرام ته ضرورت لري .	- د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ معلومول چې رسم د تفريح په وخت کې د ښوونځي ميدان ښيي ؛ له ګاونډيانو سره ورباندې خبرې اترې کول . - د ببل ببل زده کوونکي خبرې کول ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تبصرې کول . - ببل ببل زده کوونکي په رسم کې ښودل شوي مختلف شيان او فعاليتونه نومول او بيانوي . - د خپلو خپلو تجربو ويل ،مقابله کول اوخه چې سره يو شان دي د هغوی ويل . - د خلکو د آرام او تفريح طريقې پيدا کول ؛ مثلاً: يو دوکاندار ، يو زمېندار او يوه کورنۍ څنګه آرام اوتفريح کوي .	مشق پاڼه پ۲ - ۴ - ۱
	۲. د تفريح د وخت د اړوندو فعاليتونو د فعلونو لوستل :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپل د تفريح د وخت فعاليتونه ووايي ؛پر توره تخته په حال زمانه کې د غايب شخص افعال ليکل لکه : منډې وهي . فټ بال کوي . (۲) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر تخته ليکلې شوې کلمې په اوچت آواز ولولي . - مشق پاڼې پ۲ - ۴ - ۲ ته د کتلو او په هغې کې په غټ خط د ليکل شويو کلمو د لوستلو غوښتنه کول ؛ مرسته کول . - غوښتنه کول چې په هره کرښه کې په غټو حروفو ليکل شوې کلمې ولولي . - له زده کوونکو څخه د کېن اړخ په چوکاټ کې د ليکلې شويو کلمو د لوستلو غوښتنه کول ؛ که څه مشکل لري مرسته کول . - له انډيوال سره د ټول متن د لوستلو او د هغو کلمو د موندلو غوښتنه کول چې په تشو ځايونو کې نه دي ليکلې شوي . (۳)	- د ببل ببل زده کوونکي د مختلفو فعاليتونو نومونه اخيستل ؛ يو زده کوونکی يو فعاليت بيانوي ؛ د نورو ورته غوږ نول . د ښوونکي ليکلو ته کتل : - د ببل ببل زده کوونکي له خوا لوستل ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تکرارول . - د ببل ببل زده کوونکي له خوا د دغو کلمو په لوړ آواز لوستل ؛ معلومول چې ځينې دغه کلمې پر توره تخته ليکلې شوې دي . - له غوښتنې سره سم د کلمو لوستل ؛ اول جلا جلا او بيا په ګډه سره . - لوستل يې اول په خاموشۍ سره او بيا په آوچت آواز تولګي ته . - په دوه دوه کسه لوستل ؛ د تشو ځايونو له پاره اړونده کلمې پيدا کول .	توره تخته توره تخته مشق پاڼه پ۲ - ۴ - ۲

(۱) د دې درسي پلان موضوع " اوبه " دي . دا د اوبو د اهميت په دوو اړخونو تاکيد کوي : الف- د مځکې په سر له اوبو څخه پرته ژوند نشته (درسي پلان) . ب- موږ له مختلفو وسيلو څخه اوبه تر لاسه کوو (تعقيبي درسونه)

(۲) دا مشق پانه متن نه لري ، له دې کبله ماشومان خپله ټوله توجه رسمونو ته کولی شي . د رسمونو د تشريح کولو او پر هغو د بحث کولو په وخت کې به ښوونکی له مداخلې څخه ځان ساتي . په دې مرحله کې به وروسته ښوونکی د رسمونو دارتباط د پوهېدلو له پاره زده کوونکي د سوالونو په وسيله رهنمايي کوي .

(۳) تر درس وروسته به زده کوونکو په تيارو شويو ځايونو کې د ساده او مناسبو متونو په ليکلو سره مشق پانه مکمله کړې وي . ښوونکی او زده کوونکي به د ګډ بحث په وسيله متنونه پيدا کوي . متنونه به پر توره تخته په داسې طريقه ليکل کيږي چې زده کوونکي يې په آسانۍ سره نقلولای شي . لاندنی مثال يو امکان ښيي .

اوبه ضروري دي :

- د څښلو له پاره
- د جامو او لوښو د مينځلو له پاره
- د ځان مينځلو او لمبلو له پاره
- د ونو بوټو د خړوبولو له پاره

د رسمونو په پاره کې دې خبرې وشي . مشق پانې ته دې مناسب عنوان پيدا شي . تر هر رسم لاندې دې د هغه رسم په پاره کې څه وليکل شي :



موضوع : د اوبو وسيلې : په رسمونو ځان پوهول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي له خوا د [اوبه] کلمه پر توره تخته ليکل ؛ د اوبو په باره کې چې زده کوونکي په څه پوهيږي او څه يې زده کړي دي ، هغه ويل .	تـــوره تختـــه
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۳۵ – ۱ متن څو څو خله لوستل .	مشـــق پـــاڼه پ۲– ۳۵– ۱
۳. پر دې خبره چې اوبه له کوم ځای څخه په لاس راځي د زده کوونکو له خوا بحث کول ؛ د ښوونکي له خوا د يوه بحث رهنمايي کول چې زده کوونکي په آخر کې وپوهيږي چې موږ اوبه له باران او له واوړي څخه حاصلوو چې چينې ، کوهيان او سيندونه هم ورځخه اوبه اخلي .	
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۵ – ۲ کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول او تشريح کول . ب– د رسمونو په منځ کې پر رابطو بحث کول . ج– معلومول چې دا د اوبو د تراڼسه کولو وسيلې دي . د– په دې بحث کول چې دوی اوبه څنګه حاصلوي ؟ هـ– د رسمونو له پاره د يوه عنوان او تشريحي جملو پيدا کول (۱) . و – پر توره تخته د ليکلي عنوان او تشريحي جملو لوستل .	مشـــق پـــاڼه پ۲– ۳۵– ۲
۵. پر سلېټونو د متن د ليکلو مشق تر هغه کول چې په آسانۍ سره يې وليکلای شي ؛ په مشق پاڼه کې د متن ښه ښايسته ليکل ؛ د رسمونو رنګول .	تـــوره تختـــه ســـلېټونه مشـــق پـــاڼه پ۲– ۳۵– ۲

(۱) د رسمونو له پاره د عنوان اوتشريحي جملو پيدا کول به هغه شان کيږي څنګه چې په درسي پلان پ۲ - ۳۵ - ۱ کې وشو . ښوونکی به زده کوونکي د داسې عنوان او تشريحي جملو په موندلو کې رهنمايي کوي چې د رسمونو له پاره مناسب وي ؛ ښوونکی به يې ښه ښايسته پر توره تخته ليکي چې داسې معلوم شي .

د اوبو منابع :

- موږ له باران څخه اوبه حاصلوو .
- موږ له چينې څخه اوبه حاصلوو .
- موږ له کوهي څخه اوبه حاصلوو .
- موږ له سيندونو څخه اوبه حاصلوو .

د تېر درس په شان دې کار وشي :



د دوهم تعقيبي درس خاكه

موضوع : د اوبو وسيلي : د يوه متن لوستل	
د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د يوې املا ليكل (د مشق پاڼې څلورتشريحي جملې چې تېره ورځ پرې مشق شوی دی) .	سلېټونه
۲. زده كوونكي چې د اوبو د وسيلو په باره كې په څه پوهېږي هغه تكرارول .	مشق پاڼه
۳. د مشق پاڼې پ۲- ۳۵ – ۳ د نويو كلمو لوستل ؛ مثلاً : نعمت ، سېلابونه ، رڼې چينې ، كوهی .	پ۲– ۳۵– ۳
۴. له يوه اندېوال سره يو خای د همدې مشق پاڼې د متن لوستل .	مشق پاڼه
۵. ټولګي ته د دغه متن لوستل : الف- جمله په جمله (يو زده كوونكی يوه جمله) زده كوونكي چې د متن په پوهېدلو او لوستلو كې له كوم مشكل سره مخامخ كيږي د هغه وضاحت كول .	پ۲– ۳۵– ۳
ب - پر آخری جمله باندې بحث كول . ج- د وركوټی فصل (باب) مطابق متن په برخو برخو كې لوستل .	سلېټونه
۶. پر سلېټونو د آخری جملې تر هغې مشق كول چې له يادې يې وليكلای شي .	مشق پاڼه
۷. له يوه اندېوال سره د متن د لوستلو مشق كول (وار په وار) .	پ۲– ۳۵– ۳

پ۲ | ۳۵ - ۳

اوبه له ډېرو شيانو څخه لاس ته راځي

باران خوړونه او سېلابونه راولي . د باران اوبه د اوبه خور له پاره هم په كاريږي . دا د ونو ، بوټو او كروندو له پاره ډېره ګټه لري . د چينې اوبه له غرونو څخه راوځي . دا ډېرې رڼې او خوږې وي چينې د واورې او باران له اوبو څه جوړېږي .

په سيند كې ډېرې اوبه وي . ډېرې چينې يا د واورو اوبه چې يو ځای شي نو سيند شي . د سيند په اوبو پټې هم اوبه كيږي .

په ځينو كورونو او كلنيو كې كوهی وي . د كوهي اوبه په اوړي كې يخې وي . خلک د كوهي اوبه څښي او ونې ، بوټي او فصلونه هم پرې اوبه كوي . اوبه د الله ﷻ ډېر لوی نعمت دی .

درسي پلان ۳۶ ب ۲ – ۳۶ – ۱	موضوع : مارغان (۱)	
د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې بنوونځي ته دتګ په وخت کې يې په لار کې يې کوم مارغان ليدلي دي ؟ - د ليدلاى شويو مارغانو د ځينو خصوصياتو (لکه اندازې او رنګ) په باره کې پوښته کول .	*۱ . د مختلفو مارغانو په باره کې خبرې کول :* - د ځينو مارغانو نومونه اخيستل ، په خپله ژبه کې د دې مارغانو د تشريح کولو کوشش کول . - مارغان لږ غوندې بڼه تشريح کول .	
- په زده کوونکو مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۱ مطالعه کول او کوم رسمونه چې وينې هغه پرې تشريح کول . (۲) - په زده کوونکو د مارغه د مختلفو برخو نومونه اخيستل . - د کتارونو کلمې په زده کوونکو په خاموشۍ سره لوستل . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې دې ټولګې ته ولولي . - زده کوونکو ته ويل چې په جوړه جوړه لوستل وکړي : د يوه زده کونکي له خوا د کلمو لوستل او د بل زده کوونکي له خوا په همدغه وخت کې دهغه اړوندو برخو ته اشاره کول .	*۲ . د يوه مارغه د مختلفو برخو د نومونو زده کول:* - مشق پاڼه مطالعه کول ؛ د مارغه او د خالې چې هګۍ او بچۍ په کې وي په تفصيل سره تشريح کول . - د مختلفو برخو نومونه اخيستل او تشريح کول . - د کتارونو کلمې لوستل ؛ معلومول چې دا د مارغه د مختلفو برخو نومونه دي . - دغه کلمې څو څو ځله ټولګي ته لوستل . - له يوه انديوال سره کار کول ؛ د يوه زده کوونکي له خوا يوه کلمه لوستل او د بل له خوا هغه شي ته اشاره کول (وار په وار) .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مارغانو د ژوند په باره کې څه پوهيږي هغه ووايي . - د دې له پاره چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۲ د متن لوستل اسان شي نو ځينې نوې او مشکلې کلمې يوه يوه پر تخته ليکل؛ مثلاً: بڼکې ، وښته ، ژوند ، خالې ، چينجي . - په زده کوونکو دغه کلمې لوستل ، بې له څه ترتيب څخه ورته اشاره کول . - غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۲ متن له يوه انديوال سره مطالعه کړي .	*۳ . د مارغانو د ژوند په باره کې د يوه متن لوستل:* - د ښه ښه زده کوونکي له خوا په دې باره کې خپل معلومات ويل ؛ مثلاً : مارغان چينجي خوري . دوی دانې هم خوري . ځينې مارغان د هر ورکوتې وي او د اسې نور . د نورو غوږ نيول . تبصره کول ؛ اصلاح کول . - دغه کلمې يوه يوه لوستل ؛ د معنی تشريح کول او زده کول . - د بنوونکي له اشاري سره سم د دغو کلمو لوستل . - د يوه انديوال په مرسته د متن لوستل .	تخته تورې مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۲

- له زده کوونکو څخه د متن په باره کې لاندې پوښتنې کول : • مارغان چېرته اوسي ؟ • دوی څه خوري ؟ • مارغان څنګه الوځي ؟ او داسې نور . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دغه متن تولګي ته ولولي : الف – جمله په جمله . ب – د دوه یا درې جملو په اندازه .	- د ببل ببل زده کوونکي له خوا خوابونه ویل ؛ د نورو غوږ نیول ؛ تبصرې کول . - له غوښتنې سره سم تولګي ته د متن څو څو ځله لوستل .	
	۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۱ د کلمو مشق وروښیي پر سلېټونو وکړي او بیا یې په مشق پاڼه کې صفا سوتره ولیکي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۲ د متن د لوستلو مشق له یوه اندیوال سره وکړي . (۳)	- پر سلېټونو د کلمو د لیکلو مشق کول چې په آسانۍ سره یې ولیکلای شي ؛ صفا سوتره یې په مشق پاڼه کې لیکل . - له یوه اندیوال سره د متن د لوستلو مشق کول (وار په وار) .	مشق پاڼه پ۲ –۳۶ – ۱ سلېټونه مشق پاڼه پ۲ –۳۶ – ۲

(۱) [درسي پلان : ۳۶] او [درسي پلان : ۳۷] له مارغانو سره سرو کار لري . درسي پلان : ۳۷ پر یوه کیسه تکیه لري او درسي پلان د مارغانو په باره کې د عمومي معلوماتو د حاصلولو له پاره دی . مارغان د زده کوونکو د ورځنیو تجربو یوه برخه ده . له دې کبله به زده کوونکو ته موقع ورکوله کیږي چې د دې تجربو په باره کې خبرې وکړي . په همدغه وخت کې به د دوی ډډګهرنه کیږي چې مارغان مشاهده کړي او په دې وپوهیږي چې دوی هم د طبیعت یوه برخه ده او د الله تعالی پیدایښت دی .

(۲) په مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۱ کې رسم شوی مارغه د مارغانو کوم خاص قسم نه دی . دا یوازې د یوه ورکوتي مارغه عمومي څېره ښیي .

(۳) که چېرې وخت وي او زده کوونکي وغواړي نو کولای شي چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۱ رسمونه رنګ کړي . خو دا به په یوه داسې طریقه کیږي چې د مارغه د مختلفو برخو له یو بل څخه فرق وکړای شي . څرنګه چې دا یو خاص قسم مارغه نه دی نو زده کوونکي هغه رنګونه انتخابولای شي چې د دوی ډېرخوښ وي .

د رسمونو په باره کې د خبرې وشي . کلمې دې ولوستلې او په رسمونو کې دې وښودلې شي :



پ۲ | ۲-۳۶

د مرغانو ژوند

مرغان وېښته نه لري . ښکې لري . تول مرغان جوړه جوړه وي . یو نر وي او بله ښځه . مرغان په ونو ، بوټو ، غرونو او نورو خایونو کې خالې جوړوي . دوی په خالو کې اوسېږي او هګۍ په کې اچوي . له هګیو څخه بچي راباسي . مرغان دانې ، د بوټو پاڼې ، مېوې ، چینجي او نور شیان خوري . دوی ببل ببل رنګونه او آوازونه لري . د خینو مرغانو رنګ ښکلی او آواز یې خوږ وي . مرغان په هوا کې په وزرو الوځي او پر مخکه هم ګرځي . خینې مرغان په ونو کې کښېني .

مرغان د هر چا خوښ وي .

موضوع : عام مارغان

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مارغه د مختلفو برخو نومونه اخيستل . (۱)	مشق پانه
۲. د مشق پانې پ۲ - ۳۶ - ۲ متن يو خل بيا لوستل .	پ۲ - ۳۶ - ۲
۳. په مشق پانه پ۲ - ۳۶ - ۵ کال کول : الف - رسمونه مطالعه کول . ب- د مختلفو مارغانو د معلومولو کوشش کول . ج - خبرې وربانديې کول ، د دې مارغانو په باره کې زده کړه کول . د - د مشق پانې په لاندنۍ برخه کې د نومونو لوستل . هـ - د مارغانو نومونه سلېټونو ته نقلول ؛ د مارغانو لاندې دايرو کې په مناسبو خايونو کې صحيح شمېرې ليکل .	مشق پانه پ۲ - ۳۶ - ۵ سلېټونه مشق پانه پ۲ - ۳۶ - ۳
۴. په مشق پانه پ۲ - ۳۶ - ۳ کار کول : الف - رسمونه مطالعه کول ، د عنوان لوستل ، په کار خان پوهول . ب - له يوه اندېوال سره يو خای د جملو لوستل ، معلومول چې دغه مختلفې جملې د کومو کومو مارغانو په باره کې دي (خو شمېرې به اوس نه ليکلې کيږي) . ج - جملې يوه په بلې پسې تولګي ته ليکل ؛ اړوندو رسمونو ته شمېرې ورکول .	مشق پانه پ۲ - ۳۶ - ۵ سلېټونه مشق پانه پ۲ - ۳۶ - ۳
۵. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف - د مشق پانې پ۲ - ۳۶ - ۵ د مارغانو د نومونو د ليکلو مشق پر سلېټونو تر هغه کول چې په آسانۍ سره يې وليکلای شي . ب - له يوه اندېوال سره د مشق پانې پ۲ - ۳۶ - ۳ د جملو د لوستلو مشق کول (وار په وار) (۳)	

(۱) که ممکن وي نو ښوونکی دې پر توره تخته يو ساده مارغه رسم کړي چې زده کوونکي يې په آسانۍ سره مختلفې برخې ښودلای او نومونه يې اخيستلای شي .

د رسمونو نومونه دي واخيستل او شمېرې يې دي تر مربوطو رسمونو لاندې دايرو کې وليکل شي .



رسمونو ته دې د مربوطو جملو شمېرې وليکلې او رنګ دې شي .


۱ . په اوبو کې هم ګرځي .
۲ . ټول بدن يې تور دی .
۳ . له خلکو څخه خبرې زده کوي .
۴ . په اوچت آواز بانګ وايي .
۵ . د غواګانو او مېنځو په خوا کې ډېره ګنبېنۍ .
۶ . ډېر خوږ آواز لري .
۷ . ورکوتې ده او ډېر شور کوي .
پ۲ ۳۶-۳

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : زما ښارو : په متن او رسم پوهېدل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مارغانو د نومونو تکرارول : الف – د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو د مارغانو هومره نومونه ليکل څومره چې ورته ور په زړه کيږي (د کار کتاب به بند وي) . ب- زده کوونکي چې نومونه خنګه لولي د ښوونکي له خوا يې همغسې پر توره تخته ليکل . ج– د زده کوونکو له خوا يې چک کول ؛ اصلاح کول .	سلېټونه توره تخته
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۴ کار کول : الف – متن ورومبې له يوه اندېوال سره مطالعه کول ، بيا يې ټولګي ته څو ځله لوستل ، ج – پر همدغه شان تجربو چې زده کوونکي يې لري ، خبرې کول . د – د ورکړای شوي هدايت مطابق د مارغه رنګول . (۱)	مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۴
۳. د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۴ په شان د ښوونکي له هدايت سره سم د مشق پاڼې پ۲– ۳۶ – ۵ رسمونه رنګول .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۵
۴. له يوه اندېوال سره د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۴ د لوستلو مشق کول (وار په وار) .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۴

(۱) د ښارو د وزرو لاندېنۍ برخه سپينه وي خو دا برخه هغه وخت ليدلای کيږي چې خپلې وزرې خلاصې کړي ؛ لکه : د الوتلو په وخت کې .

پ۲ | ۳۶ - ۴

زما ښارو

رنګ يې کړئ :

مښوکه : ژېړه

لينګې او پنجې : ژېړې

د سترګو چاپېره : يوه ژېړه دايره

سر : تور

نور بدن : خړ

ما يوه ښارو ساتلې ده . دا زما ډېره خوښه ده . زه له دې سره ډېره مينه لرم . اوبه او دانه ورته اچوم . چې د باندې ځم نو اوږې ته مې را ټوپ کړي . چې ډوډۍ خورم نو را سره کښېنې . دا له کور څخه د باندې هم ځيَ . خو بيا بېرته راځي . له ما سره يې ډېره مينه ده . زما ښارو ډېره ښکلې ده .

درسي پلان ۳۷ ب ۲ – ۳۷ – ۱	موضوع : د يوې کيسې (بندي او مارغان) لوستل (۱)	
د بنوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
– د مارغانو يوه پنجره پر مېز اېښودل (خو که دا نه وي نو پر توره تخته د مارغانو يوه پنجره جوړول) ؛ د تبصرو له پاره انتظار ايستل (په دې مرحه کې په خپله تبصره نه کول) .	*۱ . د پنجرو پر مارغانو خبرې کول :* – مشاهده کول ، دمارغانو د يوې پنجرې پېژندل ، د شي نوم اخيستل ؛ د ببل ببل زده کوونکي له خوا د پنجرو او مارغانو په باره کې خبرې کول چې څنګه نيول کيږي او داسې نور ؛ د نورو غوږ نيول .	د مارغانو يوه پنجره
– زده کوونکو ته ويل چې تاسو به اوس يوه کيسه واورئ – د کيسې لوستل (۲) . – له زده کوونکو څخه د تبصرو غوښتنه کول . – د کيسې په باره کې د يوه داسې بحث رهنمايي کول چې زده کوونکي په دې پوه شي چې هغه سړي بندي مارغان ولې آزاد کړل ؛ ممکن سوالونه به دا وي : • بندي چې له زندان څخه راووت نو په دوکان کې يې څه وليدل ؟ • چې کله يې مارغان وليدل ، نو هغه ته څه ور په ياد شول ؟ • له دوکاندار څخه يې د څه پوښتنه وکړه ؟ • دوکاندار ورته څه وويل ؟ • د مارغانوتراخيستلو وروسته يې څه وکړل؟ • مارغان يې ولې آواز کړل ؟	*۲ . په يوه کيسه ځان پوهول :* – متوجه کېدل . – کيسې ته غوږ نيول . – تبصرې کول ، پوښتنې کول . – د بنوونکي سوالونو ته ځوابونه ورکول ؛ پر سوالونو تبصرې کول ، پوهېدل چې بندي غوښتل مارغان دې څنګه چې خداى پاک پيدا کړي دي همغسې آزاد ژوند وکړي او په آزاد ډول دې والوځي را والوځي .	کيسه له درسي پلان سره ده .
– زده کوونکو ته ويل چې تاسو به دا کيسه د کار په کتابونو کې په يوه لنډ شکل ولولئ ؛ خو اول به يو څو مشکلې کلمې ولولئ . – دا کلمې (پنجرو ، بند بيه ، حال ، فکر) پر توره تخته ليکل ، په لوستلو کې مرسته کول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د وړومبۍ مشق پاڼې کيسه دې له انډيوالانو سره په خاموشۍ ولوستل شي (د ضرورت په اندازه مرسته کول) . – غوښتنه کول چې کيسه دې ټولګي ته ولوستل شي : الف – جمله په جمله . ب – پاراګراف په پاراګراف / برخې برخې .	*۳ . د کيسې لوستل :* – غوږ نيول . – کلمې څو څو ځله يې لوستل ؛ معنا زده کول . – په دوه دوه کسه کار کول : متن په دوه دوه کسه لوستل . – ټولګي ته د کيسې لوستل : الف – جمله په جمله (يو زده کوونکی يوه جمله) ، د نورو له خوا مرسته کول ، اصلاح کول . ب- يو زده کوونکی يو پاراګراف ، د نورو له خوا په خاموشۍ سره د لوستلو تعقيبول .	مشق پانه پ۲–۳۷ – ۱

- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د دوی په فکر دا کیسه دوی ته څه درس ورکوي ؟ (۳)	- څه چې دوی فکرکوي هغه وایي ؛ پوهیدل چې مارغان هم د انسانانو په شان آزاد اوسېدل غواړي .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کیسې د لوستلو مشق وکړي .	۴. *د لوستلو مشق کول :* - په دوه دوه کسه کار کول ، د متن لوستل ، له یو بل سره مرسته کول (وار په وار) .	

(۱) دا کیسه زده کوونکو ته دادرس ورکوي چې مارغان هم د نورو ژوندیو مخلوقاتو په شان په آزادۍ کې ژوند خوښوي . ښوونکی به د کیسې پند نه تشریح کوي بلکې زده کوونکي به داسې رهنمایي کوي چې په کیسه وپوهیږي او پند ورڅخه واخلي .

(۲) ښوونکی به کیسه د ښوونکي له لارښود څخه لولي . د ښوونکي په لار ښود او مشق پاڼه پ۲ - ۳۷ - ۱ کې دغه کیسه ډېخي یو ډول نه ده . د ښوونکي په لارښود کې د بندي د حال بیانولو له پاره دغه کیسه یوه اوږده مقدمه لري . د درس په شروع کې د مارغه پر پنجره د خبرو کولو او کیسې ته تر غوږ نیولو وروسته ښایي زده کوونکي وپوهیږي چې له بنده خلاص شوي سړي مارغان ولې آزاد کړل .

(۳) ښوونکی به دزده کوونکو ټول نظریات قبلوي خو په احتیاط سره . د لارښوونې په وسیله به زده کوونکي د کیسې په پیغام پوهول کیږي .

بندي او مارغان

وایي چې په یوه سړي قید وخوت . د زندان په یوه وړه کوټه کې واچول شو . دې کوټې ته لمر هېڅ نه ورننوت . همېشه به په دغه کوټه کې یوازې پروت و . هېڅ ښېادم به یې په سترګو نه لیده چې خبرې ورسره وکړي .دغه کوټه دومره وړه وه چې د قدم د اخیستلو هېڅ ځای په کې نه و .

د هرې ورځې په تېرېدلو سره به دغه سړي ورو ورو کمزوری کېده او خفګان به یې زیاتېده . د خپلې آزادۍ له پاره به هر وخت د خدای ﷻ په دربار کې لاس په دعا و . یوه ورځ داسې راغله چې دعایې خدای تعالی قبوله کړه او له بند څخه خلاص شو . کله چې له زندان څخه راووت نو په یوه باراز تېریده . ناڅاپه یې په یوه دوکان نظر ولګېده چې هلته ډېر مارغان په پنجرو کې بند وو. دی ورته یوه شېبه فکر یوړ او خپل حال ور په یاد شو. ورو ورو د دوکان خواته ورغی . له دوکاندار څخه یې پوښتنه وکړه : " د دې تولو مارغانو قیمت څومره دی ؟ " دوکاندار ورته قیمت وښوده . دې سړي دغه ټول مارغان په بیه واخیستل . د پنجرو دروازې یې خلاصې کړې او ټول یې آزاد کړل .

ب۲ | ۳۷ - ۱

بندي او مرغان

یو سړي ډېره موده بندي و . آخر له بند څخه خلاص شو . په یوه بازار تېرېده . په یوه دوکان یې سترګې ولګېدې . په دوکان کې یې ډېر مرغان ولیدل چې په پنجرو کې بند وو . دی دې کار ته په فکر کې ولاړ او خپل حال ور په یاد شو . څه وخت وروسته د دوکان خوا ته ورغی . له دوکاندار څخه یې پوښتنه وکړه : " د دې مرغانو بیه څو ده ؟ " دوکاندار ورته د هغو بیه وښودله .

دې سړي دغه ټول مرغان واخیستل . د پنجرو دروازې یې خلاصې کړې او ټول یې آزاد کړل .

موضوع : د رسمونو له پاره تشريحي جملې پيدا کول ؛ جملې مکملول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ټولګي ته د کيسې څو ځله لوستل (يو زده کوونکی يوه برخه)	مشق پانه
۲. په مشق پانه پ۲ – ۳۷ – ۲ کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول ، صحيح ترتيب يې پيدا کول ، په تفصيل سره رسمونه تشريح کول . ب – د هر رسم له پاره يوه تشريحي جمله پيدا کول ؛ لکه :	پ۲ –۳۷ – ۱
۱ بندي له زندان څخه راځي .	مشق پانه
۲ دوکاندار مارغان خرڅوي .	پ۲ –۳۷ – ۲
۳ بندي دوکاندار ته پيسې ورکوي .	
۴ بندي ټول مارغان آزادوي .	
ج – په کومو تشريحي جملو چې موافقه شوې دي د ښوونکي له خوا يې پر توره تخته ليکل .	
د – د زده کوونکو له خوا د دغو تشريحي جملو لوستل .	توره تخته
۳. په مشق پانه پ۲ – ۳۷ – ۳ کار کول : الف – د مشق پانې مطالعه کول ، معلومول چې د هرې جملې غيب کلمه به له کين ستون څخه پيدا کيږي . ب - له يوه انديوال سره کار کول : جملې يوه يوه لوستل ، د غيبو کلمو پيدا کول (خو اوس به نه ليکلي کيږي) ج– د زده کوونکو له خوا ټولګي ته يوه يوه جمله څو څو ځله لوستل . د– د زده کوونکو له خوا د هغو کلمو ويل چې په صحيح ترتيب به ليکلي کيږي . له شمېرې سره سره د ښوونکي له خوا د دغو کلمو پر توره تخته ليکل . هـ – د زده کوونکو له خوا دغه کلمې په مشق پانه کې ښه ښايسته ليکل .	مشق پانه پ۲ –۳۷ – ۳ توره تخته
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – د تشريحي جملو وروسبې پر سلېټونو د ليکلو مشق کول ، بيا يې په مشق پانه کې ښه ښايسته ليکل . ب– له انديوال سره يو خای جملې لوستل .	سلېټونه

رسمونو ته دې د پاسنۍ کيسې په ترتيب شمېره ورکړئ او تر هر رسم لاندې دې د هغه په باره کې يوه جمله وليکئ .



تش خايونه دې په مناسبو کلمو ډک شي :

پ۲ ۳۷ - ۳

يو سړی له _____ څخه را خلاص شو .

دی په يوه _____ تېرېده .

په يوه _____ يې سترګې ولګېدې .

په دوکان کې د پر_____ په پنجرو کې بند وو .

سړي ته خپل_____ ور په ياد شو .

له دوکاندار څخه يې د مرغانو _____ وپوښتله .

مرغان يې واخيستل او ټول يې _____ کړل .

آزاد
بيه
مرغان
حال
دوکان
زندان
بازار

– لـه زده کوونکـو څخـه ټول ټولـګي تـه د متـن د لوستلو غوښتنه کول .	– د غيبو کلمـو په شمول ټولي کړښې يـوه په بلې پسې څوځله لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله)؛ په هر حالت کې د مناسبې کلمې فيصله کول .	
	۳. ليکل او رنګول :	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې کلمې په خالي ځايونو کې وليکي .	– د [يو ، بل ، څوک ، نور] کلمـې لـه غوښتنـې سره سم په مشق پانه کې ليکل .	مشق پانه پ۲ – ۴ – ۲
– پر سلېټونو باندې په زده کوونکو د مشق پانې د غټو ليکل شويو کلمو د ليکلو مشق کـول لکـه : مينځې ، خوري ، څښي ، فټبال کوي . (۴)	– پر سلېټونو د ليکلو مشق کول .	سلېټونه
– غوښتنـه کـول چې د مشـق پـانې پ۲ – ۴ – ۱ رسمونه ښه رنګ کړئ .	– په خاموشۍ سره کار کول ؛ رسمونه رنګول .	مشق پانه پ۲ - ۴ – ۱

(۱) په دې قدم کې به د زده کوونکو ډاډګېرنه هم کېږي چې د رسم په باره کې تر خبرو کولو وروسته د خپلو تاثراتو او نظريو اظهار وکړي .څه چې وويل شي يوازې زده کوونکوي به وربانديې تبصـرې کوي نه ښوونکی . د ټولګيوالو خبرو ته غوږ نيول يو هنر دی چې پر له پسې وده او روزنه يې په کار ده .

(۲) کله چې زده کوونکي د فعاليتونو نومونه اخلي نو ښوونکي ته په کـار دي چې ځينې يې پر تـوره تختـه ښه ښايسـته وليکي. خو هغه فعاليتونه به د ليکلو له پاره انتخابوي چې په آسانۍ سره لوستلی شـي . په دې مرحله کې به کلمې په اوچت آواز نه لوستل کېږي . دا کار به بيا په بل قدم کې کېږي .

(۳) کله چې په دوه دوه کسه لوستل کېږي نو غيبې کلمې به نـه ليکل کېږي بلکې پر سلېټونو د مشق کولو نـه پس به په خالي ځايونو کې ليکل کېږي .

(۴) تر مشق کولو وروسته به زده کوونکي د دې قابليت ولري چې کلمې له ياده وليکي . هغه زده کوونکي چې تکړه دي نـو لـه دغـو څلورو تجويز کړای شوو کلمـو نـه بـه زيـاتې کلمـې زده کړي . کومې اضـافي کلمې چې زده کړه يې په کـار ده له مشق پانې نه به اخيستل کېږي .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشې او رنګ دې شې :

په نسبتا ځټ خط ليکل شوې کلمې دې ولوستلې او پر سلېټونو دې مشق شې . تش ځايونه دې د ستون په کلمو په مناسبه توګه ډک شې :

پ۲ ۴ – ۲

په تفريح کې

څوک کور ته ځي او څوک په ښوونځي کې پاتې کېږي .	يو
يو لاسونه مينځي او ـــــــ تخته مينځي .	يل
ـــــ منډې وهي او څوک فوټبال کوي .	څو
څوک ډوډۍ خوري او ـــــ اوبه څښي .	نور
ـــــ تر وني لاندې ناست دی او ـــــ خبرې کوي .	
استادان دمه کوي او چای څښي .	
تفريح د ټولو خوښه ده .	

موضوع : له مارغانو سره څنګه سلوك په كار دى	
د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د بندي او مارغانو كيسه بيا ويل . ۲. څه چې يې د مارغانو په باره كې زده كړې دي د هغو تكرارول : د بدن برخې ، د مختلفو مارغانو نومونه ، د مارغانو ژوند . ۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۷ – ۴ كار كول : الف – رسمونه مطالعه كول ، تشريح كول او بحث وربانديې كول . ب – د ښوونكي له خوا له متن څخه د يو څو نويو او مشكلو كلمو پر توره تخته ليكل ؛ لكه : لينده ، بندوى ، راكوزوي . د زده كوونكو له خوا د دغو كلمو لوستل ، معنا كول او تشريح كول . ج – له انډيوال سره د مشق پاڼې متن لوستل . د- څه چې ماشومان لولي د هغو ويل، خبرې وربانديې كول . هـ - په برخو برخو كې تولګي ته د متن څو څو ځله لوستل . ۴. د لوستلو او ليكلو مشق كول : الف– له يوه انډيوال سره د متن د لوستلو مشق كول . ب– له متن څخه د خپلې خوښې يوه برخه پر سلېټونو ليكل .	مشق پاڼه پ۲ –۳۷ – ۴ توره تخته سلېټونه

د متن تر لوستلو دمخه دې د رسمونو په باره كې خبرې وشې :

ځينې ماشومان د مرغانو ځالو ته خېژي او بچي تړې را كوزوي. ځينې ماشومان مرغان په لينده ولي . ځينې ماشومان مرغان نيسي او په پنجره كې يې بندوي .

ماشومانو ، تاسو هېڅكله هم دا كار ونه كړئ . مه دمرغانو بچي نيسئ ، مه يې په لينده ولئ او مه يې په پنجره كې بندوئ . څنګه چې مور الله(ج) پيدا كړي يو . دغسې يې مرغان هم پيدا كړي دي .

درسي پلان ۳۸ پ۲ – ۳۸ – ۱	موضوع : په رسمونو کې د ښودل شویو شیانو له پاره عمومي کټګوري پیدا کول	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱. مصور شیان معلومول:	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۸ – ۱ رسمونه وګوري او پوښتنه وکړي چې داسې کوم شی په کې شته چې دوی یې نه پېژني ؟ د سوالونو په واضح کولو کې مرسته کول .	- رسمونه مطالعه کول ، کوم شیان چې نه پېژني د هغوی د بیانولو غوښتنه کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه ویني هغه ووایي .	- د شیانو نومونه اخیستل ، یو ز ده کوونکی یو شی .	
	۲. د هغه شي پیدا کول چې په کتار پورې اړه نه لري:	
- زده کوونکي په ورومبی مثال کې رهنمایي کول • په زده کوونکو د لومړي کتار د شیانو نومونه اخیستل .	- په ورومبي مثال کار کول . • د ورومبي کتار د شیانو نومونه اخیستل .	
• له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې هغه کلمې پیدا کړي چې په دغو نورو درېو کلمو پورې اړه نه لري او بیان یې کړي چې ولې ؟	• معلومول او ویل چې [نال] په دې کتار پورې اړه نه لري ، ځکه چې دا د دې نورو درېو په شان اوزار نه دی .	
• غوښتنه کول چې په [نال] د چلیپا نښه وکړي .	• په [نال] د چلیپا نښه کول .	
• ویل چې د دغو درېو شیانو د کټګورۍ نوم په کین ستون کې لیکلې شوې ده .	• غوږ نیول ، د [آلات] د کلمې لوستل .	
- د زده کوونکو لاښوونه کول چې پر دوهم کتار هم همدغه شان کار وکړي .	- د مخکې په شان کار کول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له اندیوال سره یو خای هغه شی پیدا کړي چې په هر کتار کې له نورو سره برابرې نه خوري .	- په خاموشۍ له یوه اندیوال سره کار کول : په هر کتار کې د غلط شي د پیدا کولو کوښښ کول او د چلیپا نښه وربانديي کول .	
- لـه زده کوونکـو څخـه د هغـو شـیانو دویلـو غوښتنه کول چې چلیپا کړي یې دي .	- د مربوط شیانو نومونه اخیستل ، مقایسه کول او بحث وربانديي کول .	
	۳. په یوه کتار کې د شیانو د کټګورۍ نوم پیدا کول:	
- د زده کوونکو رهنمایي کول چې د هر کتار د کټګورۍ نوم پیدا کړي .	- کتار په کتار کار کول .	
• له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی ولې شی جلیپا کړ او د غو نورو درېو په منځ کې مشترک خصوصیت څه دی ؟	• کوم شی یې چې چلیپا کړی دی د هغه ویل ، د دغو نورو درېو په منځ کې پر مشترک خصوصیت بحث کول .	

• له زده کوونکو څخه د عمومي کټګوري په باره کې پوښته کول (۱) . • دغه پر توره تخته لیکل . • زده کوونکو ته ویل چې مربوطه خای ته دغه کلمه نقل کړي . - د زده کوونکو لازښوونه کول چې د داسې نورو شیانو سپارښتنه وکړي چې په هر کتار کې برابر راځي ؛ مثلاً : پوښتنه کول : " تاسو نور داسې آلات پېژنئ ؟ " ، " کومه بله داسې مېوه پېژنئ ؟ " او داسې نور .	• په یوه [کټګوري] موافقه کول . • دغه کلمه لوستل . • له توري تختې څخه یې مربوطه خای ته نقلول . - د ډېرو هغو شیانو معلومول او ویل چې په کتارونو کې برابری خوري ؛ مثلاً : آوزار : تبر ، څټك ، انبور . مېوه : څټکی ، ام ، مڼه . او داسې نور .	توره تخته

(۱) ښوونکی به د [کټګوري] کلمه په ټولګي کې نه استعمالوي خو زده کوونکي به په دې پوهول کېږي چې د هرکتار دري واړه کلمې په کې شاملې دي . د مشق پاڼې پ۲ - ۳۸ - ۱ په ترتیب دا کلمې عبارت دي له : آلات ، موټرونه ، مېوه ، کورنۍ خناور ، مارغان ، لوبڼې ، ترکاري ، قلمونه . د عامو کټګوریو د معلومولو په خوا کې زده کوونکو ته دا هم په کار دي چې په هر کتار کې هغه شی پیدا کړي چې له دې نورو درېو سره برابری نه خوري . مثلاً په وړومبی کتار کې [نال] په اوزارو کې نه راځي . له دې کیله به په دې کلمه چلیپا راکښلې کېږي .

په هر کتار کې دي یوازې تر هغه رسم لاندې تشه کوټه کې چلیپا وشي چې له نورو سره مناسبت نه لري . هغه چې سره مناسبت لري . عمومي نوم یې دي وليکل شي :

پ۲ ۳۸ - ۱				
آلات			×	
موټرونه		×		

موضوع : د هغې کلمې پيدا کول چې د کتار له نورو کلمو سره سمې نه خوري (۱)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. په يوې ډلې (کټګورۍ) پورې د مربوطو شيانو د پيدا کولو د مشق تکرار : الف – د مشق پاڼې پ۲ – ۳۸ – ۱ کټګورۍ تولګي ته لوستل ؛ کتل چې اته واړه کټګورۍ (آلات ، موټرونه ، مېوه ، کورنۍ خناور ، مارغان ، ترکارۍ ، قلمونه) پيدا شوي دي او که نه ؟ ب – د ښوونکي له خوا د يوې عامې کټګورۍ نوم اخيستل ؛ د زده کوونکو له خوا دمناسبو کلمو معلومول ؛ مثلاً : د ښوونکي له خوا ويل : [موټرونه] . د زده کوونکو له خوا ويل : [بس ، ټېزرفتار ، رکشا] . په همدې ډول کار جاري ساتل .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ - ۱
۲. پر مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۲ کار کول : (۱) الف – د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ په کار خان پوهول . ب – له يوه انديوال سره د زده کوونکو کار کول : د دغو کلمو لوستل ، معلومول چې کومې درې کلمې په دوی کې مشترک خصوصيات لري . کومه يوه چې دغه خصوصيات نه لري هغه چلېپا کول. ج – د زده کوونکو له خوا تولګي ته د دغو کلمو لوستل ، د دوی په منځ کې د مشترکو خصوصياتو بيانول . د – د هر کتار له پاره د زده کوونکو يوه بله کلمه پيدا کول ؛ د ښوونکي له خوا د دې کلمو پر توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا دغه کلمې د مشق پاڼې په مناسب خالي ځای کې ليکل .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۲ ؛ توره تخته
۳. د ليکلو مشق کول : په مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۱ په خاموشۍ سره کار کول . د دوه يا درې کتارونو انتخابول ؛ کوشش کول چې د رسمونو له پاره کلمې له يادې وليکي ؛ مقابله کول ؛ اصطلاح کول .	سلېټونه

(۱) دوهمه مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۲ د کلمو اته کتارونه لري . په تولو کتارونو کې له يوې پرتې نورې تولې کلمې مشترک خصوصيات لري ؛ مثلاً : الف – دوی په ايکې يوه حرف شروع کېږي . ب – دوی په ايکې يو حرف ختمېږي . ج – دا تول اسمونه دي . د – دا تول فعلونه دي . هـ - دا تول صفتونه دي . و- دا تولې همقافيه کلمې دي او داسې نور .
زده کوونکي به کلمې د خصوصياتو له مخې بېلوي او معلوموي به چې کومه کلمه د کتار د نورو کلمو له خصوصياتو سره برابرې نه خوري .

په هر کتار کې دې هغه کلمه چلېپا شي چې له نورو سره مناسبت نه لري او په عوض يې دې په مربوطو تشو خايونو کې مناسبې کلمې وليکلې شي :

پ۲ | ۳۸ - ۲

مار	زانګو	مېز	مچ	مخ	ملخ
تال	جال	شال	ژبه	کال	
سيند	ستن	ګډ	بسپې	سترګه	
ليکل	بس	زانګل	تلل	لوستل	
تنور	برش	توپ	تصوير	تله	
طوطي	حلوايي	سړي	توت	دي	
تور	ښځه	سپين	ژړ	خړ	
امسا	غوا	فقير	سبا	بابا	

موضوع : کلمو او رسمونو ته په خپلو کې سره رابطه ورکول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د شيانو په يوې ډلې پورې د اړوندو کلمو د پيدا کولو د مشق تکرار کول : الف - د ښوونکي له خوا پر توره تخته د يوې عامې کتګورۍ نوم ليکل ؛ مثلاً: [مېوه] . ب - د زده کوونکو له خوا د مېوو دومره نومونه اخيستل ، څومره چې ممکن وي . ج - له نورو عامو کتګوريو سره په همدې طريقه کار جاري ساتل ؛ مثلاً : آلات ، مارغان ، ځناور ، بوټي ، جامې ، د بدن برخې .	توره تخته
۲. د هغو کلمو پيدا کول چې په همدغه کتار کې ليکل کېدای شي : الف – د ښوونکي له خوا د دوو کلمو مثلاً : [کټ ، کتاب] پر توره تخته ليکل شروع له [ک] څخه کول . ب - د زده کوونکو له خوا د ډېرو هغو کلمو ويل چې له [ک] څخه شروع کيږي . ج – له نورو کتارونو سره هم د مشق پاڼې پ۲ – ۳۸ – ۲ په شان کار کول .	توره تخته
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۳ کار کول : الف – د عنوان لوستل ؛ د کار معلومول چې رسمونه به له صحيحو کلمو سره مقايسه کول غواړي ، د ارتباطي کرښو راکښل . ب - د رسمونو پېژندنه کول. په بيضوي کې د کلمو لوستل ، له اړوندو کلمو سره د رسمونو نښلول . ج - له رسمونو او کلموسره د زده کوونکو مکملې جملې ويل ؛ مثلاً : "سړی لمونځ کوي" . د ښوونکي له خوا دغه جملې پر توره تخته ليکل . د – د زده کوونکو له خوا د جملو لوستل .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۸ – ۳
۴. له دغو جملو څخه د درې يا څلورو جملو مشق پر سلېټونو کول .	سلېټونه

درسي پلان ۳۹ ... ب ۱ – ۳۹ – ۱	موضوع : بې پروا هلك : يوه تصويري كيسه (۱)	
د ښوونكي فعاليتونه	د زده كوونكو فعاليتونه	درسي مواد
- له زده كوونكو څخه غوښتنه كول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۹ – ۱ رسمونو ته وګوري او له خپلو اندیوالو سره وروباندې خبرې وكړي . - له زده كوونكو څخه غوښتنه كول چې څه يې په رسمونو كې موندلي دي هغه ووايي (۲) . - له زده كوونكو څخه غوښتنه كول چې رسمونه په تفصيل سره تشريح كړي او څه چې په كيسه كې شوي هغه ووايي . - له زده كوونكو څخه غوښتنه كول چې كيسه د رسمونو په مرسته ووايي .	*۱ . په تصويري كيسه خان پوهول :* - رسمونه مطالعه كول ، له خپلو اندیوالو سره وروباندې بحث كول . - د ببل ببل زده كوونكي له خوا د خپلو خپلو خيالونو او احساساتو اظهار كول ؛ د نورو غوږ نيول ، تبصره كول . - رسمونه يو يو تشريح كول ؛ هلك ته چې څه پېښېږي هغه ويل ؛ معلومول چې هلك نا جوړه كيږي . ځكه چې هغه يوه مينه واخيستله او ناولې يې وخوړه ، د ده له پاره دا يو پند شو چې مېوه به نور تر خوږلو دمخه مينځي . - د ببل ببل زده كوونكي له خوا دغه كيسه ويل ، رسمونو ته رجوع كول ؛ د نورو غوږ نيول ، تبصره كول .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۱
- زده كوونكو ته ويل چې د هر رسم له پاره يوه جمله پيدا كړي ، څه چې په رسم كې وينې د هغه تشريح كول ؛ كومې تشريحي جملې چې موافقه پرې شوې ده پر تخته ليكل ، مثلاً : • يو هلك يوه ناولې مينه اخلي . • هغه ناولې مينه خوري . • هلك ډېر ناروغ دی . • ډاكټر هغه ته دوا وركوي . • هلك ناولې مينه بيا اخلي . • اوس هغه مينه مينځي . - له زده كوونكو څخه غوښتنه كول چې دغه جملې تولګي ته ولولي .	*۲ . د رسمونو له پاره د تشريحي جملو پيدا كول او ليكل :* - د ببل ببل زده كوونكي له خوا د يوې جملې سپارښتنه كول ؛ د نورو غوږ نيول ، تبصره كول ؛ د هر رسم له پاره په يوه داسې جمله موافقه كول چې پر تخته ليكلې كيږي ؛ د ښوونكي ليكلو ته كتل ؛ جملې په خاموشۍ سره لوستل . - دغه جملې څو څو خله لوستل (يو زده كوونكی يوه جمله) .	تخته تورې
- له زده كوونكو څخه غوښتنه كول چې پر سلېټونو د تورې تختې د جملو د ليكلو مشق وكړي اوبيا يې تر اړونده رسم لاندې ښه ښايسته وليكي .	*۳ . د تشريحي جملو د ليكلو مشق كول . (۳)* - له غوښتنې سره سم په خاموشۍ كار كول .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۱

(۱) په دې تصويري کيسه چې د روغتيايي ښوونې او روزنې يوه برخه ده ، ځان پوهول . دا د روغتيا د هغو ارځونو تکرار دی چې په درسي پلان : ۲۷ کې وړاندې کار شوی دی . د روغتيا او نظافت دا دول موضوعګاني به په اساسي توګه په مختلفو عبارتونو کې تکراريږي . ښوونکی به همېشه دې ته پام کوي او کله چې د دې موقع په لاس ورشي چې زده کوونکي د روغتيا او نظافت په منځ کې په رابطه وپوهوي نو هغه به له دې موقع ځخه پوره کار اخلي . له تصويري کيسې سره د کار کولو په وخت کې دا ډېره مهمه خبره ده چې زده کوونکي په خپله د د غه هلک د ناروغۍ سبب (د يوې ناولې مني خوړل) معلوم کړي . دوی به په خپله دا نتيجه اخلي چې په همدغه شان حالت کې د کار ځنګه طريقه اختياروي په کار دي .

(۲) په دې مرحله کې به ښوونکی زده کوونکي پرېږدي چې د خپل فکر مطابق څه ووايي . ښوونکی به مداخله نه کوي . کله چې په بل قدم کې په تفصيل سره پر رسمونو بحث وشي نو په کار دي چې د ښوونکي ماهرانه لارښوونه زده کوونکي د تصويري کيسې د مکمل پېغام د پوهېدلو په لوري رهنمايي کړي .

(۳) په دې درس کې به زده کوونکي رسمونه نه رنګوي . دا به د دهم تعقيبي درس په آخر کې کيږي .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي او تر هر رسم لاندې دې د هغه په باره کې يوه جمله وليکله شي :



موضوع : تصويري کسيه : سوالونه او ځوابونه	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د تصويري کيسې تکرارول : الف – ټولګي ته د تشريحي جملو لوستل . ب – د رسمونو په مرسته د کيسې ويل . ج – رسمونو ته بې له کتلو څخه د کيسې ويل : د ټولګي مخې ته د بېل بېل زده کوونکي راتلل او د کيسې ويل .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۱
۲. د کيسې په باره کې د سوالونو او ځوابونو پيدا کول : الف – د ښوونکي له خوا ويل چې زده کوونکي به رسمونو ته ګوري او د داسې پوښتنو کولو کوښښ ښه کوي چې نور به ورته ځوابونه ورکوي ؛ ښوونکی به يو يا دوه مثالونه په خپله ورکوي ؛ مثلاً : "هلک څه واخيستل ؟ ډاکټر ولې راغی ؟" . ب – د بېل بېل زده کوونکي له خوا پوښتنې کول ، د نورو ځواب ورکول (ځومره چې ممکن وي هغومره سوالونه پيدا کول) .	
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۲ کار کول : الف – مشق پاڼه مطالعه کول ، د کار معلومول او خان پرې پوهول : د هر سوال له پاړه به صحيح ځواب موندلای او شمېره به ورکولای کيږي . ب – له اندېوالاتو سره په پته خوله کار کول : د سوالونو لوستل ؛ دهر سوال له پاره د صحيح ځواب موندل او شمېره ورکول . ب – له اندېوالاتو سره په پته خوله کار کول : د سوالونو لوستل ؛ د هر سوال له پاره د صحيح ځواب پيدا کول ؛ شمېره ورکول ؛ د ضرورت په اندازه د ښوونکي له خوا مرسته کول . ج – ټولګي ته د سوالونو او ځوابونو څو ځو ځله لوستل (يو زده کوونکی يو سوال او يو ځواب) .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۲
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – په دوه دوه کسه د سوالونو او ځوابونو د لوستلو مشق کول (يو زده کوونکی سوال لولي ، بل يې ځواب وايي) . ب – د مشق پاڼې پ۲ – ۳۹ – ۱ د درېو تشريحي جملو د ليکلو مشق کول ؛ مثلاً : وړومبۍ دري تشريحي جملې (په بلـه ورځ د املا د ليکلو د تيارۍ له پاره) .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۲ مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۱ سلېټونه

ځوابونو ته دې د مربوطو پوښتنو شمېرې وليکلې شي :

۱	هلک منه څنګه خوري ؟		مېوې به مينځو . پ۲ | ۳۹ – ۲
۲	هغه ولې ناجوړه دی ؟		اوس ناولې منه نه خوري .
۳	د هلک مور څه کوي ؟		چې بيا ناجوړه نه شي .
۴	ډاکټر څه کوي ؟		چې صفا شيان خورو .
۵	اوس هلک څه چل کوي ؟		ډاکټر هلک ته دوا ليکي .
٦	هغه منه ولې مينځي ؟		هغه د هلک تبه ګوري .
۷	په مېو و به څه کوو ؟	۱	هلک منه همدغسې خوري .
۸	صحت څنګه ښه کېږي ؟		ځکه چې ناولې منه ې خوړلې ده .

موضوع : تصويري کيسه : له ورکړای شويو کلمو سره جملې ليکل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۳۹ - ۱ د درېو تشريحي جملو چې تېره ورځ پرې مشق وشو ، املا ليکل .	سلېټونه
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۳۹ – ۲ سوالونه او ځوابونه يو ځل بيا تولګي ته لوستل .	توره تخته
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۳ کار کول : الف – د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ پر کار بحث کول ؛ پوهېدل چې د هرې کرښې له پاره به په ورکړای شوې کلمې سره يوه ساده جمله ليکلې کيږي . ب– پر تولو کرښو يو خای کار کول : د زده کوونکو له خوا د کلمو لوستل ، د جملو ويل ، د يوې جملې د ليکلو فيصله کول ؛ د ښوونکي له خوا د دغو جملو پر توره تخته ښه ښايسته ليکل . ج - دغه جملې څو څو ځله لوستل .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۲ مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۳
۴. د جملو ليکل : الف - پر سلېټونو د جملو نقلولو او ليکلو مشق کول . ب - په مشق پاڼه کې يې ښه ښايسته ليکل .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۲
۵. د مشق پاڼې پ۲ – ۳۹ – ۱ رسمونه رنګول .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۹ – ۱

د کينې ډډې کلمې دې په مناسبو جملو کې وکاروئ شې :

بې پروا هلک	پ۲ ۳۹ ـ ۳
يو هلک ناولې منه وخوړه .	ناولې
	ناجوړه
	ډاکټر
	دوا
	جوړ
	پام

درسي پلان ۳۰ / پ۲ – ۴۰ – ۱	موضوع : دا څه شی دی ؟ د دونو ویل / لوستل او حلول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
– ویل چې ننني درس یو خاص درس دی . – زده کوونکي د ټولګي مخې ته رابلل او د دونو ویلو غوښتنه ور څخه کول ، څومره چې ممکن وي هغومره زده کوونکو ته موقع ورکول .	۱ . *دونې ویل (۲) :* – غوږ نیول . – ښه ښه زده کوونکی د ټولګي مخې ته راتلل ، دونې ویل ؛ د نورو غوږ نیول ، قیاس کول ، صحیح خوابونه ویل .	
– یوه دونه پر توره تخته لیکل : " ستاسو په کور کې شته، څلور لینګي لري خوګرځیدی نه شي".	۲ . *د دونو لوستل او حلول :* – د ښوونکي لیکلو ته کتل، د دونو لوستل ؛ قیاس کول ، د یوه زده کوونکي خواب پر توره تخته لیکل: " دایو کټ / یومېز / یوه کرسۍ ده".	تـــوره تختـــه
– یوه بله دونه پر توره تخته لیکل : " دا څه شی دی چې د شپې روښانه کیږي ؛ له استعمال سره ورو ورو ورکوتی کیږي ؟ . – د مشق پاڼې پ۲ – ۴۰ – ۱ د مطالعه کولو او د کار معلومولو غوښتنه کول .	– د ښوونکي لیکلو ته کتل؛ ددغې دونې لوستل؛ قیاس کول ؛ د یوه زده کوونکي خواب پر توره تخته لیکل : " دا یوه شمع ده . " – مشق پاڼه مطالعه کول ؛ متنونه او رسمونه لیدل ؛ په کار ځان پوهول : په هر بکس کې یوه دونه ده او په منځ کې له رسمونو څخه حل چلک کېدای شي ؛ دا به تر دونو لاندې بکسونو کې لیکل کیږي .	مشـــق پـــاڼه پ۲ – ۴۰ – ۱
– غوښتنه کول چې دونې له انډیوالانو سره ولولي او حل یې کړي خو خوابونه به لاپه مشق پاڼه کې نه لیکي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دونې دې ټولګي ته ولولي. د ښوونکي له خوا مرسته کول.	– په دوه دوه کسه د دونو لوستل او حلول . – د ښه ښه زده کوونکل له خوا ټولګي ته د دونو لوستل (یو زده کوونکي یوه دونه) د حلونو سپارښتنه کول ؛ په خوابونو موافقه کول ، د ښوونکي په مرسته دښه ښه زده کوونکي له خوا پر توره تخته خوابونه لیکل .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــاڼه پ۲ – ۴۰ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دونو خوابونه دې په مشق پاڼه کې په تیار کړای شویو خایونو کې ښه ښایسته ولیکي .	– د غوښتنې مطابق کار کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له انډیوالانو سره یو خای په شفاهي ټوګه دونې پیدا کړي (مرسته کول) . (۳) – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ټولګي مخې ته راشي او خپلې دونې ووایي .	۳ . *د دونو پیدا کول او حلول :* – کوشش کول چې له انډیوال سره یو خای له خانه یوه دونه پیدا کړي . – ښه ښه زده کوونکی د ټولګي مخې ته راتلل او خپلې دونې ویل؛ د نورو قیاس کول ، صحیح خوابونه ورکول ، په ښه دونه شابسی ویل .	

موضوع : د تفریح د وخت فعالیتونه ؛ په لیکلي ډول د امریه فعلونو جمع شکل معرفي کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. حکمونه : الف – د ښوونکي له خوا پوښتنه کول : " ښوونکی هره ورځ معمولاً پر زده کوونکو حکمونه کوي " . ب – د زده کوونکو له خوا ځواب ورکول ؛ مثلاً : " کښېنئ . کتابونه پرانیزئ . " پر سلېټونو ولیکئ او داسې نور ؛ ځومره چې کېدلای شي هومره حکمونه پیدا کول . ج – د خندوونکو حکمونو مشق کول : د ټولګي مخې ته د یوه یوه زده کوونکي راتلل او ویل : " ټول سرونه وګروئ . ټول پرنجی وکړئ . " او داسې نور . تر دوه دري حکمونو وروسته به د بل زده کوونکي وار وي .	تـــوره تختـــه
۲. پر توره تخته د ښوونکي له خوا ځینې مثالونه په یوه کرښه کې لیکل ؛ لکه : ولیکئ ، ولولئ ، کښېنئ ، ځئ ، راشئ . د دې حکمونو مفرد حالتونه را په زړه کول (پ۱ – ۴۰ – ۱) ؛ لاندې یې لیکل ؛ د زده کوونکو له خوا یې لوستل او د مفرد او جمع حکمي کلمو سر او آخر ته پام کول ؛ په غور سره د کلمو تلفظ کول .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴ – ۳
۳. په مشق پانه پ۲ – ۴ – ۳ کار کول : الف – د عنوان لوستل . ب – خبرې وربـاندې کـول . ج – د حذف کړای شویو کلمو په شمول مختلفې حکمي جملې لومړی له اندیوال سره او بیا یې ټول ټولګي ته لوستل (حذف کړای شوې کلمې د مشق پانې په کینه خوا کې ورکړای شوې دي .) . د – د مشق پانې د کینې خوا څلور کلمې لاندې خالي ځای ته ورنقلول او بیاېې په خپلو خپلو مناسبو خالي خایونو کې لیکل .	ســـــلېټونه مشـــق پـــانه پ۲ – ۴ – ۲
۴. دوه دري حکمونه په تکرار سره پر سلېټونو لیکل .	
۵. له اندیوال سره د مشق پانې پ۲ – ۴ – ۲ متن وار په وار لوستل .	

تش خایونه دې د ستون په کلمو په مناسبه توګه ډک شي :

پ۲ ۴ – ۳	
تفریح ده؛ ماشومان له استاد څخه پوښتنه کوي : " مونږ به اوس څه کوو ؟ " استاد ځواب ورکوي :	
منډې وهئ که تر ونې لاندې کښېنئ ؛	لاسونه
ـــــــ کوئ که یو له بل سره خبرې کوئ ؛	اوبه
ـــــــ مینځئ که تختې مینځئ ؛	فوټبال
ـــــــ څښئ او که ـــــــ خورئ .	ډوډۍ
څه چې مو خوښه وي هغه کوئ .	

- له زده کوونکو څخه د مشق کولو غوښتنه کول : الف – له يوه اندېوال سره په مشق پانه کې دوني لوستل . ب – لـه مشـق پـانې پ۲ – ۴۰ – ۱ څخه دوه يا دري دوني انتخابول او پر سلېټونو يې تر هغه پورې د مشق کولو غوښتنـه کول چې وروسته يې له يادې وليکلای شي .	۴ . د لوستلو او ليکلو مشق کول : - د غوښتنې مطـابق کـار کـول : الـف – لـه يـوه انـدېوال سره لوسـتل : د يـوه انـدېوال لـه خـوا د دونې لوسـتل ، د بـل انـدېوال له خوا يـې څواب ويـل (وار پـه وار) . ب – د دوه يـا دري دونو د ليکلو مشق کول .	سـلېټونه

(۱) د دونو ويل او حلول د ماشومانو خوښ وي . په يوه درس کې دونې ويل دوه هدفونه لري : الف- د زده کړې له پاره شوق او جذبه زياتوي . ب – د تخيل او د ژبې قوت زياتوي .

(۲) په دې درس کې به زده کوونکو ته موقع ورکوله کيږي چې کومه يوه دونه يې زده وي هغه ووايي . د دونې د ويلو له پاره د ټولګي مخې ته راتلل ، پر څانونو باندې د زده کوونکو بـاور زيـاتوی . لـه دې کبلـه بـه کمزوريـو زده کوونکو تـه هـم موقع ورکولې کيږي چې تر ممکنه حده پورې دونې ووايي .

(۳) طبعاً ټول زده کوونکي بـه ونـه شـی کړای چې لـه خپلـه دونې پيـدا کړي خـو دا هـم ډېره ده چـې کـوښښ وکـړي . ښوونکي به زده کوونکو ته ډاډګېرنه ورکوي او په ساده سپارښتنو سره به د دوی مرسته کوي . هغه شيان چې د قياس په حيث وړاندې کيږي کېدای شي په لاندې ډول وي :

يو بلب : دا څی شی دی چې ډېره رڼا کوي ، سوځي ، خو اور نه لري ؟ "

يوه مېښه : دا څه شی دی چې له سړي څخه ډېر قوی دی خو د يوه ماشوم متابعت هم کوي ؟

شيشه : دا څه شی دی چې د اوبو په شان رون دی خو ډېر کلک دَی ؟

دونې / چيستانونه دي له رسمونو سره په ارتباط کې ولوستل او خوابونه يې دي ور لاندې وليکل شي . که د وروستۍ پوښتنې څواب " هو " وي نو يوه بوه دونې دي وويله شي :

ب۱ | ۲۰ – ۱

دا څه شی دی ؟

موږ ته ډېرځه رابنيي خو خبرې نه کوي .	پښې نه لري خو ګرځېدلی شي .	ډېر غاښونه لري خو ډوډۍ نه شي خوړلی .
_____	_____	_____



شپه او ورځ ګرځي خو خپل ځای نه پرېږدي .	ډېر آوازونه تري راوخي خو دننه په کې هېڅوک نه وي .	پورته ښکته تويونه وهي خو پښې نه لري .
_____	_____	_____

تاسو هم داسې دونې جوړولی شئ ؟

موضوع : د متمرکز کهدلو (متوجه کهدلو) لوبه (۱)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د دوښو تکرارول : الف – له ياده دوني ويل . ب – د يوه تن د انتخاب يوه دونه له ياده پر سلېټونو ليکل ؛ له مشق پاڼې سره يې کتل .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۴۰ – ۱
۲. د تمرکز څو ساده لوبې کول : الف – تقريباً د پنځو ثانيو له پاره د يوې کڅوړې شپږ شيان بيا بيا ښودل (۲) د زده کوونکو له خوا کوشش کول چې دا ټول شيان را په ياد او پر خپلو سلېټونو يې رسم کړي ؛ مقايسه کول يې (ممکن شيان : پنسل ، قلم ، تخته ، شمع ، داورلګيت ډبلی پياله او داسې نور .) ب – د ښوونکي له خوا د خپلې خوښې شپږ حروف پرتوره تخته ليکل (دا حروف به د الفبې په ترتيب نه وي) ؛ زده کوونکي به د دې حروفو د حفظ کولو له پاره تقريباً يوه دقيقه وخت لري . بيا به يې پر خپلو سلېټونو ليکي (د ښوونکي له خوا تر ورانولو وروسته) . دا لوبه به له اته يا لس نورو حروفو سره يو خل يا دوه خلې تکراريږي .	تخته سلېټونه
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۴۰ – ۲ کار کول : الف – د زده کوونکو له خوا د څو لحظو له پاره رسمونو ته کتل چې په ذهن کې يې کيني او وروسته يې وپېژندلای شي . ب – بيا زده کوونکي په مخ مشق پاڼه پ۲ – ۴۰ – ۲ کې رسمونه ګوري ، پېژني يې او د صحيح نښه پرې ولګوي . ج – د نتيجو چک کول ؛ په دوارو مشق پاڼو کې په دغو دوو تقريباً ورته رسمونو کې فرقونه موندل او تشريح کول يې .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۰ – ۲
۴. د مشق پاڼې پ۲ – ۴۰ – ۲ د شياو د نومونو د ليکلو مشق کول : الف – د ښې ښې زده کوونکي له خوا د دغو کلمو پر توره تخته ښه ښايسته ليکل . ب – د ټولو کلمو مشق پر سلېټونو کول ، کوشش کول چې له ياده وليکي .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۰ – ۴ توره تخته سلېټونه

(۱) له دې کبله چې په دې درس کې مشق پاڼې تقريباً بې ترتيبه دي . نو ښوونکی به دې خبرې ته پام کوی چې زده کوونکي مطلوبې يا صحيح مشق پاڼې ته وګوري .

(۲) ښوونکي به شيان داسې نيسي چې هر يو يې نښه وليدلای شي . بيا به يې بهرته ږدي . د شيانو د ښودلو په وخت کې به زده کوونکي بالکل خبرې نه کوي .







موضوع : د متقاطعو کلمو ساده معماګاني حلول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د هغو شپږو کلمو تکرارول چې تېره ورځ يې مشق وشو (۱) : الف- د زده کوونکو له خوا کوشش کول چې د تېرې ورځې کلمې له ياده پر خپلو سلېټونو وليکي . ب - پر توره تخته چک کول .	سلېټونه
۲. د متقاطع کلمو د يوې داسې معما معرفي کول چې يوازې دوه کلمې لري ؛ په ګډه سره يې حلول : الف – پر توره تخته د ښوونکي له خوا د متقاطع کلمو د يوې معما ليکل (زده کوونکی به په دې خبره خان پوهوي چې په متقاطع کلمو کې به ټول حروف جلا جلا وي) .	توره تخته
ب – د ښوونکي په مرسته د زده کوونکو له خوا د معما د حلولو طريقه معلومول . ج – طريقه د دغو کلمو ليکل . دا به تشريح کېږي چې حروف به يو خای کېږي او په دې توګه به يې شکلونه بدليږي ؛ صحيح کلمې به پر توره تخته ليکلې کېږي .	توره تخته
۳. په همدغه طريقه پر توره تخته د همدغه شان متقاطع کلمو د معماګانو حلول ، مثلاً :	توره تخته
۴. په مشق پانه پ۲ – ۴۰ – ۳ کار کول (۲) : الف – د مشق پاني مطالعه کول ، په کار خان پوهول . ب – له يوه انډيوال سره د متقاطع کلمو د معما حلول : دغيبو حروفو ليکل ، پر سلېټونو د مکملو کلمو ليکل . ج – د نتيجو مقايسه کول : د ډېل ډېل زده کوونکي له خوا د کلمو ويل ، د ښوونکي له خوا يې پر توره تخته ښه ښايسته ليکل ؛ دټولو مقايسه کول . د– د زده کوونکو له خوا په مشق پانه کې په تيار کړای شويو خايونو کې د مکملو کلمو ليکل .	مشق پانه پ۲ – ۴۰ – ۳
۵. د زده کوونکو له خوا په مشق پانه پ۲ – ۴۰ – ۵ يا پ۲ – ۴۰ – ۶ کې په خپله کار کول ؛ زده کوونکي په کور کې لوبې مکملولای شي . (۳)	توره تخته

(۱) د ښوونکي له خوا د کار تر اعلانولو دمخه به زده کوونکي خپل سلېټونه ښه صفا کوي .

(۲) ښوونکی کولای شي چې تر درس دمخه د متقاطع کلمو ډېرې نورې معماګاني تيارې کړي .

(۳) دا مشق پاني د دې له پاره دي چې زده کوونکي تري خوند واخلي مشق پانه پ۲ – ۴۰ – ۵ په حوصله او توجه سره د کار کولو قابليت ته وده ورکوي . مشق پانه پ۲ – ۴۰ – ۶ دوه ډوله کارونه تر سره کوي : يو – د متقاطع کلمو يو ځو نورې معماګاني چې مشق يې وشو . دوه – د لټون يوه ساده لوبه .





توجه : ښوونکی دې راتلونکي درسي پلان پورې مربوطو تبصرو / اشارو کې (۲) تبصره / اشاره ولولي .

درسي پلان ۴۱ پ۲ – ۴۱ – ۱	موضوع : قوت او حرکت (۱)	
د بنوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د د لوبو کوم موټرونه يې بنوونځي ته راوړي دي هغه وښيي او استعمال يې کړي . – ويل چې دوی به يو څو تجربې کوي ؛ د تجربو له پاره خان تياورل (۳) . – د توجه غوښتنه کول يې له تشريح څخه تجربه کول : الف – د لوبو موټر ته ورو تېله ورکول چې دا ډېر لږ ولاړ شي . ب – موټر ته په زوره تېله ورکول چې لږ ولاړ شي . تجربه تکرارول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه وشو هغه تشريح کړي . – د زده کوونکو رهنايي کول چې دا شان تجربې په خپله وکړي ، د تېل وهلو په وخت کې کله ډېر او کله لږ زور استعمالول (مثلاً : پر مخکه يوې راکښل کرښې ته رسېدل يا دا چې موټر ډېوال ته ورسېږي او داسې نور)	**۱ . د لوبو په موټرو تجربې کول (۲) :** – دجلا جلا زده کوونکو د لوبو د موټرو بنودل ، د لوبو موټرو استعمالول او تشريح کول ؛ د نورو مشاهده کول ؛ غوږ نيول . – غوږ نيول ؛ توجه کول . – په غور سره کتل . – څه چې وشو د هغو بيانول او معلومول چې که تېله په زوره وي نو موټر به تر لرې خي او که په ورو وي نو لرې به نه خي . – د جلا جلا زده کوونکو د لوبو په موټرو تجربې کول ، د نورو ورته په غور کتل ، بيانول او تشريح کول ؛ مثلاً : تېله ډېره په زوره وه يا کرښې ته د رسېدو له پاره دا ډېره په زوره نه وه او داسې نور .	د لوبو ګاډی
– په زده کوونکو ويل چې شيانو ته د حرکت ورکولو له پاره نور چېرته له قوت څخه کار اخيستل کيږي ؛ د ضرورت په اندازه اشاري ورکول .	**۲ . د قوت او حرکت په باره کې نور مثالونه بيانول:** – تشريح کول چې دوی شيان څنګه اوچتوي ؛ مثلاً : يو خر يو ګاډی څنګه را کاږي ؟ دوی کاني څنګه ولي ؟ او داسې نور .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له انډيوال سره يو خای د مشق پاڼې پ۲ – ۴۱ – ۱ رسمونه مطالعه کړي . – زده کوونکو ته ويل چې رسمونه يو په بل پسې بيان کړي . څنګه چې په رسمونو کې بنودل شوي دي د قوت او حرکت تر منځ د رابطې په باره کې د خبرو رهنمايي کول .	**۳ . په رسمونو کې د قوت او حرکت پېژندل :** – له يوه انډيوال سره رسمونه مطالعه کول . – رسمونه بيانول ، معلومول چې په کومه طريقه د دوی له مخکښيو تجربو سره اړه لري ؛ داسې بيانونه پيدا کول لکه : څومره چې هلک په زوره لينده را کاږي ، دومره به لرې ويشتل کوي يا څومره چې هلک په زوره پېدل چلوي هومره به سايکل تېز خي .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۱ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې په آخر کې چې څومره کېدی شي نوي کلمې ولولي . – زده کوونکو ته ويل چې هغه کلمې ووايي چې دوی يې لوستلای شي . کومې کلمې چې زده کوونکو لوستې دي ، په يو بلې پسې ښه صفا پر توره تخته د هغو ليکل ؛ د کلمو په لوستلو کې مرسته کول . – زده کوونکو ته ويل چې د مشق پاڼې د پاسنۍ برخې جملې له يوه انډيوال سره ولولي .	**۴ . اړونده جملې لوستل ؛ يو څو نوې کلمې ليکل:** – په خاموشۍ سره د نويو کلمو د لوستلو کوشش کول . – د جلا جلا زده کوونکو له خوا د کلمو لوستل ، (يو زده کوونکی يو کلمه) ؛ د نورو ورته غوږ نيول ، د بنوونکي ليکلو ته په غور کتل ، کلمې لوستل . – د مشق پاڼې د پاسنۍ برخې جملې له يوه انډيوال سره لوستل .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۱ – ۱ توره تخته

- زده کوونکو ته ویل چې جملې تولګي ته ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له یوه اندیوال سره د جملو د لوستلو مشق وکړي . - غوښتنه کول چې نوې کلمې سلېټونو ته نقل کړي او مشق یې وکړي .	- تولګي ته د جملو لوستل ؛ یو زده کوونکی یوه جمله . - له اندیوال سره د جملو د لوستلو مشق کول ، (وار په وار) . - پر سلېټونو د نویو کلمو د لیکلو مشق کول .	سلېټونه

(۱) څنګه چې په مربوط تعلیمي نصاب کې ښودل شوي دي ، د ه [قوت او حرکت] موضوع د ساینس د مضمون برخه ده . د تدریس په وخت کې یې د ژبې ا ود محتوی ارخ یو ځای په خیال کې ساتل په کار دي . د دې مطلب دا دی چې زده کونکي به د تجربې او مشاهدې په وسیله دا زده کوي چې قوت او حرکت څنګه له یو بل سره اړه لري . د حقایقو د بیانولو او د اړوندو کلمو او جملو د لوستلو او لیکلو په وسیله به دوی د ژبې اصلاح وکړي . په دې درسي واحد کې د [قوت] اصطلاح د بنیادمو او ځناورو د قوت په استعمالولو پورې محدوده ده . د ماشینونو په وسیله چې کوم قوت او حرکت پیدا کیږي پر هغې به وروسته بحث وشي . دا موضوع د تجربې او مشاهدې په وسیله د زده کړې له پاره ډېر ښه چانسونه لري .

(۲) په دې درس کې د یو څو تجربو د کولو له پاره یو څو د لوبو موټر په کار دي . د دې درس تر تدریس یوه ورځ وړاندې دې ښوونکی زده کوونکو ته ووایي چې له خان سره یې ښوونځي ته راوړي لکه ورکوټي موټرې ، ګاډي (پرته له بېټرۍ څخه) او داسې نور . له تجربې او مشاهدې سره به زده کونکي فعال شي او د ښوونکي د لارښوونې په وسیله به په قوت او حرکت کې د رابطې د پیدا کولو په خپله جوګه شي .

(۳) ښوونکی دې عملاً وښیي چې قوت او حرکت په خپلو کې سره رابطه لري (په دې مرحله کې دې هغه د دې تشریح نه کوي) :
الف – د لوبو موټر ته د ډېرې لېږې تهلي ورکولو په وسیله چې دا ډېر لږ ولاړ شي . ب- دې ته په زوره د ډیکي ورکولو په وسیله چې دا ډېر لري ولاړ شي . دا تجربه په غټ میز یا پر یوه هواره افقي سطحه باندې کېدای شي چې زده کوونکي یې ښه وویني . دا له تولګي څخه د باندې هم په آسانۍ سره کېدای شي .

د دوهمې کتار د کلمو د لیکلو مشق دې وشي . د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي :

پ۲ | ۴۱ - ۱

چې څومره زور وي ، هومره حرکت وي .

	چې څومره یو ماشوم موټر په زوره تهله کوي ، هومره لرې ځي .
	چې څومره یو هلک توپ په زوره شوټ کوي ، هومره لرې ځي .
	چې څومره یوهلک کانې په زوره ولي ، هومره لرې ځي .
	چې څومره څوک لیندۍ په زوره راکاږي ، هومره کانې لرې ځي .
	یو غویی دروند ګاډی نه شي رابنکلی ، خو دوه غویان یې را ښکلی شي .
	چې څومره څوک په زوره سایکل چلوي هومره به ټیز وي .

زور حرکت ټیله هومره کانې
راکاږي غویی رابنکلی لغته

موضوع : قوت او حرکت : تکرار ؛ يوه کيسه لوستل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼي پ۲ – ۴۱ – ۱ کلمې تکرارول : الف – ښوونکی له زده کوونکو څخه چې دا کلمې دې په خاموشۍ سره ولولي . ب - ښوونکی له يوه يوه زده کوونکي څخه د دوی په خوښه غوښتنه کوي چې په دې کلمو کې کومه يوه دوی ته ښه ورځي هغه له يادې پر تخته وليکي، او د ټولو حروفو نومونه يې دې واخلي . ج – زده کوونکي يو يو تورې تختې ته راځي ؛ يوه کلمه صفا ليکي ، لولي يې ، حروفو ته يې اشاره کوي او نومونه يې اخلي . نور يې په ګډه تکرار کوي (تر کومې چې کولای شي زده کوونکي دې د حروفو تلفظ هم وکړي) .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۱ – ۱ تورې تخته
۲. زده کوونکي دې د تېرې ورځې تجربې بيا بيان او نتيجې يې دې تکرار کړي .	مشق پاڼه
۳. زده کوونکي دې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۱ – ۱ جملې بيا ولولي .	پ۲ – ۴۱ – ۱
۴. د مشق پاڼې پ۲ – ۴۱ – ۲ د کيسې يوه برخه لوستل : الف – ښوونکی په زده کوونکو د کار کتابونه بندوي . ب – ښوونکی تر [او زما ته واخله] عبارت پورې کيسه لولي . ج– زده کوونکي د کيسې په باره کې بحث کوي . وجوهات معلوموي او وايي چې د غوتی موټر د کريم تر موټر ولې لرې نه ځي (غوتی موټر ته د کريم په شان په زوره ډيکه نه شي ورکولای) . د– زده کوونکي له يوه اندېوال سره د کيسې هم دغه برخه په خاموشۍ لولي . کومې کلمې چې نه شي لوستلای د هغو پوښتنه کوي . هـ - زده کوونکي متن په برخو برخو کې تولګي ته لولي . و – زده کوونکي له يوه اندېوال سره وار په وار د متن د لوستلو مشق کوي .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۱ – ۲

تر متن لوستلو وروسته دې آخرۍ جملې په لاندې چوکاټ کې وليکله شي :

پ۲ | ۴۱ - ۲

غوتی او کريم موټر څغلوي

غوتی او کريم خور او ورور دي . غوتی ورځ او کريم لوی دی . دواړه د کور په انګړ کې د موټرو د څغلونو لوبه کوي . مور او پلار يې ورته ګوري . د غوتی موټر شين او د کريم سور دی . د هر يوه دا خيال دی چې موټر يې لرې تلی شي .

دواړه وايي : راځئ ، په يوه وخت کې ټهله ورکړو چې د چا موټر لرې ځي . ورور او خور خپل موټر پر کرښه دروي او په يوه وخت کې ټهله ورکوي . د کريم موټر لرې ځي . خو د غوتی موټر دومره لرې نه ځي . غوتی خپه کيږي . کريم ته وايي چې زما موټر خراب او ستا ښه دی . کريم ورته وايي چې خپل موټر دې ماته راکړه او زما ته واخله . دواړه سره موټر بدلوي . دغه لوبه بيا کوي . دا ځل هم د کريم موټر د غوتی له موټر څخه ډېره لاړه وهي . کريم خوشحال او غوتی ډېره خپه کيږي . پلار يې ورته خاندي او غوتی ته وايي . لوړې ، مه خپه کېږه . يو موټر هم خراب نه دی . ته وړه يې او موټر ته د کريم په شان په زوره ټهله نه شي ورکولی ؛ خکه

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : قوت او حرکت : تکرار ؛ آخرۍ جمله ليکل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۴۱ – ۱ د يو خو نورو کلمو املا ليکل (املا ليکل ، کتل ، په معموله طريقه يې اصلاح کول) .	سلېټونه
۲. زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۴۱ – ۲ کيسه تولګي ته تکراراً لولي (يو زده کوونکي ، يوه برخه) .	توره تخته
۳. زده کوونکي بيا تشريح کوي چې د غوتۍ موټر د کريم د موټر په شان ولې تېز نه ځي .	مشق پاڼه
۴. زده کوونکي د کيسې پاتې برخه له يوه انديوال سره يو ځای په خاموشۍ لولي .	پ۲ – ۴۱ – ۲
۵. زده کوونکي دا برخه تولګي ته تکراراً لولي .	
۶. زده کوونکي توله کيسه تولګي ته لولي .	
۷. د يوه اصل مطابق کيسه ختمول : الف – ښوونکی پوښتنه کوي چې د آخرۍ جملې د مکملولو له پاره د مشق پاڼې په آخر کې په بکس کې څه ليکل په کار دي ؟ ب - زده کونکي په مختلفو سپارښتنو بحث کوي . ج – ښوونکی د مشق پاڼې پ۲ – ۴۱ – ۱ د عنوان د بيا لوستلو غوښتنه کوي ؛ زده کوونکي جمله لولي ، بحث کوي او متفق کيږي چې دا د آخرۍ جملې په حيث ليکلې کېدای شي . د – د دې جملې پر سلېټونو مشق کول . هـ – دا د مشق پاڼې په آخر کې په بکس کې صفا ليکل .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۱ – ۱ سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۴۱ – ۲

د وروسني کتار د کلمو د ليکلو مشق دې وشي . د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي :

چې څومره زور وي ، هومره حرکت وي .

پ۲ | ۴۱ – ۱

	چې څومره يو ماشوم موټر په زوره ټغله کوي ، هومره لرې ځي .
	چې څومره يو هلک توپ په زوره شوټ کوي ، هومره لرې ځي .
	چې څومره يوهلک کانۍ په زوره ولي ، هومره لرې ځي .
	چې څومره څوک لېندۍ په زوره راکاږي ، هومره کانۍ لرې ځي .
	يو غويی دروند ګاډی نه شي ؤاښکلی ، خو دوه غويان يې را ښکلی شي .
	چې څومره څوک په زوره سايکل چلوي هومره به ټېز وي .

زور حرکت ټيله هومره کانۍ
راکاږي غويی راښکلی لغته

تر متن لوستلو وروسته دې آخرۍ جملې په لاندنۍ چوکاټ کې وليکله شي :

پ۲ | ۴۱ – ۲

غوتۍ او کريم موټر څغلوي

غوتۍ او کريم خور او ورور دي . غوتۍ وړه او کريم لوی دی . دواړه د کور په انګړ کې د موټرو د څغلونو لوبه کوي . مور او پلار يې ورته ګوري . د غوتۍ موټر شين او د کريم سور دی . د هر يوه دا خيال دی چې موټر يې لرې تلی شي .

دواړه وايي : راځئ ، په يوه وخت کې ټغله ورکړو چې د چا موټر لرې ځي . ورور او خور خپل موټر پر کرښه دروي او په يوه وخت کې ټغله ورکوي . د کريم موټر لرې ځي . خو د غوتۍ موټر دومره لرې نه ځي . غوتۍ خپه کيږي . کريم ته وايي چې زما موټر خراب او ستا ښه دی . کريم ورته وايي چې خپل موټر دې ماته راکړه او زما ته واخله . دواړه سره موټر بدلوي . دغه لوبه بيا کوي . دا ځل هم د کريم موټر د غوتۍ له موټر څخه ډېره لاړه وهي . کريم خوشحال او غوتۍ ډېره خپه کيږي . پلار يې ورته خاندي او غوتۍ ته وايي . " لوری ، مه خپه کېږه . يو موټر هم خراب نه دی . ته وړه يې او موټر ته د کريم په شان په زوره ټغله نه شي ورکولی ؛ خکه

درس پاڼه ۴۲
پ۲ – ۴۲ – ۱

موضوع : د کلمو په سر کې د [ا] د توري مختلف آوازونه (۱)

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱. *د کلمو په سر کې د [ا] په مختلفو آوازونو کې توپير کول :*	
– ويل چې زه اوس پر توره تخته يو حرف ليکم او تاسو به د هغه آواز باسئ ؛ د [ا] توری پر توره تخته ليکل.	– غوږ نيول ؛ په غور کتل ؛ د [ا] توري پېژندل ، آواز يې ايستل .	
– يو څو کلمې چې تولې په [ا] شروع کيږي پر توره تخته ليکل ؛ لکه : او ، ام ، اوښ ، امسا ، اسلام ، استاد ، اس ،املا . (۲) په زده کوونکو دا کلمې لوستل .	– د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل ؛ دغه کلمې په خاموشۍ سره لوستل ؛ تولګي ته يې لوستل .	تـــوره تختـــه
– په دې کلمو کې چې څه مشترک دي هغه په زده کوونکو پيدا کول .	– معلومول چې دا تولې کلمې په [ا] سره شروع کيږي.	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دې کلمو په ورو ورو او په غور سره تلفظ وکړي او معلومه کړي چې د کلمو په آوازونو کې د تعجب ور څه دي ؟ مرسته کول .	– يو زده کوونکی دغه کلمې تولګي ته ورو ورو لولي ؛ نور ورته غوږ نيسي ؛ معلومول چې د کلمو د سر حرف (ا) مختلف آوازونه لري.	
– ويل چې د ډېرو کلمو په سر کې [ا] له خپل اصلي آواز څخه علاوه (لکه د [اس] په کلمه کې) نور مختلف آوازونه هم لري او تاسو به د دغسې کلمو د لوستلو په وخت کې پوره احتياط کوئ .	– غوږ نيول .	
– بې له ترتيب څخه دغه کلمو ته اشاره کول .	– څنګه چې ورته اشاره کيږي کلمې په يوه آواز لوستل .	
– د [اوښ ، املا ، اس] کلمې پر توره تختې يوه تر بلې لاندې ليکل . (۲)	– د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل ، په خاموشۍ سره يې لوستل .	
– د زده کوونکو رهنمايي کول چې د توري تختې کلمې يوه يوه بيا ولولي او په اړوندو کتارونو کې يې د [ا] د آوازونو مطابق چې د کلمې په سر کې وي ، وليکي .	– دغه کلمې يوه يوه لوستل ؛ صحيح تلفظ يې معلومول؛ په اړونده کتار کې د يوه زده کوونکي له خوا د کلمې ليکل ؛ د نورو ورته په غور کتل .	تـــوره تختـــه
	۲. *په [ا] شروع کيدونکو کلمو ته د سر د آوازونو مطابق ترتيب ورکول :*	
– په زده کوونکو مشق پانه پ۲ – ۴۲ – ۱ مطالعه کول .	– معلومول چې دا مشق پانه د توري تختې د کار په شان معلوميږي ؛ په کار باندې خان پوهول .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۲ – ۱
– په زده کوونکو کلمې لوستل ؛ مرسته کول .	– دغه کلمې يوه يوه تولګي ته لوستل ؛ د کلمو په سر کې د[ا] د توری صحيح او واضح تلفظ کول.	
– د زده کوونکو رهنمايي کول چې دغه کلمې څنګه چې په مشق پانه کې ښودلې شوې دي ، ولولي .	– دغه کلمې بيا لوستل : الف – هغه کلمې چې [ا] يې داسې آواز لري لکه په [اس] کې . ب – هغه کلمې چې [ا] يې داسې آواز لري لکه په [املا] کې . ج – هغه کلمې چې [ا] يې داسې آواز لري لکه په [اوښ] کې .	
	۳. *د هغو کلمو د لوستلو او ليکلو مشق کول چې په [ا] شروع کيږي:*	
– زده کوونکو ته ويل چې دا کلمې د مشق پانې پر خاصو کربنو باندې وليکي .	– دغه کلمې په خالي خايونو کې په صحيح ډول ليکل .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۲ – ۱

مشق پانه		
پ۲ – ۴۲ – ۲	– له یوه اندیوال سره دغه جملې لوستل . – څو څو خله دغه جملې تولګي ته لوستل ؛ (یو زده کوونکی یوه جمله) هغو کلمو ته چې په [الف] شروع کیږي اشاره کول ، صحیح تلفظ یې کول .	– له زده کوونکو څخه غوښتل چې د مشق پانې پ۲ – ۴۲ – ۲ جملې ولولي . – په زده کوونکو باندې دغه جملې تولګي ته لوستل او ورته ویل چې کومې کلمې په [ا] شروع کیږي په ننبه یې کړئ .

(۱) د هغوکلمو چې په [ا] شروع کیږي ، صحیح لوستل زیاتره لږ څه سخت وي . ځکه چې [ا] همېشه د کلمو په سر کې یو شان نه تلفظ کیږي . د [ا] توری د کلموپه سر کې سر ببره په خپل اصلي آواز خپلې خاص آوازونه لري . لکه د [املا، اس ، اوښ] په کلمو کې . زده کوونکي دې د کلمې په سر کې د [ا] د مختلفو آوازونو توپیر وکولای شي او دغه کلمې صحیح ولولي .

(۲) کلمې به د توري تختې په سر لیکلې کیږي چې بیا وروسته په درېوو کتارونو کې په لاندې ډول ترتیببیدلای شي . په آخر کې به توره تخته داسې ښکاري .

آ	اس	ام ، امسا ، او
إ	املا	اسلام ، امام
أ	اوښ	استاد

کلمې دې د الف (ا) د آواز له مخې په بېلابېلو کتارونو کې ولیکلې شي :

پ۲ | ۴۲ - ۱

املا	اس	استاد	انسان	ام	اره
اوس	الو	امامتي	انعام	امسا	اول
استنجا	اور	اوړه	احتیاط	اوښ	اوبه
ا	انعام				
ا	اس				
ا	اوښ				

هغه کلمې دې په ننبه شي چې د الف (ا) د توري په بېلا بېلو آوازونو پیل کېږي :

پ۲ | ۴۲ - ۲

د الف (ا) مختلف آوازونه	
اکرم املا لیکي .	انسان آرام ته ضرورت لري .
استاد انعام ورکوي .	استاد اکرم ته آواز کوي .
زه اوس ام خورم .	الله(ج) له انسان سره مرسته کوي .
اسلم ویده دی .	ام په اوړي کې پخیږي .
اس اوبه څښي .	پلوشه اوړه اړوي .
املوک او انګور خوړه دي .	مور اوس تنور اچوي .
آمنه او اکرام وړې دي .	استاد او انعام خبرې کوي .

موضوع : [کولی شي] مختلف شکلونه معرفي کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د کلمو په سر کي د [ا] د توري د مختلفو آوازونو تکرار کول : الف - زده کوونکي د مشق پاڼي پ۲ – ۴۲ – ۲ جملي څو خله لولي (يو زده کوونکی ، يوه جمله) . ب - الف لرونکي کلمي د [ا] د تلفظ مطابق ترتيبول : ښوونکی پر توره تخته ليکي ؛ مثلاً : زده کوونکی کلمي لولي ، ستونونه خپلو سلېټونو ته نقل کوي او له مشق پاڼي پ۲ – ۴۲ – ۲ څخه د هر ستون له پاره دري نوري کلمي پيدا کوي . زده کوونکي کلمي تولګي ته لولي او مقايسه کوي يې .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۲ – ۲ توره تخته مشق پاڼه پ۲ – ۴۲ – ۲
استاد | املا | اس	
۲. د [کولی شي] شکلونه په شفاهي توګه استعمالول : الف - ښوونکی دا سوال پر توره تخته ليکي : ته څه کولی شي ؟ زده کوونکي سوال لولي . ب- زده کوونکي ډېر ځوابونه وايي (يو زده کوونکی، يو ځواب) مثلاً : زه ليکل کولی شم ؛ زه منډه وهلی شم ؛ زه جامي مينځلی شم او داسي نور . ج – په دي سوالونو هم په دغه طريقه کار کول ؛ مثلاً : مور څه کولی شي ؟ پلار څه کولی شي ؟	توره تخته مشق پاڼه پ۲ – ۴۲ – ۳
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۴۲ – ۳ کار کول : مور څه کولی شي ؟ پلار څه کولی شي ؟ الف – د عنوان سوالونه لوستل . ب – رسمونه مطالعه او تشريح کول . ج – زده کوونکي د ښي اړخ تر رسمونو لاندي جملي لولي . د – زده کوونکي د کيڼ اړخ جملي په شفاهي توګه مکملوي ؛ ښوونکی يې ښه صفا سوتره پر تخته ليکي ؛ زده کوونکي په مشق پاڼه کي جملي مکملوي ، وروسته زده کوونکي د ځلور واړو جملو تر هغي پر سلېټونو مشق کوي چې بيا يې له يادې وليکلای شي .	توره تخته سلېټونه

رسمونه دي تشريح شي . د کيڼي ډډي پوښتنې ته دي د ښي ډډي د پوښتنې د ځوابونو په مرسته ځوابونه وويل شي :

موضوع : د لندو نا مکملو جملو ښودل : " زما ... خوښ وي / د خلکو ... خوښ وي . "

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار: د مشق پاڼې پ۲ - ۴ - ۳ حکمي جملې لوستل : الف - له يوه اندیوال سره کار کول ؛ د يو زده کوونکي له خوا جملې ته اشاره کول ؛ د بل له خوا وار په وار لوستل . ب - ټولګي ته د جملو لوستل .	مشق پاڼه پ۲ - ۴ - ۳
۲. د [زما ... خوښ وي .] ؛ [د خلکو ... خوښ وي .] جملو ښوول : د ښوونکي له خوا پر تخته دوه جملې ليکل : " زما ښوونځی خوښ وي . " ، " ښوونځی د ټولو خوښ وي . " د زده کوونکو له خوا کوشش کول چې دغه جملې ولولي ؛ نوې کلمې معلومول او لوستل .	تخته
۳. د نورو ډېرو داسې بيانونو پيدا کول او ويل چې دتورې تختې د جملو په شان وي ؛ مثلاً : [زما شمېر کول خوښ وي .] / [د ټولو شمېر کول خوښ دي] .	مشق پاڼه
۴. په مشق پاڼه پ۲ - ۴ - ۴ کار کول : الف - دعنوان لوستل ؛ متن اول په خاموشۍ سره جمله په جمله لوستل او بيا يې ټولګي ته لوستل . ج - غيبې کلمې موندل او په خالي خايونو کې يې ليکل.	پ۲ - ۴ - ۴
۵. د ټول متن بيا لوستل .	سلېټونه
۶. پر سلېټونو باندې د ځينو بيانونو د ليکلو مشق کول ؛ مثلاً : زما مندې وهل خوښ وي . زما فټبال کول خوښ دي .	
۷. له يوه اندیوال سره وار په وار د ټول متن د لوستلو مشق کول .	

نيمګړي جملې دي بشپړې شي :

پ۲ | ۲ - ۴

تفريح د ټولو خوښه وي	زما هم تفريح خوښه ده
د جينکو مندې وهل خوښ وي .	زما هم مندې وهل خوښ دي .
د استادانو چای څښل خوښ وي .	زما هم چای څښل خوښ دي .
د ماشومانو فوټبال کول خوښ وي .	ـــــ هم فوټبال کول خوښ دي.
د درخو تخته مينځل خوښ وي .	ـــــ تخته مينځل خوښ دي .
د نازو کور ته تلل خوښ وي .	ـــــــ تلل خوښ دي .
د ټولو ډوډۍ خوړل خوښ وي .	ـــــــ خوړل خوښ دي .
د چا اوبه څښل خوښ وي .	ـــــــ څښل ـــــــ .

موضوع : خلك څه کولی او څه نه شي کولی	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ښوونکی د مشق پاڼې پ۲ – ۴۲ – ۳ د خلورو جملو املا يوه په بلې پسې ورو ورو وايي ، زده کوونکی يې پر سلېټونو ليکي ؛ ښوونکی دغه جملې ښه ښايسته پر تورې تخته ليکي ؛ زده کوونکي يوه يوه مقايسه او اصلاح کوي .	سلېټونه توره تخته
۲. د [کولی شي] د شکلونو په شفاهي ډول مشق کول : الف - ښوونکی لاندې سوالونه پر تورې تخته ليکي .	توره تخته
زه څه کولی شم ؟ مور څه کولی شو ؟ ته څه کولی شې ؟ تاسې څه کولی شئ ؟ هغه څه کولی شي ؟ هغوی څه کولی شي ؟	
ب – زده کوونکي دا سوالونه لولي ؛ پته لګوي او پوهيږي چې د [کولی شي] شکل د شخص مطابق بدليږي . ج - ښوونکی هر سوال ته جلا جلا اشاره کوي ؛ زده کوونکی هر سوال ته ډېر ځوابونه پيدا کوي او وايي يې (ښوونکی به دې ته توجه کوي چې زده کوونکي په مکمله جمله کې په واضحه توګه خبرې وکړي) .	
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۴۲ – ۴ کار کول : الف – زده کوونکي عنوان لولي او بحث وربانديې کوي : ځيني خلك داسې څه کولی شي چې نور يې نه شي کولی . ب – زده کوونکي دغه ورومبی کرښې په شريکه لولي او بحث وربانديې کوي او پوهيږي چې د دوهمې کرښې په خالي ځايونو کې " د شي " مناسب شکل ليکل غواړي . ج – زده کوونکي دغه جملې تولګي ته څو څو ځله لولي او د [کولی شي] اشکال مقايسه کوي (يو زده کوونکی يوه کرښه) .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۲ – ۴
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف - زده کوونکي د [څه چې زه کولی شم] شپږ جملې پر سلېټونو ليکي (شپږ فعاليتونه به له مشق پاڼې څخه انتخابيږي) . ب - زده کوونکي له يوه اندېوال سره وار په وار د دغو جملو د لوستلو مشق کوي .	سلېټونه

تش ځايونه دې د [شي] د کلمې په مناسب شکل ډک شي :

پ۲ | ۴۲ - ۴

خلک څه کولی او څه نه شي کولی ؟

۱ - زه خط ليکلی شم . زما ورور يې نه شي ليکلی .
۲ - ترکان مېز جوړولی شي . ته يې نه ـــــ جوړولی .
۳ - موچي څپلی ګنډلی شي . مور يې نه ـــــ ګنډلی .
۴ - پيشو وني ته ختلی شي . سپی وني ته نه ـــــ ختلی .
۵ - اس تېزه منډه وهلی شي . مېښه يې نه ـــــ وهلی .
٦ - دوی شمېر کولی شي . زه يې نه ـــــ کولی .

خلک هر څه نه شي کولي !

درسي پلان ۴۳ / ب۲ – ۴۳ – ۱	موضوع : خان له خطر څخه ساتل (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . په رسم کې په ښودل شوي تکر (ترافيکي حادثې) خان پوهول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه پ۲ – ۴۳ – ۱ کې رسم مطالعه کړي او له يوه انديوال سره پرې بحث وکړي .	- دغه رسم مطالعه کول او له يوه انديوال سره وروباندې بحث کول .	مشق پانه پ۲ – ۴۳ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په رسم کې څه وينې هغه تشريح کړي .	- په رسم کې ښودل شوی حالت بيانول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي دا تکر څنګه وشو او وجوهات يې څه کېدای شي. (۲)	- د تکر کېدلو وجوهات بيانول ؛ د ډېرو زده کوونکو برخه اخيستل ؛ معلومول چې شايد دغه ماشوم د موټرو تګ راتګ ته پام نه وي کړی .	
	۲ . د تکر (ترافيکي حادثې) د مخنيوي قواعد پيدا کول	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر سړک د نورو خطرونو په باره کې څه ووايي ؛ د يوه داسې بحث رهنمايي کول چې ډېرو خطرونو ته په کې اشاره وشي (۳) .	- معلومول او ويل چې :	
	• موټرې ډېرې تېزې روانې وي .	
	• په تياره کې خپلې شيان نه ليدل کيږي ځکه چې دوی يې له څراغ (رڼا) څخه ځي ؛ لکه : سايکل ، ګاډی ،	
	• کېدای شي چې سايکل څوک ونه وينې .	
	• کله چې ماشومان په لاره کوڅو کې لوبې کوي نو دوی دومره سرګرم وي چې د موټرو تګ راتګ ته يې ببخې پام نه وي .	
	• کله کله چې موټر په يوه کرښليچ يا ګوټ پېر کې راتاويږي نو مخکې نه ليدل کيږي .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د سړک بلې غاړې ته د صحيح سلامت پورې وتلو له پاره څه کول په کار دي ؛ د قواعدو د پېدا کولو په غرض د يوه بحث رهنمايي کول (۴) .	- د سړک بلې غاړې ته پر بې خطره پورې وتلو باندې بحث کول ؛ داسې قواعد موندل : د سړک بلې غاړې ته تر پورې وتلو دمخه ودرېږه ؛ اول بنې خواته وګوره بيا کېنې خواته چې سړک خالي شو نو ژر تېر شه .	
- زده کوونکي دې رهنمايي شي چې د ټولګي په مخکې يا بهر د ښوونځي په انګړ کې له سړک څخه اوړېدل عملا وښيي (۵) .	- خپلې زده کوونکي له خانونو څخه موټرې او ګاډی جوړوي ، نور زده کوونکي د اصولو مطابق له سړک څخه دتېرېدلو مشق کوي ؛ نور يې مشاهده کوي ، تبصره کوي .	
	۳ . د يوه اړونده متن لوستل :	
- وېل چې تاسو به اوس يو متن لولئ خو اول به د يو څو نويو کلمو لوست زده کوئ . پر توره تخته د [خوږ ، وجنګېده ، درولای ، پورې وتله ، مرګ] کلمې ليکل ؛ د دغه ښکلې کلمې په لوستو او پوهېدلو کې رهنمايي کول .	- غوږ نيول ، د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل . دغه کلمې جلا جلا لوستل ؛ څو څو ځله يې لوستل .	توره تخته

- د مشق پاڼې پ۲ - ۴۳ - ۲ عنوان په زده کوونکو لوستل . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې متن له یوه اندیوال سره ولولي . - په زده کوونکو دغه متن ټولګي ته لوستل .	- په خاموشۍ سره د عنوان د لوستلو کوشش کول؛ د ببل ببل زده کوونکي له خوا ټولګي ته د دغه عنوان لوستل . - له یوه اندیوال سره د متن لوستل . - ټولګي ته د دغه متن څو څو خله لوستل .	مشق پانه پ۲ - ۴۳ - ۲
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې : الف - پر سلېټونو د نویو کلمو د صفا سوتره لیکلو مشق وکړي . ب - له یوه اندیوال سره د متن د لوستلو مشق وکړي .	۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول : - له غوښتنې سره سم کار کول : الف - د دغو کلمو د ښه صفا لیکلو مشق پر سلېټونو کول . ب - متن له یوه اندیوال سره وارپه وار لوستل.	سلېټونه مشق پانه پ۲ - ۴۳ - ۲

(۱) خلك په خاصه توګه ماشومان له خطرونو سره مخامخ کیږي . دا یوه ضروري خبره ده چې ماشومان له خطر څخه د ځانونو د ساتلو چل زده کړي . دوی هغه وخت ځانونه ژغورلای شي چې خطر وینې او پرې پوه وي .

(۲) دغه تصویر دا نه ښیي چې تکر څنګه پېښ شو او غلطي د چا وه ؟ ښوونکی به زده کوونکي په احتیاط سره رهنمایي کوي چې د ممکنو وجوهاتو په باره کې فکر وکړي ؛ مثلاً : د [ګاډیوان بې احتیاطي وکړه .] ، [اس وترهېده .] او [ماشوم چې د سړک بلې غاړې ته تېرېده نو ګاډی ته یې پام نه و .] او کېدای شي چې دا تر ټولو صحیح وجه وي .

(۳) په دې مرحله کې به ښوونکی اشاري ورکوي چې زده کوونکي مختلف خطرونه معلوم او خبرې وربانديې وکړي . زده کوونکي په دې باب پر خپلو تجربو خبرې کولای شي .

(۴) زده کوونکي به په دې پوهول کیږي چې د سړک بلې غاړې ته تر تېرېدلو دمخه به یوه لحظه دریږي او په غور سره به پام کوي چې سړک خالي دی او که نه ؟ اول به ښی خواته بیا کیڼي خواته ګوري او چې څه نه وو نو ژر به بلې غاړې ته تېرېږي.

(۵) د دې اصولو د عملي ښودلو په خاطر به ښوونکی د سړک نښې جوړوي . ځینې زده کوونکي به له ښی خواته او ځینې به له کیڼي څخه ښی خواته روان وي . دا به د موټرو پېښې کوي . بل زده کوونکی به په دغه وخت کې د سړک بلې غاړې ته د صحیح سلامت پورې وتلو کوشش کوي . دا زده کوونکی چې د سړک بلې غاړې ته د صحیح پورې وتلو له پاره څه کوي هغه به وایي . دېرو زده کوونکو ته به موقع ورکوله کیږي چې دا فعالیت تکرار کړي .

د رسم په باره کې دې خبرې وشي :

پ۲ | ۴۳ - ۲

پر سړک بې پروا مه پورې وځئ !

نازو له کور څخه په منډه راوتله . بې پروا د سړک بلې غاړې ته پورې وتله . پر سړک ګاډی روانه وه . ګاډیوان ګاډی دومره ژر ونه شوه درولای . نازو له ګاډی سره وجنګېده . سر او مخ یې خوږ شول . ښه وه چې تر ګاډی لاندې نه شوه او له مرګ څخه وغورل شوه.

ماشومانو ، له کور څخه په منډه دباندې مه وځئ . هسې نه چې له څه سره ډغره وخورئ او خوږ شئ . د سړک بنې او کیڼ اړخ ته ګورئ . که څه وي نو لږ ودرېږئ چې هغه تېر شي نو بیا پورې وځئ .

موضوع: د خطر منابع

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. زده کوونکي د هغې ماشومې کيسه بيا کوي چې ګاډی وهلی وه: الف- زده کوونکي په سړک د خطرناکو حالتونو تشريح بيا کوي او د مخنيوی لاړې چارې يې بيانوي. ب- زده کوونکي د سړک بلې غاړې ته صحيح سلامت تېرېدل عملاً ښيي.	مشق پانه پ۲ - ۴۳ - ۱
۲. زده کوونکي مشق پانه پ۲ -۴۳ - ۲ ټولګي ته څو څو خله لولي (يو زده کوونکی يو پاراګراف).	مشق پانه
۳. د مشق پانې پ۲ - ۴۳ - ۳ په پاسنۍ برخه کار کول: الف- زده کوونکي له انډيوال سره رسمونه مطالعه کوي. ب- ببل ببل زده کوونکي ټولګي ته رسمونه تشريح کوي، په رسمونو کې ښودل شوي خطرونه موندل او نومونه يې اخيستل. ج- ښوونکی د دې خطرونو د مخنيوي په باره کې يو بحث رهنمايي کوي، زده کوونکي د دې خطرونو د مخنيوي لاړې چارې معلومات او وايي يې.	پ۲ - ۴۳ - ۲ مشق پانه پ۲ - ۴۳ - ۳
۴. د ساده بيانونو مشق کول: الف - زده کوونکي د رسمونو په منځ کې عنوان لولي؛ ښوونکي يې پر تخته ليکي. ب - زده کوونکي او ښوونکي د رسمونو په باره کې ساده بيانونه پيدا کوي؛ ښوونکی يې پر تخته ليکي؛ زده کوونکي دغه جملې لولي او نويو کلمو ته اشاره کوي؛ ممکن بيانونه دا دي: "اور خطر لري. ماران او لړمان خطرناک وي. پر سړک خطر شته. تېره شيان خطر لري. ځينې ځناور خطرناک وي. په اوبو کې خطر شته". ج- زده کوونکي دغه جملې څو څو خله لولي. د - زده کوونکي جملې سلېټونو ته ور نقلوي او مشق يې کوي.	تخته سلېټونه

کومه جمله چې له کوم رسم سره اړه لري، د هماغه رسم شمېره يې دې سره وليکله شي:

- [ ] د سړک هر اړخ ته ښه وګورئ؛ بيا بلې غاړې ته پورې وخئ.
- [ ] د برېښنا په شيانو کې ګوتې مه وهئ؛ هسې نه چې ومونيسي.
- [ ] اور ته نژدې مه ورځئ؛ هسې نه چې پرې وسوځئ.
- [ ] چې لامبو نه درځي مه لامبئ؛ هسې نه چې ډوب شئ.
- [ ] ځاړوبو ته نژدې مه ورځئ؛ هسې نه چې لغته يا ډغره درکړي.
- [ ] په سوړو کې ګوتې مه وهئ؛ هسې نه چې لړم يا مار مو وچيچي.
- [ ] له چاقو يا ستنې سره لوبې مه کوئ؛ هسې نه چې پرې غوځ شئ.
- [ ] دوا يا بل شی په خپل سر مه استعمالوئ؛ تاوان لري.

موضوع : د خطر اړونده جملي لوستل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د خطر دمنابعو په باره کې بيا خبري کول : الف- زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۴۳ – ۳ رسمونو ته ګوري او د خطرونو نومونه اخلي (يو زده کوونکی يو رسم) . ب- ښوونکی په زده کوونکو هغه جملې وايي چې په تېر درس کې يې د هغو مشق کړی دی ، زده کوونکو ته چې کومې جملې ور په زړه کيږي هغه وايي (يو زده کوونکی يوه جمله) . ج - ښوونکی داوطلبو زده کوونکو ته وايي چې څوک به له دې جملو څخه يوه جلمه پر توره تخته وليکي ؛ بېل بېل زده کوونکی يې ليکي ، نور يې د ضرورت وخت کې اصلاح کوي (له درېوو څخه تر پنځو جملو پورې ليکل کېدای شي) .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۳ – ۳ توره تخته
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۴۳ – ۳ په لاندېنۍ برخه کار کول : الف – ښوونکی نوې کلمې معرفي کوي : تاوان ، لغته ، ډوب (د کتابي علامې مطابق) . ب – زده کوونکي له اندېوالاتو سره جملې لولي او جملو ته د رسمونو مطابق شمېره ورکوي . ج – زده کوونکی جملې يوه يوه ټولګي ته لولي ؛ شمېرې يې مقايسه کوي . د – زده کوونکي جملې څو څو ځله ټولګي ته لولي (يو زده کوونکی يوه جمله) . هـ – ښوونکی رهنمايي کوي او زده کوونکي په هره جمله کې هغه کلمه پيدا کوي او ورلاندې تري کرښه کاږي چې د خطر د منبع ښودونکي وي .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۳ – ۳
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يو اندېوال سره د جملو د لوستلو مشق تر هغه پورې کول چې جملې ښې رواني ولوستلې شي . ب – پر سلېټونو د هغو کلمو د ليکلو مشق کول چې کرښې تري لاندې راکښلې شوې دي .	سلېټونه

کومه جمله چې له کوم رسم سره اړه لري ، د هماغه رسم شمېره يې دې سرته وليکله شي :

- [ ] د سړک هر اړخ ته ښه وګورئ ؛ بيا بلې غاړې ته پورې وخئ .
- [ ] د برېښنا په شيانو کې ګوتې مه وهئ ؛ هسې نه چې ومونيسي .
- [ ] اور ته نژدې مه ورځئ ؛ هسې نه چې پرې وسوځئ .
- [ ] چې لامبو نه درځي مه لامبئ ؛ هسې نه چې ډوب شئ .
- [ ] ځاړوبو ته نژدې مه ورځئ ؛ هسې نه چې لغته يا ډغره درکړي .
- [ ] په سورو کې ګوتې مه وهئ ؛ هسې نه چې لړم يا مار مو وچيچي .
- [ ] له چاقو يا ستني سره لوبې مه کوئ ؛ هسې نه چې پرې غوځ شئ .
- [ ] دوا يا بل شی په خپل سر مه استعمالوئ ؛ تاوان لري .

درسي پلان ۴۳ ب۲ – ۳۳ – ۱	موضوع : د شېخ عبدالقادر جيلاني رح د ربښتينولۍ په باره کې يوه کيسه (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱. په يوه کيسه خان پوهول :	
– ويل چې نن زده کوونکي يوه کيسه اوري .	– غوږ نيول ؛ په خپلو خايونو کېناستل	کيسه له درسي پلان سره ترلې ده
– کيسه ويل يا لوستل .	– په توجه سره غوږ نيول .	
– له زده کوونکو څخه د تبصرو او يا سوالونو کولو غوښتنه کول .	– آزادې تبصرې کول ؛ سوالونه کول .	
– په څه چې زده کوونکي نه پوهيږي، دهغه تشريح کول	– غوږ نيول ؛ که ضرورت و نوري پوښتنې کول .	
– کيسه يو خل بيا ويل يا لوستل .	– غوږ ورته نيول .	
– له زده کوونکو څخه د کيسې په باره کې پوښتنې کول؛ مثلاً : څوک په يوه ښار کې اوسېده ؟ هلک د څه شوق لرلو ؟ هغه يوه بل ښار ته ولې ولاړ ؟ د هلک تر روانېدو دمخه يې مور کوم دوه کارونه وکړل ؟ قافلې ته څه واقعه پېښه شوه ؟ کله چې غله له هلک څخه پوښتنه وکړه چې څه قيمتي شی ورسره شته، نوهلک څه خواب ورکړ؟ هلک د غلو مشر ته څه وويل ؟ دغلو مشر له هلک سره تر خبرو وروسته څه وکړل ؟ له هغه څخه څه جوړ شول ؟ د هلک نوم څه و ؟	– د ښوونکي د سوالونو په خپله ژبه خوابونه ورکول .	
– د هلک د سلوک په باره کې د خبرو رهنمايي کول	– په دې خان پوهول چې الله تعالی موږ ته د ربښتيا ويلو حکم کوي .	
– د شېخ عبدالقادر جيلاني رح د ژوند په باره کې نور معلومات ورکول (۲) .	– دشېخ عبدالقادر جيلاني رح په هکله ډېر څه زده کول.	
	۲. له کيسې سره اړونده سوالونه او خوابونه لوستل ؛ اړونده خوابونه معلومول :	
– ويل چې دوی به د کيسې په باره کې د يو څو نويو کلمو لوستل زده کوي .	– غوږ نيول .	
– د [دروغ] کلمه پر توره تخته صفا ليکل ؛ که ضرورت و له زده کوونکو سره مرسته کول .	– د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل ؛ کلمې لوستل ؛ د حروفو نومونه اخيستل ، کلمه لوستل .	تـــوره تختـــه
– په همدې طريقه د زده کوونکو رهنمايي کول چې لاندې کلمې يوه په بلې پسې ولولي : عالم ، بزرګ ، شېخ عبدالقادر جيلاني رح ، نصيحت، توبه، وايسته ، قافلې ، غلو ، لوټ ، قافله .	– کلمې لوستل ، پر توره تخته ليکلې کلمې لوستل ؛ تشريح کول ؛ معنا يې زده کول .	
– کلمو ته بې له ترتيب څخه اشاره کول .	– د ښوونکي اشاري سره سم کلمې لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۱ مطالعه کړي ؛ عنوان او وړومبۍ سوال او خواب ولولي .	– مشق پانه مطالعه کول ؛ عنوان لوستل ، په کار خان پوهول ؛ يعنې دوی به د باقي سوالونو اړونده خوابونه معلوموي .	
– زده کوونکو ته ويل چې له يوه انډيوال سره کار وکړي : الف – سوالونه او خوابونه لوستل . ب – د سوالونو اړونده خوابونه معلومول ، د سوالونو مطابق خوابونو ته شمېره ورکول .	– له غوښتنې سره سم له يوه انډيوال سره کار کول.	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې سوالونه او خوابونه تولګي ته ولولي .	– سوالونه او خوابونه تولګي ته لوستل ؛ صحيح شمېره چک کول ؛ دا په تکرار سره لوستل ؛ يو زده کوونکی يو سوال او خواب .	

- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نوې کلمې له توري تختې څخه سلېټونو ته نقل کړي او تر هغه يې مشق وکړي چې ښه صفا او په آسانۍ سره يې وليکلای شي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له يوه انديوال سره يوځای د مشق پاڼې پ۲ - ۴۴ - ۲ د سوالونو او ځوابونو د لوستلو مشق وکړي .	۳ . د ليکلو او لوستلو مشق کول : - له غوښتنې سره سم د نويو کلمو نقل کول . - له انديوال سره يو خای د لوستلو مشق کول (وار په وار) .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ - ۴۴ - ۱

(۱) درسي پلان پ۲ - ۴۴ - ۱ له څو اساسي اخلاقي صفتونو سره اړه لري چې د لويو او وړو دواړو له پاره مهم دي . وړومبي دوه درسونه له ربنتيا ويلو سره اړه لري چې د مسلمانانو په ژوند کې ډېر زيات اهميت لري . سر بيره پر دې ، زده کوونکي دې له خپلې تجربې څخه هم د ښو او بدو کارونو په باره کې اندازه ولګوي .

(۲) شېخ عبدالقادر جيلاني (رح) د يوې اوچتې درجې روحاني شخصيت دی . په پښتنو کې په [لوی خوان] او [پيرانو پير] مشهور دی . په مختلفو کيسو کې يې د ډېر زيات روحاني قوت د خاوند په حېث ذکر شوی دی . د ده په باره کې ډېرې اخلاقي کيسې مشهورې دي. کومه کيسه چې له دې درسي پلان سره ترلې ده ډېره زياته مشهوره ده .

ربنتيا ويل

په يوه ښار کې يو هلك او دهغه مور اوسېدل . هلك له علم سره ډېره مينه لرله . په خپل ښار کې يې علم حاصل کړ . بيا يې بل ښار ته د تلو اراده وکړه چې هلته نور عمل حاصل کړي . مور ورته دتلو اجازت ورکړ . څلوېښت اشرفۍ يې ورته په کميس کې وګنډلې او دا نصيحت يې ورته وکړ چې هېڅکله به دروغ نه وايې ! له دې نه پس له قافلې سره روان شو . قافله يوې صحرا ته ورسېده . غلو دغلته قافله لوټ کړه. دغه هلك يو طرف ته ولاړ و . يوه غله تري پوښتنه وکړه : " هلکه له تا سره څه شته ؟ " هلك خواب ورکړ : " هو څلوېښت اشرفۍ راسره دي . " غله دا خبره توکه وګڼله . کله چې يې تول مال دخپل مشر مخې ته کېښود نو د دغه هلك خبره يې هم ورته وکړه . د غلو مشر دغه هلك را وغوښت . هلك د غلو مشر ته همدغه خبره وکړه . د غلو مشر چې د هلك کميس وکوت نو په کې څلوېښت اشرفۍ وې . ورته يې ووېل چې که تا دروغ ويلای وای نو دا اشرفۍ به چا هم نه وای معلومې کړې . هلك وويل : " ماته مې مور نصيحت کړی چې هېڅکله به دروغ نه وايم . " دې خبرې د غلو په مشر ډېر اثر وکړ . په فکر کې ولاړ چې وګوره ، دې هلك د مور د حکم څومره خيال ساتلی دی او زه هېڅ د خدای له حکم څخه سرغړونه کوم . له دې سره دی ډېر غمجن شو او د ټولو بدو کارونو له کولو څخه يې توبه وايسته . قافلې ته يې خپل مال بېرته ورکړ . له دې نه پس دی يو نېك اوښه سړی شو . هلك له خپلې قافلې سره بيا روان شو . کله چې يې ډېر علم حاصل کړ نو يو لوی عالم او بزرګ ځني جوړ شو . د ده نوم شېخ عبدالقادر جيلاني رح دی .

خوابونو ته دې د مربوطو پوښتنو شمېرې وليکلې شي :

سوالونه او ځوابونه

پ۲ | ۴۴ - ۱

۱	په يوه ښار کې څوک اوسېدل ؟		هلك يو ډېر لوی عالم او بزرګ شو .
۲	هلك له څه سره مينه لرله ؟		د ده نوم شېخ عبدالقادر جيلاني و .
۳	هلك ته يې مور څه نصيحت وکړ ؟		له بدو کارونو څخه يې توبه وايسته .
۴	قافلې ته څه ور پېښ شول ؟		د غلو مشر د هلك کميس وکوت .
۵	د غلو مشر له هلك سره څه وکړل ؟		هلك له علم سره مينه لرله .
٦	د هلك تر خبرو وروسته د غلو مشر څه وکړل ؟		هېڅکله دروغ مه وايه .
۷	په آخر کې له هلك څخه څه جوړ شو ؟	۱	يو هلك او د هغه مور اوسېدل .
۸	د ده نوم څه و ؟		قافله غلو لوټ کړه .

موضوع : جملو ته صحيح ترتيب ورکول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ماشومانو ته چې د شيخ عبدالقادری جيلاني (رح) په باره کې څه ياد وي هغه وايي .	
۲. زده کوونکي د تېرې ورځې کيسه په برخو برخو کې وايي .	
۳. زده کوونکي د مشق پانې پ۲ – ۴۴ – ۱ د کيسې په اړه سوالونه او ځوابونه په تکرار سره لولي ، يو زده کوونکی ، يو سوال او ځواب .	مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۱
۴. په مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۲ کار کول : الف – مشق پانه مطالعه کول ، عنوان لوستل ؛ د وړومبۍ جملې په يوه خای تر لوستلو وروسته پر کار بحث کول او خان پوهول ؛ د جملو ترتيب د کيسې يو مختصر شکل دی . ب – جملې له يو انديوال سره يو خای لوستل ، د صحيح ترتيب د معلومولو کوشش کول (خو شمېره به لا نه ليکل کيږي) . ج – جملې په صحيح ترتيب سره تولګي ته لوستل ، يو زده کوونکی ، يوه جمله ، په خالي بکسونو کې شمېره ليکل .	مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۲
۵. د ليکلو او لوستلو مشق کول : الف – ښوونکی وايي چې هغه به د شيخ عبدالقادر جيلاني (رح) په باره کې دري جملې پر توره تخته ليکي او زده کوونکي به يې يادوي . ب – ښوونکی پر توره تخته ليکي : شيخ عبدالقادر جيلاني (رح) يو لوی سړی و چې همېشه به يې ښه کارونه کول . هغه به د مور په نصيحت عمل کاوه . هغه به همېشه رښتيا ويل . ج – زده کوونکي وړومبۍ تولګي ته جملې لولي ؛ بيا يې پر سلېتونو تر هغه د ليکلو مشق کوي چې په آسانه يې ښه صفا وليکلی شي . د – زده کوونکي له يوه انديوال سره يو خای د مشق پانې پ۲ – ۴۴ – ۲ د جملو په صحيح ترتيب سره د لوستلو مشق کوي (وار په وار) .	توره تخته سلېتونه مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۲

له ترتيب سره سمه شمېره ورکړئ !

پ۲ | ۴۴ - ۲

- [ ] د غلو پر مشر د هلک خبرې ډېر اثر وکړ .
- [ ] قافله په لاه کې غلو لوټ کړه .
- [ ] د هلک نوم شيخ عبدالقادر جيلاني و .
- [1] يو هلک بل ښار ته د علم د زده کړې له پاره د تللو اراده وکړه .
- [ ] له يوې قافلې سره ملګری شو .
- [ ] له هلک څخه يو لوی عالم او بزرګ جوړ شو .
- [ ] د غلو مشر له هلک څخه د رښتيا ويلو د سبب پوښتنه وکړه .
- [ ] د غلو مشر له بدو کارونو څخه توبه وايسته .
- [ ] مور يې ورته نصيحت وکړ چې هېڅکله دې دروغ نه وايي .

موضوع : متضادي کلمي معلومول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي د مشق پانې پ۲ – ۴۴ – ۲ جملې په صحيح ترتيب څو څو خله لولي (يو زده کوونکي ، يوه جمله) ، بيا د کار کتابونه بندوي . ب – زده کوونکي د شېخ عبدالقادر جيلاني رح په باره کې دري جملې بيا لولي : ښوونکی پوښتنه کوي : " چاته يـاد دی چې پرون يې د شېخ عبدالقادر جيلاني رح په باره کې څه ليکلي وو ؟ " د ډېرو ماشومانو جملې په يادو ويل .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۲
۲. د ښو کارونو په باره کې خبرې کول : الف – ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې نور کوم ښه ښه کارونه پيژني ويې وايي . ب – زده کوونکي چې په دې باره کې څه فکر کوي او ورته معلوم دي ، هغه وايي ؛ ښوونکی په احتياط سره د زده کوونکو رهنمايي کوي چې ډېر ښه کارونه او روشونه معلوم کړي ؛ ډېرو زده کوونکو ته د څه وېلو موقع ورکول .	
۳. په مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۳ کار کول : الف – زده کوونکي مشق پانه مطالعه کوي او هغه عبارتونه په خاموشي سره لولي چې له ښو او بدو کارونو سره اړه لري . ب – د زده کوونکو له خوا په يو بل پسې تولګي ته عبارتونه لوستل . ج – زده کوونکي د متضادو عبارتونو جوړې معلومـوي ؛ ښو کارونو ته د انډول متضادو کـارونو شمېره ورکوي . د – زده کوونکي د ورکړل شويو عبارتونو په استعمالولوسره جملې وايي؛ مثلاً : ربښتيا ويل يو ښه کار دی . دروغ ويل بد کار دی. او داسې نور.	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۳
۴. مشق پانه پ۲ – ۴۴ – ۴ کار کول : الف – وروښي جمله لوستل ، په کار خان پوهول ؛ غېبې کلمې په جملو کې معلومول (د مشق پانې پ۲ – ۴۴ - ۳ عبارتونه . ج – زده کوونکي تولګي ته جملې لولي .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۴
۵. د ليکلو او لوستلو مشق کول : الف – زده کوونکي پر سلېتونو د مشق پانې پ۲ – ۴۴ – ۳ په آخر کې د عبارتونو د ليکلو مشق کوي. ب– زده کوونکي د مشق پانې پ۲– ۴۴ – ۳ او پ۲ -۴۴- ۴ په خالي خايونو کې انډول عبارتونه ښه صفا ليکي . ج – زده کوونکي له يوه انډيوال سره د مشق پانې پ۲ – ۴۴ – ۴ د متن د لوستلو مشق کوي (وار په وار) .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۳ سـلېتونه مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۳ مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۴ – ۴

د متضادو عبارتونو / مفاهيمو جوړې دي معلومې شي . ښو کارونو ته دي د هغوی د متضادو کارونو شمېرې وليکلې شي . په تشو خايونو کې دي د ښو کارونو نومونه وليکل شي :

ښه کارونه	بد کارونه (پ۲ | ۴۴ - ۳)
_____	① دروغ ويل
_____	② ظلم کول
_____	③ سپک نظر کول
_____	④ بې ادبي کول
_____	⑤ غلا کول
_____	⑥ ازار اخيستل

○ ثواب ګټل ○ غلا نه کول ○ دروند نظر کول
○ عدل کول ○ ربښتيا ويل ○ ادب کول

(پ۲ \| ۴۴ - ۴)

تش ځايونه ډک کړئ !

د مشرانو بې ادبي مه کوئ ؛ ادب يې کوئ .
په چا ـــــ مه کوئ ؛ عدل پرې کوئ .
د چا ـــــ مه اخلئ ؛ همېشه ثواب ګټئ .
چاته سپک نظر مه کوئ ؛ ـــــ نظر کوئ .
هېڅکله دروغ مه وايئ ؛ تل ـــــ وايئ .
غلا کول بد کار دی ؛ ـــــ مه کوئ !

درسي پلان ۴۵ پ۲ – ۴۵ – ۱	موضوع : ښه ژوند تهرول (۱)	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱ . د ښو زده کوونکو د سلوک په باره کې خبرې کول :	
– زده کوونکو ته د يوه زده کوونکي چې ښه سلوک يې وکړ ، يو مثال ورکول . (۲)	– په غور سره غوږ نيول .	
– له زده کوونکو څخه د تبصرو غوښتنه کول .	– تبصرې کول ؛ بيانول چې دغه ماشوم څه وکړل ؛ ويل چې هغه ډېر ښه سلوک وکړ .	
– له زده کوونکو څخه دهغوی په باره کې پوښتنه کول ؛ مثلاً : له دوی څخه مور او پلار کله خوشحال وو ؟	– د خپل ښه سلوک تجربې را په زړه کول او بيانول ؛ بحث کول ، تبصرې کول (د ډېرو زده کوونکو برخه اخيستل).	
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی ته څه ډول سلوک ډېر مهم دي ؟ (۳)	– څه چې دوی فکر کوي هغه ويل ؛ د نورو غوږ نيول ، تبصرې کول .	
	۲ . په يوه متن ځان پوهول :	
– وېل چې تاسو به اوس يو متن لولئ ، خو اول به يو څو نوې کلمې ولولئ .	– غوږ نيول .	
– د [هېڅا] کلمه پر توره تخته ورو ورو او صفا ليکل .	– ورته په غور کتل ؛ د کلمې لوستل .	تـــوره تختـــه
– د لاندنيو کلمو د لوستلو له پاره زده کوونکي په همدغه طريقه رهنمايي کول : منې ، سلوک ، عزت .	– دغه کلمې يوه په بلې پسې لوستل ، تشريح يې کول او ځان پرې پوهول .	
– بې له ترتيب څخه دغو کلمو ته اشاره کول .	– په ګډه سره د دغو کلمو لوستل .	
– په زده کوونکو د مشق پاڼې پ۲ – ۴۴ – ۱ عنوان (غوتۍ او کريم د هر چا خوښ دي) لوستل .	– د عنوان لوستل (وړومبى په خاموشۍ سره بيا ځو خله په لوړ آواز) .	مشـــق پـــاڼه پ۲ – ۴۵ – ۱
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د غوتۍ او کريم په باره کې څه ور په زړه کيږي ، هغه ووايي . (۴)	– د لوبو له موټرو سره د غوتۍ او کريم کيسه را په زړه کول .	
– زده کوونکو ته ويل چې قياس وکړي چې غوتۍ او کريم ولې د خلکو خوښ دي ؟	– د ښې ښې زده کوونکي له خوا قياس کول ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تبصرې کول .	مشـــق پـــاڼه
– زده کوونکو ته ويل چې له خپلو اندېوالانو سره د مشق پاڼې پ۲ – ۴۵ – ۱ متن ولولي .	– له اندېوال سره د متن لوستل ، معلومول چې غوتۍ او کريم له خلکو سره ښه سلوک کوي .	پ۲ – ۴۵ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې تولګي ته د متن يوه يوه جمله ولولي .	– د ښې ښې زده کوونکي له خوا تولګي ته د متن يوه يوه جمله لوستل . (يو زده کوونکی ، يوه جمله) .	
– ويل چې څوک به په خپله خوښه درې يا څلور جملې تولګي ته ولولي .	– داوطلب زده کوونکي د متن درې يا څلور جملې تولګي ته لولي ؛ نور غوږ نيسي ؛ د لوستلو په وخت کې له کرښې سره سمه ګوته وړي .	

درسي پاڼې ۵ پ ۲ - ۵ - ۱	موضوع : د [ی] توری د کلمې په آخر کې : په آواز او شکل کې يې توپير پيدا کول (۱) .	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- د [ی] توری پر تخته ليکل . - له زده کوونکو څخه د دغه حرف د نوم اخيستلو او د آواز ايستلو غوښتنه کول . - ويل چې دا حرف مختلف شکلونه او آوازونه لري . نن به د دې حرف په باره کې چې د کلمو په آخر کې ډېر دلچسپ او سخت دی ډېر څه زده کړئ . (۱) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې داسې کلمې ووايي چې په [ی] ختميږي . کله چې زده کوونکي دغسې يو نوم ووايي دهغه پر تخته ليکل . هغه کلمې چې يو شان [ی] يې په آخر کې راغلې وي د ورومبنۍ مشق پاڼې په ډول يې تر يو بل لاندې ليکل . (۲) - له زده کوونکو څخه د دغو کلمو د لوستلو غوښتنه کول . - له زده کوونو څخه غوښتنه کول چې فرق په کې پيدا کړئ (مرسته کول). - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کلمو په آخر کې د يوه شان آواز لرونکي [ی] ولولئ .	*۱ . معلومې کلمې چې په [ی] ختميږي ويل :* - ورته کتل ؛ د [ی] د توري پېژندل . - د دغه حرف نوم اخيستل ؛ د دغه حرف د مختلفو آوازونو د ايستلو کوشش کول . - غوږ نيول . - داسې کلمې ويل چې ورته معلومې وي ؛ لکه : [رسی ، زمری ، يوې ، خې ، کوئ] . - يوازې يوازې او په ګډه يې لوستل . - دغو کلمو ته کتل ؛ په شکل کې يې فرقونه تشريح کول ؛ سم تلفظ يې کول . - کلمې په ګروپونو کې جلا جلا او په ګډه لوستل.	تـــوره تختـــه تـــوره تختـــه
- لـه زده کوونکو څه د مشق پـاڼې پ۲ - ۵ - ۱ د مطالعه کولو غوښتنه کول . - له زده کوونکو څخه د کلمو د لوستلو غوښتنه کول څنګه چې پـه ستونونو کـې ګروپ بنـدي شوي دي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د اخـرۍ برخې کلمې ولولئ او د [ی] د شکل په مرسته د اخر اواز پيدا کړئ . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لاندينې بکس کلمې په صحيحو کالمونو کې وليکئ . (۳) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پـه اضـافي کلمو ډک شوي ستونونه ولولئ .	*۲ . د ورکړای شـوو کلمـو پـه اخـر کـې د [ی] معلومـول ؛ په ګروپونو کې يې په مناسبه توګه ترتيبول :* - د مشق پاڼې مطالعـه کـول ؛ معلومـول چې د هر ستون په کلمو کې د [ی] اواز يو ډول دی . - هـر زده کوونکـی يـو سـتون لولـي ؛ نـور يـې تکراروي . - د بېل بېل زده کوونکـي لـه خـوا د بېلـې بېلـې کلمې لوستل ؛ د کلمو د اخري حرف په اواز زور اچول . - لـه غوښتنې سره سم په خاموشۍ کار کول . - بېل بېل زده کوونکي ستونونه ټولګي ته لولي (يو زده کوونکی يو ستون) ؛ د نورو چک کول او اصلاح کول .	مشـــق پـــاڼه پ۲ - ۵ - ۱

- زده کوونکو ته ویل چې له اندیوال سره د متن د لوستلو مشق وکړي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د عنوان (غوتې او کریم د هر چا خوښ دي) په باره کې چې کومې دري جملې یې د هري خوښې وي، هغه سلېټونو ته نقل کړي . (۵)	۳ . د لوستلو او لیکلو مشق کول : - له یوه اندیوال سره د متن د لوستلو مشق کول (وار په وار) - له غوښتنې سره سم د لیکلو مشق کول .	ســـــلېټونه

(۱) زده کوونکي په دې مرحله کې نه شي کولی چې د اجتماعي ژوند په ارزښتونو او مجردو اصطلاحګانو پوه شي البته په ځینو ارزښتونو لکه : دیانت ، صداقت ، مرسته ، مهربانۍ او داسې نورو پوهېدلی شي خو چې د دوی له خپل چاپېریال سره تړلي وي . دا درسي پلان له زده کوونکو سره د اجتماعی ژوند په ارزښتونو باندې پوهېدلو کې مرسته کوي چې ځنګه وربانديې خپل ژوند او سلوک پیاوړی کړي . یعنی د خپل ژوند او سلوک برخه یې وګرځوي . زده کوونکي به په دې ارزښتونو خبرې کوي او د هغوی د اړوندو کلمو لوستل او لیکل به زده کوي .

(۲) د دې درس په شروع کې به ښوونکی د یوه داسې ماشوم په باره کې خبرې کوي چې په یوه خاص حالت کې یې د مور او پلار ، مشرانو ، ټولګیوالو یا نورو ماشومانو سره ډېر ښه سلوک کړی وي . ښوونکی به د هغو زده کوونکو په باره کې معلومات او تجربې لري چې د ښه سلوک په وجه ور څخه ډېر خلک خوشحاله وي او د نورو له پاره یو ښه مثال کېدای شي. ښوونکي ته په کار دي چې یوازې یو اغیزمن مثال ورکړي .

(۳) ښوونکی به زده کوونکي نه مجبوروي چې د ده نظریه خامخا ومني . بلکې دوی ته به د دې موقع ورکوي چې په دې برخه کې کوم شی په خپله د دوی په فکر مهم وي ، هغه ووایي .

(۴) په دې مرحله کې به ښوونکی زده کوونکو ته د دې موقع ورکوي چې د مشق پاڼې پ۲ - ۴۱ - ۲ د دوو ماشومانو په باره کې چې د دوی په ذهن کې څه پاتې وي ، هغه ووایي . له خپله ځانه به څه ورسره نه زیاتوي .

(۵) زده کوونکي به انتخاب شوې او پر سلېټونو لیکلې شوې جملې نه ورانوي او د بلې ورځې له پاره به یې ساتي .

پ۲ | ۴۵ - ۱

غوتې او کریم د هر چا خوښ دي

غوتې او کریم په یوه واړه کلي کې اوسیږي . دواړه خور او ورور دي . دوی د کلي له خلکو سره ښه ژوند تېروي . د هر چا لحاظ کوي . له خپلو ټولګیوالو سره مینه کوي . که ناجوړه شي پوښتنې ته یې وږئي . له ګاونډیانو سره ښه سلوک کوي . که ضرورت شي خدمت یې کوي . د مشرانو ادب کوي . د مېلمنو عزت کوي . د مور او پلار ډېر احترام کوي . خبره یې منې . ځانونه او جامې پاکې ساتي . دغه کارونه د خدای ﷻ او پېغمبر ﷺ ډېر خوښ دي .

تاسو هم دغسې ژوند وکړئ !

موضوع : د [ماشومانو] په نامه په يوه نظم خان پوهول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – د زده کوونکو چې د ښو ماشومانو د سلوک په باره کې څه زده وي ، هغه وايي (وار په وار) . ب – زده کوونکي له سلېټونو څخه خپلې انتخاب شوې جملې لولي . ډېر زده کوونکي برخه اخلي . ج – زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۴۵ – ۱ متن دوه دوه يا دري دري جملې تولګي ته څو څله لولي .	سلېټونه
۲. په يوه نظم خان پوهول : الف – نظم دوه څلـه وايـي (د زده کوونکـو د کـار کتابونـه بـه بنـدوي) . ب - څه چې زده کوونکو ته لـه نظم څخه په يـاد پـاتې شـي او څه چې يې په کې خوښ شول ، هغه وايي. ج – ښوونکی نـوې کلمې پر تـوره تختـه ليکـي : تـل ، رب ، حکم ، چېرې، پـردی ، خدمـت . ښوونکی چې کومې نوې کلمې ته اشاره کوي زده کوونکي هغه لولي . د – زده کوونکي نظم لـه خپـل خپـل انـديوال سـره لولـي . هـ – زده کوونکـي نظـم تولـګي تـه لولـي (هـر زده کوونکـی ، دوه کرښې ـ بيتونه) و – د زده کوونکو چې د نظم کومې برخې خوښېږي ، هغه له ياده وايي .	مشـق پـانه
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – د نظم لوستل او په يـاد يې زده کـول . ب – لـه خپـل انتخاب سره سم د نظم دوه بيتونه سلېټونو ته نقلوي او تر هغه يې د ليکلو مشـق کـوي چې لـه يـاده يې بيـا وليکلی شي .	پ۲ – ۴۵ – ۱
	نظـم پـه
	مشـق پـانه
	پ۲ – ۴۵ – ۲
	کې دی .
	تـوره تختـه
	مشـق پـانه
	پ۲ – ۴۵ – ۲
	سـلېټونه

پ۲ | ۴۵ ـ ۲

ماشومانو

دا خبرې ښې دي ډېرې
درنه نه شي چېرې هېرې

د مور ، پلار کوئ ادب منئ حکم د خپل رب
کړئ خدمت د استادانو هم عزت مو د مشرانو
تل کومک له ګاونډي کړئ هم له خپل ، هم له پردي کړئ
ټولګيوالو سره ښه کړئ ورسره چېرې بد مه کړئ
پاک سوتره که ساتئ ځان يئ به خوښ د هر انسان

ستاسو ژوند به وي تل ښکلی
وي ښايسته به مو کور کلی .

موضوع : بنه کارونه او بدکاونه ؛ په رسمونو خان پوهول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د نظم تکرار : الف – زده کوونکي هغه بيتونه وايي چې ورته په ياد دي . ب – زده کوونکي نظم څو څو خله لولي . ج – داوطلب زده کوونکي کوشش کوي چې نظم له ياده وايي .	مشق پانه پ۲ – ۴۵ – ۲
۲. په مشق پانه پ۲ – ۴۵ – ۳ کار کول : الف – زده کوونکي رسمونه مطالعه کوي ؛ عنوان لولي او خان پرې پوهوي . ب – زده کوونکي بدکارونه بيانوي ؛ ښوونکی د دې په باره کې د يوه بحث لارښوونه کوي . ج – زده کوونکي د نورو بدو عملونو نومونه اخلي چې کول يې نه دي په کار . د – زده کوونکي د مشق پاني لاندني عبارتونه لولي (اول له يوه اندېوال سره ، بيا ټولګي ته)؛ بيا رسمونو ته د اړوندو عبارتونو مطابق شمېرې ورکوي .	مشق پانه پ۲ – ۴۵ – ۳
۳. په مشق پانه پ۲ – ۴۵ – ۴ کار کول : الف – زده کوونکي مشق پانه مطالعه کوي او کار معلوموي ؛ په هر رسم کې د ښودل شوي فعاليت نوم اخيستل او ليکل . ب – تشريحي جملې پيدا کول ، ښوونکی د هر رسم له پاره يوه مناسبه تشريحي جمله پيدا کوي ، ښوونکی يې ښه صفا پر توره تخته ليکي ؛ زده کوونکي يې ټولګي ته لولي ؛ مثلاً : مشرانو ته غوږ نيول ، د ګاونډيانو له پاره سودا راوړل ، له مور او پلار سره مرسته کول ، د يوه ناروغ پوښتنې ته ور تلل .	مشق پانه پ۲ – ۴۵ – ۴ توره تخته
۴. د تشريحي جملو د ليکلو مشق کول : نظم زده کول : الف – زده کوونکي دغه تشريحي جملې سلېټونو ته نقلوي او مشق يې کوي ، بيا يې د مشق پاني پ۲ – ۴۵ – ۴ په خالي خايونو کې صفا سوتره ليکي . ب – زده کوونکي له اندېوالانو سره په يادو د نظم زده کول جاري ساتي .	سلېټونه مشق پانه پ۲ – ۴۵ – ۴

رسمونو ته دي د مربوطو عبارتونو شمېرې وليکلې شي:

① په لارو اوکوڅو کې خزلي غورځول . ② وني بوټي پرې کول .
③ په حيواناتو ظلم کول . ④ موټر په کانو ويشتل . ⑤ په روان موټر پورې نښتل .

د فعاليتونو نومونه دي واخيستل شي . تر هر رسم لاندې دي د هغه په باره کې يوه جمله وليکله شي :



درسي پلان ۴۶
ب۲ – ۴۶ – ۱

موضوع : زمونږ د کلي ترکان (۱)

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
– د لرګي يو شی ښودل ؛ مثلاً: کرسی، مېز ، کړکی يا دروازه ؛ له زده کوونکو غوښتل چې د دې شي او د هغه چا د کسب نوم واخلي چې دا يې جوړی کړی دی . – له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې ترکان نور کوم شيان جوړوي ؟ – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ترکان د کار په باره کې څه معلومات لري ، هغه ووايي .	*۱ . د ترکان د کار په باره کې خبرې کول (۲) :* – شي ته کتل ، نوم يې اخيستل ، ويل چې دا شی له لرګي څخه جوړ شوی او ترکان جوړ کړی دی . – د بې شمېره شيانو نومونه اخيستل . (يو زده کوونکی ، يو نوم) . – څه چې زده کوونکو ته د ترکان د کار په باره کې معلوم دي ، هغه ويل .	د ترکان جوړ کړي شيان
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۶ – ۱ رسم مطالعه کړي . – زده کوونکو ته ويل چې رسم په تفصيل سره بيان کړي اود ښودل شويو شيانو نومونه واخلي. – زده کوونکو ته ويل چې په رسم کې اربي ته وګوري او ووايي چې دا د کوم شي برخه ده ؟ (۳) – د زده کوونکو رهنمايي کول چې هغه شيان معلوم کړي او نومونه يې واخلي چې يوازې يو څه برخه يې ښکاري . – د زده کوونکو رهنمايي کول چې په معموله طريقه د مشق پاڼې پ۲ – ۴۶ – ۱ په آخر کې نوې کلمې ولولي ؛ د زده کوونکو تر لوستلو وروسته يې پر تخته ليکل . – کلمو ته يې له ترتيب څخه اشاره کول .	*۲ . د ترکان د دوکان په يوه رسم خان پوهول ؛ اړونده کلمې لوستل :* – رسم مطالعه کول ، ترکان په خپل دوکان کې پېژندل . – د جلا جلا زده کوونکو له خوا د رسم تفصيلات بيانول ، د ټولو ښودل شويو شيانو نومونه اخيستل ؛ د نورو ورته غوټو نيول ، تبصرې کول. – اربې ته کتل او ويل چې دا د يوې ګاډی برخه ده . – هغه شيان معلومول او نومونه يې اخيستل چې يوازې ځينې برخې يې ښکاري . – په مشق پاڼه کې نوې کلمې يوازې يا له يوه اندېوال سره لوستل ؛ ټولګي ته يې يوه په بلې پسې لوستل (يو زده کوونکی يوه کلمه) . – له اشاري سره سم يې په ګډه لوستل .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۱ مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۱ تخته وره
– زده کوونکو ته ويل چې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۶ – ۲ رسمونه له يوه اندېوال سره مطالعه کړي . – زده کوونکو ته ويل چې د وسايلو او سامانونو نومونه واخلي او تشريح يې کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د يوه ترکان د کار په اړه جملې ووايي ، له ښودل شويو شيانو څخه يو شی په جملو کې استعمالول .	*۳ . وسيلې او سامانونه چې يو ترکان يې استعمالوي ؛ رسمونه او کلمې :* – رسمونه له يوه اندېوال سره مطالعه کول ، د ترکان مختلف وسايل او سامانونه پېژندل . – د مختلفو وسايلو او سامانونو نومونه اخيستل او تشريح يې کول (يو زده کوونکی ، يو نوم) – د يوه ترکان د کار په اړه جملې ويل (يو زده کوونکی ، يوه جمله) ؛ مثلاً : يو ترکان په لرګي کار کوي . يو ترکان لرګي اړه کوي يا تختې اړه کوي. او داسې نور .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۲

- یوه زده کوونکي ته ویل چي په اشارو سره د ترکان د یوه فعالیت تمثیل وکړي او نور به یې قیاس کوي چې دا څه کوي . - د زده کوونکو رهنمایي کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۶ – ۲ په آخر کې نوې کلمې یوه په معموله طریقه ولولي ؛ د زده کوونکو تر لوستلو وروسته یې پر توره تخته لیکل . - کلمو ته بې له ترتیب څخه اشاره کول .	- یو زده کوونکی د یوه فعالیت تمثیل کوي ؛ مثلاً : [تکول ، اره کول ، رنده کول] ؛ د نورو قیاس کول . - په مشق پاڼه کې نوې کلمې یوه په بلې پسې تولګي ته لوستل (یو زده کوونکی، یوه کلمه). - له اشاري سره سم دا په ګډه لوستل .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۲ توره تخته
- زده کوونکو ته ویل چې : الف – له یوه اندیوال سره د دوارو مشق پاڼو د نویو کلمو د لوستلو مشق وکړي (یو اندیوال یوه کلمه لولي ، بل اړونده شی ته اشاره کوي) . ب – پر سلېټونو د نویو کلمو د لیکلو مشق وکړي .ج – اړونده کلمې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۵ – ۲ په خالي خایونو کې ولیکي .	*۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۱ مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۲ مشق پاڼه پ۲ – ۴۶ – ۲

(۱) زده کوونکي به د مختلفو کسبونوپه باره کې زده کړه کوي . ټول کسبونه مهم دي خو په ټولو کسبونو په تفصیل سره بحث نه شي کېدای . د ترکان کار له نږدې څخه مشاهده شوی دی . ځکه چې په اکثرو کلیو کې ترکان وي . هغه د خلکو د ضرورتونو د پوره کولو له پاره کار کوي . ښوونکي ته دې معلومه وي چې تر کان او پښې یو خای کار کوي . کله کله هم یو کس دواړه کسبونه کوي . ورپسې درسي پلان د پښې په باب دی . ددې دواړو درسي پلانونو د پلي کولو په دوران کې د کلي اصلي حالت په ذهن کې ساتل په کار دي . د تدریس د اغیزمنتوب له پاره دي ښونکی که ممکن وي زده کوونکي د یوه ترکان دوکان ته بوځي . دا د درسي پلان تر تطبیق دمخه یا وروسته کېدای شي .

(۲) که چېرې تولګي د درسي پلان تر بلې کولو دمخه له ښوونځي څخه د باندې د یوه ترکان دوکان ته تللی وي نو بیا دې د دې درسي پلان وړومبی قدم د دې مشاهدې په ارتباط عملي کړي .

(۳) په رسم کې د شیانو برخې ښودل شوي دي ؛ مثلاً : د تانګې پایه ــ ارابه . په دې مرحله کې به زده کوونکي دا معلوموي چې دا برخې له کومو شیانو سره اړه لري .

د شیانو نومونه دي واخیستل شي :



ګاډی کټ میز الماری تمبې چوکاټ کړکی

یوې د لور ، رمبې او تبر لاستي

د شیانو تر رسمونو لاندې دي د هغوی نومونه ولیکل شي :

رنده اره تربیخ برمه څټک سوان بازو

بانس د لرګي تختې د ونې تنه مېخونه

موضوع : د ترکانو فعاليتونه

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي د يوه ترکان جوړ کړي شيان بيا را په زړه کوي . ب – زده کوونکي دې د يوه ترکان وسيلې او سامانونه بيا را په ياد کړي . ج – (د کار کتابونه به بند وي) داوطلب زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۲ کلمې ښه صفا پر تخته له يادې ليکي (يو زده کوونکی يوه کلمه) . که ضرورت و نو نور يې لولي او اصلاح يې کوي . د – ښوونکی بې له ترتيب څخه کلمو ته اشاره کوي ، ماشومان يې په ګډه لولي .	تخته
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۳ کار کول : الف – زده کوونکي له يوه اندېوال سره يو خای مشق پاڼه مطالعه کوي ، رسمونه پېژني . ب – زده کوونکي تولګي ته د رسمونو تشريح کوي (يو زده کوونکی يو بيان) ، ښوونکی د ضرورت په وخت کې رهنمايي او مرسته کوي . ج – ښوونکی نوې کلمې په معموله طريقه معرفي کوي . د – زده کوونکي له يوه اندېوال سره په خاموشۍ کار کوي : جملې لوستل ، د اړوندو رسمونو مطابق شمېرې ورکول . هـ – زده کوونکي جملې يوه په بلې پسې څو څو خله تولګي ته لولي (يو زده کوونکي يوه جمله) .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۳
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه اندېوال سره د جملو د لوستلو مشق کول (وار په وار) . ب – پر سلېټونو د جملو د ليکلو مشق کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۳۶ – ۳ سلېټونه

رسمونو ته دې د مربوطو جملو شمېرې وليکلې شي :

۱	

پ۲ | ۳۶ ـ ۳

کومه جمله له کوم تصوير سره لګېږي ؟

۱ ترکان په برمه په لرګي کې سوری کوي .

۲ ترکان په رنده د کټ پښه رنده کوي .

۳ ترکان په اره د لرګي تخته غوڅوي .

۴ ترکان په سوان د کټ پښه سوان کوي .

۵ ترکان په ترښځ د تبر لاستی جوړوي .

۶ ترکان په څټک پرمېز مېخونه ټک وهي .

موضوع : د ترکانې ګټورتوب ؛ په يوه متن خان پوهول

درسي مواد	د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه
مشق پانه پ۲ – ۴۶ – ۳	۱. تکرار : الف – له مشق پانو پ۲ – ۴۶ – ۱ او پ۲ – ۴۶ – ۲ څخه د ۶ – ۸ کلمو املا ويل ، املا ليکل ، کتل ، په معموله طريقه يې اصلاح کول ؛ کلمې دا دي : تمبې ، چوکاټ ، کړکۍ ، تبر ، رنده ، برمه ، څټک ، بانس . ب – زده کوونکي د مشق پانې پ ۲ – ۴۶ – ۳ جملې څو څو خله ټولګي ته لولي (يو زده کوونکی يوه جمله) . ج – زده کوونکي د ترکانې د فعاليتونو قياس کوي : ببل ببل زده کوونکي د مختلفو آوازونو تمثيل کوي ، نور د فعاليت قياس کوي .
مشق پانه پ۲ – ۴۶ – ۴	۲. په مشق پانه پ۲ – ۴۶ – ۴ کار کول : الف – عنوان لوستل او بحث پرې کول . ب – په معموله طريقه نوې کلمې معرفي کول . ج – له يوه انديوال سره په خاموشۍ لوستل . د – ټولګي ته څو خله د متن لوستل (ورومبی يوه يوه جمله ، بيا له درېو څخه تر څلورو جملو پورې په ګروپونو کې) .
سلېټونه	۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف - له يوه انديوال سره د متن دلوستلو مشق کول (وار په وار) . ب – د آخريو درې جملو پر سلېټونو تر هغه د ليکلو مشق کول چې له يادې يې وليکلای شي .

پ۱ | ۱۶ ـ ۲

زمونږ د کلي ترکان

زمونږ د کلي ترکان تل د خلکو په کار ږي . دی له لرګيو څخه د خلکو د ضرورت شيان جوړوي . د کورنو له پاره چوکاټونه ، تمبې ، الماری او کړکۍ تياوري . په کور کې د استعمال له پاره مېزونه او کټونه هم جوړوي . د بزګر او کارګر له پاره يوې ، لور ، رمبی او تبر تياروي . ګاډی ، کراچی او نور ډېر شيان هم جوړوي . رنده ، ترښځ ، اره ، برمه ، څټک او داسې نور شيان د ترکانې د کار اوزار دي . دا شيان هر وخت د ده په دوکان کې وي او کار ورباندې کوي .

زمونږ د کلي ترکان ته خلک په درانه نظر ګوري .

درسي پلان ۴۷
ټ ۲- ۳۷ - ۱

موضوع : زمونږ د کلي پښې (۱)

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکي فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . د پښې دکار په باره کې خبرې کول :	
- زده کوونکو ته تېر درس ور په زړه کول ؛ په زده کوونکو د نورو کسبګرو نومونه اخيستل او کارونه يې بيانول .	- د نورو کسبګرو نومونه اخيستل او د هغوی کارونه بيانول .	
- يو لور يا يوه اره ښودل او له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دا چا جوړ کړی/ جوړه کړې دی/ ده ؟	- دغه شي ته کتل، پېژندل يې او نوم يې اخيستل، معلومول چې پښې او ترکان دواړو د دې شي په جوړولو کې کار کړی دی .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې پښې نور کوم شيان جوړوي او دوی د هغه د کار په باره کې څه معلومات لري ؟ (۲)	- د نورو شيانو نومونه اخيستل او د پښې د کار په باره کې معلومات بيانول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د هغو شيانو نومونه واخلي چې پښې او ترکان په شريکه جوړ کړي دي . (۳)	- د هغو شيانو نومونه اخيستل چې ترکان او پښې دواړو وربانديې کار کړی وي .	
	۲ . د پښې د دوکان په يوه رسم خان پوهول ؛ د اروندو کلمو لوستل :	
- زده کوونکو ته ويل چې د مشق پاڼې پ۲ – ۳۶ – ۱ رسم مطالعه کړي .	- د رسم مطالعه کول ، معلومول چې پښې په خپل دوکان کې ناست دی .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسم په تفصيل سره تشريح کړي او د ښودل شويو شيانو نومونه واخلي ؛ دا خبره باوري کول چې زده کوونکي په دې وپوهېدل چې له اور څخه څه کار اخيستل کيږي .	- د ببل ببل زده کوونکي له خوا د ټولو ښودل شويو شيانو نومونه اخيستل ؛ ويل چې پښې له اوسپنې څخه د شيانو د جوړولو له پاره اورته ضرورت لري ؛ دا چې پښې له اوسپنې سره څنګه کار کوي ، هغه بيانول .	
- غوښتنه کول چې په تصوير کې د اوسپنې نرۍ پاڼې (پتري) ته وګوري او ووايي چې دا د کوم شي برخه ده؟	- د اوسپنې نرۍ پاڼې (پتري) ته کتل او ويل چې دا د اړې يوه برخه ده .	
- د زده کوونکي رهنمايي کول چې د آلاتو برخې معلومې کړي او نومونه يې واخلي .	- د هغو آلاتو معلومول او نومونه يې اخيستل چې يوازې يوه يوه برخه يې ښودلې شوې ده .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د نورو هغو شيانو نومونه واخلي چې پښې يې جوړوي .	- د نورو شيانو نومونه اخيستل ؛ مثلاً : د اوسپنې دروازې ، د دروازو لتونه (بولتونه) او داسې نور .	
- د زده کوونکو رهنمايي کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۷ – ۱ کلمې ولولي ؛ ښوونکی يې پر توره تخته ليکي .	- د مشق پاڼې کلمې جلا جلا يا له يوه انديوال سره لوستل ؛ بيا بيا يې تولګي ته لوستل (يو زده کوونکی ، يوه کلمه) .	توره تخته
- کلمو ته بې له ترتيب څخه اشاره کول .	- له اشاري سره سم يې په ګډه لوستل .	

	۳. هغه سامان آلات چې پښې يې استعمالوي ؛ رسمونه او کلمې :	
- زده کوونکوته وښه چې د مشق پاڼې پ۲ –۴۷–۲ رسمونه له يوه اندېوال سره مطالعه کړي .	- رسمونه له اندېوال سره يو خای مطالعه کول ، د پښې مختلف سامانونه او آلات پېژندل .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۲
- زده کوونکو ته ويل چې د دغو سامانونو او آلاتو نومونه واخلي او تشريح يې کړي ؛ د کلمو په صحيح استعمال کې ورسره مرسته کول.	- د د غو مختلفو سامانونو او آلاتو نومونه اخيستل او تشريح (يو زده کوونکي ، يو شی) .	
- د زده کوونکو رهنمايي کول چې د مشق پاڼې پ۲ –۴۷– ۲ آخرۍ کلمې ولولي، زده کوونکي يې چې لولي ښوونکي يې پر تخته ليکي .	- د مشق پاڼې کلمې يوه يوه ټولګي ته لوستل (يو زده کوونکی ، يوه کلمه) .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۲
- بې له ترتيب څخه کلمو ته اشاره کول .	- له اشارې سره سم يې په يوه آواز لوستل .	
	۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې : الف – له اندېوال سره يو خای د دوارو مشق پاڼو د کلمود لوستلو مشق وکړي . ب– پر سلېټونو د نويو کلمو مشق وکړي . ج – دمشق پاڼې پ۲ – ۴۷ – ۲ په خالي خايونو کې اړوندې کلمې وليکي .	- له غوښتنې سره سم کار کول : الف – کلمې لوستل (وار په وار) . ب – پر سلېټونو د نويو کلمو مشق کول . ج – په خالي خايونو کې د اړوندو کلمو ليکل .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۱ مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۲ سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۲

(۱) دا درسي پلان د تېر درسي پلان په شان ترتيب شوی دی . لکه چې وويل شول ، په کليو کې د استعمالېدونکو شيانو د جوړولو له پاره په کار دي چې پښې او ترکانې له يو بل سره يو خای کار وکړي . زده کوونکو ته به په آسانۍ سره معلومه شي چې داسې آلاتو ته وګوري ؛ لکه : اره ، لور ، يوې او داسې نور . خو د پښې او د هغه د کار په باره کې د معلوماتو د حاصلولو له پاره تر ټولو ښه طريقه دا ده چې د درسي پلان تر پلي کولو دمخه يا وروسته په خپله د پښې دوکان وکتل شي.

(۲) په دي مرحله کې به ښوونکی د زده کوونکو د ډډګيرنه کوي چې د پښې دکار په باره کې څه معلومات لري ، هغه ووايي . دېر زده کوونکي به برخه اخلي ، ځکه چې دېرو به پښې په دوکان کې په کار ليدلای وي . ښوونکی به مداخله نه کوي . د دي له پاره چې زده کوونکي د پښې په کار ښه وپوهيږي نو په دي مرحله کې به پر رسم باندې تر بحث کولو وروسته دي ته ضرورت وي چې ښوونکی لارښوونه وکړي .

(۳) زده کوونکو ته به اجازه ورکولې کيږي چې مشق پاڼې پ۲ – ۴۷ – ۱ او پ۲ – ۴۷ – ۲ مطالعه کړي .

د شيانو نومونه دي واخيستل او ودي ويل شي چې له اور څخه څه کارونه اخيستل کيږي :

گادی رمبې لور چاړه تبر سسپار يوم ببلچه

د شيانو نومونه دي واخيستل او تر رسمونو لاندې يې دي وليکل شي :



پلک څټک امبور بنې پانه بټې سندان سوان سيخونه

موضوع : ترکان او دهغه کارونه : رسمونه او جملې مقايسه کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي د پښې جوړې کړي شيان را په زړه کوي . ب – زده کوونکي هغه سامان آلات چې پښې يې استعمالوي او څنګه کار کوي ، را په زړه کوي . ج- (د کار کتابونه به بندوي) داوطلبو زده کوونکو ته چې د مشق پاڼې پ۲ – ۴۷ – ۱ او پ۲ – ۴۷ - ۲ کومې کلمې را په زړه کيږي ، صفا سوتره يې پر تورې تخته ليکي (يو زده کوونکی يوه کلمه) ؛ نور يې لولي ، که ضرورت و اصلاح کوي يې . د – ښوونکی کلمو ته بې له ترتيب څخه اشاره کوي ، زده کوونکي يې په يوه آواز لولي .	تـــوره تختـــه
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۳ کار کول : د پښې فعاليتونه : الف – په رسم کې د ښودل شويو شيانو د پېژندلو له پاره زده کوونکي له اندېوالاتو سره مشق پاڼه مطالعه کوي . ب – زده کوونکي تولګي ته رسمونه تشريح کوي (يو زده کوونکی ، يو بيان) ؛ ښوونکی د ضرورت په اندازه رهنمايي او مرسته کوي . ج – ښوونکی په معموله طريقه په جملو کې نوې کلمې معرفي کوي . (۱) د – زده کوونکي په خاموشۍ له يوه اندېوال سره کار کوي : جملې لولي ، له اړوندو رسمونو سره ورته شمېرې ورکوي . هـ – زده کوونکي جملې يوه يوه تولګي ته څو څو خله لولي (يو زده کوونکی يوه جمله) .	مشـــق پـــاڼه پ۲ – ۴۷ – ۳
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه اندېوال سره د جملو د لوستلو مشق کول (وار په وار). ب – پر سلېټونو د جملو د ليکلو مشق کول .	ســـــلېټونه


پ۲ | ۴۷ ـ ۳
کومه جمله له کوم رسم سره لګېږي ؟
۱ پښې په بټۍ کې په بنۍ اوسپنه تودوي .
۲ پښې په پاڼه اوسپنه پرېکوي .
۳ پښې په څټک سيخونه سموي .
۴ پښې پر سندان اوسپنه په پلک وهي .
۵ پښې په امبور اوسپنه له بټۍ څخه را باسي .
۶ پښې په سوان اوسپنه سوان کوي .
۱

	۳. د لیکلو مشق کول:	سلېټونه مشق پانه پ۲ - ۵ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې له هر ستون څخه یو انتخاب کړي او پر سلېټونو یې دومره مشق وکړي چې بیایې له یاده هم ولیکلای شي. (۴)	- له هر ستون څخه یوه کلمه انتخابول او د صحیح نښه (✓) پرې لګول؛ پر سلېټونو د دغو کلمو د لیکلو مشق کول.	
- له زده کوونکو څخه د کار د کتابونو د تبادلې غوښتنه کول.	- د کار کتابونه تبادله کول.	
- ویل چې اندیوال به انتخاب شوې کلمې یوه یوه د املا په حیث وایي. (۵)	- یو اندیوال املا وایي؛ بل اندیوال یې لیکي؛ دواړه یې وار په وار چک کوي.	

(۱) [ی] داسې یو حرف دی چې په وینا او لیک دواړو کې ډېر زیات استعمال څکه چې دا حرف هم آواز لري او هم بې آوازه دی. له دې امله وربانديې پوهېدل زیات ضروري دي. خو له دې سره سره دا یو ډېر سخت حرف هم دی. دا حرف د واول په حیث لږ تر لږه پنځه مختلف اشکال لري. د کلمې په آخر کې څلور ډوله آوازونه ورکوي او د کلمو په منځ کې دوه ډول آوازنه او ورسره پنځه ډوله شکلونه لري. د دې له پاره چې زده کوونکي یې په فرق ښه پوه شي او مشق پرې وکولای شي نو یو مکمل درسي پلان ورته وقف شوی دی.

(۲) که چېرې زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ - ۵ - ۱ په شان د دې مختلفو ګروپونو د کلمو نومونه وانه خیستلای شي نو ښوونکی به په خپله هغه ډول کلمې ور اضافه کوي چې ضرورت ورته لري.

(۳) کوم زده کوونکي چې په کار کې چټک وي نو د کار تر مکملولو وروسته به ښوونکی د هغوی ډاډګېرنه کوي چې له خپلو ګاونډیانو سره مرسته وکړي.

(۴) د لیکلو مشق همېشه دوه هدفونه لري: لومړی - د خط ښه کول. دوهم - له یاده د نورو ډېرو کلمو لیکل.

(۵) ښوونکی به دا خبره کوي چې کوم زده کوونکی املا وایي نو هغه به خپل سر په دې خبره ښه خلاصوي چې یوه کلمه هم غلطه نه ده لیکلې شوې. که اندیوال یې کومه غلطي کړې وي نو سمدستي به ورته وایي. زده کوونکي ورو ورو خبرې کوي.

د کتارونو کلمې دې ولوستلې او د [ی] د ېېلابېلو شکلونو او آوازونو له مخې دې په مربوطو ستونونو کې ولیکلې شي:

ي	ې	ی	ۍ	پ۲ ۵-۱ ئ
طوطي	يوې	دی	څپلۍ	خورئ
ځي	چې	زمری	رسۍ	کوئ

ډوډۍ لولي ځئ کې پاڅئ وړئ

سړی لاندې لمسی کېږي باندې

موضوع : بنځې هم کسبونه کوي	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – له مشق پاڼو پ۲ – ۴۷ – ۱ او پ۲ – ۴۷ – ۲ څخه د شپږو يا اتو کلمو املا : املا ويل، چك كول ،اصلاح كول ؛ كلمې دا دي : چاړه ، رمبی ، پلك ، امبور ، بتی ، سندان ، تبر ، يوم . ب – زده کوونکي دوه يا دري خله د مشق پاڼې پ۲ – ۴۷ – ۳ کلمې ټولګي ته لولي (يو زده کوونکی يوه جمله) .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۳
۲. د بنځو پر کسبونو خبرې کول : الف – ښوونکي پوښتنه کوي : " تاسو اوس د نارينه وو د ځينو کسبونو په باره کې يو څه معلومات حاصل کړي دي ؛ د بنځو د کسبونو (حرفو) په باره کې څه معلومات لرئ ؟ " . ب – زده کوونکي چې په دې باره کې په څه پوهيږي ، هغه ووايي . ښوونکی د بحث رهنمايي کوي . (۱) ج – ماشومان د مشق پاڼې پ۲ – ۴۷ – ۴ رسمونه مطالعه کوي ؛ د په کار لګيا بنځو پېژندنه کوي ، وبل چې دوی څه کوي ؟ د دوی کسبونه څه دي ؟ ښوونکی په رسم کې د ښودل شويو کسبونو او د نورو کسبونو په باره کې د يوه بحث رهنمايي کوي ؛ زده کوونکي پوهيږي چې جينکی هم يو کسب (حرفه) زده کولی شي .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۷ – ۴
۳. دجملو لوستل : الف – ښوونکی طريقه په اړونده جملو کې نوې کلمې (علاج، روغتون ، لاسي کار ، کسب ، جامو، درزيتوب) معرفي کوي . ب – زده کوونکي له انديوالاتو سره دغه جملې په خاموشۍ سره لولي . ج – زده کوونکي دغه جملې خو خلې ټولګي ته لولي (يو زده کوونکی يوه جمله).	
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه انديوال سره د جملو د لوستلو مشق کول . ب – د ډاکټرې او ښوونکي په باره کې پر سلېټونو د جملو مشق کول .	سلېټونه

(۱) په دې مرحله کې به زده کوونکي د بنځو د کور په کارونو يا د هغوی په نورو کسبونو (حرفو) آزادې خبرې کوي .

د کلي ډاکټره

وړمه د مرجانې لور وه . يوه ورځ ډېره ناروغه شوه . کورنۍ علاج يې ډېر وکړ خو ښه نه شوه . آخر د ډاکټر مشورې ته ضرورت شو . مرجانې خپل زوی ، سليم ، په ډاکټر پسې ولېږلو . څه شېبه پس سليم راورسيد . مور يې لږ څه ډډې ته شوه چې ډاکټر راننوځي . خو چې کتل يې هغه ډاکټره وه . ډېره خوشحاله شوه او نژدې ورغله . په مينه يې ورته ستړې مشي وکړه . په ډاډه زړه يې د ډاکټرې مشورې ته غوږ ونيولو . ډاکټره د علاج تر ښودلو وروسته ولاړه . سليم وويل : " موږې اوس بنځه ډاکټره هم زمونږ په کلي کې شته . بنځې او ماشومان به په ډاډه زړه علاج ته ورځي " . مور يې ډېره خوشحاله شوه او د کلي نور نر ، بنځې هم په کلي کې په ډاکټرې خوشحاله وو .

د متن تر لوستلو وروسته دي د رسمونو په باره کې خبرې وکړئ :

ډاکټره د ناروغو بنځو علاج کوي . هغه په خپله معاينه خانه او روغتون کې کار کوي .
استاداني ماشومانو ته سبق ښيي او په ښوونځيو کې کار کوي .
لاسي کار هم د بنځو يو ډېر ښه کسب دی . دوی پر جامو او توکرانو باندې بوټې او ګلونه اچوي .
بنځې درزيتوب هم کوي . دوی هر ډول جامې ګنډي .

درسي پلان ۳۸ ټ ۲- ۳۸ - ۱	موضوع : څناور (۱) : د وحشي او کورنيو حيواناتو تر منځ توپير کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱. په رسمونو کې ښودل شوي څناور پېژندل : (۱)	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې ښوونځي ته له راتګ څخه مخکې يا د راتلو په وخت کې يې په لار کې کوم څناور وليدل ؟	- د ډېل ډېل زده کوونکي له خوا دهغو څناورو نومونه اخيستل چې نن سهار يې ليدلي دي ؛ ويل چې چېرته يې ليدلي دي ؟ څه يې کول ؟ او داسې نور .	
- په زده کوونکو د مشق پانو پ۲ - ۴۸ - ۱ او پ۲ - ۴۸ - ۲ رسمونه مطالعه کول ؛ پوښتنه کول چې آيا په دې رسمونو کې داسې څناور شته چې نن سهار مو ليدلي وي ؟	- رسمونه مطالعه کول ؛ کوم څناور يې چې نن سهار ليدلي دي د هغوی نومونه ويل .	مشق پانه پ۲ - ۴۸ - ۱ مشق پانه پ۲ - ۴۸ - ۲
- زده کوونکو ته ويل چې د ټولو هغو څناورو نومونه واخلي چې پېژني يې او دهغو د نومونو پوښتنه وکړي چې نه يې پېژني .	- کوم څناور چې پېژني نومونه يې اخلي او چې نه يې پېژني پوښتنه يې کوي .	
	۲. د څناورو د ژوند په مختلفو ارخونو بحث کول : (۲)	
- په رسمونو کې د ښودل شويو څناورو په باره کې د يوه بحث رهنمايي کول ؛ سوالونه دا دي :	- د ښوونکي سوالونو ته خوابونه ويل ؛ د خپلو تجربو په باره کې معلومات ورکول، بحث کول ، غوږ نيول ، تبصره کول .	
• کوم څناور مو خوښ دي او ولې ؟		
• دا څناور چېرته اوسي ؟		
• دا څناور څه خوري ؟		
• د هغوی د بچيو په باره کې مو څه زده دي؟		
• د دې څناورو په باره کې نور څه معلومات لرئ؟		
	۳. د وحشي او کورنيو څناورو ترمنځ توپير کول:	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څناورو ته يو خل بيا وګوري او ووايي چې کوم څناور خلک ساتي .	- څناورو ته يو خل بيا کتل او چې کوم څناور په کورونو کې ساتل کيږي د هغوی نومونه ويل .	
- په زده کوونکو د وحشي / خنګلي څناورو نومونه ويل .	- دوحشي څناورو نومونه اخيستل ؛ معلومول چې څينې څناور صحرايي وي خو خلک يې ساتي هم لکه موچې .	
- ويل چې په دېرو پخوا زمانو کې ټول څناور وحشي وو خو بنيادمانو ورو ورو دهغوی په ساتلو شروع وکړه . (۳)	- غوږ نيول ، پوهېدل چې په پخوا زمانو کې ټول څناور وحشي وو خو وروسته انسانانو د دوی په اهلي کولو شروع وکړه او کار به يې تر اخيسته .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه کې دي نښو (• o) ته وګوري او ووايي چې دا د څه له پاره دي ؟	- معلومول چې له دي نښو سره د څناورو رسمونه په نښه کيږي :	
	• وحشي څناور .	
	o اهلي څناور .	
- له انډيوال سره په خاموشۍ د رسم د په نښه کولو غوښتنه کول .	- له غوښتنې سر سم کار کول .	

- د زده کوونکو د نتیجو په مقایسه کولو کې د هغوی رهنمایي کول .	- نتیجې تولګي ته لوستل ، مقایسه کول ، اصلاح کول .	
	۴. نوې کلمې لوستل او لیکل ؛ مشق پرې کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د دوارو مشق پانو په اخر کې معلومې کلمې (د څناورو نومونه) ولولي او د (✓) نښه پرې ولګوي .	- تولې معلومې کلمې لوستل او د صحیح نښه پرې لګول .	
- د زده کوونکو رهنمایي کول چې په معموله طریقه نوې کلمې ولولي .	- نوې کلمې لومړی په پته خوله او بیا په لوړ آواز لوستل .	تخته
- پرتوره تخته د غو کلمو ته بې له ترتیب څخه اشاره کول .	- د بنوونکي له اشاري سره سم یې په یوه آواز لوستل .	سلېټونه
- زده کوونکو ته ویل چې پر سلېټونو د دې نویو کلمو د لیکلو مشق وکړي .	- پر سلېټونو د نویو کلمو د لیکلو مشق کول .	مشق پانه پ۲ – ۴۸ – ۱
- غوښتنه کول چې پر تیارو شویو کرښو د څناورو نومونه ولیکي .	- له غوښتنې سره سم یې بنه صفا لیکل .	مشق پانه پ۲ – ۴۸ – ۲

(۱) درسي پلان پ۲ – ۴۸ – ۱ پنځه مشق پانې لري . څکه چې په دې کې ډېر څناور دي ا وځناور دماشومانو ډېر خوښ وي. وړومبی. دوه مشق پانې د یوه ګڼ شمیر څناورو رسمونه لري ؛ ځینې یې مخکې معرفي شوي دي خو څنې یې نوي دي . په رسمونو کې مختلف څناور بنودل شوي دي . په کار دي چې زده کوونکي نور ډېر څناور وپیژني او د شکل ، روش او داسې نورو له مخې یې طبقه بندي کړي. د څناورو په باره کې دمعلوماتو راټولول د عامې زده کړې یوه برخه ده. بنوونکی به زده کوونکي رهنمایي کوي چې څناور په غور وګوري او د خپلو مشاهداتو په باره کې خبرې وکړي .

(۲) په دې درس کې به کار کول یوازې په هغو څناورو منحصر وي چې په دې مشق پانو کې معرفي شوي دي. په دې مشق پانو کې ډول ډول څناور دي او د مشاهدې او بحث له پاره ډېر امکانات وراندې کوي . دا خبره باوري ده چې په دې مرحله کې پر تولو څناورو بحث نه شی کېدای .

(۳) درسي پلان پ۲ – ۴۹ – ۱ چې له کورنیو څناورو سره سرو کار لري ، په کار دي چې دلته په لنډ ډول معرفي شي .



طاوس تپوس سپی ګیدړ مېنه بلبله ماشی مېږی اونکی
ګونګټه سویه زرکه وږه فیل غنه ملخ اوښ



فیل مرغ چینوخه چنچه زمری پنګ غویی بیزو هیلی
مچی کشپ چینجی باز کوتره مړه بزه سپږه ماهی

موضوع : د مختلفو معيارونو له مخې د ځناورو ګروپ بندي کول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – ښوونکی له مشق پانو پ۲ – ۴۸ – ۱ او پ۲ – ۴۸ –۲ څخه د يوه ځناور نوم پر تـوره تخته ليکي مثلاً : [هاتي] . زده کوونکي د دې ځناور په باره کې يو څو جملې وايي . ب– د درې يا څلورو نورو ځناورو په باره کې د جملو په ويلو سره دغـه فعاليت جاري ساتل . ج – په همدغـه شان د جملو ويل جاري ساتل ؛ اوس يـو يـو زده کوونکی د ځنـاورو نومونـه پـر تـوره تختـه ليکي او نـور زده کوونکي چې د دغه ځناور په باره کې څه معلومات لري هغه وايي .	تـــوره تختـــه
۲. په مشق پانه پ۲ – ۴۸ – ۳ کار کول : د مختلفو معيـارونو لـه مخې ځنـاور ګروپ بنـدي کـول : الف – زده کوونکي مشق پانه مطالعه کوي ، هدايات لولي او خان پرې پوهوي چې د هرې کربنې له پاره د هغو ځناورو پيدا کول په کار دي چې له تشريح سره سمون خوري . ب – ښوونکی ورومبی معيار پر توره تخته ليکي : " دا حيوانات هګۍ اچوي . " زده کوونکي دا جمله لولي او د مشق پانو يـا له يادې څخه چې خومره ممکن وي د هغومره ځناورو نومونه اخلي (يو زده کوونکی يـو ځنـاور) ؛ بيـا ښوونکی د مثال په توګه پر توره تخته د يوه ځناور نوم ليکي ؛ زده کوونکي دا نوم په مشق پانو کې ليکي . ج – په شفاهي توګه پر نـورو معيـارونو هم په دغـه طريقـه کـار کـول ؛ زده کوونکي معيـارونـه لولي او څومره چې کېدای شي د هغومره ځناورو نومونه اخلي ؛ ښوونکی مرسته او اصلاح کوي ، زده کوونکي په هره کربنه کې يو نوم ليکي .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۸ – ۳ تـــور تختـــه
۳. په خاموشۍ سره په مشق پانه کې کار کـول : زده کوونکي لـه خپلـو انـديوالانو سره په خاموشۍ کـار کوي ؛ له ورکړای شويو معيارونو سره سم څومره نومونه چې ممکن وي ، موندل او ليکل يي .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۴۸ – ۳

پ۲ | ۴۸ - ۳

نومونه يې وليکئ !

دا حيوانات هګۍ اچوي : .....

دا حيوانات بچي راوړي : .....

دا حيوانات نور حيوانات خوري : .....

دا حيوانات بوتي خوري : .....

دا حيوانات بنکې لري : .....

دا حيوانات وښته لري : .....

دا حيوانات خلکو ته ضرر رسوي : .....

دا حيوانات په هوا کې الوتلی شي : .....

دا حيوانات په اوبو کې اوسيږي : .....

پر مخکه اوسېدونکو حيواناتو کې

دا ختلی شي : .....

دا ښويږي : .....

دا تېزه منده وهلی شي : .....

دا په عام ډول ورو ورو خي : .....

موضوع : دا حيوانات څه ډول آوازونه لري ؟ د افغانستان ځيني مشهور وحشي ځناور

د زده کوونکو او ټبوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – يو زده کوونکی په مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۳ کې ورومبی معيار لولي ؛ مثلاً : " دا حيوانات هګۍ اچوي . " او د هغو ځناورو نومونه اخلي چې ليکلي يې دي ؛ نور ورته غوږ نيسي ، اصلاح کوي او په شفاهي توګه يې نيمګړتيا پوره کوي . ب – نورې طبقې (کتګورۍ) په همدغه طريقه تکراروي ، يو ماشوم يې لولي ، نور يې نيمګړتيا پوره کوي ، مقايسه کوي .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۳
۲. په مشق پاڼه پ۲- ۴۸ – ۴ کار کول : الف – د عنوان لوستل ، خان پوهول چې ځناور آوازونه کوي او د دې آوازونو خپل خپل نومونه دي . ب– ټبل ټبل زده کوونکي د ځناورو د مختلفو آوازونو مثالونه ورکوي . نور کوشش کوي چې د دې آوازونو نومونه پيدا کړي . ج– زده کوونکي د مشق پاڼې ورومبی کرښه اول په خاموشۍ سره لولي ، بيا يې تولګي ته لولي او معلوموي چې په چوکاټ کې دننه آواز د دغه ځناور له آواز سره سمون نه خوري ، معلومول چې د هرې جملې له پاره خپل اړونده آواز پيدا کول غواړي . د – له يوه انډيوال سره په خاموشۍ کار کول : دغه جملې لوستل ، د ځناورو د آوازونو مطابق دآوازونو نومونو ته شمېره ورکول . هـ – جملې يوه يوه تولګي ته لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) . د ضرورت په اندازه اصلاح کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۴
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۵ کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول او تشريح کول ، د ځلورو ځناورو نومونه زده کول ، زده کول چې دا زمونږ د ملک مشهور ځناور دی او د خدای[۱] پيدا ينبت دی او خيال يې ساتل په کار دي . (۱) ب – اړونده جملې لوستل : اول په خاموشۍ سره او بيا تولګي ته .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۵
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه انډيوال سره د مشق پاڼې پ۲ –۴۸ – ۵ د جملو د لوستلو مشق کول (وار په وار) . ب – په خپل انتخاب د مشق پاڼې پ۲ – ۴۸ – ۴ د دري يا ځلورو جملو د ليکلو مشق پر سلېټونو کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۵ مشق پاڼه پ۲ – ۴۸ – ۴

(۱) کله چې ټبوونکی وخت مومي نو زده کوونکي به په احتياط سره په دې برخو کې رهنمايي کوي چې له طبعيت سره يې مينه اود مسوولیت احساس پيدا شي .

د ځناورو مطابق دې آوازونو ته شمېرې وليکلې شي :

دا حيوانات څه ډول آوازونه لري ؟ پ۲ ۴۸-۴		
① پيشو په کور کې	○ چن چن	کوي
② کارغه په هوا کې	○ بن بن	کوي
③ چنچنه په ونه کې	○ غپ غپ	کوي
④ زمری په ځنګل کې	① مياو مياو	کوي
⑤ مچ په هوا کې	○ کاغ کاغ	کوي
⑥ سپی هر وخت	○ غر مبا	کوي

د متن تر لوستلو دمخه دې د رسمونو په باره کې خبرې وشي :

مشهور وحشي حيوانات پ۲ ۴۸-۵

① زانه يوه صحرايي مرغی ده چې په سېلونو کې اوچت پرواز کوي . ② وحشي بزه له کورنۍ بزې څخه غټه وي ؛ اوږده کاږه ښکرونه لري . ③ وحشي ګډ هم غټ او مضبوط وي او اوږده تاو شوي ښکرونه لري . ④ پرانګ په واورينو غرونو کې وي ؛ اوږده لکی ، غښتلي تنه او برګه څرمن لري .

دا زمونږ د وطن مشهور وحشي حيوانات دي . سربېره پر دي ، نور هم شته . د دې حيواناتو حفاظت په کار دی .

درسي ټولګی ۳۹ پ۲ – ۳۹ – ۱	موضوع : څناور : حیوانات له موږ سره مرسته کوي (۱)	
د ښوونکي فعالیت	د زده کوونکو فعالیت	درسي مواد
– د څناورو د قیاس کولو په باره کې یوه لوبه اعلانول . – وړومبی چیستان ویل : " یو وړوکی څناور دی چې له یوه ګل نه بل ګل ته الوزي او موږ ته یو خوږ غوندي شي راکوي ؛ دا کوم څناور دی ؟ " – د زده کوونکو ډډګېرنه کول چې په خپله چیستانونه جوړ کړي ؛ مرسته کول . (۲)	۱ . د څناورو قیاس کول : – غوږ ورته نیول ؛ متوجه کېدل . – غوږ ورته نیول ؛ قیاس کول : مچی . – د جلا جلا زده کوونکي د ټولګي مخې ته راتلل او دوني ویل ، د نورو له خوا قیاس کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ – ۴۸ – ۱ او پ۲ – ۴۸ – ۲ ته بیا وګوري او د هغو څناورو نومونه واخلي چې خلك یې ساتي . – له زده کوونکو څخه پوښتنه کول : " خلکو به همېشه دا څناور ساتل ؟ خلکو د دې څناورو په ساتلو ولې شروع وکړه ؟ " – تشریح کول چې نن به دوی د هغو څناورو په باره کې نوره ډېره زده کړه کوي چې خلك یې ساتي ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۱ مطالعه کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسمونه په تفصیل سره بیان کړي؛ دخبرو رهنمایي کول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د داسې څناورو نور مثالونه ووایي چې له خلکو سره مرسته کوي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له اندیوال سره یو ځای د مشق پانې په آخر کې د نا مکملو جملو د لوستو کوشش وکړي . (مرسته کول) – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نا مکملو جملو کې ښودل شوي رسمونه او فعالیتونه سره مقایسه کړي او د هغو څناورو نومونه واخلي چې دا فعالیتونه کوي . (۳) – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په خالي ځایونو کې د څناورو نومونه وليکي .	۲ . زده کول چې څناور څنګه له خلکو سره مرسته کوي – مشق پانو ته کتل ؛ د اړونده څناورو نومونه اخیستل . – را په زړه کول چې په پخوا زمانه کې ټول څناور وحشي وو خو خلکو د ځینو دساتلو هنر زده کړ، څکه چې دې څناورو له دوی سره مرسته کولای شوه – غوږ ورته نیول ، رسمونه مطالعه کول ، مختلف د کار څناور پېژندل . – رسمونه په تفصیل سره بیانول ، ویل چې څناور په کومو طریقو له خلکو سره مرسته کوي . – له خلکو سره د مرستې له پاره د څناورو د کارولو نورې طریقې معلومول او ویل ؛ مثلاً : د اوبو را ایستلو له پاره ، د ښکار کولو له پاره، ماشومان ورسره لوبې کوي او داسې نور . – له یوه اندیوال سره په خاموشۍ دغه جملې لوستل ؛ د هغو کلمو پوښتنه کول چې دوی یې نه شي لوستلای . – جملې یوه په بلې پسې ټولګي ته لوستل ؛ یو زده کوونکی یوه جمله . – رسمونه او فعالیتونه مقایسه کول ، رسمونه له فعالیتونو سره اندولول او د څناورو نومونه اخیستل .	مشق پانه پ۲ – ۴۸ – ۱ مشق پانه پ۲ – ۴۸ – ۲ مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۱

- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مکملې جملې ټولګي ته ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مکملې جملې ټولګي ته ولولي .	- په خالي ځایونو کې د ځناورو نومونه لیکل . - ټولګي ته جملې لوستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق وکړي : الف – له یوه اندیوال سره جملې لوستل (وار په وار) . ب – جملې پر سلېټونو لیکل .	*۳ . د لوستلو او لیکلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۴۹ – ۱ سلېټونه

(۱) د کورنیو ځناورو په باره کې تجربې د کلیوالو ماشومانو د ورځنۍ ژوند برخه ده . هغه حقایق چې په دې درسې واحد کې وړاندې شوي دي ، نوي نه دي . خو اړونده کلمې او جملې لوستل او د مختلف ډول ځناورو په اړه معلومات ترتیبول مهم دي ؛ مثلاً : ځناور له خلکو سره مرسته کوي ؛ ځناور بار وړي ؛ له ځناورو څخه خام مواد لکه وړۍ ، څرمن او داسې نور لاس ته راځي چې د ډېرو شیانو له پاره استعمالیدای شي او داسې نور .

(۲) چیستانونه ویل : د ماشومانو د غږېدلو صلاحیت ته وده ورکوي . له زده کوونکو سره مرسته کوي چې په ټبرو درسونو کې یې څه زده کړې دي هغه ور په زړه کړي ؛ مثلاً : له همدغو خصوصیاتو سره د مختلفو ګروپونو د ځناورو اړه او رابطه . د دوئ نور مثالونه دا کېدای شي : " دې واړه ځناور (حشري) دي ، او د خلکو په وېښتو کې ژوند کوي ، دا د خلکو له پاره خطرناک دي ؛ دغو ته څه وایي ؟ " (سپږې) " یو ځناور دی چې د یوې غټې ښایسته پیشو په شان ښکاري ؛ برګ وي او په غرونو کې اوسي ؛ د ده نوم څه دی ؟ " (پرانګ) . " یو ځناور دی ؛ اکثر په اوبو کې اوسي ؛ مچان خوري او توپونه وهلای شي ؛ د ده نوم څه دی ؟ " (چونګښه) .

(۳) په ځینې جملو کې کېدای شي له یوه څخه د زیاتو ځناورو نومونه ولیکلای شي . زده کوونکي دې انتخاب وکړي چې د کومو ځناور په باره کې لیکل غواړي .

لیکګړې جملې دي ، درسونو ته په کتلو سره ، پېښې یې شي :



د لومړي تعقيبي درس خاکه

موضوع : له حيواناتو څخه ډېر څه لاس ته راځي

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – يو زده کوونکی پر توره تخته د هغه خناور نوم ليکي چې له خلکو سره مرسته کوي ؛ نور وايي چې دا څنګه مرسته کوي ؟ په دې طريقه په مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۱ کې د تولو خناورو د نومونو تکرارول (د کار کتابونه به بند وي) . ب – د مشق پاڼې پ۲ – ۴۹ – ۱ جملې يوه په بلې پسې تولګي ته څو خله لوستل .	توره تخته مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۱
۲. په مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۲ کار کول : الف – زده کوونکي رسمونه مطالعه کوي ، شيان بيانوي (د خناور حاصلات) . ب – زده کوونکي د هغو خناورو نومونه اخلي چې دا حاصلات ور څخه تر لاسه شوي دي . ج – زده کوونکي د دغو حاصلاتو استعمال بيانوي ؛ مثلاً : پې د څښلو او خوړلو له پاره استعماليږي ، سربېره پر دې ، کوچ او پنبه هم ورڅخه جوړيږي او داسي نور . د – زده کوونکي د نورو حاصلاتو نومونه اخلي چې خلك يې له خناورو څخه تر لاسه کوي ؛ مثلاً : هډوکي ، د ماهي غوښه او داسي نور . هـ – زده کوونکي د مشق پاڼې عنوان او د مشق پاڼې کښ ازخ ته د خناورو نومونه لولي او په کار خان پوهوي ؛ زده کوونکي د خناورو اړونده نومونه په بکسونو کې ليکي ..	
۳. جملې ليکل : هغه څه چې خلك يې له خناورو څخه تر لاسه کوي . الف – زده کوونکي د رسمونو مطابق ساده جملې وايي ؛ مثلاً : غوا موږ ته پې (شيدې) کوي . چرګه موږ ته هګۍ اچوي او داسي نور . ب – ښوونکی يوه په بلې پسې جملې پر توره تخته ليکي . ج – زده کوونکي د دې جملو پر سلېټونو مشق کوي .	توره تخته سلېټونه

کلمې دې د مربوطو رسمونو په چوکاټونو کې وليکلې شي :

پ۲ | ۴۹ ـ ۲

له حيواناتو څخه ډېر څه لاس ته راځي



موضوع : د حيواناتو ګټې

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – د کورنيو څناورو د نومونو په اړه يوه املا ليکل ؛ املا ويل ، کتل ، په معموله طريقه يې اصلاح کول . ب – د څناورو ګټې را په زړه کول : څناور له خلکو سره څنګه مرسته کوي ؟ مور له څناورو څخه کوم شيان (حاصلات) تر لاسه کوو ؟	سلېټونه
۲. په مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۳ کار کول : الف – د متن نوې کلمې په معموله طريقه معرفي کول : څرمنې ، وړيو ، سپرلي ، بار ، څوکۍ ، کورنۍ . ب – متن له يوه انديوال سره په خاموشۍ لوستل. ج – جلا جلا زده کوونکي متن بيا لولي ؛ نور يې اصلاح کوي او نيمګړتيا يې پوره کوي . د – زده کوونکي متن يوه يوه جمله ټولګي ته لولي (يو زده کوونکی يوه جمله) . هـ – زده کوونکي متن توته توته ټولګي ته لولي .	تخته مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۳
۳. د قياس کولو يوه لويه کول : د درسي پلان پ۲ – ۴۹ – ۱ په شان د څناورو د نومونو قياس کول خو زور به په کورنيو څناورو او د دوی په ګټو ورکوي ؛ مثلاً : " يو څناور دی چې څلور پښې لري او مور ور څخه پی او وړی اخلو ؛ دا کوم څناور دی ؟ " (ګډ او داسې نور) .	مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۳
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه انديوال سره د مشق پاڼې پ۲ – ۴۹ – ۳ د متن د لوستلو مشق کول (وار په وار) . ب – د ورومبۍ مشق پاڼې د جملو له يادې د ليکلو مشق کول .	مشق پانه پ۲ – ۴۹ – ۱ سلېټونه

پ۲ | ۴۹ - ۳

د حيواناتو ګټې

حيوانات ډېرې ګټې لري . همېشه زمور په کارېږي . په غوايانو باندې بزګران يوې کوي . خلك د غوا ، مېښې ، ګډې او بزې شيدې څښي او غوښه يې خوري . د دوی څرمنې هم په کارېږي . د ګډانو له وړيو څخه جامې ، خولۍ او نور ډېر شيان جوړېږي . خلک پر آسونو سپرلي کوي او ګاډۍ پرې ګرځوي . په خره باندې بار وړي . سپی دکور څوکۍ کوي . نور حيوانات هم شته چې فايدې لري. کورنۍ حيوانات او ځايونه يې پاک ساتل په کار دي .

درسي پلان ۵۰ ب۲ - ۵۰ - ۱	موضوع : د تګ راتګ وسيلې ؛ په يوه کيسه او رسمونو خان پوهول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- ويل چې نن به يوه کيسه اورئ ، کيسه لوستل . - د تبصرې او يا د سوالونو کولو غوښتنه کول . - کيسه يو خل بيا لوستل . - له زده کوونکو څخه د کيسې په باره کې د سوالونو پوښتنه کول . (۳) - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په دغه زمانه کې سفر ولې دومره سخت و .	۱. *په پخوا زمانه کې مکې معظمې ته د حج د سفر په باره کې په يوه کيسه خان پوهول:(۲)* - په خپل خپل خای کښاستل ، غوږ ورته نيول . - په آزادانه ډول تبصرې کول ؛ سوالونه کول . - يو خل بيا ورته په مينه غوږ نول . - د سوالونو خوابونه ورکول ، د نورو له خوا ورته غوږ نيول، تبصرې کول نيمګړتيا يې پوره کول . - خان پوهول او ويل چې په پخوا زمانه کې : • په سفر ډېر وخت لګېده . • سم سړکونه نه وو . • خلکو به پلي يا په څناورو سفر کاوه . • موټر نه وو .	کيسه له درسي پلان سره ده .
- له زده کوونکو غوښتل چې له انډيوال سره دورومبې مشق پاني رسمونه مطالعه کړي . - څه چې ويني هغه پرې تشريح کول . - درسمونو په باره کې د خبرو رهنمايي کول، په دې کې مرسته کول چې د تګ راتګ ذريعو ترقي کړې ده . ممکن سوالونه دا دي : • مکې معظمې ته دسفر له پاره دسليم پلار د تګ راتګ کومې ذريعې استعمال کړې وي ؟ • په دغه زمانه کې د تګ راتګ کومې ذريعې نه وي ؟ • د تګ راتګ په کومو ذريعو کې له څناورو څخه کار اخيستلی شو ؟ • کومو موټرو ماشينونه لرل ؟	۲. *په هغو رسمونو خان پوهول چې د تګ راتګ وسيلې ښيي:* - له انډيوال سره يو خای رسمونه مطالعه کول؛د تګ راتګ مختلفې ذريعې پېژندل. - رسمونه تشريح کول . - د سوالونو خوابونه ورکول؛ خان پوهول چې: • په شروع کې خلك په پښو تلل او بارونه به چې په خپله وړل . • بيا څناور د سورلۍ او د سامان د وړولو راوړلو له پاره استعمالېدل. • وروسته بيا موټر په ماشينونو چلېدل . • د تګ راتګ ذريعې تېزې او ډېرې آراموونکې شوې .	مشق پانه پ۲ - ۵۰ - ۱

موضوع : په ټولو موقعیتونو کې (د کلمې په سر ، منځ او آخر کې) د [ی] د تورې آواز او شکل معلومول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعالیتونه	درسي مواد
۱. د کلمې په آخر کې د [ی] د تورې تکرارول ؛ د مشق پاڼې پ۲ – ۵ – ۱ له هر ستون څخه د ښوونکي له خوا د یوې یوې کلمې املا ویل ؛ د دغې کلمې پر تخته د یوه زده کوونکي له خوا لیکل ؛ د ټولو زده کوونکو چک کول چې دغه کلمه یې صحیح لیکلې ده او که نه .	تخته
۲. د کلمې په سر او منځ کې د [ی] معلومول : پر تخته د ښوونکي له خوا د درېوو کلمو (فقیر، مېز ، یو) لیکل ؛ د زده کوونکو له خوا د دغو کلمو لوستل او د [ی] د تورې معلومول ، په آواز او شکل کې یې د فرق تشریح کول .	
۳. د مشق پاڼې پ۲- ۵ – ۲ استعمالول : الف – د ټولو هغو کلمو پیدا کول چې د [ی] تورې یې په منځ کې وي ؛ د آوازونو توپیر یې کول لکه په [مېز] او [فقیر] کې او له [ی] څخه کرښه تاوول. ب – له یو اندیوال سره کار کول ؛ د ټولو کلمو لوستل ؛ د کلمو په سر او آخر کې د [ی] تورې معلومول او ور لاندې کرښه کښل . ج – د ببل ببل زده کوونکي له خوا یوه یوه کلمه ټولګي ته لوستل او د حرف موقعیت ښودل .	مشق پاڼه پ۲ – ۵ – ۲
۴. د مشق پاڼې پ۲ – ۵ – ۳ استعمالول : الف – د کار معلومات کول ؛ د کلمو په آخر کې د حرف په صحیح شکل د صحت د نښې په لګولو سره کلمې مکملول او د هغوی صحیح شکل په خپل خاص خای کې لیکل . ب – په خاموشۍ سره کار کول . له اندیوال سره چک کول . ج – ټولګي ته د کلمو لوستل او ویل چې د [ی] کوم یو شکل انتخاب شوی دی .	مشق پاڼه پ۲ – ۵ – ۳

د کلمې په منځ کې د [ی] د تورې بېلابېلو آوازونو ته دې پام وشي او له شکلونو څخه یې دې کرښه چاپېره شي :
د کلمو په سر او آخر کې دې ور لاندې کرښه وکښل شي :

پ۲ | ۵ – ۲

زمری یوې یوه
څپلۍ
وینې
سیند
مېز
طوطي
واورئ
ی
وړوکی
فقیر
کې
دېګ
یو
وګورئ
هګۍ
یې

به ستونو کې د [ی] هغه شکل دې په نښه شي چې مربوطې نیمګړې کلمې ورلاندې پښې پدا کې شي . تر پښې وروسته دې ولوستل شي :

پ۲ | ۵ – ۳

لول	زمۍ	باند	
دود	راځ	سړ	
پاڅ	لاند	وین	

د درسي پلان ۱ پ۲ - ۱ - ۱	موضوع : الله پاک	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- زده کوونکي خبرول چې دوی به یو نظم اوري . - نظم لوستل / ویل / تکرارول یې (۱) - له زده کوونکو نه غوښتنه کول چې د نظم په باره کې یې څه زده وي هغه ووایي . - له زده کوونکو نه پر نظم د تبصرې کولو غوښتنه کول ؛ ممکن سوالونه ؛ مثلاً : • نظم د الله له په باره کې څه وایي ؟ • هغه څه پیداکړي دي ؟ • دالله له تخلیق سره نور کوم شیان اړه لري چې په نظم کې نه دي ذکر شوي ؟ • په نظم کې مو په خاص ډول څه خوښ دي ؟ • په ژوند کې مو تر ټولو زیات څه خوښ دي ؟	*په نظم خان پوهول :* - متوجه کېدل . - اورېدل (د کار کتابونه به بند وي) . - زده کوونکي د نظم برخې په جلا جلا ډول وایي ؛ نور یې اوري . - زده کوونکي په جلا جلا ډول خوابونه وایي او تبصرې پرې کوي ؛ نور ورته غوږ نیسي او په هغه څه خبرې کوي ، چې دوی یې پېژني .	نظم په مشق پانه پ۲ - ۱ - ۱ کې دی .
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کار کتابونه پرانیزي او د مشق پانې پ۲ - ۱ - ۱ رسمونو ته وګوري . - رسمونو ته د کتلو ، پر نظم د فکر کولواوځه چې دوی وینې د هغه د ویلو غوښتنه کول . - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول : "تاسو خپل ځانونه په رسمونو کې چېرته وینئ ؟ (۲) - یو بحث رهنمایي کول .	*۲ . رسمونه له نظم سره تړل :* - رسمونه مطالعه کول . - د رسمونو تشریح کول . - نظم را یادول او معلومول چې رسمونه هم هغه څه ښیي چې نظم یې وایي ؛ په جلا جلا ډول د زده کوونکو له خوا تشریح ورکول . - اړوندو رسمونو ته اشاره کول ؛ رسمونه له خپلو ځایونو سره تړل .	مشق پانه پ۲ - ۱ - ۱
- په لومړیو شپږو بیتونو کې د هغو کلمود موندلو غوښتنه کول چې دوی یې پېژني . - د هغو کلمو د لوستلو غوښتنه کول چې دوی یې پېژني . - د یوه مکمل بیت د لوستلو غوښتنه کول؛ د نویو کلمو په معنی معلومولو کې مرسته کول . (۳) - له زده کوونکو څخه د دوو دوو بیتونو په جلا جلا ډول د لوستلو غوښتنه کول .	*۳ . د نظم ورومبی برخه لوستل :* - ورومبي شپږ بیتونه لوستل ؛ له خپلو ملګرو سره خبرې کول ؛ معلومول چې دوی ډېرې زیاتې کلمې لوستلی شي . - د زده کوونکو له خوا تولګي ته په جلا جلا ډول د هغو کلمو لوستل چې دوي یې پېژني . - د یوه یوه زده کوونکي له خوا د نظم د لومړیو شپږو بیتونو د لوستلو کوشش کول . - د یوه یوه زده کوونکي له خوا د دوو دوو بیتونو لوستل .	مشق پانه پ۲ - ۱ - ۱

- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د تګ را تګ د مختلفو ذریعو مقایسه وکړي ؛ مثلاً : • کومې ذریعې د سورلیو له پاره دي او کومې د سامان وړلو راوړلو له پاره ؟ • کومې ورو او کومې تېزې ځي ؟ • کومې پر مځکه ، کومې په هوا او کومې په اوبو کې ځي ؟ • کومې په سړکونو ځي ، کومې د اوسپنې پر کربنو ځي ؟ • کومې د اوږده مزل له پاره دي او کومې د لنډ مزل له پاره؟	- له غوښتل شویو ډولونو سره سم د تګ راتګ د مختلفو وسیلو مقایسه کول ؛ مثلاً : بسونه د سورلیو له پاره دي او لاري د سامان وړلو راوړلو له پارهلاري تېزې او د غوایانو ګاډي ورو ځي او داسې نور .	
	۳. د اړوندو کلمو لوستل او لیکل :	
- له زده کوونکو غوښتل چې د مشق پاڼې په آخر کې کلمې ولولي او پر توره تخته د لیکلو له پاره په کې د مشکلو کلمو غوښتنه وکړي . - مشکلې کلمې پر توره تخته لیکل ؛ پو په بل پسې په لوستلو کې د ماشومانو رهنمایي کول . - له زده کوونکو غوښتنه کول چې ورومبې پر سلېټونو د مشکلو کلمو مشق وکړي او بیا په مشق پاڼه کې د اړوندو رسمونو لاندې تولې کلمې ولیکي ؛ په آخر کې له اندیوال سره د تولو کلمو د لوستلو مشق کول .	- کلمې لوستل ، د ضرورت په وخت کې د مرستې غوښتنه کول . - مشکلې کلمې یوه په بلې پسې لوستل . - له غوښتنې سره سم کار کول : الف – پر سلېټونو د مشکلو کلمو مشق کول . ب – تولې کلمې په مشق پاڼه کې د رسمونو لاندې لیکل . ج – له یوه اندیوال سره د تولو کلمو د لوستلو مشق کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۱ توره تخته سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۱

(۱) درسي پلان پ۲ – ۵۰ – ۱ او د هغه تعقیبي درسونه د تګ راتګ له وسیلو سره سرو کار لري او دوه اړخونه یې مهم دي چې د دې عمر ماشومان پرې پوهېدلې شي : الف – په رسمونو کې د حمل و نقل مختلفې وسیلې لیدلې کیږي چې له ساده ګاډو (کراچیو) څخه تر الوتکې پورې د دوی تاریخي وده ښیي . ب– خلك د حمل و نقل وسیلو ته د دې له پاره ضرورت لري چې له نورو خلکو سره رابطه ولري او هغه مالونه له یو بل سره تبادله کړي چې هر چېرته نه پیدا کیږي .

(۲) له دي کيسي څخه به زده کوونکي دا زده کړي چې په پخوا زمانو کې سفر کول او د شيانو وړل او راوړل د نن ورځې په نسبت ډېر سخت وو او د حمل و نقل کومې ذريعې چې نن موږ ته عادي ښکاري په هغو ورځو کې نه وې .

(۳) د کيسې په باره کې ممکن سوالونه : سليم په کومه زمانه کې ژوند کاوه ؟ د سلم پلار چېرته سفر کړی و ؟ سليم ولې خپه وه ؟ پلار يې کله بېرته راغی ؟ سليم له پلار څخه څه پوښتنه وکړه ؟ ، پلار د خپل سفر په باره کې څه وويل ؟ دغه سفر ولې دومره ګران و ؟ دغه سفر څومره موده ونيوله ؟

د مکې معظمې سفر

په پخوا زمانه کې يو هلك و ، سليم نومېده . په يوه کلي کې اوسيده . کله چې د اوو کالو شو نو پلار يې له يوې قافلې سره ملګری شو او حج ته روان شو . ډېره موده وشوه چې پلار يې را نغی . سليم ورپسې ډېر خپه و . کله کله به يې په زړه کې دا خبره راغله چې خدای مه کړه پلار يې چېرته مړ نه وي . سليم په دې فکرونو کې وو او هره ورځ به له کلي سره نژدې يوې غونډۍ ته خوت . آخر پسرلی شو . يوه ورځ چې سليم غونډۍ ته وخوت ګوری چې يوه قافله را رولنه ده . په زړه کې يې وګرځېده چې که دا قافله يې له کلي سره نژدې ودرېده نو خامخا به يې پلار هم ورسره وي . قافله ودرېده او يو سړی تري د کلي په طرف روان شو . سليم په منډه منډه له غونډۍ څخه ور کوز شو او د دغه سړي خواته ور غی . چې ګوري پلار يې و . ژر ورغاړېوت . پلار يې ډېر وخت په غېږ کې نيولی و . کورته ورسېدل . د کلي خلك ډلې ډلې مبارکۍ ته راتلل . سليم له پلار سره خبرو ته وخت نه موند . آخر چې مانښام شو نو له پلار څخه يې پوښتنه وکړه : " دا دا جانه ! تا په سفر کې دومره ډېره موده ولې تېره کړه ؟ " پلار يې مسکی شو او وه يې ويل : " بچيه ، مکه معظمه ډېره لرې ده او د زموږ مزل پلی او په اوښانو و . ته خو پوهېږې چې اوښان ډېر تيز نه شي تلی او چې سترې به شو يا به څوك ناروغه شو نو د مه به مو کوله . له اوچتو اوچتو غرونو څخه به اوړېدلو . لارې به يې سختې او نرۍ نرۍ وې . اوښانو به په سختۍ په کې مزل کاوه . سيندونه هم وو چې پلونه وربانديې نه وو . يا به مو تري لاره بدله کړه او په اوړه لاره به ولاړو او يا به په کښتيو او جالو کې ور څخه پورې وتلو . کله کله به راته د ډوبېدو خطر هم پېښ شو . په لاره کې و چې د بنتې او صحرا ګاني هم وې چې نه يې اوبه لرلې او نه ونې بوټي . له موږ څخه څو خله لاره غلطه شوه . اوبه هم راسره ختمې شوې . دغلته موږ په مرګ ووېرېدلو . خو د خدای ﷻ فضل و، آخر د مکې شريفې ښارته ورسېدلو . هلته مو دوې مياشتې تېرې کړې او د حج احکام مو تر سره کول . "

پلار يې ورته خبرې کولې او سليم تري سترګې نه اړولې . آخر پلار وويل : " بچيه ، د واپسۍ سفر هم همدوغومره سخت او اوږد و . آخر هغته کې مو ډېره دمه هم ونه کړه . ځکه چې سپتاسو د ديدن تېرې وو . " بيا يې زوی ته وويل چې بچيه ، اوس سترې يم ؛ نوري کيسې به درته وروسته وکړم . سليم ډېر خوشحاله و او خپلو ملګريو ته به يې د پلار د سفر کيسې کولې .

کلمې دې تر مربوطو رسمونو لاندې ولیکلې شي :

پ۲ | ۱ - ۵۰

د تګ راتګ وسیلې










بنیادم بحري جهاز بس حیوانات اورګاډی سایکل
رکشا جاله الوتکه موټرسایکل ګاډی لاری کشتی

موضوع : د حمل و نقل د وسيلو ضرورت

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : (د کار کتابونه به بند وي) : الف– يو زده کوونکی د حمل و نقل د يوې وسيلې نوم پر توره تخته ليکي ؛ نور يې لولي او د هغه په باره کې خپل معلومات وړاندې کوي . ب– په نورو زده کوونکو هم په همدغه طريقه د حمل و نقل د نورو وسيلو د نومونو ليکل جاري ساتل . ج – مکي ته د سفر کيسه بيا ويل .	توره تخته مشق پانه پ۲ – ۵۰ – ۱
۲. د حمل و نقل د وسيلو په ضرورت د پوهېدلو له پاره په مشق پانه پ۲ – ۵۰ – ۱ کار کول : الف – زده کوونکي د حمل و نقل هغه وسيله معلوموي او بحث وربانډي کوي چې د دوی په کلي يا نورو نژدې سيمو کې پيدا کيږي . ب – پر هغو شيانو خبرې کول چې د ټرانسپورټ دا وسيلې يې وړې راوړې ، مثلاً : ګنې خلك له يوه ښار څخه بل ته وړي ، لازې له داشونو څخه خښتې راوړي او داسې نور . (زده کوونکي به خان پوهوي چې دا ګاډي د کلي حاصلات نورو کليو ته او له نورو خايونو څخه د ضرورت وړ شيان خپل کلي ته راوړي) . ج – د حمل و نقل د هغو وسيلو په باره کې خبرې کول چې مسافر وړي راوړي : ويل چې خلك ولې سفر کوي ؟ دوی چېرته ځي ؟ د حمل و نقل کوم ډول ذريعې استعمالوي ؟ په خپلو تجربو خبرې کول .	
۳. په مشق پانه پ۲ – ۵۰ – ۲ د حمل و نقل وسيلې مقايسه کول : الف – مشق پانه مطالعه کول، پوهېدل چې د مشق پانې په ښي اړخ کې د حمل و نقل د وسيلو د رسمونو نومونه به د نامکمل جملو په خالي خايونو کې ليکل کيږي. ب – په ورومبي مثال پر توره تخته يو ځای کار کول . ج – له يوه انډيوال سره په خاموشۍ کار کول : نا مکملې جملې لوستل ؛ اړونده کلمې په خالي خايونو کې ليکل (د ټولو کلمو هجاګاني په مشق پانه پ۲– ۵۰ – ۲ کې موندلې شي. د – جملې يوه يوه ټولګي ته لوستل .	مشق پانه پ۲ – ۵۰ – ۲ توره تخته
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – يوې امثلا ته د تياري له پاره پر سلېټونو د مکملو جلمو د ليکلو مشق کول . ب – له يوه انډيوال سره د دغو جملو د لوستلو مشق کول (ورا په وار) .	سلېټونه

د تګ راتګ / حمل ونقل وسيلې دې سره مقايسه او نومونه يې دې په تشو خايونو کې وليکل شي :

	پ۲ ۵۰ – ۲
	..... له ..... څخه تېز ځي .
	..... سورلۍ او ..... سامان وړي .
	..... دري پايې او ..... څلور پايې لري .
	..... په اوبو او ..... په هوا کې ځي .
	..... له ..... څخه ورو ځي .
	..... له ..... څخه تېزه منډه وهي .

موضوع : د تګ راتګ د وسيلو وده ؛ يو متن لوستل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. له مشق پاڼې پ۲ – ۵۰ – ۲ څخه د څلورو جملو املا ويل (ښوونکی به اسانه جملې انتخابوي) ؛ املا ويل ، ليکل ، په معلومه طريقه يې کتل او سمول .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۲
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۳ کې د تګ راتګ د وسيلو په باره کې متن لوستل : الف – په معمومه طريقه نوې کلمې معرفي کول : تکل ، اسان ، اسانيتا ، بارونه ، شروع . ب – متن له يوه اندېوال سره په خاموشۍ لوستل . ج – زده کوونکو ته چې له متن څخه څه ور په زړه کېږي ، هغه ويل . د – دغه متن ټولګي ته لوستل : اول يوه يوه جمله او بيا دري دري يا څلور څلور جملې .	سلېټونه تخته مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۳
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه اندېوال سره يو خای د دغه متن لوستل (وار په وار). ب – د تګ راتګ د وسيلو څومره نومونه چې له يادې ورځې پر سلېټونو يې ليکل ؛ له يوه اندېوال سره يې کتل او سمول . (د ليکلو په وخت کې به د کار کتابونه بند او د کتلو او سمولو په وخت کې به پرانيستي وي) .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۳

پ۲ | ۵۰ ـ ۳

د تګ راتګ د وسيلو وده

رومبی د تګ راتګ وسيلې نه وې . خلک به له يوه ځای څخه بل ځای ته په پښو تلل . بارونه به يې په خپله وړل . بيايې دغه کارپه حيواناتو شروع کړ . د زياتې اسانتيا له پاره بنيادمانو سايکل ، ګاډی ، موټر ، الوتکه او داسې نورې وسيلې جوړې کړې .

د دغو وسيلو په مرسته د خلکو په منځ کې تګ راتګ زيات شو . د کليو او ښارونو تر منځ تګ راتګ اسان شو . د خلکو ژوند له مخکې څخه ډېر ښه شو .

انسان اوس هم د نورو وسيلو د جوړولو په تکل کې دی .

درسي پلان ۵۱ پ۲ – ۵۱ – ۱	موضوع : مشابه آواز لرونکي ببلا ببل توري (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- ويل چې تاسو بـه نـن د ځينـو تـورو آوازونـه او شکلونه تکراروئ . - [ل] پر توره تخته ليکل ، د نـوم او آواز پوښتنه يې له زده کوونکو څخه کول . (۲) - زده کوونکو ته ويل چې داسې کلمې ووايي چې په [ل] شروع کيږي . - ويـل چـې داسـې کلمـې ووايـي چـې پـه [ل] ختميږي . - يو په بل پسې د [ر ، م ، ن] د تکرارولو له پـاره په همدغه شان د زده کوونکو لارښوونه کول.(۲) - دغـه [ ] بې نقطو شکل پرتـه پر تـوره تختـه ليکل ، له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دې شـکل د تولـو حروفـو نومونـه او آوازونـه ووايي . - د نورو شکلونو په باره کې هـم شاګردان په دغـه طريقه رهنمايي کول [ح ، ر ، د ، س] .	*۱ . د حروفو تکرار :* - غوږ نيول . - دغه حرف پېژندل ، نوم يې اخيستل ، آواز يې ايستل (جلا جلا او په ګډه سره) . - هغـه کلمې چې پـه [ل] شـروع کيږي مونـدل او ويل . - هغې کلمې چې پـه [ل] ختميـږي مونـدل او ويل . - د دغـو حروفـو نومونـه اخيسـتل ، آوازونـه يـې ايستل ، کلمې ويل . - شکل يې پـېژندل ، د حروفـو د تعيـن لـه پـاره د ټکو مختلفې شـمېرې او ځايونـه معلومـول ، نومونه يې اخيسـتل ، آوازونـه يې ايستل (ب ، پ ، ت ، ټ ، ث) . - د مخکښې مشق په شان اړونده توري جوړول .	تـــوره تختـــه تـــوره تختـــه
- لاندې پنځه کلمې پر توره تختـه ليکـل : ځکـه ، ظريف ، ضد ، زرکه ، ذکر . (۳) - ويل چې دغـه کلمې تولګي تـه ولولي او معلوم کړي چې څه شی په کې مشترک دی (د ضرورت په اندازه مرسته کول) . - پنځه کالمونه پر توره تخته جوړول ، په هر کالم کې د دغـو کلمـو نـه يـو په کې ليکـل ؛ د سـر د حروفو د نومونو پوښتنه يې کول ، دغـه حروف د اړونده ستون دپاسه ليکل . - غوښتـل چـې د مشـق پـاڼې پ۲ – ۵۱ – ۱ کلمې له انډيوال سره يـو خای ولولئ او معلوم کړئ چې څه په کې مشترک دی . - زده کوونکوته ويل چې دغه کلمې تولګي ته ولولئ . - د زده کوونکـو رهنمـايي کـول چـې رومبـی ۵ الفاظ په صحيح ستونونو کې وليکئ ؛ په تـوره تخته اړوندو ستونونو کې دغه الفاظ ليکل . - زده کوونکو ته وښل چې ټول الفاظ د مشق پاڼې	*۲ . د مشابه آواز لرونکي تورو تر منځ توپير کول :* - د ښوونکي ليکلـو تـه کتـل ، دغـه کلمـې پـه خاموشۍ سره لوستل . - څو خلـه د دغـو کلمـو ټولـګي تـه لوسـتل ، معلومول چې د ټولو د سر آوازونه يـو ډل دي خو شکلونه يې بدل دي . - پـه غـور ورتـه کتـل ، کلمـې لوسـتل ، د سـر د حروفو نومونه يې اخيستل . - له انډيوال سره په خاموشۍ دغه کلمې لوستل ، معلومول چې دغه ټولې کلمې پـه يـوه شـان آواز شروع کيږي خو حروف يې مختلف دي . - څو څو خله دغه کلمې لوستل . - وروسـتۍ پنځه کلمې يـوه يـوه لوسـتل ، د سـر د حروفو نومونه يې اخيستل ، صحيح ستونونو ته اشاره کول . - په خاموشۍ سره کار کول ، پاس د مشق پاڼې له	تـــوره تختـــه مشـــق پـــاڼه پ۲ – ۵۱ – ۱ توره تخته

په صحيحو کالمونو کې وليکئ . - زده کوونکو ته ويل چې الفاظ ستون په ستون تولګي ته ولولئ .	سر څخه کلمې را نقلول او په صحيحو ستونونو کې يې ليکل . - ستونونه لوستل ، مقايسه کول ، اصلاح کول	مشق پانه پ۲ – ۵۱ – ۱
- زده کوونکو ته ويل چې ورومبی له انډيوال سره د کلمو د لوستلو او بيا يې پر سلېټونو د ليکلو مشق وکړي (د بلې ورځې د املا ليکلو له پاره).	*۳ . د لوستلو او ليکلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول : الف – دغه کلمې له يوه انډيوال سره لوستل . ب – پر سلېټونو يې د ليکلو مشق کول .	مشق پانه پ۲ – ۵۱ – ۱ سلېټونه

(۱) د حروفو له تکرارولو سره سره دا درسي پلان د حروفو له هغو آوازونو سره سرو کار لري چې زياتره وخت پرې زده کوونکي تېر ورځي : (الف) – ض ، ظ ، خ ، ذ ، ز . (ب) – ث ، ص ، س . (ج)– ط ، ت .(د)– پ ، گ .
زده کوونکي به په ليکلو کې په دې توپيرونو پوهول کيږي او دوی به د دې مشکلاتو مخنيوی زده کوي . د دې مقصد د حاصلولو له پاره په کار دي چې د خاصو مشقونو په ذريعه له داسې حروفو سره مخامخ شي ، لکه د دې حروفو او آوازونو مقايسه کول ، د دغسې کلمو لوستل او ليکل چې دا حروف لري . دا مشق پانې په لوستلو ، طبقه بندي کولو او ليکلو کې يو څو دا ډول مشقونه لري . داسې مشقونه لکه د حروفو آوازونه او حروف معلومول ډېرې توجه ته ضرورت لري . ښوونکی به دا ډول مشقونه په زده کوونکو د اوږده وخت له پاره نه کوي . له دې کبله دا درسي پلان او ورپسې درسونه يې نور مشقونه لري لکه د الفبې د حروفو ، نظمونو او د قياس کولو د لوبو تکرارول .

(۲) زده کوونکي زياتره د [ل ، ر ، ن ، م] آوازونه په احتياط سره نه باسي . له دې کبله به ښوونکی دې ته توجه کوي چې ماشومان په آوازونو کې فرق راولي او صحيح تلفظ يې وکړي.

(۳) ښوونکی به زده کوونکو ته دا تشريح کوي چې د دغو پنځو کلمو د سر د حروفو آوازونه يو بل ته سره ورته دي بلکې زده کوونکي به يې په خپله د راتلونکو مشقونو په ذريعه معلوموي .

د کلمو د سر د توريو نومونه دي واخيستل او کلمې دې په مربوطو ستونونو کې وليکلې شي :

پ۲ ۵۱ ـ ۱				
ځان	ضعيف	ذريعه	زمری	ظلم
ضرور	زرين	ځينې	ظالم	زوی	حيوانات
ذخيره	ظروف	زور	ذليل	ځای	ذمه
ځ	ذ	ز	ض	ظ

موضوع : مشابه آواز لرونکي توري ؛ نظمونه تکرارول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي ټول هغه توري پيدا کوي چې د [ز] په شان آواز لري او پر توره تخته يې ليکي (ض ، ظ ، غ ، ذ ، ز) . ب – د مشق پاڼې پ۲ – ۵۱ – ۱ څو کلمې د املا په توګه ويل (له هر ستون څخه دوه کلمې) ؛ املا ويل ، ليکل يې ، په معموله طريقه يې کتل . ج – د مشق پاڼې پ۲ – ۵۱ – ۱ کلمې ستون په ستون ټولګي ته لوستل .	توره تخته سلېټونه تخته مشق پاڼه پ۲ – ۵۱ – ۱ مشق پاڼه پ۲ – ۵۱ – ۲
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۵۱ – ۲ کار کول : مشابه آواز لرونکي توري : الف – مشق پاڼه مطالعه کول ، توري او د هغوی آوازونه معلومول ، پوهېدل چې [ږ] او [ګ] ، [ت] او [ط] ، [ث ، س او ص] مشابه آوازونه لري (۱) . ب – زده کوونکي د ښي اړخ کلمې په خاموشۍ سره لولي . ج – زده کوونکي کلمې د آوازونو مطابق ټولګي ته لولي ، وړومبۍ هغه کلمې چې د [ګ] آوازونه لري ، بيا هغه کلمې چې د [س] آوازونه لري او وروسې هغه کلمې چې د [ت] آوازونه لري. د – زده کوونکي په خاموشۍ سره کار کوي او کلمې په اړوندو ستونونو کې ليکي . هـ – زده کوونکي دغه ستونونه ټولګي ته څو څو ځله لولي .	
۳. نظمونه تکرارول : الف – ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې کوم نظم ور په زړه کېږي او له ياده يې ويلی شي ؟ ټبل ټبل زده کوونکي کوشش کوي چې له نظمونو څخه يو نظم ووايي ؛ ښوونکی او نور زده کوونکي مرسته کوي . ب – د تکرارولو له پاره يو نظم انتخابول: د [الله پاك] يا د [پېغمبر(ص)] ، يا د موسم په باره کې نظم ؛ دغه نظم به د ښوونکي او زده کوونکو له لوري ټولګي ته څو ځله لوستل کېږي او بيا به يې زده کوونکي له ياده د ويلو کوشش کوي .	

(۱) ښوونکی به دا خبره له ياده نه باسي چې د ځينو پښتني سيمو خلك د [ګ] او [ږ] په آوازونو کې توپير کوي .

په سر کې د هم آوازه توريو لرونکې کلمې دي په خپل خپل ځای کې وليکلې شي :

ګ	ږ	ت	ط

س	ص	ث

پ۲ | ۵۱ ـ ۲

ثواب طوطي

ږيره صحت

تور ګڅ

ثنا سپين

تخم ږمنځ

صفت ګوپي

طاوس سبا

موضوع : مشابه آواز لرونکي توري : د قياس کولو يوه لويه کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – ببل ببل زده کوونکي هغه نظم وايي چې تېره ورځ يې له ياده ووايه . ب – ببل ببل زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۵۱ – ۲ ستونونه خو خله تولګي ته لولي . ج – (د کار کتابوونه به بند وي) ښوونکی د مشق پاڼې پ۲ - ۵۱ – ۲ يوه کلمه وايي ، يو زده کوونکي يې پر توره تخته ليکي ، نور يې ګوري ، اصلاح کوي يې ؛ زده کوونکي يې د سر توری معلوموي . د – د مشق پاڼې په نورو کلمو مشق جاري ساتل .	مشق پانه پ۲ – ۵۱ – ۲ توره تخته
۲. په مشق پانه پ۲ - ۵۱ – ۳ کار کول : د کلمو د سر آوازونه معلومول : الف – مشق پانه مطالعه کول ، معلومول چې مشق پانه دوه برخې لري : په پاسنۍ برخه کې جملې او په لاندينۍ برخه کې خالي ستونونه . ب – ورومبې جملې له يوه انديوال سره او ، بيا يې تولګي ته لوستل . ج – هغه کلمې لوستل چې کربنې تر لاندې کښلې شوې دي ؛ د دغو کلمو د سر توري معلومول . د – په سر کې د هم آوازه تورو لرونکي کلمې په خپل خپل خای کې ليکل . هـ – ښوونکی ځينې هغه کلمې بيا بيا تولګي ته لولي چې کربنه تر لاندې راکښلې شوې ده ، زده کوونکي يې د سر د آواز مطابق د ليکلو ستون وايي . و- انديوالان په خاموشی سره يو خای کار کوي : په اړوندو ستونونو کې هغه کلمې ليکي چې کربنې تر لاندې راکښلې شوې دي . ز – زده کوونکي ستونونه بيا بيا تولګي ته لولي ، نوري يې ګوري ، اصلاح کوي يې .	مشق پانه پ۲ – ۵۱ – ۳
۳. د قياس کولو يوه لويه کول : په درسي پلان پ۲ – ۴۹ – ۱ کې بيان شوي ځناور قياس کول .	مشق پانه پ۲ – ۵۱ – ۳
۴. پر سلېټونو د مشق پاڼې پ۲ – ۵۱ – ۳ د کلمو د ليکلو مشق کول .	سلېټونه

د تېر درس په شان دي کار وشي :

پ۲ ۵۱-۳	
طوطي شين رنګ لري .	سهار هوا ښه وي .
ظلم ښه نه دی .	ډيره پر مخ ښه ښکاري .
ثنا خدای(ج) لره ښايي .	طاوس يو ښکلی مرغه دی .
زلمی ښه هلک دی .	سايکل د سپرلۍ له پاره وي .
ګډ وډه خوري .	خان په هر چا ګران وي .
ګل په باغ کې ښه ښکاري .	ذخيره کې ډيري اوبه وي .
زرين ښه هلک دی .	ځنګل ډيري ونې لري .
توت يوه ښايسته ونه ده .	صفا جامې ښې ښکاري .
ضعيف سړی ډير ورو ځي .	تله د تول له پاره وي .

ز	س	گ	ت

درسي پلان ۵۲ پ۲ – ۵۲ – ۱	موضوع : د روژې په میاشت کې د سپوږمۍ لیدل (۱)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
- ویل چې نن به زده کوونکي یوه بله کیسه اوري - کیسه لوستل . - له زده کوونکو څخه د تبصرو او سوالونو غوښتنه کول ؛ د بحث رهنمایي کول ؛ دسوالونو ځوابونه ورکول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د سپوږمۍ یا د روژې په باره کې په خپلو تجربو خبرې وکړي . - کیسه بیا لوستل . - له زده کوونکو څخه د کیسې په باره کې د سوالونوپوښتنه کول، ممکن سوالونه دادي (۲) : • بابا او اسلم ولې یو ماښام بام ته وختل؟ • بابا یې اسلم ته د روژې په باره کې څه وویل ؟ • اسلم ته د روژې په میاشت کې څه شی مختلف و ؟ • اسلم د سپوږمۍ او داسې نورو په باره کې څه زده کړه ؟ - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د روژې میاشت تر څومره مودې پورې وه او خلکو ته څنګه معلومیږي چې دا میاشت کله شروع کیږي او کله ختمیږي .	*۱ . په یوه کیسه ځان پوهول :* - غوږ ورته نیول ، په خپلو خپلو ځایونو کښاستل . - په توجه ورته غوږ نیول . - آزادې تبصرې کول؛ د سوالونو پوښتنه کول؛ غوږ نیول . - د جلا جلا زده کوونکو له خوا خپلې تجربې بیانول ، د نورو له خوا ورته غوږ نیول . - کیسې ته بیا غوږ نیول . - د سوالونو ځوابونه ورکول ، غوږ نیول ، تبصره کول ، د ډېرو زده کوونکو له خوا برخه اخیستل . - صحیح ځوابونه معلومول ؛ ځان پوهول چې د روژې مبارکه میاشت ۳۰ ورځې وي او د دې تعین د سپوږمۍ په حرکت او بهلا بهلو مرحلو باندې کیږي .	کیسه له درسي پلان سره ده
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پ۲ – ۵۲ – ۱ رسمونه مطالعه کړي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د سپوږمۍ تشریح وکړي ؛ زده کوونکي رهنمایي کول چې د سپوږمۍ د مرحلو بیان په ښه طریقه وکړي .	*۲ . دا زده کول چې د سپوږمۍ شکل په یوه میاشت کې څنګه بدلیږي :* - رسمونه مطالعه کول ، د سپوږمۍ مختلفې مرحلې پېژندل ، هغه خلك پېژندل چې سپوږمۍ ته ګوري . - تفصیلات ، په خاصه توګه د سپوږمۍ مختلفې مرحلې بیانول .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۲ – ۱

موضوع : د خينو هغو كلمو تكرارول چې د [ی] توري يې په آخر كې راغلى وي ؛ په پوهې سره لوستل ؛ د رسمونو اړوندې جملې پيدا كول

د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. الف – له مشق پانې پ۲ – ۵ – ۳ څخه د ښوونكي له خوا د څلورو كلمو املا ويل چې د [ی] توري يې په آخر كې دى او مختلف آوازونه لري ؛ د زده كوونكو له خوا يې پر سلېټونو ليكل . ب – پر تخته د كلمو مقايسه كول . ج – د ښې ښې زده كوونكي له خوا چې ورته اشاره كيږي د ښې ښې كلمې لوستل . د – كله چې ورته اشاره كيږي نو په ګډه سره يې لوستل .	تخته سلېټونه
۲. مشق پانه پ۲ – ۵ – ۴ مطالعه كول او د رسم تشريح كول .	مشق پانه پ۲ – ۵ – ۴
۳. د مشق پانې متن لوستل : الف – د زده كوونكو له خوا د عنوان لوستل ؛ د كار معلومول او تشريح كول . ب – ټولګي ته د لومړۍ جملې لوستل ؛ فيصله كول چې دغه جمله له رسم سره سمې خورې او كه نه . كه ورسره سمې خورې نو د صحيح نښه (✓) پرې لګول او كه سمې ورسره نه خورې نو چليپا (×) پرې كښل . ج – د دوه دوه كسانو له خوا په خاموشۍ سره د جملو لوستل ؛ صحيح نښه پرې لګول ، چليپا كول . د – يوه يوه جمله ټولګي ته لوستل ؛ په تكرار سره يې لوستل ؛ نوې كلمې په نښه كول ؛ فيصله كول چې پر كلمو باندې د صحيح نښه وشي او كه د چليپا .	مشق پانه پ۲ – ۵ – ۴
۴. د رسم رنګول .	
۵. يوه يا دوه جملې سلېټونو ته نقل كول ؛ كوشش كول چې دغه جملې له يادې وليكي .	سلېټونه

جملې دې له رسمونو سره په ارتباط كې وڅېړئ او دروغ ، رښتيا يې دې په نښه شي :

×	استاد چارټ ته ګوري .
✓	پيشو منډې وهي .
	درخو شمېر كوي .
	ماشومان فوټبال كوي .
	ماشومان لاسونه مينځي .
	ماشومان خبرې كوي .
	ماشومان ډوډۍ خوري .
	كريم كتاب لولي .
	سړی مېوه تلي .
	طوطي په ونه كې ناست دی .

- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې د پاسنۍ برخې کلمې ولولي ؛ دا پر توره تخته لیکل . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې معنا او تشریح کړي (مرسته کول) - تشریح کول چې سپوږمۍ هره میاشت په همدې طریقه خپل شکل بدلوي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د سپوږمۍ مختلف شکلونه پر توره تخته جوړ کړي ؛ زده کوونکي رهنمایي کول چې په دې دوو شکلونوکې توپیروکړي.(۳)	- کلمې تولګي ته لوستل . - په کلمو بحث کول او ځان پرې پوهول ، په خاصه توګه د [پوره کیږي]او [کمیږي]کلمې. - غوږ نیول ، ځان پوهول چې هره میاشت د سپوږمۍ شکل په دغه طریقه بدلیږي . - د دوو زده کوونکو له خوا د تولګي مخې ته راتلل، د غوښتنې مطابق شکلونه جوړول ، د نورو ورته کتل ، په دوو شکلونو بحث کول ، توپیر یې کول .	توره تخته توره تخته
- زده کوونکو ته ویل چې اوس به دوی د مشق پاڼې په آخر کې متن لولي ؛ په معموله طریقه دنویو کلمو معرفي کول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې متن له یوه اندیوال سره ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې متن تولګي ته ولولي . - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې آیا دوی هم سپوږمۍ کتلې ده ؟ او دا ویل چې دا خپل شکل څنګه بدلوي ؟ (۴)	*۳. یو اړونده متن لوستل :* - غوږ نیول ، نوې کلمې یوه په بلې پسې لوستل : پوره کیږي ، کمیږي ، څوارلسمه ، اوومه ، یوویشتمه، اته ویشتمه، بام، څتل . - له یوه اندیوال سره متن لوستل . - د جلا جلا زده کوونکو له خوا لوستل، د نورو له خوادلوستلو په وخت کې له کربنې سره ګوته وړل - د سپوږمۍ په کتلو بحث کول ؛ متفق کېدل چې دوی به هم سپوږمۍ ته ګوري .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۲ – ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې : الف – له یوه اندیوال سره د متن د لوستلو مشق وکړي . ب – د مشق پاڼې دمتن او د کلمو د لیکلو مشق پر سلیټونو وکړي .	*۴. د لیکلو او لوستلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۲ – ۱ سلیټونه

۱. درسي پلانونه پ۲ –۵۲ – ۱ او پ۲ – ۵۳ – ۱ یو واحد دی چې په کې دا درې موضوعګاني شاملې دي : د سپوږمۍ بېلا بېلې مرحلې ، د روژې مبارکه میاشت او وړوکی اخر . درسي پلان پ۲ – ۵۲ – ۱ د ښوونکي د لوستلو له پاره له یوې کېنې سره اړه لري چې د زده کوونکو د تجربو په باره کې ده . کیسه د روژې د میاشتې په دوران کې د سپوږمۍ مختلفې مرحلې ښیي . زده کوونکو ته دا ور زده کول په کار دي چې سپوږمۍ مختلفې مرحلې لري ، دا د ۲۹ یا ۳۰ ورځو د مودې تر پوره کولو وروسته بیا هم په دغه طریقه راخیژي او په روژه سربېره نورې میاشتې هم د سپوږمۍ مختلفې مرحلې لري .

۲. د هر یوه سوال وړ خوابونه کېدای شي . په دې اساس وړ زده کوونکي په کې برخه اخیستی شي . دا خبره باوري ده چې نور سوالونه هم ممکن دي ، خو دا سوالونه به داسې وي چې خوابونه یې یوازې [هو] یا [نه] نه وي .

۳. دا به له زده کوونکو سره مرسته وي چې د میاشتې د ورومبۍ شپې سپوږمۍ له لور سره مقایسه کړي . که څوک لور په صحیح طریقه په ښې لاس کې ونیسي او ورته وګوري نو کټ مټ د میاشتې د ورومبۍ شپې د سپوږمۍ په شان به وي . که د دې بر عکس، هغه لور په کین لاس کې ونیسي او ورته وګوري نو دا به د میاشتې د آخرۍ ورځې د په شان وي . که ښوونکی غواړي چې لور د یاداشت د مرستې په توګه استعمال کړي نو هغه دې یو لور ټولګي ته راوړي .

۴. سپوږمۍ ته بیا کتل د زده کوونکو له پاره د طبیعت د مشاهده کولو یوه ښه موقع ده . څه چې زده کوونکي په ښوونځي کې زده کوي د دې تصدیق د دوی د مشاهدو په وسیله کیدای شي . په دې طریقه زده کړه تر هغې زده کړه ډېره اغیزمنه وي چې د کتابونو په وسیله یې تر لاسه کوي . ښوونکی دې د دې ذکر وکړي چې کله کله د شپې سپوږمۍ ډېره وروسته ښکاره کیږي . دغه وخت ماشومان ویده وي . البته سحر وختي یې کتلای شي .

د روژې میاشت

مانښام و . اسلم له خپل بابا سره په کور کې ناست و . د باندې چغې شوې : " هغه ده میاشت را وخته ! هغه ده میاشت را وخته ! " دوی ژر پاځېدل او بابا یې اسلم د کور بام ته وخېژاوه . بابا یې د سپوږمۍ د لیدلو له پاره اسمان ته وکتل خو وه یې نه لیدله . څه شببه پس یې وویل : " هو ، هغه ده میاشت ! " او ژر یې لاسونه د دعا له پاره جګ کړل . اسلم یې د بابا دعا ته حیران شو خو په خپله یې ونه لیدله . تر دعا وروسته بابا یې اسلم په غېږ کې اوچت کړ او سپوږمۍ ته یې څو ځله اشاره وکړه . آخر اسلم هم سپوږمۍ ولیدله . چغه یې کړه : " دا خو ډېره نرۍ ده ! داسې ښکاري لکه لور ! " بابا یې ویل : " هو بچیه، هره میاشت سپوږمۍ همدغه شان راخیژي خو له یوې شپې څخه بلې ته لږه لږه غټیږي . دا د روژې بختوره میاشت ده چې مسلمانان په کې روژې نیسي . " اسلم سر وخواځاوه خو د خبرې په مطلب پوه نه شو . هغه ولیدل چې مور پلار او بابا یې ډوډۍ خوري . د هغه خوب لا پوره شوی نه و ، سترګې یې مښلې او پوښتنه یې وکړه : " تاسو دومره وختي ډوډۍ ولې خورئ ؟ " بابا یې ورته وویل : " دې ته پېښنمی وایي . ما خو تاته ویلي وو چې نن د روژې بختوره میاشت شروع کیږي . دا ډوډۍ چې مور وخوړه نو ټوله ورځ به د مانښام تر آذان پورې نه څه خورو او نه څه څښو . " سهار او غرمه اسلم یوازې ډوډۍ وخوړله . چې مانښام شو په دستر خوان د خوراک رنګ رنګ شیان پراته وو . ټول ترې چاپېره ناست وو او د مانښام آذان ته یې انتظار کاوه . چې آذان وشو نو له اذان سره سم یې په خوراک کې شروع وکړه . تر دې وروسته یې بیا لمونځ وکړ. اسلم د سپوږمۍ خبره نه هېروله او هر مانښام به د سپوږمۍ د کتلو له پاره بام ته ختلو . خو سپوږمۍ به ورته تر یوې شپې بلې ته غټه ښکارېده . کله یې چې د اومې شپې سپوږمۍ ولیده نو نیمه وه او رڼا یې هم ډېره شوې وه . د اسلم اوس ځان ته هم فکر شو .

تنګ شو یوازې ډوډۍ خوړلو ورته خوند نه ورکاوه . یو مانښام چې دوی سپوږمۍ ته کتل اسلم خپل بابا ته وویل : " بابا ، سبا به زه هم له تاسو سره روژه نیسم . " اسلم سبا ته روژه شو او ډېر خوشحال و . خو چې غرمه شوه او ګرمي ورو ورو زیاتېده نو اسلم لوږې او تندي واخیست . د اوبو یوه ډک منګي ته یې پام شو . ډېر صبر یې وکړ خو ونه شوه . آخر یې له منګي څخه اوبه وڅښلې . بابا یې ولید چې اسلم اوبه څښي . ویې خندل او ورته یې وویل : " روژه نیول ښه کار دی او د خدای حکم دی خو نیول یې د ماشومانو له پاره سخت دي . ته لا اوس ورکوټی یې . چې غټ شې نو بیا به له مور سره روژې نیسې . " بل مانښام یې چې سپوږمۍ ته بیا وکتل نو تکه سپینه ښایسته او د یوه تالې په شان غونډه وه . هر طرف یې رڼا کړې و . خو اسلم د روژې په فکر کې و او پوښتنه یې وکړه : " تاسو به اوس ټول عمر د ورځې نه څه خورئ او نه څه څښئ " بابای یې مسکی شو او ویې ویل : " سپوږمۍ ته وګوره ! په اول کې د لور په شان نرۍ وه . اوس پوره ګرده ده . دا د څوارلسمې شپې

سپوږمۍ ده . سر له سبا به دا له يوې شپې بلې ورځ وروکې کيږي . آخر به د لومړۍ مياشتې په شان نرۍ شي . بيا به يوه ورځ غيبه وي . کله چې يې مور بيا ووينو نو روژې به ختمې وي . "

د اسلم زړه ډېر کېده چې د بلې شپې سپوږمۍ ووينې . چې مياشتې شو نو بام ته ژر وخوت ويې ليده چې سپوږمۍ کمه شوې ده . د تېرې ورځې په شان غونډه نه ده . اسلم د روژو د ختمېدلو په انتظار کې و . څکه چې هغه تنګ شوی و . يوازې خوراک خوند نه ورکاوه . سپوږمۍ له يوې شپې بلې ته وړه کېدله . هفته پس نيمه شوه . اوس خلکو د اختر خبرې کولې . ښځو به ټوله ورځ د اختر جامې ګنډلې . اسلم ته يې هم يوه ښايسته جوړه وګنډله يو مياشتې سپوږمۍ همدغسې وړه وه لکه د وروستۍ مياشتې . اسلم په دې فکر کې و چې که دا سپوږمۍ غيبه شي نو آيا بيا به راخيژي ؟ دا هر څه د ده له پاره عجيبه غوندې و .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشې او د شاوخوا عبارتونه يې دې تشريح شي :

اسلم او بابا په روژه کې هره شپه بام ته ختل . سپوږمۍ به يې کتله . دوی به ليده چې هره شپه خپل شکل او ځای بدلوي .

موضوع : د روژې مياشت

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف - زده کوونکي د تېرې ورځې کيسه (د روژې مياشت) بيا وايي / کوي . ب – زده کوونکي د مشق پانې پ۲ – ۵۲ – ۱ متن لولي .	مشق پانه پ۲ – ۵۲ – ۱
۲. په مشق پانه پ۲ – ۵۲ – ۲ کار کول : الف – زده کوونکي مشق پانه مطالعه کوي ؛ د سپوږمۍ مختلف شکلونه پېژني او نومونه يې اخلي . ب – زده کوونکي د سپوږمۍ د دې شکلونو او د روژې د مياشتې رابطه تشريح کوي . ج – په کار ځان پوهول : د سپوږمۍ د هرې مرحلې له پاره اړونده جمله پېدا کول . د – زده کوونکي له اندېوال سره جملې لولي او د اړوندو تصويرونو مطابق شمېرې ورکوي . هـ – زده کوونکي څو څو ځله جملې يوه په بلې پسې تولګي تـه لولي ؛ يـو زده کوونکي يـوه جمله .	مشق پانه پ۲ – ۵۲ – ۲
۳. په مشق پانه پ ۲ – ۵۲ – ۳ کار کول (۱) : الف – عنوان لوستل . ب – په معموله طريقه کلمې معرفي کول : پېښنمی ، روژه تيان ، روژه ماتي ، ګناهونو ، اذان ، معافي ، تلاوت . زده کوونکي د نويو کلمو تشريح کوي ، ښوونکی له زده کوونکو سره مرسته کوي چې نه يوازې کلمې ولولي ، بلکې د دوی په معنا هم وپوهېږي . ج– زده کوونکي له يوه اندېوال سره متن لولي ، ښوونکی يې د ضرورت په وخت کې مرسته کوي (متن به بله ورځ تولګي ته لوستلی شي) .	مشق پانه پ۲ – ۵۲ – ۳
۴. د لوستلو او ليکلو مشق کول: الف – له مشق پانې پ۲ – ۵۲ – ۲ څخه د جملو د ليکلو مشق کول. ب – له يوه اندېوال سره د مشق پانې پ۲ – ۵۲ – ۳ د متن د لوستلو مشق کول ، (وار په وار).	مشق پانه پ۲ – ۵۲ – ۲ مشق پانه پ۲ – ۵۲ – ۳

(۱) د ماشومانو د عمر په لحاظ د ټولو تفصيلاتو تشريح نه شي کېدای او نه د روژې د مياشتې مکمل مذهبي پس منظر بيانيدلای شي . سره له دې چې دوی خپل شاوخوا خلك په روژې نيولو ويني خو د دې عمر ماشومان روژې نه شي نيولی.


د روژې مياشت او سپوږمۍ
پ۲ ۵۲-۳
يوه شپه سپوږمۍ نه لېدل کېږي .
دا د اته ويشتمې شپې ده .
دا بله نوې مياشت ده .
دا د لومړۍ شپې سپوږمۍ ده .
دا د خوارلسمې سپوږمۍ ده .
دا د اوومې شپې سپوږمۍ ده .
دا سپوږمۍ د يوويشتو شپو ده .

د روژې مياشت

پ۲ | ۵۲-۳

د روژې مياشت په کال کې يو ځل راځي . لويان روژې نيسي ؛ ماشومان يې نه نيسي . د هرې ورځې د روژې شروع د سهار د لمانځه له اذان څخه کيږي . مخکې له دې چې د سهار د لمانځه آذان وشي ، روژتيان پېښنمی کوي . سهار چې ملا آذان وکړي نو د مابنام د لمانځه تر اذان پورې بيا روژتيان نه څه خوري او نه څه څښي . د مابنام د لمانځه له اذان څخه مخکې په ډېره مينه د روژه ماتي تياری کوي : د ماسخوتن له لمانځه سره د تراويح لمونځ هم کوي . د قرآن شريف تلاوت کوي او له خدای څخه د خپلو ګناهونو معافي غواړي .

دا ډېره بختوره مياشت ده . قرآن شريف په همدې مياشت کې نازل شوی دی.

موضوع : د روژې ميا شت : د [و] د تورې مختلف آوازونه

د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکو ته چې د روژې د مياشتې او د روژې په باره کې څه يا د دي هغه وايي ، يو زده کوونکی يو بيان . ب – زده کوونکې د مشق پاڼې پ۲ – ۵۲ – ۳ متن تولګي ته څو خله د درې يا څلورو جملو په اندازه په برخو برخو کې لولي .	مشق پاڼه پ۲– ۵۲ – ۳
۲. د [و] د مختلفو آوازونو پېژندل (د کار کتابونه به بند وي) : الف– ښوونکی لاندې کلمې پر توره تخته ښه ښايسته ليکي : کوي ، مور ، امبور ، پلو ، لو ، ور ، جارو . ب– زده کوونکې دغه کلمې تولګي ته لولي . ج – ښووتکی پوښتنه کوي چې په هره کلمه کې کوم توری بيا بيا راغلی دی ، زده کوونکي يې معلوموي او وايي : [و] . د- زده کوونکي يوه په بلې پسې د دې کلمو تلفظ په وضاحت سره کوي او د [و] د څلورو مختلفو آوازونو فرق ښيي لکه په دې کلمو کې : کوي، مور، امبور ، پلو . هـ – ښوونکی پر توره تخته څلور ستونونه جوړوي او لکه د مشق پاڼې پ۲ – ۵۲ – ۴ په هر ستون کې يوه کلمه ليکي ، توره تخته به داسې ښکاري :	توره تخته
کوي | مور | امبور | پلو	توره تخته
زده کوونکي پاتې څلور کلمې تولګي ته لولي او پوښتنه کوي چې دا کلمې له کوم ستون سره اړه لري ؟ ښوونکی يې په اړونده ستونونو کې ليکي .	
۳. په مشق پاڼه پ۲- ۵۲ –۴ کار کول : الف – زده کوونکي مشق پاڼه مطالعه کوي ، ستونونه پېژني، دا د تورې تختې د ستونونو په شان دي ، په کار ځان پوهوي ؛ پاسنۍ کلمې به په صحيح ستونونو کې ليکلي کيږي . ب – زده کوونکي کلمې يوه په بلې پسې لولي ، او په ګوته کوي چې دوی د ليکلو له پاره له کومو ستونونو سره اړه لري . ج – زده کوونکي په خاموشۍ کار کوي : دوی د مشق پاڼې له پاسنۍ برخې څخه کلمې په صحيح ستونونو کې ليکي . د – زده کوونکي ستون په ستون کلمې تولګي ته څو خله لولي .	مشق پاڼه پ۲– ۵۲ – ۴
۴. د ليکلو مشق کول : د مشق پاڼې پ۲ – ۵۲ – ۴ کلمې پر سلېټونو مشق کول .	سلېټونه

کلمې دي د [و] د مختلفو آوازونو له مخې په مربوطو ستونونو کې وليکلې شي :

پ۲ ۵۲ـ۴			
الات امبور ښارو خوښ پلو			
جارو ولې مور و خوک واده			
لو سودا لور نازو بودا کوي			
کوي	مور	امبور	پلو

درسي پلان ۵۳ پ۲ - ۵۳ - ۱	موضوع : د واړه اختر ورځ (دماشومانو له پاره کیسه) (۱)	
د ښوونکي فعالیت	د زده کوونکو فعالیت	درسي مواد
- له زده کوونکو غوښتل چې د روژې د میاشتې په باره کې څه ور په زړه کیږي. هغه ووایي . - له زده کوونکو پوښتل کول چې تر روژې وروسته څه راځي؟ که ضرورت وو، زده کوونکو ته د اسلم او د هغه د بابا کیسه ور یادول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د واړه اختر په باره کې څه معلومات لري او څه ور په زړه کیږي هغه ووایي ؛ د یوه بحث رهنمایي کول .	۱ . د وړوکی اختر په هکله خبرې کول : - د ښه ښه زده کوونکي بیانونه ورکول ؛ د نورو غوږ نیول ، تبصرې کول . - وړاندې زونه کول ؛ معلومول چې تر روژې وروسته څه راځي . - د وړوکی اختر په باره کې د خپلو تجربو بیانول : د اختر له پاره تیاری کول ، څه چې لویان او ماشومان د اختر په ورځ کوي او داسې نور .	
- ویل چې تاسو به اوس په دې باره کې یوه کیسه ولولئ چې اسلم د اختر ورځ څنګه تېروي خو لومړی به یو څو نوي کلمې زده کړئ . - نوي کلمې په معموله طریقه معرفي کول : راپاڅاوه، مسکي ، مېله ، وریللي ، مېانچي ، پراتې . د ضرورت په اندازه مرسته کول ، کلمې تشریح کول ، بې له ترتیب څخه پر توره تخته کلمو ته اشاره کول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له انډیوال سره په مشق پاڼه کې کیسه ولولي (مرسته کول). - زده کوونکو ته ویل چې دا کیسه مو اوس ولوسته له دې څخه درته څه په یاد پاتې شو ؟ (۲) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کیسه د دري یا څلورو جملو په اندازه په برخو برخو تولګي ته ولولي (کیسه به څو خله لوستلې کیږي) . - له زده کوونکو غوښتل چې دوی څنګه اختر کوي هغه د سلیم له اختر سره مقایسه کړي.	۲ . د یوې کیسې لوستل : - غوږ نیول . - ښه ښه نوي کلمه لوستل ، د نامعلومې کلمې په باره کې وضاحت غوښتل . له اشاري سره سم په ګډه لوستل . - کیسه په خاموشۍ سره لوستل ؛ د ضرورت په وخت کې له انډیوال یا ښوونکي پوښتنه کول . - څه چې یې له کیسې څخه په ذهن کې پاتې شوي هغه ویل ؛ په ساده بیانونو ، تبصرو یا صلاحاتوکې د ډېرو زده کوونکو برخه اخیستل. - د ښه ښه زده کوونکي له خوا لوستل ؛ د نورو غوږ نیول ، له لوستلو سره ګوته وړل راوړل ؛ اصلاح کول (که ضرورت وو) . - خپل اختر په کیسه کې د سلیم له اختر سره مقایسه کول .	توره تخته مشق پاڼه پ۲ - ۵۳ - ۱

- د راتلونکي ورځي لـه پـاره د لوسـتلو د يـوي مقـابلي اعـلان کـول ؛ لـه زده کوونکـو څخـه غوښتنه کول چې د کيسي د لوستلو مشق وکړي او تر هغې وروسته دې پر سلېټونو د آخريـو درې جملو د ليکلو مشق وکړي .	۳ . د لوستلو او ليکلو مشق کول : - غوږ نيـول ؛ لـه غوښتنـي سـره سـم کـار کـول : الف – لـه يوه انديوال سره د کيسـي د لوسـتلو مشق کول . ب – د کيسي د آخريو درېو جملـو (دا وړوکی اختر دی . په ده پسې بل را روان دی. هغه ته لوی اختر وايـي .) د ليکلـو مشـق پـر سلېټونو کول .	مشـق پـانه پ۲ – ۵۳ – ۱ سـلېټونه

(۱) دا درسي پلان هم د تېر درسي پلان په شان په کيسه متمرکز دی . دا ځل کيسه د واړه اختر په باره کې ده او په داسې ډول ليکلې شوې ده چې زده کوونکي يې په خپله لوستلای شي . خنګه چې د روژې کيسه وه د هغې په شان دا کيسـه هم ده ؛ يعنې دا د روژې کيسه جاري ساتي . دا کيسه په يوه داسې طريقه ليکلې شوې ده چې د تولګي زده کوونکي بـه د کيسـي له ماشوم (اسلم) سره چې په څه ډول اختر تېروي ، ځان يو شی ګڼي .

(۲) يوازې د کلمو لوستل او صحيح تلفظ يې کول د لوستلو معنا نه لري . په جملو او موضوع پوهېدل هم پـه کې شـامل دي . پوهېدل هم دي . دا ترڅې او چې کول هغه وخت ښه کېدای شي چې زده کوونکي لوستل شوی متن په خپلو کلمو کې بيـان کړي . له دې کبله دا قدم نه يوازې په دې درس کې بلکې په عمومي توګه خاص اهميت لري .

وړوکی اختر

پ۲ | ۵۳ - ۱

پرون مابنام تولـو خلـکو اسـمان ته کتل . چا ناڅاپه چغه کړه : " هغه ده ميـاشت ! هغه ده ميـاشت ! " بابا يې اسلم په غېږ کې اوچت کړ . ورته يې وويـل : " وګوره هاغه ده ، نوې ميـاشت راختلې ده . که خير وي سبا ته اختر دی .

اسلم ډېر خوشحال شو . لـه ډېرې خوشـحالۍ څخه ورته د شپې خوب نه ورته . سهار چې مور يې د چای له پاره راپاڅاوه نو هغه ويښ و. تولـو لـه چای سـره مانچې او پراتې وخوړلې . لـه چای ځښلـو څخه وروسته اسلم نوې جامې واغوسـتې . دبانـدې ووت . تولـو ماشومانو ښکلې ښکلې جامې اغوسـتې وې .

څه وخت پس ، بابا او پلار يې د اختر د لمانځه له پاره جومات ته ولاړل . اسـلم لـه ماشـومانو سره په لـوبـو شو . ګاونډيـانو او خپلـو خپلـوانو يـو بـل ته د اختر مبـارکۍ ورکولـې . ښځو ، سـړيـو او ماشـومانو پاکې او نوې جامې اغوسـتې وې . غرمه ماشومان د ډوډۍ د خوړلو له پاره کورونو ته ور وبللی شول .

د ډوډۍ له خوړلو څخه وروسـته ، بابا يې اسلم ته د مېلې له پاره پيسـې ورکړې . اسـلم لـه نورو ماشـومانو سره مېلې ته ولاړ . په مېلـه کې يې سيل وکړ او د لوبو شيانو يې واخيستل .

اسـلم چې مابنام کور ته راغی نو ويـې ويـل : " دا اختر ورځ يـوه ډېره ښه ورځ وي . لـه ما څخه به هېڅکله هېره نه شي . " مور، پلار او بابا يې ورته مسـکي شول . بـابا يې ورته وويـل : " دا د خدای(ج) لـوی نعمت دی . مسـلمانان هر کال دوه واړې اختر کوي . دا وړوکی اختر دی . په ده پسې بل را روان دی . هغه ته لوی اختر وايي ."

موضوع : د لوستلو مقابله ؛ رسمونه او جملې سره اندولول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۵۳ – ۱ کيسه بيا وايي .	
۲. د لوستلو مقابله : الف – ښوونکی وايي چې تاسو به اوس د لوستلو مقابله کوئ ؛ رضاکاران به د ټولګي مخې ته راځي او کيسه به د يوه کيسه ويونکي په شان په خاص انداز سره لولي . ب – ببل ببل زده کوونکی تقريباً نيمه کيسه لولي ؛ نور ورته غوږ نيسي ، د ښه لوستلو قدرکوي يا د اصلاحاتو سپارښتنې کوي (۱) . ج – زده کوونکي او ښوونکی د ښه لوستونکي په باره کې اتفاق کوي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۱
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۲ کار کول : الف – زده کوونکي مشق پاڼه مطالعه کوي په رسمونو بحث کوي او تشريح کوي يې . ب – زده کوونکی عنوان لولي او په کار خان پوهوي . ج – زده کوونکی په خاموشۍ له اندېوالاتو سره کار کوي چې د مشق پاڼې پ۲ – ۵۳ – ۱ په کيسه کې د رسمونو له پاره اندول جملې پيدا کړي ، خو اوس به يې نه ليکي . د– زده کوونکي او ښوونکی په هغو جملو اتفاق کوي چې په مشق پاڼه کې ليکلې کيږي ؛ مثلاً :	مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۲
جملې دا دي :	مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۱
۱. تولو له چای سره مانچې او پراتې وخوړلې .	
۲. له چای څښلو څخه وروسته اسلم نوې جامې واغوستې .	
۳. ګاونډيانو اوخپلو خپلوانو يو بل ته د اختر مبارکې ورکولې .	
۴. مېله کې يې سيل وکړ او د لوبو شيان يې واخيستل .	
۴. د ليکلو او لوستلو مشق کول : الف– زده کوونکي پر سلېټونو د دغو جملو د ليکلو مشق کوي . ب – زده کوونکی دغه جملې د مشق پاڼې په خالي ځای کې ليکلي . ج– زده کوونکي د بلې ورځې د لوستلو د مقابلې له پاره د مشق پاڼې پ۲ – ۵۳ – ۱ د کيسې د لوستلو مشق کوي .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۲ مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۱

(۱) کله چې وړومبی زده کوونکی د کيسې وړومبی برخه ولولي نو دوهم زده کوونکی به د کيسې پاتې برخه لولي او په همدې ډول به لوستلو ته دوام ورکوي .

د تېر درس کومې جملې چې له دې رسمونو سره سمون خوري ، هغه دې ورته په مقابل کې وليکلې شي :

د کيسې کومه جمله له کوم رسم سره لګېږي ؟	پ۲ ۵۳ـ ۲

موضوع : د اختر ورځ (نظم)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. له مشق پاڼې پ۲ – ۵۳ – ۲ څخه د دوو جملو املا ليکل ؛ املا ويل ، په معموله طريقه يې کتل، ښوونکی به دې ته پام کوي چې اول ټوله جمله ولولي (زده کوونکي ورته غوږ نيسي) او بيا يې د ليکلو له پاره په ورو ورو برخو کې ولولي . مثال : ټولو له چای سره مانچې او پراتې وخوړلې . ټولو له چای سره / مانچې او پراتې وخوړلې .	سلېټونه توره تخته
۲. د لوستلو مقابله : (د درسي پلان پ۲ – ۵۳ – ۱ د لومړی تعقيبي درس په شان د لوستلو مقابله کول ، خو دا ځل به کمزوري زده کوونکي هم برخه اخلي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۱
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۳ کې نظم (د اختر ورځ) لوستل : الف – ښوونکی به نظم لولي (د کار کتابونه به بند وي) . ب – د نظم په باره کې چې زده کوونکو ته څه ور په زړه کيږي او څه چې يې په کې خوښ وي ، هغه وايي . ج – زده کوونکي د کار کتابونه پرانيزي او نظم کرښه په کرښه وايي، اول په خاموشۍ سره او بيا په لوړ آواز . د – ښوونکی نظم بيا لولي ، زده کوونکي غوږ نيسي او له لوستلو سره کرښه په کرښه ګوته وړي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۳
۴. نظم په ياد زده کول : الف – زده کوونکي له اندېوالاتو سره نظم لولي او په ياد يې زده کوي . ب – زده کوونکي له خپلې خوښې سره سم مشق پاڼه په ګلانو ، ګڼو يا د لوبو د شيانو په رسمونو باندې ښکلې کوي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۳ – ۳

مشق پاڼه دې د ګلانو ، ګڼو يا د لوبو د شيانو په رسمولو سره ښکلې شي :

پ۲ | ۵۳ - ۳

د اختر ورځ

ټوله دنيا تري نه خبره ده
ملګرو ورځ نن د اختر ده

خولـــه زمونږ ډکه لـــه خندا ده — لـه ټولـو ورځو نه ښه دا ده
ځای په ځای کليو کې مېلې دي — راځئ ، چې ورشو تماشې دي
اخلـو د لـوبـو بـه ځيـزونه — هـــم پوکنې ، هم موټرونه
سهار خوړلې مونږ مانچې دي — هم متايـــان او پراتې دي
اغوســـتې مونږ نوې جامې دي — وايـي هريـو چې زما ښې دي

دنيا خوشحاله سراسر ده
ملګرو ورځ نن د اختر ده .

درسي پلان ۵۳ پ۲ – ۵۳ – ۱	موضوع : مورِ پر مخکه ژوند کوو (۱)	
د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکي فعاليتونه	درسي مواد
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پانې پ۲ – ۵۴ – ۱ رسم مطالعه کړي او له يوه انډيوال سره پرې بحث وکړي . – غوښتنه کول چې څه ويني هغه تشريح کړي او په څه چې نه پوهيږي پوښتنه يې وکړي . – زده کوونکي رهنمايي کول چې په دې وپوهيږي چې رسم د مخکې يوه برخه ښيي او ټول انسانان په مخکه اوسي .	*۱ . د مخکې د مخ په يوه رسم څان پوهول :* – د رسم مطالعه کول ، له يوه انډيوال سره د رسم په باره کې خبرې کول . – څه چې ويني بيانوي يې ؛ د تشريحاتو غوښتنه کول . – زده کول او پوهېدل چې رسم د مخکې يوه برخه ښيي او ټول انسانان پر مخکه اوسي .	مشق پانه پ۲ – ۵۴ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه کې دښودل شوي مخکې (منظري) د بهلا بيلو برخو نومونه واخلي ؛ دغه نومونه پر توره تخته ليکل . (۲)	– د دې منظري د برخو نومونه اخيستل : غرونه ، دري ، مېدانونه ، سيندونه ؛ دغه کلمې لوستل.	توره تخته
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په رسم کې لوی سيند ته وګوري او ووايي چې له سيند سره څه چل شوی دی ؟ د سيندونو او دريابونو په باره کې د يوه بحث رهنمايي کول ؛ د [سمندر] کلمه معرفي کول ؛ پر توره تخته يې ليکل . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسم ته وګوري او معلوم کړي چې خلك چېرته اوسي او ژوند کول چېرته آسان يا سخت دي او ولې ؟	– په رسم کې سيند ته له نژدې څخه کتل ؛ معلومول چې سيند وار له واره غځيږي او د اوبو پوې غټې برخې ته ور بهيږي ؛ زده کول چې د اوبو دې لويې برخې ته [سمندر] وايي اود مخکې يوه لويه برخه نيسي ؛ دغه کلمه لوستل. – بيانول چې خلك څنګه په هوارو مخکو او لوړو غرونو کې اوسيږي ؛ د يخنۍ ، ګرمۍ ، د خوراکي موادو د حاصلولو ، د اوبو د راوړلو ، د روزۍ د ګټلو ، د تګ راتګ د وسيلو او د ژوند د نورو شرايطو په ارتباط بحث کول .	توره تخته
– زده کوونکي تە اطلاع ورکول چې تاسو به اوس بهر څې او د مخکې منظر به مطالعه کړئ څنګه چې له بنوونځي څخه بنکاري . (۴) – له بنوونځي څخه بهر زده کوونکي داسې يوه ځای ته بوول چې د مخکې منظر يو څه ليدلی شي . – غوښتنه کول چې څه ويني هغه تشريح کړي او د کار کتاب کې له راغلي رسم سره يې مقايسه کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د غرونو ، سيندونو خپلو او ګاونډيو کليو کليوالي نومونه واخلي؛ د خوابونو په پيدا کولو کې مرسته کول. – زده کوونکي بهرته تولګي ته بوول .	*۲ . د شاوخوا (چاپېريال) مشاهده کول : (۳)* – غوږ نيول . – بهر تلل ، د مخکې منظر مشاهده کول . – دخپل چاپېريال تشريح کول ؛ غرونه اوهوار مېدانونه په کې معلومول . د کار په کتاب کې له راغلي رسم سره يې مقايسه کول . – خومره چې کېدای شي د سوالونو خوابونه ورکول ؛ د خپل چاپېريال مربوط نومونه ويل او زده کول . – بېرته تولګي ته تلل .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر توره تخته ليکلي کلمې يوه يوه ولولي او په دې شيانو کې چې کوم يې دوی ليدلي دي ، هغه دې ووايي . – په معموله طريقه د نوو کلمو معرفي کول : ژوري، پراخه، دري، بهيږي ، سمندر، درياب ، لويږي، اصلي ، افغانستان .	*۳ . د يوه اړونده متن لوستل :* – دغه کلمې لوستل ؛ خپل مشاهدات او کليوالي نومونه تکرارول . – نوې کلمې لوستل او زده کول .	توره تخته مشق پانه پ۲ – ۵۴ – ۱

موضوع : فهم (پوهېدنه): بیزو او ډوډۍ ؛ د رسمونولـه پاره د اړوندو جملو پیدا کول (۱)

د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
– زده کوونکو ته ویل چې اوس به یوه کیسه واورئ ؛ په خپلو خپلو ځایونوکې دکښېناستلو اجازه ورکول. – د کیسې لوستل یا ویل؛ په اوچت آواز خو ورو ورو او په وضاحت سره خپرول کول ؛ د لاسونو او سرپه حرکاتو اواشارو سره د کیسې ویل . – د کیسې په باره کې د یوه بحث لارښوونه کول . (۲) – د مخکې په شان یو خل بیا د کیسې لوستل یا ویل . – د کیسې د مضمون (محتوی) په باره کې پوښتنې کول ؛ مثلاً : (۳) • ډوډۍ چا پخه کړه ؟ • بیزو له پیشو ګانو سره ولې مرسته کوله؟ • بیزو څه وکړل ؟ • پیشوګانو څه ښه واخیست ؟ – له زده کوونو څخه غوښتنه کول چې کیسه اوس تاسو ووایئ .	۱. په یوه کیسه خان پوهول : – غوږ نیول او د کیسې اورېدلو ته خان تیارول . – کیسې ته غوږ نیول (د کار کتابونه به بند وي) . – دکیسې په باره کې تبصرې کول؛ پوښتنې کول؛ بحث کول – بیا کیسې ته غوږ نیول . – پوښتنو ته غوږ نیول او خوابونه یې ویل ، په ورکړای شویو خوابونو تبصرې کول . – د ښې ښې زده کوونکي له خوا کیسه ویل ؛ د نورو له خوا غوږ نیول ؛ اصلاح کول ؛ په خپله خپله طریقه د کیسې ویل .	کیسه ورسره ضمیمه ده .
– زده کوونکوته ویل چې مشق پانه پ۲-۶-۱ مطالعه کړئ او تبصره پرې وکړئ . (۴) – په زده کوونکو رسمونه تشریح کول او سم ترتیب یې ورباندې پیدا کول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په بکسونو کې صحیح عددونه ولیکئ .	۲. د رسمونو صحیح ترتیب پیدا کول : – رسمونو ته کتل ؛ معلومول او ویل چې دا رسمونه د کیسې مختلفې برخې رابنیي خو ترتیب یې سم نه دی . – رسمونه په تفصیل سره تشریح کول او د کیسې په ترتیب یې برابرول . – کومه کیسه چې دوی اورېدلې او بحث یې پرې کړی دی ، د هغې مطابق عددونه لیکل .	مشق پانه پ۲-۶-۱
– زده کوونکو ته ویل چې رسم ته وګورئ او د هر رسم له پاره جملې پیدا کړئ . – غوښتنه کول چې د هر رسم مربوطه جمله خوښه کړئ ؛ پر توره تخته د دغو جملو نبایسته لیکل ؛ جملې به ساده وي ؛ مثلاً : ۱. دوه پیشوګاني له ډوډۍ سره مینې وهي . ۲. پیشوګاني په خپلو کې ډوډۍ وېشل غواړي . ۳. بیزو په تله ډوډۍ نیموي . ۴. پیشوګاني پاتې ډوډۍ خوري . – پر زده کوونکو دغه جملې لوستل .	۳. د رسمونو تشریح کوونکې جملې پیدا کول : – د ښې ښې زده کوونکي له خوا د دغو جملو لوستل ؛ د نورو غوږ نیول ؛ تبصرې کول ؛ تکرارول . – بحث کول او د هر رسم له پاره د یوې اړوندې جملې خوښول . – د ښې ښې زده کوونکي له خوا د دغو جملو لوستل؛ اول د یوه زده کوونکي له خوا یوه جمله او بیا ټولې جملې لوستل .	توره تخته
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې تصویرونه نبه نبایسته رنګ کړئ .	۴. د رسمونو رنګول : – په خاموشۍ سره کار کول .	مشق پانه پ۲-۶-۱

- زده کوونکو ته وبل چې د مشق پاڼې پ۲ – ۵۴ – ۱ متن له یوه اندیوال سره ولولي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې متن په تفصیل سره بیان کړي او د ضرورت په وخت کې ورڅخه د وضاحت غوښتنه وکړي . - غوښتنه کول چې متن دې تولګي ته ولولي .	- له یوه اندیوال سره د متن لوستل . - د وضاحت له پاره غوښتنه کول ؛ متن په تفصیل سره بیانول . - د ښه ښه زده کوونکي له خوا د متن لوستل؛ نور د لوستلو په وخت کې له کرښې سره سم ګوتې وړي.	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې : الف – له اندیوال سره د متن د لوستلو مشق وکړي (وار په وار) . ب – پر سلېټونو د توري تختې د کلمو د لیکلو مشق وکړي .	*۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۴ – ۱

(۱) د دې درسي واحد هدف دا دی چې زده کوونکي د مخکې له طبیعي شکلونو سره آشنا کړي : غرونه ،درې ، هواري سطحي او سیندونه . نباتات چې د مخکې مخ یې پوښلی ډېر مهم دي : کنګل او واوره ، څنګلونه ، وابنه لرونکي سطحي او دښتې . انسانان له مخکې څخه مختلف کارونه اخلي خو په دې درس کې یوازې کرنه (زراعت) او د کورونو او سړکونو جوړول شامل دي . دا ډېره مهمه ده چې زده کوونکي جغرافیایي شکلونه وپېژني . زده کوونکي به یوازې د مختلفو شکلونو نومونه نه زده کوي بلکې د هغوی یو تصور به هم له ځان سره پیدا کوي . نو دوی باید په خپلې شاوخوا کې چې څه ویني هغه مشاهده او مطالعه او خبرې وروباندې وکړي . ښوونکی به زده کوونکي داسې ځایونو ته بیایي چې په خپله یې وویني چې د دوی شاوخوا مخکې کوم شکل اختیار کړی دی .

(۲) د درس په دوران کې به کلمې پر توره تخته پاتې کیږي . څکه چې څو څو ځله به ورته ضرورت وي .

(۳) دا قدم به له تولګي څخه د باندې عملي کیږي ؛ خو که ښوونځی په داسې یوه ځای کې وي چې نژدې یې دلیدلو وړ کوم منظر نه وي یا د ځینو شرایطو په وجه ښوونکی له ټولو سره یهر تللی نه شي . په داسې حالاتو کې به د خپل چاپېریال په باره کې بحث د تولګي په داخل کې کیږي .

(۴) که چېرې دا قدم بهر تدریس کیږي نو زموږ دا مشوره ده چې آخري قدمونه (قدم) دې د بلې ورځې له پاره وساتل شي .

د متن تر لوستلو وروسته دې د رسم په ټاټوبي کې خپرې وشي :

پ۲ | ۵۴-۱
موږ پر مخکه ژوند کوو
مخکه ډېره ډېره ده . ډېر خلک په کې اوسیږي . د مخکې مخ هر چېرته یو شان نه دی . چېرته لوی او واړه غرونه دي . چېرته ژوري او پراخه درې دي . په ځینو ځایونو کې لوی او واړه سیندونه بهیږي . سیندونه سره یو ځای کیږي . په آخر کې سمندر ته ور لویږي . مخکه ډېره ښکلې ده. دا خدای؛ زموږ د استوګنې له پاره پیدا کړې ده .
زموږ د اوسېدلو اصلي ځای افغانستان دی .

موضوع : طبيعي منظره

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – ښوونکی پوښتنه کوي چې دوی د مخکې کوم ډول منظر پېژني او د هغې په باره کې څه معلومات لري ؛ زده کوونکي چې څومره کولی شي هغومره ځوابونه پېدا کوي . ب– ښوونکی د مخکې د هغه منظر په باره کې پوښتنې کوي چې په خپل چاپېريال کې يې وينې ؛ زده کوونکي ځوابونه ورکوي . ج – زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۵۴ – ۱ متن ټولګي ته څو ځله لولي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۴ – ۱
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۵۴ – ۲ کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول ؛ په واورو پټ غرونه ، په څنګلونو پټې غونډۍ ، سمسورې سيمې چې ځنارو په کې څرې او وچه دشته پېژندل . ب – رسمونه په تفصيل سره تشريح کول : ښوونکی د رسمونو په باره کې د يوه بحث رهنمايي کوي : په کوم رسم کې دوی بوټي (نباتات) وينې ؟ دا څه ډول بوټي دي ؟ بوټي او وابنه ولې هلته شنه کيږي ؟ په کوم رسم کې زده کوونکي ځناور وينې او څه کوي ؟ په دې بحث کول چې د بنيادمو له پاره چېرته ژوند کول اسان دي او ولې ؟ ج – د هر قسم شنو زرغونو ځايونو له پاره نومونه پيدا کول او ليکل يې ؛ د صحيحو اصطلاحاتو په پېدا کولو کې له ښوونکي سره مرسته کول (په واورو پټ غر ، څنګل ، سمسور ځای ، دشتې) ښوونکی يې پر تخته ليکي ؛ زده کوونکي يې د مشق پاڼې په مناسبو خالي ځايونو کې ليکي . د – زده کوونکي د هر رسم له پاره د ښوونکي په مرسته يوه جمله پيدا کوي ؛ مثلا : " ډېر اوچت غرونه په واورو او کنګل پټ وي . په دشتو کې بوټي نه شنه کيږي څنګلونه د خلکو له پاره ډېره فايده من وي . ځناور په شينکيو کې خوراک پيدا کوي ". ښوونکی دغه جملې پر تخته ليکي ، زده کوونکي يې لولي .	تخته مشق پاڼه پ۲ – ۵۴ – ۲
۳. د ليکلو مشق کول : زده کوونکي پر سلېټونو د دغو ځلورو جملو د ليکلو مشق کوي .	سلېټونه

(۱) د طبيعي منظر اصطلاح به په ټولګي کې نه استعماليږي . خو زده کوونکي به د طبيعي منظر د دغو ځلورو ډولونو چې په رسمونو کې ښودل شوي دي او د هغوی له اصطلاحاتو (په واورو پټ غرونه ، څنګل ، شينکی، دشته) سره آشنا کيږي.

رسمونه دي تشريح او نوموته يې دي ور لاندې وليکل شي :



موضوع : له مځكې څخه كار اخيستل

د زده كوونكو او ښوونكې فعاليتونه	درسي مواد
۱. تكرار (د كار كتابونه به بند وي) : الف– زده كوونكي د مځكې د منظر د مختلفو شكلونو نومونه او تفصيلات بيا وايي . ب – زده كوونكي د طبيعي منظر نومونه او تفصيل بيا وايي . ج – ببل ببل زده كوونكي خاص اصطلاحات پر توره تخته ليكي ؛ نور يې لولي او كه ضرورت و اصلاح كوي يې .	توره تخته
۲. په مشق پانه پ۲ – ۵۴ – ۳ كار كول كول (۱) : الف – د مشق پانې په سر كې رسم مطالعه كول ؛ څه چې وينې بيانوي يې : مځكې اوبه كيږي . خلك په پټيو كې كار كوي . په نهر يو پل دی . يو سړك ، كورونه . ب – پر دې بحث كول او معلومول چې په بنودل شوي طبيعي منظر كې خلكو څه ډول كار كړی دی ؛ خنګل يې غوڅ كړی دی ؛ كانې يې را ټول كړي دي ؛ مځكه يې قلبه كړي ده ؛ كورنه ، سړكونه ، نهرونه ، لښتي او داسې نور يې جوړ كړي دي . ج – په لاندنيو قدمونو سره د متن لاندنی برخه لوستل : نوي كلمې لوستل : طاقت ، روزی ، نهرونه ، لښتي ، پلونه ، واخيست . له يوه اندیوال سره متن لوستل . متن ټولګي ته بيا ويل . پر متن بحث كول .	مشق پانه پ۲ – ۵۴ – ۳
۳. د [الله پاك] نظم بيا ويل چې موږ ته دا را په زړه كوي چې هر شی الله پاك پيدا كړی دی .	
۴. د لوستلو او ليكلو مشق كول : الف – له يوه اندیوال سره د متن دلوستلو مشق كول (وار په وار) ب – له مشق پانې څخه د درېو جملو د ليكلو مشق كول : " خدای ﷻ مځكه پيدا كړه . په مځكه كې يې مختلف نعمتونه پيدا كړل . انسان ته يې طاقت وكړه چې كار وكړي او خان ته روزي پيدا كړي .	مشق پانه پ۲ – ۵۴ – ۳ ښوونه

(۱) زده كوونكي به له رسم څخه دا پته لګوي چې په دې منظر خلكو كار كړی او دا شكل يې د دې له پاره وركړی دی . چې له مځكې څخه كار واخلي . دوی په دې هم بحث كولی شي چې آيا تر بنيادمانو دمخه پر دې مځكه خنګل يا شينكی و څنګه ؟

د متن تر لوستلو دمخه دې د رسم په باره كې خبرې وشي :

خدای ﷻ مځكه پيدا كړه . په مځكه كې يې مختلف نعمتونه پيدا كړل . انسان ته يې طاقت وركړ چې كار وكړي او خان ته روزي پيدا كړي . انسان په مځكه كې پټي ، لوی او واړه نهرونه او لښتي جوړ كړل . په پټيو كې يې مختلف شيان وكرل . كلي ، ښارونه ، سړكونه او پلونه يې جوړ كړل . تاسو خپلې شاوخوا ته وګورئ چې خدای ﷻ څومره نعمتونه دركړي دي او تاسو ترې څنګه كار واخيست !

درسي پلان ۵۵ ټ‌و ۲ - ۵۵ - ۱	موضوع : زمونږ هېواد (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱. د افغانستان په باره کې خبرې کول :	
- د [افغانستان] کلمه پر تخته ليکل . زده کوونکو ته ويل چې دغه کلمه ولولي .	- د [افغانستان] کلمه لوستل .	تخته
- غوښتنه کول چې د دې کلمې په باره کې څه معلومات لري وېې وايي .	- د [افغانستان] په ارتباط يې چې څه زده وي هغه وايي .	
- د [هېواد] کلمه پر تخته ليکل ، د زده کوونکو رهنمايي کول چې د [هېواد] د کلمې په معنا وپوهيږي .	- د [هېواد] کلمه لوستل . زده کول چې چېرته څوک پېدا شوی وي ، يا مينديې پلرونه او نيا ، نيکونه پېدا شوي وي او چېرته چې يې کورونه وي ، هغه د هغه هېواد يا وطن دی .	
- پاس پر تخته [زمونږ هېواد] ليکل ؛ غوښتنه کول چې د خپل هېواد په باره کې يو څو جملې ووايي . يو څو جملې ور څه ښه صفا پر تخته ليکل . (۲)	- ساده بيانونه موندل او ويل يې ؛ مثلاً : • افغانستان زمونږ وطن دی . • مونږ افغانان يو . • افغانستان زمونږ ډېر خوښ دی .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې په اوچت آواز ولولي .	- ډېر ځلې د دغو جملو لوستل .	
	۲. د افغانستان په باره کې د يوه متن لوستل :	
- د جملو لاندې يوه کرښه ايستل . ويل چې تاسو به اوس د افغانستان په ارتباط يو شمېر نوې کلمې زده کړئ . تاسو به د دغو کلمو لوستل زده کوی او په معنی به يې خان پوهوئ .	- غوږ نيول ، پوهېدل چې دوی به د نوو کلمو لوست زده کوي او په معنا به يې خان پوهوي .	تخته
- په متن کې د ذکر شوو درې سيندونو نومونه پر تخته په يوه کرښه کې ليکل: "د آمو سيند "، د هلمند سيند " د " کونړ سيند ". په زده کوونکو دغه کلمې لوستل او چې د دوی په باره کې څه معلومات لري هغه پرې ويل . د زده کوونکو رهنمايي کول چې وپوهيږي چې دا د افغنستان مشهور سيندونه دي .	- دغه کلمې لولي او څه معلومات چې د دوی په باره کې لري هغه وايي . زده کول چې دا د افغانستان مشهور سيندونه دي .	
- د زده کوونکو لارښوونه کول چې دځلورو بناروتو نومونه په همدغه طريقه زده کړي . هرات ، کندهار ، غزني ، جلال آباد	- د دغو کلمو لوستل او معنا يې زده کول .	
- لاندېنۍ کلمې په همدغه طريقه معرفي کول : پايتخت ، خروبوي ، سرچينه ، مثال ، اصلي .	- د دغو کلمو لوستل او معنا يې زده کول .	
- ډېر ځلې دغو کلمو ته بېې له ترتيب څخه اشاره کول	- په ګډ آواز دغه کلمې لوستل .	

- زده کوونکو ته ویل چې د کار کتابونه پرانیزي او له یوه اندیوال سره دمشق پانې پ۲ – ۵۵ – ۱ د متن یوولس کرښې ولولي . (۳) - په زده کوونکو دغه متن بیانول . د یوه بحث رهنمایي کول . د متن په باره کې له زده کوونکو څخه پوښتنې کول؛ مثلاً : د هېواد معنا څه ده ؟ ستاسو د هېواد نوم څه دی ؟ د ځینو سیندونو نومونه څه دی ؟ دمشهورو ښارونو نومونه یې څه دی ؟ او داسې نور . - زده کوونکو ته ویل چې دغه متن په ورو ورو برخو کې تولګي ته ولولي .	- د کار کتابووه پرانیستل ، کرښې شمارل ، په یوو لسمه کرښه نښه کول ، دغه متن په خاموشي له یوه اندیوال سره لوستل . - د متن تفصیلات بیانول . د ښوونکي پوښتنو ته ځوابونه ویل ، پر تفصیلاتو بحث کول . - د ښل ښل زده کوونکي له خوا په ورو ورو برخو کې تولګي ته د متن لوستل، د نورو غوږ نیول ، له لوستلو سره سمه ګوته ورړل .	مشق پانه پ۲ – ۵۵ – ۱
- په زده کوونکو دا مشق کول : الف – له اندیوال سره دمتن لوستل (وار په وار) . ب– له توري تختې څخه جملې پر سلېټونو لیکل .	۳ . د لوستلو او لیکلو مشق کول : - له غوښتنې سره سم کار کول : الف– له اندیوال سره متن لوستل (وار په وار) . ب– پر سلېټونو د توري تختې د جملو د لیکلو مشق کول .	مشق پانه پ۲ – ۵۴ – ۱ سلېټونه

(۱) دا درس د افغانستان په باره کې یو څه اساسي معلومات وړاندې کوي . د دې عمر ماشومانو د خپل وطن نوم اوریدلی خو په معنا یې پوره نه پوهیږي . د دې درس مقصد دا دی چې له یوې خوا په زده کوونکو کې له خپل وطن سره د مینې احساس پیدا کړي او له بلې خوا یې له ځینو اساسي حقایقو او نومونو سره آشنا کړي . همدارنګه زده کوونکي د مهاجرو له ننني حالت او هغو امیدونو سره سره آشنا کوي چې یوه خپلواک افغانستان ته له بهرته ستنېدلو سره اړه لري .

(۲) د ټول درس په جریان کې به جملې پر تورې تخته پاتې وي . ځکه چې د درس په آخر کې په هغوی مشق کیږي .

(۳) په دې درس کې به زده کوونکي متن یوازې یوولسمې کرښې پورې ولولي . د ټول متن لوستل به د زده کوونکو له پاره ډېر زیات وي . ځکه چې په دې کې ډېر نومونه او نورې نوې کلمې راغلې دي . په دې متن کې ځینې هغه حقایق او نظریات تکراریږي چې د [موږ پر مخکې ژوند کوو] درس کې زده شوي دي او د وطن په ارتباط یو محدود شمېر نومونه هم معرفي کوي چې باید یاد کړای شي .

پ۲ | ۵۵ – ۱

زمونږ هېواد

د پلار ، نیکه اونورو مشرانو د پیدایښت او اوسېدلو اصلي ځای ته وطن وایي . هېواد د یوې لویې ځمکې نوم دی په کې په سوله او آرامي ژوند کوي . زمونږ د ګران هېواد نوم افغانستان دی . په ده کې افغانان اوسیږي .

زمونږ هېواد ډېر ښایسته دی . لوړ لوړ غرونه او شنې شنې درې لري . لوړ غرونه یې همېشه په واوره پټ دي . ځینې یې ګڼ ګڼ ځنګلونه هم لري . لوی لوی سیندونه تري بهیږي . کروندې اوباغونه خړوبوي . د ځینې ځمکه له پاره یې هم اوبه استعمالیږي . مشهور سیندونه یې د آمو ، هلمند او کنړ سیندونه دي . پایتخت یې د کابل ښار دی . نور مشهور ښارونه یې هرات ، کندهار ، غزني ، جلال آباد ، بلخ او بامیان دي .

شل کاله دمخه شوروياتو زمونږ پر هېواد وسله وال یرغل وکړ لکونو افغانانو د خدای ج رضا او د وطن د آزادۍ د حاصلولو له پاره نوروړ هېوادونو ته هجرت وکړ . زمونږ مجاهدو او په آزادۍ مینو خلکو د دښمن په مقابل کې وسله وال جهاد پیل کړ او مالي یې ور کړه . موږ په خپل هېواد کې کفر او الحاد نه منو . غواړو چې په خپل هېواد کې د مسلمانو افغانانو په توګه په سوله او امن کې ژوند وکړو .

موضوع : زمونږ هېواد (ادامه)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي له يادونه هغه جملې وايي چې تېره ورځ يې وړاندې پر سلېتونو مشق کړی دی . ب – ښوونکی له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ – ۵۵ – ۱ د متن له لومړۍ برخې څخه پوښتنې کوي ، زده کوونکي ځواب وايي . ج – ببل ببل زده کوونکي د مشق پاڼې پ۲ – ۵۵ – ۱ د متن لومړۍ برخه ټولګي ته څو ځله لولي (يو زده کوونکی دري يا څلور جملې). د – ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د افغانستان د مشهورو سيندونو او ښارونو نومونه واخلي ، زده کوونکي د متن د دوهمې برخې له پاره چمتو کول . الف– ښوونکی پوښتنه کوي چې دوی ولې په نورو هېوادونو کې اوسي ؟ زده کوونکي چې د مهاجرو په حيث د خپلو تجربو په رڼا کې په دې هکله څه معلومات لري ، هغه وايي . ب – د متن نوې کلمې په معموله طريقه معرفي کوي : ښوونکی لاندې کلمې پر تورې تختې ليکي : جهاد ، الحاد ، لکونو ، يرغل ، وسله وال ، شورويانو ، سوله ، امن . زده کوونکي د دغو کلمو لوستل او معنا زده کوي . ج– ښوونکی د هر خلې دغو کلمو ته بېلا بېل ترتيب څخه اشاره کوي . زده کوونکي يې په يوه آواز لولي .	مشق پاڼه پ۲– ۵۵ – ۱ تورې تختې
۲. د متن (زمونږ هېواد) دوهمه برخه لوستل : الف – زده کوونکي متن په خاموشۍ له يوه اندېوال سره لولي . ب – ښوونکی د متن په باره کې پوښتنې کوي ، زده کوونکي يې ځواب وايي ؛ مثلاً : • افغانانو نورو هېوادونو ته ولې هجرت وکړ ؟ • زمونږ مجاهدو خلکود دښمن په مقابل کې څه وکړل ؟ • موږ د راتلونکي له پاره څه اميد لرو ؟ ج – ببل ببل زده کوونکي په دري دري يا څلورو څلورو جملو کې متن ټولګي ته لولي .	مشق پاڼه پ۲– ۵۵ – ۱
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – زده کوونکي د سيندونو او ښارونو د نومونو د ليکلو مشق پر سلېتونو کوي . ب – زده کوونکي له اندېوالاتو سره دمتن دلوستلو مشق کوي (وار په وار) .	سلېتونه مشق پاڼه پ۲– ۵۵ – ۱

پ۲ | ۱۰۵۵

زمونږ هېواد

د پلار ، نيکه اونورو مشرانو د پيدايښت او اوسېدلو اصلي خای ته وطن وايي . هېواد د يوې لويې کورنۍ مثال لري چې خلک يې په کې په سوله او آرامۍ ژوند کوي . زمونږ د ګران هېواد نوم افغانستان دی . په ده کې افغانان اوسېږي .

زمونږ هېواد ډېر ښايسته دی . لوړ لوړ غرونه او شنې شنې دري لري . لوړ غرونه يې همېشه په واورو پټ وي . خيښې يې ګڼ ګڼ څنګلونه هم لري . لوی لوی سيندونه تري بهېږي . ګروندې اوباطوبه خرڅوي . د څښاک لپاره يې هم اوبه استعمالېږي . مشهور سيندونه يې د آمو ، هلمند او کنړ سيندونه دي . پايتخت يې د کابل ښار دی . نور مشهور ښارونه يې هرات ، کندهار ، غزني، جلال آباد ، بلخ او بامیان دي .

شل کاله دمخه شورويانو زمونږ پر هېواد وسله وال يرغل وکړ . لکونو افغانانو د خدای د رضا لو د وطن د آزادۍ د حاصلولو له پاره نورو هېوادونو ته هجرت وکړ . زمونږ مجاهدو او په آزادۍ مينو خلکو د دښمن په مقابل کې وسله وال جهاد پيل کړ او ماتې يې ور کړه . موږ په خپل هېواد کې کفر او الحاد نه منو . هوارو چې په خپل هېواد کې د مسلمانو افغانانو په توګه په سوله او امن کې ژوند وکړو .

موضوع : زمونږ هېواد (ادامه)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي يو يا دوه ځله ټولګي ته متن لولي (يو زده کوونکي يوه وړه برخه) . ب – ښوونکی د متن په هکله پوښتنې کوي ، زده کوونکي ځواب ورکوي . ج – زده کوونکو چې د افغانستان په باره کې څه زده کړي وي ، هغه وايي ؛ مثلاً : د يو څو ښارونو او يو څو سيندونو نومونه اخلي ، هغه دليلونه وايي چې دوی ولې نن په نورو ملکونوکې پراته دي او د دوی د مستقبل د امېدونو په هلکه معلومات ورکوي .	مشق پانه پ۲ – ۵۵ – ۱
۲. په مشق پانه پ۲ – ۵۵ – ۲ کار کول : د افغانستان باره کې سوالونه ټولګي ته لوستل ، ځوابونه پېدا کول اوليکل يي . الف – د مشق پانې مطالعه کول ، په کارونو بحث کول . ب – زده کوونکي له انديوالاتو سره په خاموشي کار کوي : د بېلابېل سوال لوستل او ځواب پېدا کول ؛ د نتيجې له بکس سره يې کتل ، ځوابونه يې په خالي ځايونو کې ليکل . (۱) ج – ټولګي ته د سوالونو او ځوابونو لوستل مقايسه کول ، اصلاح کول .	مشق پانه پ۲ – ۵۵ – ۲
۳. د لوستلو مشق کول او د افغانستان په باره کې د حقايقو زده کول : الف – زده کوونکي د افغانستان په هکله حقايقو زده کولو ته دوام ورکوي : يو انديوال سوالونه لولي او بل يې له ياده ځوابونه وايي (وار په وار) . ب – د مشق پانې پ۲ – ۵۵ – ۱ د متن د لوستلو مشق کول .	مشق پانه پ۲ – ۵۵ – ۲ مشق پانه پ۲ – ۵۵ – ۱

(۱) د مشق پانې په آخر کې د نتيجې په بکس کې د ليکلو له پاره ټول ځوابونه ورکړای شوي دي .

پ۲ | ۵۵ - ۱

زمونږ هېواد

د پلار ، نيکه اونورو مشرانو د پېداينښت او اوسېدلو اصلي خای ته وطن يا هېواد وايي . هېواد د يوې لويې کورنۍ مثال لري چې خلک يې په کې په سوله او آرامۍ ژوند کوي . زمونږ د ګران هېواد نوم افغانستان دی . په ده کې افغانان اوسيږي .

زمونږ هېواد ډېر ښايسته دی . لوړ لوړ غرونه او شنې شنې درې لري . لوړ غرونه يې همېشه په واورو پټ وي . خينې يې ګڼ ګڼ ځنګلونه هم لري . لوی لوی سيندونه تري بهيږي . کروندې اوباغونه خرڅوي . د ځښاک له پاره يې هم اوبه استعمالېږي . مشهور سيندونه يې د آمو ، هلمند او کنړ سيندونه دي . پايتخت يې د کابل ښار دی . نور مشهور ښارونه يې هرات ، کندهار ، غزني ، جلال آباد ، بلخ او بامیان دي .

شل کاله دمخه شورويانو زمونږ پر هېواد وسله وال يرغل وکړ . لکونو افغانانو د خدای ج د رضا او د وطن د آزادۍ د حاصلولو له پاره نورو هېوادونو ته هجرت وکړ . زمونږ مجاهدو او په آزادۍ مينو خلکو د دښمن په مقابل کې وسله وال جهاد پيل کړ او ماتې يې ور کړه . مونږ په خپل هېواد کې کفر او الحاد نه منو . غواړو چې په خپل هېواد کې د مسلمانو افغانانو په توګه په سوله او امن کې ژوند وکړو .

پ۲ | ۵۵ - ۲

که د وطن په باره کې معلومات لرئ ، ويې ليکئ !

۱ - زمونږ د هېواد نوم څه دی ؟ _____

۲ - دلته څوک اوسي ؟ _____

۳ - زمونږ هېواد څه څه شيان لري ؟ _____

۴ - د افغانستان پايتخت څه نومېږي ؟ _____

۵ - زمونږ د هېواد مشهور سيندونه کوم دي ؟ _____

۶ - د افغانستان مشهور ښارونه کوم دي ؟ _____

۷ - زمونږ پر هېواد څو کاله مخکې يرغل وشو ؟ _____

۸ - مونږ په خپل هېواد کې څه شی نه غواړو ؟ _____

آمو هلمند کنړ کابل شل کاله افغانستان
هرات کندهار غزنی بلخ بامیان جلال آباد
کفر او الحاد غرونه درې ځنګلونه سيندونه افغانان

درسي پلان ۵۶
پ۲ – ۵۶ – ۱

موضوع : مهاجر ماشوم : په يوه کيسه خان پوهول (۱)

د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
- لـه زده کوونکـو څخـه د مشـق پـاني پ۲ – ۵۶ – ۳ د سوالونو په شان سوالونه کول، بـاوري کـول چـې دېر زده کوونکـي پـه خواب ورکولو کې برخه اخلي .	۱. تکرار: دافغانستان په باره کې معلومات راپه زړه کول: - د جلا جلا زده کوونکو له خوا د سوالونو خوابونه ورکول ؛ د نورو غوږ نيول ؛ نيمګړتيا پوره کول ؛ د دېرو زده کوونکو له خوا د صحيح او مکمل خوابونو تکرارول .	
- ويـل چې نـن بـه دوی يـوه کيسـه لولـي ، خـو وړومبی به يو څو نوي کلمې زده کوي . - لاندنی کلمې يوه په بلې پسې پر تـوره تختـه ليکل ؛ د زده کوونکو رهنمايي کول چې ويې لولـي او پـه معنـا يـې خان وپوهـوي : کمـپ ، کوډلو ، کوډی ، يتميان ، کونډې ، شهيدان ، اولاد ، مرسته ، پناه ، روزي ، نندارە . - کلمو ته بېله ترتيب څخه څو څله اشاره کول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې د مشـق پـاني پ۲ – ۵۶ – ۱ متـن پـه خاموشـی سـره ولولي ، که ضرورت و لـه انډيوال يـا ښوونکي څخه د مرستې غوښتنه کول . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه ورته د متن په باره کې زده وي ، هغه ووايي . - له زده کوونکو څخه د متن په باره کې پوښتنې کول ؛ مثلاً (۲) : • ماشوم (زلمی) چېرته اوسېدو ؟ • هغه ته خپل کلی ولې يادېده ؟ • دا هر څه د هغه له پاره ولې يو خوب و ؟ • زلمي لـه پـلار څخـه پـه کوډلـو کـې د نـورو اوسېدونکو خلکو پـه بـاره کـې څه پوښتنـه وکړه ؟ • پلار يې څه خواب ورکړ ؟ • زلمي له پلار څه د خپل وطـن پـه بـاره کـې څه پوښتنه وکړه ؟ • پلار يې ورته څه خواب ورکړ ؟ - له زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې متـن پـه وړو وړو برخو کې تولګي ته ولولي .	۲. *يوه کيسه لوستل :* - غوږ نيول . - نوي کلمې يوه پـه بلې پسې لوسـتل ، د کلمـو پـه بـاره کـې خبرې کـول ، د کلمـو پـه معنـی خان پوهول. - له اشاري سره سم کلمې په ګډه لوستل . - متن پـه خاموشـی لوسـتل ، کـه ضـرورت و نـو مرسته غوښتل . - د جلا جلا زده کوونکي له خوا د متن د تفصيلاتو بيانول ،د دېرو زده کوونکو برخه اخيستل . - د بېلـو بېلـوزده کوونکـو لـه خـوا د ښوونکـي د سوالونو خوابونـه ورکـول ؛ د نـورو غـوږ نيـول ؛ تبصره کول . - متـن پـه وړو وړو برخـو کـې څو څلـه تولـګي تـه لوستل ، (يو زده کوونکی دري يا څلور جملې).	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه پ۲ – ۵۶ – ۱

- پر تورہ تختہ پاس د [زلمی] کلمہ یا نوم لیکل ، له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې د زلمي په باره کې وي څو ساده جملې ووایي ، دري یا څلور مناسبې جملې پر تورہ تختہ لیکل. - زده کوونکو تہ ویل چې جملې تولګي تہ ولولي.	*۳. د مهاجر ماشوم په باره کې جملې لیکل:* - د بنوونکي لیکلو ته کتل ، غوږ نیول ، پر تورہ تختہ د لیکلو له پاره ساده جملې معلومول او ویل ؛ مثلاً : • زلمی یو مهاجر ماشوم دی . • هغه د یوه کمپ په یوه کوډی کې اوسیږي . • د هغه په افغانستان کې خپل کور خوښ دی . • هغه خپل کور ته واپس تلل غواړي . - جملې تولګي ته څو ځله لوستل .	تـــورہ تختـــہ
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دا مشق وکړي : الف - لـه یـوه انـدیوال سـره د متـن لوسـتل (وار په وار) . ب - لـه تـوري تختـې څخه پر سلیټونو د جملو لیکل .	*۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول:* - له غوښتنې سره سم کار کول .	مشـــق پـــانه پ۲ - ۵۶ - ۱ ســـــلیټونه

(۱) دا درسي پلان دي هم په هغه سلسله کې وکتل شي چې عنوان یې دی [زمونږ هیواد] . د دې متن په داسې یوه طریقه تیار شوی چې زده کوونکي خپل ځانونه له [زلمي] سره مشابه کولای شي .ځکه چې دوی هم له دغسې حالت سره مخامخ دي .

(۲) دا قدم د هغه مخکینۍ قدم یوه برخه تکراروي چېرته چې زده کوونکو د کیسې تفصیلات بیان کړي دي . کله چې بنوونکي د تجویز شوو سوالونو پوښتنې کوي نو له هغو زده کوونکو څخه یې دي وکړي چې مخکې یې هېڅ نه دي ویلي. په خپله د تفصیلاتو بیانولو په سبب د یوه نېغ په نېغه سوال خواب ورکول ډېر آسان وي .

پ۲ | ۵۶-۱

مهاجر ماشوم

زلمی یو مهاجر ماشوم دی . دی په یوه کمپ کې اوسیږي . یوه ورځ سهار وختي ، له خپل پلار سره له خپلې کوډۍ څخه ووت . د کمپ د نورو کوډلو په نندارہ شو . خپل کلی ور په زړه شو . دی ډېر خپه و . ځکه چې دلته یې نه هغه د لوبو ملګري وو او نه هغه خایونه چې ده به په کې لـوبې کولې . ده ته دا هر څه د خوب لیدل وو .

له پلار څخه یې پوښتنه وکړه : " دا دا جانه ، دا ټول خلک زمونږ په شـان مهاجر دي ؟ " پلار یې خواب ورکړ : " هو ، بچیـه ، دا ټول زمونږ په شـان مهاجر او زمونږ د وطن دي . خو زمونږ پر وطن شـورویـانو یرغـل وکړ . سـولـه او امن یـې لـه منځه یـووړ . ډېر ماشومان یې یتیمان کړل . ډېرې ښځې یې کونډې کړې او ډېر خلک یې شهیدان کړل .مونږ ګاونډیو هیوادونو ته پناه راوړه . دلته لـه مونږ سـره مرسـته کیـږي . خو مونږ پخپله هم د پخوا په شـان کار کوو ؛ خان او اولاد ته روزي پیدا کوو . "

ماشـوم لـه خپل پلار څخه پوښتنه وکړه : " خپل وطن ته به کلـه بهـرته خو ؟ " پلار یې ورته وویـل : " بچیـه ، کلـه چې جګـړه پای ته ورسـیږي او امن راشـي نو مونږ بـه لـه خیـره سـره بـهرته خپل وطن ته خو .

موضوع : د ماشومانو ترانه	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – زده کوونکي د [مهاجر ماشوم] د کيسې تفصيلات را په زړه کوي ؛ د ډېرو زده کوونکو له خوا د تفصيلاتو په وړاندې کولو کې برخه اخيستل (د کار کتابونه به بند وي) . ب – کوم سوالونه چې په درسي پلان پ۲ – ۵۶ – ۱ کې شوي دي د ښوونکي له خوا د هغو پوښتنه کول . ج – زده کوونکي تولګي ته متن لولي ، وړومبی د خپل قابليت مطابق په وړو وړو او بيا په لويو لويو برخو کې .	مشق پانه پ۲ – ۵۶ – ۱
۲. په مشق پانه پ۲ – ۵۶ – ۲ کار کول : الف – ښوونکی پر توره تخته د نظم عنوان (د ماشومانو ترانه) ليکي ، زده کوونکي يې لولي اوبحث وربانديې کوي او زده کوي چې ترانه د څه شي تعريف کوي ، دلته يې مطلب د وطن تعريف دی . ب – ښوونکی نظم دوه ځله لولي ، زده کوونکي ورته غوږ نيسي . ج – زده کوونکو ته چې په دې باره کې څه يادداشت ورکوي (رسمونو ته کتل د څينو شيانو په را په زړه کولو کې مرسته کوي) . د – زده کوونکي د نظم وړومبي دوه بندونه لولي، دوی په لاندنيو قدمونو کې کار کوي : (۱)	مشق پانه پ۲ – ۵۶ – ۲ توره تخته
• زده کوونکي يو بند په خاموشۍ لولي . • زده کوونکي د ګرانو کلمو پوښتنه کوي ، ښوونکی يې پر توره تخته ليکي . • ښوونکی يې تشريح کوي ، زده کوونکي کلمې لولي . • ډېر زده کوونکي دغه بند ټولګي ته لولي . هـ – د نظم په دې برخه کې چې د زده کوونکو څه خوښ دي ، هغه وايي .	توره تخته
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – زده کوونکي د وړومبيو دوو بندونو د لوستلو مشق کوي او په يادداشت کې د زده کولو کوشش کوي . ب – زده کوونکي پر سلېټونو د خپلې خوښې د يوه بند د ليکلو مشق کوي .	مشق پانه پ۲ – ۵۶ – ۲ سلېټونه

(۱) وړومبي دوه بندونه آسان دي ځکه چې نوي يا ګراني کلمې په کې ډېرې کمې دي .

پ۲ | ۵۶ – ۲
د ماشومانو ترانه
ملک مو دغيارالرکې مشهور افغانستان دی
خوښ مو لکه خان دی
دا د ابدالي هېواد
دا د هوتکي هېواد
دا د غزنوي هېواد
دا هېواد زمونږ د غيرتي مرد ميدان دی
ځکه پر مونږ ګران دی
دلته اوچت غرونه دي
دلته لوی سيندونه دي
دلته ډېر باشوونه دي
خومره ډېر ښايسته دا د ګلونو ګلستان دی
دا د خدای ځ احسان دی
تنګ لرو ، غيرت لرو
لرو ، عالي همت لرو
متو کې طاقت لرو
رګونه که ګوري د دښمن خپرې ګريوان دی
خومره په لرزان دی
خدای دی مددګار زمونږ
نه بند يې لاز زمونږ
ګيډې به هر کار زمونږ
مونږ مسلمانان يو ، زمونږ ټولو دا ايمان دی
فضل د سبحان دی

(۱) د بنوونکي په لاربنود کې د کیسې او د زده کوونکو د کار په کتاب کې رسمونه یو له بل سره تړلي دي . د وړومبي خل له پاره چې کیسه لوستل کیږي او بحث پرې کیږي نو د زده کوونکو د کار کتابونه به بالکل نه پرانیستل کیږي . کیسې ته دغوږ نیولو او پر هغې باندې د بحث کولو او بیا ویلو وروسته به زده کوونکي د دې وړ شي چې د رسمونو صحیح ترتیب پیدا کړي . د رسمونو په صحیح ترتیب خبرې کول به زده کوونکو ته د کیسې د تفصیلاتو د را په زړه کولو او بیا ویلو یوه بله موقع په لاس ورکړي . په دې درس کې به د زده کوونکو لاربنوونه په دې کیږي چې د دغو څلورو رسمونو له پاره د تشریحي جملو د پیدا کولو په وسیله یو ساده متن په خپله جوړ کړي .

(۲) د کیسې تر اوربدلو وروسته به زده کوونکي دې ته هڅول کیږي چې د کیسې په باره کې تبصرې وکړي او په آزاد ډول خپلې نظریې ووایي . د تبصرو کولو موقع د زده کوونکو پوښتنو ته د ځواب ویلو له پاره هم استعمالېدای شي .

(۳) بنوونکی به داسې سوالونه نه کوي چې یوازې د [هو] یا [نه] په ویلو سره ځواب شي . بلکې کوشش به کوي چې داسې پوښتنې وکړي چې مختلف او مفصل خوابونه وغواړي .

(۴) د هر رسم د تشریح له پاره ډېرې او مختلفې جملې ممکنې دي . بنوونکی به ډېرو زده کوونکو ته موقع ورکوي چې داسې جملې ووایي چې د دوی په نظر بالکل صحیح بنکاري . تر دې وروسته به په ګډه دا فیصله کوي چې د یوه رسم له پاره یوه ساده جمله انتخاب کړي چې پر تورې تخته ولیکلې شي .

بیزو او ډوډۍ

یوه تورې پیشو وه او یوه خړه . دواړه به همېشه یو خای ګرځېدلې . دواړو یوه ورځ سهار وختې له یوه کور څخه لږ څه ډوډۍ را پټه کړه او ولاړې د یوې ونې لاندې کښېناستلې چې په خپل منځ کې یې په دوو برابرو برخو ووېشي . خو دوی ته د برابر وېش چل نه ورتلو . یوه بیزو چې د ونې پر نباښ ناسته وه او خوله یې ډوډۍ ته اوبه اوبه کېدله ، د دغو پیشوګاو په نندارې وه . آخر یې زړه صبر ونه کړ او له ونې څخه را کوزه شوه . پیشوګانو ته یې وویل : " که اجازه راکوئ نو زه به درته ډوډۍ برابره برابره ووېشم." دواړو پیشوګاو بیزو ته واک ورکړ .

بیزو یوه تله را وغوښتله او ډوډۍ یې دوه برخې کړه . د تلې په یوه پله کې یې یوه توټه او په بله پله کې یې بله توټه واچوله او په تول یې شروع وکړه . کومه خوا به چې درنه شوه نو له هغې څخه به یې کپ وکړه او په پله کې به یې ببرته کښېنوده . خو دا خل به هغه بله خوا درنه شوه ؛ له هغې څخه به یې هم کپ وکړ .

بیزو په دې ډول تول روان کړی و . پیشوګاني وپوهېدې چې بیزو په اصل کې ډوډۍ خوړلو ته چل جوړ کړی دی او توله راڅخه خلاصوي . نو ورته یې وویل : " بس دی خوړې بس دی . ته یوازې خپل ځان مړوې زموږ غم درسره نشته . دغه پاتې ډوډۍ موږ ته پرېږده . " پیشوګانو پاتې ډوډۍ وخوړه او فیصله یې وکړه چې بیا به خپل واک بل چا ته نه ورکوي او خپلې شخړې به په خپله هواروي .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي :



موضوع : د ماشومانو ترانه (دوام)	
د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تكرار : الف – زده كوونكي تولگي ته په برخو برخو كي د مشق پاڼي پ۲ – ۵۶ – ۱ متن لولي (۱) . ب – زده كوونكي تولگي ته څو ځله د نظم وړومبي دوه بندونه لولي . ج – جلا جلا زده كوونكي كوشش كوي چې له ياده يوه بند ووايي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۶ – ۱
۲. د نظم آخري دوه بندونه لوستل : الف – زده كوونكي كوښښ كوي چې څومره كولای شي هغومره بندونه په خپله ولولي ، كله چې زده كوونكي بندونه لولي ، ښوونكي پر توره تخته نوي كلمې ښې صفا ليكي :غيرت ،ننگ ، ځيري ، گرهوان ، لرزان ، عالي ، همت ، طاقت ، فضل ، سبحان . ب – زده كوونكي كلمې يوه پله بلې پسې لولي ، بحث وربانديې كوي . ج – زده كوونكي د ښوونكي له اشاري سره سم كلمې په گډه لولي . د – زده كوونكي د نظم آخري دوه بندونه په خاموشي لولي . هـ – زده كوونكي بندونه څو خله تولگي ته لولي (يو ماشوم ، يو بند) .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۶ – ۲ مشق پاڼه پ۲ – ۵۶ – ۲ توره تخته
۳. د لوستلو او ليكلو مشق كول : الف – زده كوونكي د نظم د لوستلو مشق كوي او په ياده يې زده كوي . ب – زده كوونكي د خپلې خوښې د يوه بند پر سلېتونو د ليكلو مشق كوي .	سلېتونه

(۱) دا متن لږ گران دی . زده كوونكي يې دي يو خل بيا تولگي ته ولولي . دا به يې په معلوماتو كې چې د افغانستان په باره كې يې لري ، مرسته وكړي .

پ۲ | ۵۶ - ۱

مهاجر ماشوم

زلمی یو مهاجر ماشوم دی . دی په یوه کمپ کې اوسیږي . یوه ورځ سهار وختي ، له خپل پلار سره له خپلې کوډۍ څخه ووت . د کمپ د نورو کوډلو په نندارې شو . خپل کلی ور په زړه شو . دی ډېر خپه و . څکه چې دلته يې نه هغه د لوبو ملګري وو او نه هغه خایونه چې ده به په کې لوبې کولې . ده ته دا هر څه د خوب لیدل وو .

له پلار څخه يې پوښتنه وکړه : " دا دا جانه ، دا ټول خلک زموږ په شان مهاجر دي ؟ " پلار يې خواب ورکړ : " هو ، بچيه ، دا ټول زموږ په شان مهاجر او زموږ د وطن دي . خو زموږ پر وطن شوروېانو يرغل وکړ . سوله او امن يې له منځه يووړ . ډېر ماشومان يې يتيمان کړل . ډېرې ښځې يې کونډې کړې او ډېر خلک يې شهیدان کړل . موږ ګاونډیو هېوادونو ته پناه راوړه . دلته له موږ سره مرسته کیږي . خو موږ پخپله هم د پخوا په شان کار کوو ؛ خان او اولاد ته روزي پیدا کوو . "

ماشوم له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه : " ځپل وطن ته به کله بېرته خو ؟ " پلار يې ورته وویل : " بچيه ، کله چې جګړه پای ته ورسېږي او امن راشي نو موږ به له خیره سره بېرته خپل وطن ته خو .

پ۲ | ۵۶ - ۲

د ماشومانو ترانه

ملک هو دنیاوالوکي مشهور افغانستان دی — خوښ مو لکه څان دی

دا د ابدالي هېواد
دا د هوتکي هېواد
دا د غزنوي هېواد

دا هېواد زموږ د غیرتي مرد میدان دی — څکه پر موږ ګران دی

دلته اوچت غرونه دي
دلته لوی سیندونه دي
دلته ډېر باغونه دي

څومره ډېر ښایسته دا د ګلونو ګلستان دی — دا د خدای ج احسان دی

ننګ لرو ، غیرت لرو
لوړ ، عالي همت لرو
مټو کې طاقت لرو

وګوره که ګوري د دښمن څېرې ګرهوان دی — څومره په لرزان دی



خدای دی مددګار زموږ
نه بند یرې لار زموږ
کیږي به هر کار زموږ

موږ مسلمانان یو ، زموږ ټولو دا ایمان دی — فضل د سبحان دی

د درسي ټاکل ۵۷
پ۲ – ۵۷ – ۱

موضوع : تکرار (۱) د جمعي صحيح شکلونه استعمالول (۲)

د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکي فعاليتونه	درسي مواد
– لاندې کلمې د توري تختې د بني اړخ په يوه ستون کې يوه تر بلې لاندې صفا سوتره ليکل : مېز ، ملا ، موچي ، ماشي ، بطه ، لرم ، غوا ، حلوايي .	۱ . د جمع شکلونه تکرارول :	تـــوره تختـــه
– په زده کوونکو دغه کلمې لوستل .	– د بنوونکي ليکلو ته په غور کتل ، دغه کلمې په خاموشۍ سره لوستل .	
– د [يو / يوه] کلمې د ستون د پاسه او [دوه] له [يو / يوه] سره په خوا کې نژدې ليکل . کړښې ايستل چې توره تخته داسې ښکاري :	– دغه کلمې ټولګي ته لوستل .	
يو/يوه | دوه مېز	– په غور سره کتل، دغه کلمې لوستل .	
له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د دوه لاندې به څه ليکل کيږي ؟	تجويزونه وړاندې کول . په آخر کې دې موافقې ته رسېدل چې د جمع شکلونه به ليکل کيږي .	
– ويل چې نن به تاسو د مفرد او جمع تکرار کوئ . زده کوونکي به هجا ګاني په خپله پېدا کوي او په وضاحت سره به خبرې کوي .	– غوږ نيول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د جمع صحيح شکلونه پېدا کړي .	– پر توره تخته د ليکل شوو مفردو کلمو د جمع صحيح شکلونه يو يو معلومول او ويل .	
– پوښتنه کول چې د [مېز] له پاره څوک جمع شکل ليکلای شي (که چېرې دوه دي) .	– يو زده کوونکی پر توره تخته د [مېزونه] کلمه ليکلي . نور ورته په غور ګوري ، د ضرورت په وخت کې اصلاح کول .	
– د [مېزونه] کلمه په ستون کې د [دوه] تر کلمې لاندې ښه صفا ليکل .	– په غور ورته کتل .	
– د زده کوونکو لاړښونه کول چې په همدغه طريقه د جمع نور شکلونه معلوم او وليکي . دغه کلمې لکه [مېز] په خپل خاص ستون کې ليکل .	– د جمع صحيح شکلونه يو په بل پسې معلومول او ويل / لوستل ، که ضرورت و اصلاح کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د [يو / يوه] او [دوه] په استعمالولو سره دغه کلمې په ګډه ولولي .	– د دواړو ستونونو کلمې داسې لوستل : [يو مېز ، دوه مېزونه] او نور .	
	۲ . د جمع صحيح شکلونه معلومول :	مشـــق پـــانه پ۲ – ۵۷ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتل چې د مشق پاڼې پ۲ – ۵۷ – ۱ رسمونه مطالعه کړي .	– دغه رسمونه مطالعه کول ، څلور مختلف رسمونه په کې پېژندل .	
– په زده کوونکو چې څه په رسمونو کې ويني هغه بيانول . دې ته توجه کول چې زده کوونکي عددي کلمې او د هغوی د جمع صحيح شکلونه استعمال کړي .	– په رسمونو کې يې چې کوم شيان ليدلي وي د هغو نومونه اخيستل . د جمع يا مفرد صحيح شکلونه استعمالول .	

- د مشق پاڼي د کينې خوا کلمې په زده کوونکو لوستل او دا پرې ويل چې له رسمونوسره څه ډول تړاو لري . - له زده کونکو څخه غوښتنه کول چې پاس د مشق پاڼي منځنۍ برخه ولولي او کار معلوم کړي . - غوښتنه کول چې دصحيحو کلمو د معلومولو له پاره له اندېوال سره په خاموشۍ کار وکړي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې تولګي ته ولولي . د زده کوونکو رهنمايي کول چې کله يو کس جمله ولولي نو بل به کلمه / کلمې پر تخته ليکي . په نورو به اصلاح کوي .	- دغه کلمې لوستل ، معلومول او ويل چې دا په رسمونو کې يوازې د مفرد شيانو له پاره دي . - نا مکملې جملې لوستل ، معلومول چې په رسمونو کې د شيانو د نومونو د جمع صحيح شکلونه به په خالي خايونو کې ليکل کيږي . - له اندېوال سره په خاموشۍ کار کول : جملې بيا بيا لوستل د کلمو په باره کې فيصله کول . کلمې په خالي خايونو کې ليکل . - ښه ښه زده کوونکي جملې لولي ، پر توره تخته کلمې ليکي ، نور ټول زده کوونکي يې چک کوي ، که ضرورت و اصلاح کوي .	توره تخته
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼي د کينې خوا د ستون کلمې د [يو / يوه] او [دوه] په موزونو شکلونو پر سلېټونو مشق کړي .	*۴ . د جمع شکلونو د ليکلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول ، داسې ليکل : يوه ښځه ، دوه ښځې او داسې نور .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۷ – ۱

(۱) له ۵۷ څخه ۶۰ پورې درسي پلاټونه په دې غرض تيار کړای شوي دي چې يو عمومي تکرار وشي . نه په کې نوې موضوعګاني او نه په کې ډېرې نوې کلمې معرفي شوي دي . هيله کيږي چې زده کوونکي به د مشق پاڼو کارونه بې د ښوونکي له ډېرې مرستې په خپله وکړي . ځيني زده کوونکي به ونه شي کړای چې په مختلفو مشقونو کې مطلوبې کلمې له يادې وليکي . د دې زده کوونکو به په خاص ډول داد ګيرنه کيږي چې په تېرو مشق پاڼو کې د کلمو هجاګانو ته وګوري . په اړوندو مشق پاڼو کې تر کار کولو دمخه به وړومبې په هغوی په شفاهي توګه د دوهم څل له پاره نظر اچوي او ورسره د نورو مشقونو په ډول به ورباندې کار کيږي .

(۲) په پښتو کې د نومونو او صفتونو د جمع د جوړولو له پاره ډېرې طريقې دي . خود دې عمر ماشومان دا ګرامري قواعد په شعوري ډول نه شي کارولای . خو صحيح او غلط شکلونه يې پېژندلای شي . څه چې د دوی له پاره مهم دي هغه د کلمو تلفظ ته په غور غوږ نيول او تلفظ کول دي چې د مختلفو کلموپه آخر کې توپير وکړای شي . د لوستلو په وخت کې به د کلمو د آخر پېژندنه او د ليکلو مشق کيږي لکه چې په تېرو درسي پلاټونو کې يې مشق شوی دی .


د درسي ټول له رسمونو سره د کلمو د ليکلو په پاره د کې خوا دي ځينې ولاړې دي ، د هغو تش ځايونو ته کلمې ولاړې دي چې د کلمو د جمع شکلونه دي په مستطيل کې ليکل شوي دي :
پ۲ ۵۷ ۱
پڑه ښځه ښځې
سړی هلک هلکان
ښځه ښځې ماشوم
ماشومان
پښه چرګ چرګان
طوطی طوطيان
غويی غويان
پانه ميوه ګل ټنه ځړوبه
دا يو ښوونی دی .
دا ډېری ـــــ لری .
دوه ـــــ او دری ـــــ
لری .
د دې يوه ـــــ او ډېرې ـــــ دي .
په رسم کې ډېر حيوانات دي .
دا ځلور ـــــ او ځلور ـــــ
دوه ـــــ او دوه ـــــ
هم دي .
د کور په دې خلکو کې دوه ـــــ او ځلور ـــــ
دوه ـــــ دي .
په ماشومانو کې دوه ـــــ
او دوه ـــــ دي .
دا هلک يوه ـــــ او دوه ـــــ
لری .
د دې دوه ـــــ او دوه يې ـــــ
دي .
هر لاس يې پنځه ـــــ لری .

موضوع : د خوړلو وړ او ناوړ بوټي سره بېلول (تکرار)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار (دکار کتابونه به بند وي) : الف– د يوه زنځير په شکل مفرد او جمع ويل : يو زده کوونکی يومفرد نوم مثلاً [يو لاس] وايي بل زده کوونکي وايي : [دوه لاسونه] دا زده کوونکی به د بل مفرد نوم په وېلو سره مشق جاري ساتي او داسي نور (ښوونکی به د کلمو واضح تلفظ کولو ته توجه کوي) . ب – ښوونکی يوه کلمه په مفرد شکل پر توره تخته ليکي ؛ مثلاً : [ښځه] بل زده کوونکی د هغې اړونده د جمع شکل ليکي : [ښځې] . په يوه شمېر انتخابي نومونو مشق جاري ساتل .	توره تخته
۲. د بوټو په هکله خبرې کول : الف – زده کوونکي چې کوم بوټي پېژني ، نومونه يې را په زړه کوي اوتشريح کوي يې . ب – زده کوونکي د بوټو برخې را په زړه کوي ، نومونه يې اخلي او تشريح کوي يې . ج – ماشومان را ه په زړه کوي چې بوټي د ښه لويېدو له پاره څه ته ضرورت لري ؟	
۳. په مشق پانه کار کول : کوم بوټي خوړل کيږي ؟ کوم بوټي د بنيادمو لپاره د خوړلو وړ نه دي ؟ الف – زده کوونکي مشق پانه مطالعه کوي ، پر کار بحث کوي او خان پوهوي . ب– زده کوونکي په خاموشۍ کار کوي . نومونه لولي او د هغو بوټو نومونه په نښه کوي چې د خوړلو وړ نه دي . ج – زده کوونکي نتيجې تولګي ته لولي : وړومبی تول هغه بوټي چې د خوړلو وړ نه دي او بيا هغه چې د خوړلو وړ دي .	مشق پانه پ۲ – ۵۷ – ۲
۴. د ليکلو مشق کول : د خوړلو وړ بوټو د ليکلو مشق پر سلېټونو کول .	سلېټونه

پ۲ | ۵۷ - ۲

په هره کرښه کې داسې يو شی شته چې موږ يې نه خورو. معلوم يې کړئ او د چليپا (×) نښه ور لاندې وکړئ !

غنم ☐	جوار ☐	پنبه ☒	پالک ☐	ګازرې ☐
ګنی ☐	ګل ☐	لوبيا ☐	تېپر ☐	لپروګان ☐
ګلپي ☐	رومي بانجان ☐	الوګان ☐	تماکو ☐	مالټه ☐
د غز بوټی ☐	کدو ☐	دال ☐	بادرنګ ☐	مولی ☐

موضوع : خواړه : د يوه متن لوستل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : بوتي را په زړه کول : الف– ښوونکی ديوه بوتي نوم وايي ؛ مثلاً : غنم. يو زده کوونکی دغه نوم پر تخته ليکي . د نورو زده کوونکو چې په دې باره کې چې څه زده وي، هغه وايي . ب – د بوټو له نورو نومونو سره په همدغه طريقه دا مشق جاري ساتل . ج – د بوټو د نومونو يوه املا ليکل (له ٦ څخه تر ٨ پورې کلمې) : املا ويل او ليکل ، په معموله طريقه يې کتل .	تـــوره تختـــه سلېټونه/ توره تختـــــــه
۲. په مشـق پانه پ۲ – ۵۷ – ۳ کـار کـول : الـف – زده کوونکي متـن پـه خاموشي سره لولـي . ب – زده کوونکي متن بيانوي : بېل بېل زده کوونکي ته چې د متن په باره کې څه ور په زړه کيږي ، هغه وايي . نور غوږ نيسي او تبصري ورباندې کـوي . ج - زده کوونکي متـن تولـګي ته د۳ يا ۴ جملو په اندازه په برخو برخو کې لولي .	مشـق پـــانه پ۲ – ۵۷ – ۳
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه انديوال سره د دغه متن د لوستلو مشق کول (وار په وار) . ب – هر زده کوونکی د متـن څلـور جملې خوښوي چې پر سلېټونو يې مشـق وکـړي . ج – پر سلېټونو د دې جملو د ليکلو مشق کول .	مشـق پـــانه پ۲ – ۵۷ – ۳ ســـــلېټونه

پ۲ | ۵۷ - ۳

خواړه

خواړه د ژوند لـه پاره ضروري دي . بزګر غنم کري . بيـا يـې ربيـي . خلـــك غنم اوړه کوي . ښځې اوړه اغږي او په تناره يـا تبـې ډوډۍ پخوي . ښځې ســابــه ، غوښه او نور شـيـان هم پخوي . دوی د کور خلکو ته ډوډۍ تياروي .

مور تول تر ډوډۍ خوړلـو مخکې لاسـونه مـيـنځو . بـيـا ډوډۍ خورو . ډوډۍ په غاښونو ښه ميـده کوو . د ډوډۍ تر خوړلـو وروسـته بـيـا لاسـونه مـيـنځو . ښځې لـوښي مـيـنځي . په کار دي چې د خوړو لوښي او خواړه له مچانو څخه خوندي وساتو .

پاك خواړه د صحت له پاره ښه دي .

درسي پلان ۵۸ — ب۱ – ۵۸ – ۱

موضوع : تکرار : کسبونه ؛ ساده جملې لیکل (۱)

د بنوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱ . *تکرار: دمشق پانې پ۲ – ۵۷ – ۳ متن لوستل:*	مشق پانه پ۲ – ۵۷ – ۳
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پانې پ۲ – ۵۷ – ۳ متن بیا ولولي .	– متن څو خله ټولګي ته لوستل .	
	۲ . *د هغو خلکو په باره کې خبرې کول چې زموږ له پاره کار کوي:*	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کومو خلکو د کار په وجه دوی خواړه مومي د هغوی په باره کې چې څه معلومات لري ، هغه ووایي .	– د بزګرانو ، شپنو، قصابانو ، نانبایانو او داسې نورو په باره کې خبرې کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د نورو داسې خلکو په باره کې خبرې وکړي چې د خلکو له پاره کار کوي ؛ د یوه بحث رهنمایي کول: د چا دکار له برکته موږ دا شیان لرو : جامې ، روغتیا ، ښوونه او روزنه د ټک راټک وسیلې او داسې نور .	– دهغو کسبګرو په باره کې خبرې کول چې د دوی له پاره څه ناڅه کار کوي : د جلا ، جلا زده کوونکو له خوا بیانونه وړاندې کول ؛ د نورو ورته غوږ نیول ، تبصرې کول ؛ د دهرو زده کوونکو برخه اخیستل .	
	۳ . *په رسمونو کې ښودل شوي کسبونه پېژندل :*	
– زده کوونکو ته ویل چې مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۱ مطالعه کړي .	– رسمونه مطالعه کول ؛ خلك پېژندل چې مختلف کسبونه (کارونه) کوي .	مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه ویني هغه ووایي او د کسبونو نومونه واخلي او د دوی په باره کې خبرې وکړي .	– رسمونه یو په بل پسې بیانول ، د کسبونو نومونه اخیستل او ویل چې دا خلك څه کوي او زده کوونکي د دوی په باره کې څه معلومات لري .	
	۴ . *د رسمونو په اړه ساده جملې ویل او لیکل :*	
– ویل چې دهر رسم له پاره دوه جملې ولیکئ . دوی به د وړومبیو رسمونو له پاره په شریکه جملې معلومې کړي ؛ زده کوونکو د وړومبي مثال په ذریعه رهنمایي کول ؛ خوښې کړې جملې پر توره تخته لیکل .	– غوږ نیول ، په کار ځان پوهول ؛ د وړومبي رسم له پاره سپارښتنې وړاندې کول ؛ په آخر کې په دوو جملو متفق کېدل ؛ مثلاً : دا یو ګډوجر دی . دی شیدې خرڅوي .	مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۱ توره تخته سلېټونه
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له یوه اندیوال سره په خاموشۍ کار وکړي چې د نورو درپو رسمونو له پاره دوه ،دوه جملې معلومې کړي . او پر سلېټونو یې ولیکي .	– له یوه اندیوال سره کار کول ، پر رسمونو بحث کول ، د هر رسم له پاره دوه جملې معلومول او دا پر سلېټونو لیکل .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې ټولګي ته ولولي او په مشق پانه کې د لیکلو له پاره جملې خوښې کړي ؛ د دوی خوښې کړې جملې ښه صفا پر توره تخته لیکل .	– د جلا جلا زده کوونکو له خوا خپلې جملې لوستل ؛ پر جملو بحث کول ، په آخر کې په مشق پانه کې د لیکلو له پاره په جملو متفق کېدل .	

- زده کوونکو ته ویل چې لومړی پر سلېټونو د جُملو د لیکلو مشق وکړي او بیا یې په مشق پانه کې ولیکي .	*۵. د لیکلو مشق کول :* - له غوښتنې سره سم کار کول .	سلېټونه مشق پانه پ۲ - ۵۸ - ۱

(۱) دا درس دوه هدفونه لري : الف - دهغو کسبګرو په باره کې د زده کوونکو له خوا خبرې کول چې په خپل کلي کې یې پېژني . ب - د کسبونو او د اړوندو فعالیتونو په باره کې ساده جملې ویل او لیکل .

(۲) په دې مرحله کې [خواړه] نومي متن د دې له پاره یوه مقدمه ده چې د هغو خلکو په باره کې فکر وکړي او خبرې وربانديې وکړي چې خوراکي مواد پیدا کوي . تر دې وروسته دې زده کوونکې دهغو خلکو په باره کې سوچ او خبرې وکړي چې د زده کوونکو د ژوند له پاره کار کوي . د بحث د رهنمایي کولو په وخت کې دې ښوونکی زده کوونکي په دې وپوهوي چې هېڅوک هم د خپل ژوند ټول اسباب ځان ته یوازې نه شي برابرولای ، بلکې د نورو په کارونو پورې اړه لري .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي . تر هر رسم لاندې دې دوه دوه مناسبې جملې ولیکلې شي :



موضوع : تکرار : څه چې اور اخلي او څه چې اور نه اخلي

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د کسبونو تکرارجاري ساتل : الف – د وړومبيو څلورو رسمونو په باره کې جملې لوستل . ب – په خاموشۍ کار کول ؛ د آخريو څلورو رسمونوله پاره جملې پر سلېټونو ليکل . ج – زده کوونکي جملې تولګي ته لولي ؛ ښوونکی خوښې کړې جملې پر توره تخته ليکي . د – ښوونکی وايي چې د درس په آخر کې به زده کوونکي پر سلېټونو د دې جملو د ليکلو مشق کوي او بيا به يې په مشق پانه کې ليکي .	مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۱ سلېټونه توره تخته
۲. د اوراستعمال لکه چې په پ۲ – ۲۶ – ۱ کې پرې بحث شوی را په زړه کول : الف – ښوونکی پر توره تخته د [اور] کلمه ليکي . ب – زده کوونکو ته چې د اور په باره کې څه معلوم دي هغه بيانوي : ښوونکی د يوه بحث رهنمايي کوي چې د اور مختلفې فايدې او خطرونه ښکاره شي .	توره تخته
۳. په مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۲ کار کول : الف – مشق پانه مطالعه کول ، په کار بحث کول . ب – زده کونکي په خاموشۍ کار کوي: کلمې لوستل، فيصله کول چې دا شی اور اخلي او که نه؟ که چېرې اور اخلي نو تر نامه / کلمې لاندې يې په بکس کې د چليپا نښه کول . ج – نتيجې تولګي ته لوستل ، په هغو شيانو بحث کول چې دزده کوونکو له پاره واضح نه دي .	مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۲
۴. د ليکلو مشق کول : الف – زده کوونکي له توري تختې څخه پر سلېټونو د جملو ليکلو مشق کوي (په وړومبي قدم کې [د] وګورئ) . ب – زده کوونکي جملې ښه صفا په مشق پانه کې ليکي.	سلېټونه مشق پانه پ۲ – ۵۸ – ۱

پ۲ | ۵۸ ـ ۲

په هره کرښه کې د يوه داسې شي نوم شته چې اور نه اخلي . معلوم يې کړئ او دا نښه (X) ور لاندې وکړئ !

خولې ☐	ګيلاس ☒	کاغذ ☐	وېښته ☐	پنسل ☐
سګرټ ☐	لرګی ☐	اوبه ☐	تېل ☐	تخته ☐
رخت ☐	څرمن ☐	هډوکی ☐	خاوره ☐	کتاب ☐
پرتوګ ☐	کانې ☐	پانې ☐	کټ ☐	مېز ☐

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : تکرار : ځان له خطرونو څخه خوندي وساته

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. له مشق پانې پ۲ – ۵۸ – ۱ څخه د يو څو جملو املا : املا ويل او ليکل ، په معموله طريقه يې کتل .	سلېټونه تـوره تختـه
۲. تکرار : څه شی اورنه اخلي ؟ الف – (د کار کتابونه به بند وي) ښوونکی له مشق پانې پ۲ – ۵۸ – ۲ څخه يو په بل پسې بې لـه ترتيـب څخـه د شـيانو نومونـه اخلـي : زده کوونکـی وايـي چـې دا اور اخلـي او کـه نـه ؟ ب – د جلا جلا زده کوونکو له خوا د خوښې د يوه شي نوم اخيستل ، نور وايي چې دا اور اخلي او که نه ؟ يا دا چې د دې څه برخه اور اخلي او که نه ؟	
۳. په ورځني ژوند کې خطرونه را په زړه کول : الف – ښوونکی پوښتنه کوي چې کومو زده کوونکو ته د ورځني ژوند دخطرونو په بـاره کې څه ور په زړه کيږي ؟ څه چـې دوی اوس تـازه زده کـړي دي دهغو حواله ورکول (درسي پلان پ۲ – ۴۳ – ۱) . ب – چېرته چې احتيـاط کول په کـار دي ، زده کوونکي هغه وايي او تشريح کوي يې ، ښوونکی د بحث رهنمايي کوي .	
۴. په مشق پانه پ۲ –۵۸ – ۳ کار کول : الف – مشـق پـانه مطالعـه کـول ، پـر کـار بحـث کـول . ب – زده کوونکي سوالونه او ځوابونه يو په بل پسې څو ځله ټولګي ته لولي .	مشـق پـانه پ۲ – ۵۸ – ۳
۵. له يوه اندېوال سره دسوالونو او ځوابونو د لوستلو مشق کول (وار په وار) .	مشـق پـانه پ۲ – ۵۸ – ۳

ځوابونو ته دې د مربوطو پوښتنو شمېرې وليکلې شي :

پ۲ | ۵۸ ـ ۳

ځان له خطرونو څخه خوندي وساته !

۱ ـ پر سړک له پورې وتلو څخه مخکې څه کوې ؟
۲ ـ چې اور بليږي ، ځان ترې څنـګه ساتې ؟
۳ ـ له برق څخه به ځان څنـګه ساتې ؟
۴ ـ ته په خپل سر دوا خورې ؟
۵ ـ د لامبو خطرونه درته معلوم دي ؟

- [ ] د برق په شيانو کې به ګوتې نه وهم .
- [ ] هو ؛ چې لامبو نه راځي نو په ژورو اوبو کې به ډوب شم .
- [ ] ۱ ښې او کېن اړخ ته ګورم چې سړک خالي وي نو پورې وځم .
- [ ] نه ؛ هله چې مور ، پلار او ډاکټر راته ووايي .
- [ ] ځان او نور شيان به ترې لرې ساتم .

درسي پلان ۵۹ پ – ۵۹ – ۱	موضوع : وړوکی اختر : د یوه متن لوستل (۱)	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نظم د [ماشومانو ترانه] بيا ووايي .	۱. *تکرار : [د ماشومانو ترانه] :* – دجلا جلا زده کوونکو له خوا دنظم ويل .	
– د [رمضان] کلمه پر توره تخته ليکل ، له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه يې د روژې په باره کې ياد دي هغه ووايي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه يې د سپوږمۍ د مرحلو په باره کې ياد دي ، هغه ووايي . – داوطلبيو زده کوونکو ته ويل چې پر توره تخته د پوره کېدونکي او کمېدونکي سپوږمۍ رسم وکاږي . باوري کول چې د سپوږمۍ مرحلې صحيح کښلې شوې دي .	۲. *د روژې دمياشتې په باره کې حقيقتونه را په زړه کول :* – د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل ، د [رمضان] کلمه لوستل ، د جلا جلا زده کوونکو له خوا د روژې د مياشتې په باره کې بيانونه ورکول ، دنورو ورته غوږ نيول ، نيمګړتياې پوره کول . – څه چې ورته ياد دي ، دجلا جلا زده کووکو له خوا يې ويل ، د نورو له خوا يې نيمګړتيا پوره کول . – د داوطلبو زده کوونکودتولګي مخې ته راتلل ، پرتوره تخته د پوره کېدونکي اوکمېدونکي سپوږمۍ رسم کښل ، د نورو ورته په غور کتل .	توره تخته توره تخته
– وېل چې زده کوونکي به د مشق پاڼې پ۲ – ۵۹ – ۱ متن په خپله لولي او تر دې وروسته به وايي چې څه يې ولوستل ؟ داهم ورته ويل چې په متن کې نوې کلمې نشته او متن به دوی په خپله ولوستلای شي ، دمشکلاتو په وخت کې دې له انديوال يا ښوونکي څه پوښتنه وکړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څه يې ولوستل ، هغه ووايي . – دمتن په باره کې د سوالونو غوښتنه کول؛ مثلاً: • خلك وړوکی اختر کله کوي ؟ • د اخر په سهار لويان او ماشومان څه کوي ؟ • داختر تر لمانځه وروسته خلك څه کوي ؟ • ماشومان چې له مور او پلار څخه پيسې واخلي نو څه وربانديې کوي ؟ • له غريبانو سره د اختر په ورځ څنګه مرسته کيږي ؟ او داسې نور.	۳. *داختر په باره کې يو متن لوستل اوخان پرې پوهول :* – غوږ ورته نيول ، متن لوستل، د ضرورت په وخت کې له يوه انديوال يا ښوونکي څخه د مرستې غوښتنه کول. – د جلا جلا زده کونکو له خوا دمتن په باره کې تفصيلات وړاندې کول ، د نورو له خوا ورته غوږ نيول ، تبصره کول ،اصلاح کول . – د ښوونکي د سوالونو ځوابونه ورکول ، د ډېرو زده کوونکو برخه اخيستل ، ډېر زده کوونکي دې همدغه شان بيانونه وړاندې کړي .	مشق پاڼه پ۲ – ۵۹ – ۱

موضوع : د [بيزو او ډوډۍ] د کيسې اړوندو جملو ته شمېره ورکول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د زده کوونکو له خوا د تېرې ورځې کيسه بيا ويل ؛ د ممکنو تفصيلاتو ورکول .	مشق پانه
۲. په مشق پانه کې کار کول :	پ۲ - ٦ - ۲
الف - جملې له يوه انديوال سره يو ځای لوستل .	
ب - جملې تولګي ته لوستل (يوه زده کوونکی يوه جمله) .	
ج - معلومول چې تولې جملې په کيسه او په مشق پانه پ۲ - ٦ - ۱ پورې اړه لري خو جملې په صحيح ترتيب نه دي ليکلې شوي او ترتيبول غواړي ؛ جملو ته شمېره ورکول .	
د - اوس جملې په صحيح ترتيب سره لوستل .	سلېټونه
۳. د زده کوونکو خوښې جملې پر سلېټونو ليکل .	

پاسنۍ مشق پانې ته په کتلو سره دې مربوطو رسمونو او جملو ته يو ډول شمېرې وليکلې شي :

بيزو په ونه کې ده .	پ۲ ٦ - ۲ بيزو ځي .
هغه لږه لږه ډوډۍ خوري .	پيشو له ډوډۍ سره منډې وهي .
بيزو ډوډۍ تلي .	هغه ډوډۍ ته ګوري .
۱ دا يو کور دی	هره پيشو ډوډۍ خوري .

- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د کیسې ماشوم (اسلم) اختر څنګه کړ؟ د دوو متنونو د توپیرو په باره کې د یوه بحث رهنمایي کول. (۱) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې متن ټولګي ته د دوه یا دري جلمو په اندازه په برخو برخو کې ولولي.	- د جلا جلا زده کوونکو چې څه یاد دي هغه ویل، د نور له خوا یې نیمګړتیا پوره کول، کومه کیسه او متن چې دوی اوس اوس ولوست د هغه په منځ کې توپیرونه معلومول. - د جلا جلا زده کوونکو له خوا ټولګي ته متن په برخو برخو کې څو څله لوستل، یو زده کوونکی دري څلور جملې.	
	۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول:	
- له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې: الف – له یوه اندیوال سره د متن د لوستلو مشق وکړي. ب – پر سلېټنو د متن د وروستیو څلورو کرښو د لیکلو مشق وکړي.	- له غوښتنې سره سم کار کول: الف – له اندیوال سره د متن لوستل (وار په وار). ب – پر سلېټونو د وروستیو څلورو کرښو د یوې یوې جملې مشق کول.	مشق پاڼه پ۲ – ۵۹ – ۱ سلېټونه

(۱) زده کوونکو په درسي پلان پ۲ – ۵۳ – ۱ کې د اختر په باره کې یو متن لوستلی دی. هغه متن د یوه ماشوم (اسلم) په باره کې یوه کیسه ده چې اختر یې څنګه کړ؟ دا نوی متن د اختر په باره کې د سترګو لیدلی حال بیانوي. د دې متن ژبه د ۷ – ۸ کالو د یوه ماشوم له پاره مناسب ده. د یو عام متن دی او له کوم خاص شخصیت سره اړه نه لري. په دې متن کې نوې کلمې نشته. د دې له پاره وړومبی د نوو کلمو تر معرفي کولو پرته له زده کوونکو څخه دا توقع کېدای شي چې متن په خپله ولولي.

پ۲ | ۵۹ – ۱

وړوکی اختر

له روژې څخه وروسته اختر وي. مسلمانان چې پوره میاشت روژې ونیسي نو الله ﷻ ورته په بدل کې د اختر خوشحالي ورکوي. د اختر په کولو سره د خدای ﷻ شکر ادا کوي. دې اختر ته خلک وړوکی اختر وایي. په دې ورځ ماشومان ځانونه صفا کوي. نوې او پاکې جامې اغوندي. له چای سره پراتې او نور شیان خوري. مشران لامبې او پاکې جامې اغوندي. د اختر د لمانځه له پاره جومات ته ځي.

له لمانځه څخه وروسته خلک یو بل ته ور غاړې وځي. په ډېره مینه یو بل ته د اختر مبارکي ورکوي. له لمانځه څخه وروسته ډېرته خپلو کورونو ته ځي. څوک غریبانو ته جامې او څوک پیسې ورکوي چې دوی هم د اختر په خوشحالۍ کې شریک شي.

په کلیو کې ځای په ځای مېلې وي. ماشومانو ته مور او پلار د اختر پیسې ورکوي. دوی مېلې ته ځي. هلته په ټالونو کې زانګي. د لوبو شیان اخلي. لوبې کوي. چې ستړي شي نو خپلو کورونو ته ځي.

موضوع : تکرار : د ورځې وختونه ، د اونۍ ورځې ، د کال موسمونه

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار: زده کوونکي د مشق پانې پ۲ – ۵۹ – ۱ متن ټولګي ته څو ځله په برخو برخو کې لولي .	مشق پانه پ۲ – ۵۹ – ۱
۲. د ورځې وختونه را په زړه کول : (د کار کتابونه به بند وي) . الف– ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې د ورځې وختونه د چا په زړه دي ؟ ب – زده کوونکي د ورځې د وختونو نومونه را په زړه کوي او وايي چې په دې خاصو وختونو کې دوی څه کوي . ج – زده کوونکي د ورځې د وختونو په باره کې جملې وايي ؛ مثلاً : لمر خاته مونږ پاڅيږو . سحر مونږ په ښوونځي کې درس وايو . غرمه مونږ کورته څو . اوداسې نور .	
۳. د اونۍ ورځې را په زړه کول : ښوونکی د اونۍ د ورځو پوښتنه کوي ؛ زده کوونکي يې نومونه اخلي او په صحيح ترتيب يې څو ځله وايي .	
۴. د کال موسمونه را په زړه کول : الف – ښوونکی د [يو کال] عبارت پر توره تخته ليکي او له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې په دې باره کې يې څه زده دي ؟ ب– زده کوونکي څلور موسمونه را په زړه کوي او د دوی د بيانولو کوښښ کوي . ښوونکی يې د ضرورت په وخت کې مرسته کوي . ج - جلا جلا زده کوونکي د موسمونو په بازه کې نظم وايي (څومره چې د دوی ياد دی) .	توره تخته
۵. په مشق پانه پ۲ – ۵۹ – ۲ کار کول : په صحيح طريقه د کلمو ګروپونه جوړول : الف – مشق پانه مطالعه کول ، په دې خان پوهول چې کومې کلمې په پاسنۍ برخه کې ورکړای شوي دي هغه به د لاندنۍ برخې په اړوندو کړښو کې ليکلې کيږي . ب– زده کوونکي په خاموشۍ کار کوي : کلمې لوستل ، د دوی ګروپونه جوړول او په صحيح ترتيب يې ليکل . ج – کلمې ټولګي ته لوستل ؛ کتل او اصلاح کول .	مشق پانه پ۲ – ۵۹ – ۲
۶. د ليکلو مشق کول : زده کوونکي له مشق پانې څخه پر سلېټونو د ټولو کلمو د ليکلو مشق کوي.	سلېټونه

کلمې دې په مربوطو تشو خايونو کې ، په ترتيب سره ، وليکلې شي :

پ۲ | ۵۹ - ۲

غرمه پنجشنبه مازيګر سه شنبه منی

ژمی مابنام دوشنبه سهار شنبه

جمعه ماسپښين

اوړی چارشنبه ماسخوتن پسرلی يکشنبه

د ورځې وختونه	_____
د هفتې ورځې	_____
موسمونه	_____

موضوع : تکرار د کلمو په آخر کې د [ی] توری .

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – د ورځې وختونه ، د اونۍ ورځې اودکال موسمونه را په زړه کول .ب – له مشق پانې پ۲ – ۵۹ – ۲ څخه د تقريباً لسوکلمو يوه املا ليکل ؛ املا ويل ، په معموله طريقه يې کتل.	سلېټونه
۲. په مشق پانه پ۲ – ۵۹ – ۳ کار کول : الف – مشق پانه مطالعه کول ، کلمې په خاموشۍ لوستل ، پر عنوان بحث کول، را په زړه کول چې د [ی] توری د کلمې په آخر کې پينځه ډوله شکلونه او آوازونه لري . ب – زده کوونکي د [ی] دتوري د پينځو مختلفو شکلونو د معلومولو له پاره په خاموشۍ کار کوي او پر سلېټونو داسې کلمې ليکي چې په آخر کې يې د [ی] مختلف شکلونه او آوازونه وي ، کله چې زده کوونکي کار کوي نو ښوونکی پر توره تخته پنځه خالي ستونونه جوړوي لکه چې په مشق پانه کې دي . ج – زده کوونکي د کلمې په آخر کې د هرې يوې [ی] د شکل او آواز له پاره يوه کلمه لولي . ښوونکی دا کلمه په اړوندو ستونونو کې صفا ليکي . د- زده کوونکي د کلمې د آخري توري (ی) پنځه مختلف شکلونه ښلوي ، ښوونکی يې د اړوندو ستونونو د سر په کرښه کې ښه صفا ليکي . زده کوونکي يې آوازونه په توجه سره څو څو خلې باسي . هـ – زده کوونکي په خاموشۍ کار کوي او تولې کلمې د مشق پانې په اړونده ستون کې ليکي . و – زده کوونکي کلمې ستون په ستون څو څو خلې لولي ؛ ښوونکی اطمينان حاصلوي چې د کلمو آوازونه صحيح وايستلای شول .	سلېټونه مشق پانه پ۲ – ۵۹ – ۳ سلېټونه توره تخته مشق پانه پ۲ – ۵۹ – ۳
۳. د ليکلو مشق کول : زده کوونکي پر سلېټونو د مشق پانې د تولو کلمو د ليکلو مشق کوي .	سلېټونه

کلمې دې د آخري توري د آواز او شکل له مخې په ښلا ښلو ستونونو کې وليکلې او د ستونو دپاسه دې د مربوطو [ی] ګانو شکلونه وکښل شي :

پ۲ ۵۹ - ۳

د کلمو په آخر کې د [ی] توری

چې خپلې کوئ سړی زړې
بنې زلمی رمبی الوځي اغږي بتې
امامتي خورئ تبې باندې سپی الماری

درسي ملان : ٦٠ پ٢ - ٦٠ - ١	موضوع : تکرار د ځناورو تیاره رسمونه پېژندل (١) ؛ د متقاطعو کلمو معماګاني حلول (٢)	
د ښوونکي فعالیت	د زده کوونکو فعالیت	درسي مواد
	١ . پر توره تخته د قطع کېدونکو کلمو معماګاني حلول :	
- پر توره تخته د لاندنیو متقاطع کلمو معما جوړول :	- د ښوونکي رسم ته په غور کتل ؛ د قطع کېدونکو کلومعما پېژندل ؛ د حلولو کوشش کول ؛ حلونه وړاندې کول ؛ معلومول : املوک ، مالته .	توره تخته
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کله د متقاطع کلمو په معماګانو کې کلمې لیکل کیږي نو څه په کې مختلف دي .	- را په زړه کول چې د متقاطع کلمو په معما ګانو کې تول حرفونه جدا جدا وي خو داسې به لوستلای شي لکه چې په معموله طریقه لیکلې شوي کلمې لوستل کیږي ، په خالي بکس کې غیب حرف لیکل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کلمو د حروفو نومونه واخلي او پر توره تخته یې په معموله طریقه ولیکي .	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا د توریو نومونه اخیستل او بیا کلمې په معموله طریقه پر توره تخته لیکل .	توره تخته
- زده کوونکي رهنمایي کول چې دمېو په باره کې د متقاطع کلمو نورې معماګاني یوه په بلې پسې حل کړي (نورې تبصرې وګورئ) . (٣)	- قیاس کول ، صحیح کلمې معلومول ؛ د کلمو د حروفو نومونه اخیستل ؛ کلمې په معموله طریقه لیکل .	
	٢ . په مشق پانه کې د قعط کېدونکو کلمو معماګاني حلول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانې پ٢ - ٦٠ - ١ ته وګوري او رسمونه مطالعه کړي .	- رسمونه مطالعه کول ، د ځناورو هغه رسمونه پېژندل چې په یوه خاصه طریقه رسم شوي دي .	مشق پانه پ٢ - ٦٠ - ١
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په دې رسمونو کې څه شی خاص دی؛ زده کوونکي په دې باره کې رهنمایي کول چې داتیاره رسمونه دي.	- ویل چې دا ځناور مکمل تور رسم شوي دي خو د ځناورو شکل په خپل حال دی ، ځان پوهول چې دا د ځناورو رسمونه دي .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دځناورو نومونه واخلي .	- د مختلفو ځناورو نومونه اخیستل ، پر رسمونو بحث کول چې واضح نه دي .	
- زده کوونکو ته ویل چې د متقاطع کلمو معما ګانو ته وګوري او کار معلوم کړي .	- معلومول چې د متقاطع کلمو د هرې معما له پاره په جوړو شوو رسمونو کې دوه ځناور دي.	
- زده کوونکي رهنمایي کول چې د متقاطع کلمو لومړی معما یو خای حل کړي .	- قیاس کول ، کوښښ کول ، حل معلومول : لړم ، مړه .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د متقاطع کلمو پاتې نه معماګاني حل کړي ؛ تشریح کول چې دوی د مشق پانې په لاندني بکس یا په مخکښیو مشق پانو کې د کلمو صحیح هجاګاني معلومولای شي . (٤)	- له یوه انډیوال سره په خاموشۍ کار کول ، د متقاطع کلمو معماګاني حلول : صحصح ځناور معلومول ، د غبیو حروفو په باره کې فیصله کول ، دا په خالي بکسونو کې لیکل .	

- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نتيجې تولګي ته ولولي .	- نتيجې تولګي ته لوستل (هر ځل دوه ځناور يوځای) .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ځناورو په باره کې ساده جملې ووايي .	۳. *جملې ليکل :* - غوټې ورته نيول، ساده جملې ويل ؛ مثلاً : غوا موټ ته پې کوي . اس تېزه منډه وهي . او داسې نور .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې شپږ ځناور انتخاب کړي اود هر يوه په باره کې پر سلېټونو يوه يوه ساده جمله وليکي ، او ورته دې ووايي چې دوی دې دا جملې اوس وليکي او بله ورځ به يې تولګي ته لولي .	- له غوښتنې سره سم په خاموشۍ کار کول .	سلېټونه

(۱) تياره رسمونه د زده کوونکو له پاره نوي شکلونه دي . د دې له پاره چې زده کوونکو ته د مشق پانې پ۲- ۶۰ -۱ د ځناورو پېژندل اسان شي نو رسمونه د مخکښيو مشق پانو د رسمونو په شان رسم شوي دي .

(۲) د متقاطع کېدونکو کلمو معماګاني وړومبی په درسي پلان پ۲ – ۴۰ – ۱ کې معرفي شوي دي . د دوی حلول د زده کوونکو له پاره يو په زړه پورې کار دی . د کلمو معماګاني زده کوونکو ته د دې ښه موقع ورکوي چې د کلمو په تجزيه کولو، مشق کولو او په جدا جدا ډول د حروفو په ليکلو وپوهيږي .

(۳) د متقاطع کلمو دا لاندی معماګاني تر مخکښيو لږ څه مشکلې دي . ځکه چې په دې کې به ډېر حروف ليکل کېږي . په دې تولو کې به د مېوو دوه مختلف ډولونه وي .







(۴) د نتيجو په بکس کې کلمې يوازې هغه وخت لوستل کېدای شي چې مشق پانه سرچپه کړای شي . دا کار قصداً شوي دي، ځکه چې زده کوونکو ته په کار ده چې د متقاطع کلمو په حلولو خان متمرکز کړي . او له بلې خوا دوی ته دا وخت ورکړای شوی چې وګوري چې دوی کلمې صحيح ليکلای شي او که نه ؟



موضوع : دا کوم حيوان دی ؟ دخناورو په باره کې دوني ويل / لوستل او حلول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – د زده کوونکو له خوا د نظم (د ماشومانو ترانه) لوستل . ب – زده کوونکي له سلېتونو څخه د خناورو په باره کې هغه جملې لولي چې تېره ورځ يې ليکلې وې . ج – ښوونکی د مشق پاڼې پ۲ – ۶۰ – ۱ له خناورو څخه د يوه خناور نوم پر توره تخته ښه صفا ليکي ؛ يو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي ، دغه کلمه / نوم لولي ،حرف په حرف يې وايي او د متقاطع کلمو په شان يې ښل ښل حروف ښه صفا پر توره تخته ليکي (خو بې له بکسونو څخه) . د – په همدغه طريقه د نورو خناورو په نومونو باندې مشق جارې ساتل ؛ د نورو زده کوونکو د ټولګي مخې ته راتلل .	سلېتونه توره تخته
۲. په مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۲ کار کول : د خناورو په باره کې دوني : الف – زده کوونکي مشق پاڼه مطالعه کوي ، په کار بحث کوي او خان پرې پوهوي . ب – زده کوونکي په خاموشۍ کار کوي : جملې لوستل ،د کينې خوا په ستونونو کې د حل معلومول ، شمېره ورکول . ج – ټولګي ته جملې او يو په بل پسې حلونه لولي ، نور يې مقايسه کوي ، ګوري يې ، اصلاح کوي يې .	مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۲
۳. د لوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له يوه اندېوال سره د جملو مشق کول (وار په وار) . ب – پر سلېتونو باندې د خپلو جملو مشق تر هغه کول چې له يادې يې په آسانۍ سره وليکلې شي .	مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۲ سلېتونه

له کلمو سره دې د مربوطو جملو شمېرې وليکلې شي :

پ۲ | ۶۰ - ۲	دا کوم حيوان دی ؟		
۱	جګ آواز لري او بار وړي .		غوا ، مېښه
۲	دوه ښکرونه لري او شيدې کوي .		پيشو
۳	ډېره تېزه منډه وهي .		ګډه
۴	بزګر پرې په پتيو کې يوځ کوي .		سپی
۵	پر ونه او ډېوال په منډه خېژي .		اس
۶	شيدې کوي او وړۍ يې په کاريږي .	۱	خر
۷	ټوله شپه ويښ وي او پيره کوي .		غويی

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : دا څه شی دی ؟ د تګ راتګ د وسیلو په باره کې دوني ویل / لوستل او حلول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – له یاده له مشق پاڼې پ۲ – ۶۰ – ۲ څخه دونو را په زړه کول (ویل) – (د کار کتابونه به بند وي) . ب – د دونو او حلونو بیا لوستل . ج – زده کوونکي ځینې نورې دونې د نورو ځناورو په باره کې وایي لکه څنګه چې یې په مشق پاڼې پ۲ – ۴۹ – ۱ کې وویل .	مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۲
۲. مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۳ کار کول : الف– ښوونکی وایي چې زده کوونکي به په دې مشق پاڼه په خپله کار کوي ؛ ښوونکی به یوازې هغه وخت مرسته کوي چې زده کوونکي د کومې کلمې په لوستلو کې مشکلات ولري . ب – زده کوونکي په خپله کار کوي ؛ دونې لولي په خالي ځایونو کې نتیجې لیکي . ج – زده کوونکي دونې او نتیجې خو خو ځله ټولګي ته لولي ، یو زده کوونکي یوه دونه .	مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۳
۳. د تګ راتګ د وسیلو په باره کې خپلې دونې لیکل . الف – ښوونکی وایي چې زده کوونکي به اوس دوه کسیز کار کوي او د تګ راتګ د وسیلو په باره کې به یوه یوه یا دوه دوه دونې لیکي . دوی مشق پاڼه پ۲ – ۵۰ – ۱ د تصور پېدا کولو له پاره کتلای شي . ب – زده کوونکي دوه کسي کار کوي ، د خپل قابلیت مطابق یوه یا دوه دونې په خپله وایي او لیکي یې . ج – ببل ببل زده کوونکي خپلې دونې ټولګي ته لولي . نور یې قیاس کوي . د – ښوونکی دوه ښې دونې پر تور تخته صفا سوتره لیکي .	سلېټونه تـوره تخـته مشق پاڼه پ۲ – ۶۰ – ۳
۴. د لوستلو او لیکلو مشق کول: الف– زده کوونکي د تورې تختې د دوو دونو د لوستلو مشق کوي. ب – زده کوونکي د تورې تختې د دوو دونو د لیکلو مشق پر سلېټونو کوي .	
۵. ښوونکی پوښتنې کوي او زده کوونکي پرې بحث کوي / وایي چې کوم درس یا مشق پاڼه یا کار د دوی تر ټولو زیات خوښ دی . که چېرې بحث په زړه پورې وي نو د دوهم ټولګي د کار د کتاب تر کتلو وروسته په بل درس کې جاري ساتل کېدای شي .	سلېټونه

پ۲ | ۶۰ - ۳

دا څه شی دی ؟

تر ټولو موټرو ټېز دی ، خو پر مځکه نه ځي .	ډېر اوږد دی او ډېر زیات شور کوي . ډېرې سورلۍ وړي خو هر ځای ته نه شي تللی .
دا ـــــــــــ ده .	دا ـــــــــــ دی .
پخوا به هم استعمالېده اواوس هم استعمالیږي.ماشین نه لري او هر چېرته ځي .	ډېر لوی دی . نه به مځکه ځي اونه په هوا کې. ډېرو هیوادونو ته سورلۍ او سامان وړي .
دا دی .	دا دی .

کتابي علامه

د ښوونکي له پاره عمومي لارښوونه

لوستل :

ښوونکی به دا خبره یاده لري چې ماشومان لاتر اوسه په بشپړه توګه لیکل نه شي کولای ؛ دوی اوس هم د نویو او ګرانو کلمو په لوستلو کې مرستې ته ضرورت لري .

د نویو کلمو د معرفي کولو له پاره اساسي اصول :

۱. ښوونکی به کلمه په خپله نه لولي ؛ بلکې ماشومانو ته به لارښوونه کوي چې هغوی یې په خپله د تصویر / شکل یا د تورو دآوازونو په مرسته ولولي .

۲. ښوونکی به کلمه پر توره تخته په غټو تورو ، روښانه او ورو ورو لیکي .

۳. ماشومان به بیا د هغې د لوستلو کوشش کوي .

ښوونکی کولای شي چې له ماشومانو سره د لاندنیو امکاناتو او تخنیکونو په وسیله مرسته وکړي :

- د سر د توري او ځینو نورو تورپو د آوازونو په وسیله .
- د ټولو تورپو د یوه مرکب د تلفظ کولو په وسیله .
- د کلمو یا د کلمو د هغو برخو د آوازونو په وسیله چې سره شباهت لري.

۴. تر لوستلو وروسته به کلمه څو څو ځله لوستل کېږي او پر کرښو به یې ګوته ګرځول کېږي .

۵. د تورپو د تکرارولو او را په زړه کولو په غرض په ځینو حالتونو کې ماشومان کلمه ټکي ټکي ویلای شي .

٦. که ګراني کلمې ډېرې وي نو یوه یوه به معرفي کېږي .

له یوه اندیوال سره لوستل :

له اندیوال سره د کار کولو په وخت کې به ماشومان خبرې په ټیټ آواز کوي چې یو بل له کار څخه ونه باسي .

الف – له اندیوال سره د نوي متن لوستل :

هر یو به متن په خپله لولي . خو دوارې اندیوالان به له مشکل سره د مخامخ کېدلو په وخت کې یو له بل څخه پوښتنه او یو له بل سره مرسته کوي . که دوارې اندیوالان یوه کلمه یا د کلمو یه سلسله نه شي لوستلای نو له ښوونکي څخه دې مرسته وغواړي .

ب – له یوه اندیوال سره د لوستلو مشق کول :

که یو اندیوال متن (یوه کلمه ، یوه کرښه ، یوه جمله ، یو پاراګراف ، یو بیت) لولي نو بل به ورته غوږ ږدي او دې ته په توجه کوي چې اندیوال یې لوستل صحیح کوي او که نه ؟ ځینې کارونه به داسې هم وي چې دوارې اندیوالان په ګډه په یوه وخت په کار واچوي ؛ مثلاً : سوال او ځواب ، مکالمه او داسې نور تر یوه یا دوه ځله لوستلو وروسته به اندیوالان یو بل ته وار ورکوي .

ټولګي ته د یوه متن لوستل :

کله چې یو متن لوستل کېږي نور ماشومان به هم ورسره سم په کې بوخت وي . کلمه چې یو زده کوونکی په اوچت آواز لوستل کوي نور زده کوونکي به یې ورپسې په پته خوله تعقیبوي او متن ته به په پوره توجه سره ګوري .

دغه هدف هغه وخت ښه حاصلېدلای شي چې زده کوونکي په خپلو مشق پانو کې لوستل نه یوازې په سترګو ، بلکې تر کلمې لا ندې د ګوتې ورلو په وسیله هم تعقیبوي . په دې توګه به توجه هم زیاته وي او ښوونکي ته به هم معلومېږي چې ماشومان په ریښتیا سره لوستل تعقیبوي او که نه ؟

لیکل :

ښوونکی به دا خبره یاده لري چې ماشومان ښه ښکلي لیکل هغه وخت زده کوي چې ښوونکی یې ښکلي لیکل کوي . پر توره تخته د لیکلو ښودل :

- ښوونکی به په غټو غټو توریو ، روښانه او ورو ورو لیکل کوي چې زده کوونکي یې تعقیب کړای شي .
- د زده کوونکو له لوري تر کلمې لوستلو وروسته به ښوونکي د توري تختې ډډې ته درېږي او د کلمې پر کرښو به ټکي په ټکي ، ورو ورو د قلم ، تباشیر یا ګوتې په ګرځولو سره یو خل بیا دکلمې لیکل عملاً ښیي .
- زده کوونکي به په همدغه شان پر خپلو سلېټونو باندې هم په ګوته د دغې کلمې د لیکلو کوښښ کوي .

پر سلېټونو د لیکلو مشق کول :

په غور او واضحه توګه لږ لیکل تر ډېرو لیکلو غوره دی .

- پر سلېټونو یا تخته به زده کوونکي تر هغې د یوې کلمې / یوې جملې مشق کوي چې په آسانۍ سره یې ولیکلای شي .
- په آسانۍ سره د لیکلو مطلب دا دی چې یوه کلمه یا جمله به تقریباً په روانه توګه له یاده ښه په روښانه توریو سره لیکل کېږي .
- له ښوونکي څخه هیله کېږي چې له زده کوونکو سره په ښکلي لیکلو کې مرسته وکړي ؛ اصلاح او ډاډګېرنه یې وکړي چې ورو ورو یې خط ښه شي .

د کار په کتابونو کې لیکل :

- زده کوونکي به د کار په کتابونو کې په ډېر ښه خط لیکل کوي .
- د کار په کتابونو کې لیکل معمولاً پر سلېټونو تر مشق کولو وروسته کېږي

املا لیکل :

د دې له پاره چې زده کوونکو ته د خپلې زده کړې اندازه ولګېږي ، نو لنډې لنډې املا ګانې به په منظمه توګه لیکل کېږي .

- په دې مرحله کې به املاګاني لنډې وي ؛ دري څلور کلمې یادوه دري جملې .
- کله چې ښوونکی املا وایي نو زده کوونکي به کاملاً چپ وي او ښوونکی ته به پوره متوجه وي .
- ښوونکی به د املا کلمه یوه یا دوه خلې په واضح ډول او پوره اوچت آواز وایي ؛ بیابه یې زده کوونکي بې له څه سوال کولو په خاموشۍ سره لیکي .
- کله چې ټولو زده کوونکو کلمه ولیکله او په توجه سره یې ښوونکي ته وکتل ، بیا به ښوونکی د بلې کلمې یا جملې له ویلو سره املا جاري ساتي .

وړې املاګانې کتل / چک کول :

زده کوونکي به داسې روزل کېږي چې وړې املا ګانې په دیانت او مسوؤلیت سره په خپله وګوري او د توري تختې یا کتاب له مخې یې اصلاح کړي .

- ښوونکی به لومړی کلمه یا جمله ښه غټه او واضحه پر توره تخته لیکي .
- زده کوونکي به د توري تختې دغه کلمه یا جمله لولي او له خپلو لیکلو سره به یې مقایسه کوي ؛ بیا به یې په خپلو سلېټونو / د کار کتابونو / کتابچو کې اصلاح کوي . د اصلاح کولو له پاره به زده کوونکي یو توری یا کلمه نه وراړوي ؛ بلکې غلطه کلمه به چلیپا کوي او ټوله کلمه به په صحیح شکل بیا لیکي .
- د پاتې کلمو یا جملو اصلاح به په همدغه ډول جاري ساتل کېږي .

فهرست

د درسي ټلان لسري	د درسي ټلانونو او ټولنيز درسونو موضوعګاني عنوانونه	مخونه
۰	پيژندګلوي	الف ، ب ،ج
۱	الله پاك ۱. د نظم يادول ؛ د نويو کلمو د ليکلواو لوستلو مشق کول ۲. د نظم يادول ؛ د نظم په اړوندو جملو کې د [زه] او [موږ] مشق کول	۱ – ۴
۲	د الفبې د تورپو شکلونه ، آوازونه او نومونه ؛ ځيني توري په ښه خط ليکل ۱. دالفبې د تورپو تکرارول ؛ په ورکړای شويو کلمو کې د تورپو معلومول ۲. د آواز لرونکو تورپو (واولونو) پيژندل	۵ – ۸
۳	د هغو فعلونو معرفي کول چې دټولګي فعاليتونه تشريح کوي ۱. له ټولګي سره ترلې فعلونـه لـه [زه] او [مـوږ] سـره پـه شـفاهي او تحريـري تـوګه استعمالول ۲. زمـا / زمـوږ پـه بنوونـځي کـې څه خـوښ دي ؟ د [زمـا ليکـل خـوښ دي .] جـوړ معرفي کول	۹ – ۱۲
۴	هغه فعلونه معرفي کول چې د تفريح د وخت فعاليتونه بيانوي ۱. د تفريح د وخت فعاليتونه ؛ په ليکلي ډول د امريه فعلونو جمع شکل معرفي کول ۲. د لنډو نمګړو جملو ښوول : " زما ... خوښ وي / د خلکو... خوښ وي "	۱۳ – ۱۶
۵	د [ی] توری د کلمې په آخر کې : په آواز او شکل کې يې توپير پيدا کول : ۱. په ټولـو موقعيتونو کې [د کلمې په سر ، منځ او آخر کې) د [ی] د تـوري آواز او شکل معلومول ۲. د ځينو هغو کلمو تکرارول چې د [ی] توری په آخر کې راغلی وي ؛ په پوهې سره (با مفهومه) لوستل ؛ د رسمونو اړوندې جملې پيدا کول	۱۷ – ۲۰
۶	فهم (پوهېدنه) : بيزو او ډوډۍ ؛ د رسمونو له پاره د اړوندو جملو پيدا کول ۱. د [بيزو او ډوډۍ] د کيسې اړوندو جملو ته شمېرې ورکول ۲. د [لاندې ، باندې ، مخې ته ، شاته ، ولې ، کلمه ، څومره] کلمو / عبارتونو معرفي کول ؛ صحيح ځوابونه له اړوندو سوالونو سره ترل	۲۱ – ۲۴
۷	د يوه متن لوستل ؛ د واولونو (ا ، و ، ی) د آوازونو او شکلونو تکرارول ۱. د يوه متن لوستل (د نويو زده کړيو کلمو تکرارول) پر سلېټونو دکلمو د ليکلو مشق کول ۲. د املا ليکل ؛ د رسمونو مطابق جملې ليکل	۲۵ – ۲۸
۸	د يوې جګړې فيصله کول ؛ په رسمونو کې په يوه ښودل شوي حالت ځان پوهول او وربـاندې خبرې اترې کول ۱. په حال زمانه کې د [ته] دمفرد شخصي ضمير مطابق د فعلونو کارول ۲. په حال زمانه کې د جمع شخصي ضمير (تاسو) مطابق د فعلونو کارول	۲۹ – ۳۲
۹	د [دوه] د عددي کلمې او د مشهورو نومونو د جمع عام شکلونه لوستل او ليکل ۱. د دوو خاصو شکلونو په شمول دجمع د شکلونو مشق کول ۲. له پوهې سره (با مفهومه) لوستل ؛ د جمع شکلونه معرفي کول	۳۳ – ۳۶

موضوع : د [لاندې ، باندې ، مخې ته ، شاته ، ولې ، کله ، څومره] کلمو/عبارتونو معرفي کول ؛ صحيح خوابونه لـه اړوندو سوالونو سره تړل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د [چېرته] په سوالیه کلمې سره د سوالونو مشـق کـول او د داسې خوابونـو غوښتنـه کـول چې [لاندې ، باندې ، مخې ته ، شاته] کلمې په کې راځي . د پوښتنو او خوابونو د اسانولو له پاره به ځلور زده کوونکي په ټولګي کې د یوه مېز مخې ته ، شاته ، تر مېز لاندې او پرمېز باندې په ترتیب سره کښېنې یا دریږي .	
۲. د ښوونکي له خوا پر توره تخته د نویو کلمو / عبارتونو (شاته ، مخې ته ، لاندې ، باندې) لیکل ؛ د زده کوونکو لـه خوا د د دغـو کلمـو / عبارتونو په ګډه او جلا جلا لوسـتل او پـر خپلـو سلېټونو یې لیکل .	تـــوره تختـــه ســـلېټونه مشـــق پـــانه پ۲ - ٦ - ۳
۳. په مشق پاڼه پ۲ - ٦ - ۳ کار کول : الف - رسم ته کتل او د (چېرته) د سوالې کلمې په استعمالولو سره داسې پوښتنې کول چې په ځواب کې یې [لاندې ، باندې ، په ... کې ، مخې ته ، شاته] راځي . مثال : " تـوره پیشـو چېرته ده ؟ " ، " هغـه تر کټ لاندې ده . " . ب - د مشـق پـانې د پاسـنې کتـار د کلمو / عبارتونو لوسـتل . ج - د مشـق پـانې د کښـې خوا جملې لـه یـوه انـدیوال سـره لوسـتل او معلومول چې ادوات په کې غیب دي او لیکل غواړي . د - دغـه ادوات په خـالي خایونـو کـې پـه خاموشۍ سره لیکل . هـ - دغه جملې ټولګي ته خو ځله لوسـتل .	هشـــق پـــانه پ۲ - ٦ - ۴
۴. په مشق پاڼه پ۲ - ٦ - ۴ کار کول : الف - د پاسـنې کتـار سوالیه کلمې لوسـتل . ب - پـه دوه دوه کسه کار کول : سوالونه لوسـتل او اړونده خوابونه یې مونـدل ؛ د پوښتنـو مطـابق خوابونـو تـه شـمېره ورکول . ج - د پوښتنو او خوابونو صحیح ترکیب ټولګي ته لوسـتل (یـو زده کوونکـی بـه یـو ترکیـب لولي) .	

په رسـم کې د جدول شـوې شـیانو د موقعیتونو په بـاره کې دې پوښـتنې وشـي . د کتـار کلمې دې ولوسـتلې او د جملو کلمې دې ولوسـتلې او لـه خوابونو سـره دې د مربوطو پوښـتنو شـمېرې ولیکلې شـي :

په تشـو خایونو کې دې ولکاروئ شي :

باندې لاندې په ... کې مخې ته شاته پ۲ ۳-٦

طوطي ..... ونه ..... دی .
بیزو تر ونې ..... ده .
زرین د ونې ..... دی .
یوه پیشو پـه کټ ..... ده .
بله پیشو تر کټ ..... ده .
کټ تر ونې ..... دی .
مېز د کټ ..... دی .

څوک څو څه کله ولې چېرته پ۲ ۳-٦

۱ څوک له ډوډۍ سره مندې وهي ؟	☐ دوه پیشوګاني مندې وهي .
۲ بیزو چېرته ده ؟	☐ هغه په تله ډوډۍ تلي .
۳ څو پیشوګاني مندې وهي ؟	☐ کله چې هغه ډوډۍ وینې .
۴ بیزو په تله څه کوي ؟	☐ پیشوګاني ډوډۍ خوري .
۵ بیزو کله راځي ؟	۱ پیشو له ډوډۍ سره مندې وهي .
٦ پیشوګاني څه کوي ؟	☐ څکه چې هغوی ډوډۍ لري .
۷ پیشوګاني ولې خوشحاله دي ؟	☐ بیزو په ونه کې ده .

۱۰	د نظم [زمونږ کور] زده کول؛ له درېو نه ترلسو پورې د عددي کلمو لوستل او ليکل زده کول ۱. د نظم زده کړې ته دوام ورکول ؛ د عددي کلمو د لوستلو او ليکلوکوښښ کول ۲. د نظمونو (زمونږ کور) او (الله پاك) تکرارول ؛ په مختلفو جملو کې د جمع په شکل د عديي کلمو مشق کول	۳۷ – ۴۰
۱۱	په کلي کې ۱. د کليوالو د کارونو په باره کې خبرې کول ؛ اړونده جملې لوستل ۲. د درخو خپل کلی خوښ دی	۴۱ – ۴۴
۱۲	کلی په پټيو کې ۱. ماشومان له مور او پلار سره څنګه مرسته کوي ؟ د جملو لوستل ؛ مناسبې کلمې په خالي ځايونو کې ليکل ۲. د [زه] ، [مونږ] او [هغه] دکارولو تکرار	۴۵ – ۴۸
۱۳	تکرار : په توريو او کلمو مشقونه کول ۱. په حال زمانه کې د شخصي ضميرونو په ارتباط د فعلونو آخرنۍ برخې تکرارول ؛ د نظم (زمونږ کور) تکرارول ؛ همقافيه کلمې پيدا کول ۲. له پوهې سره لوستل ؛ د هغې کلمې پيدا کول چې په جملې پورې اړه لري ؛ همقافيه کلمې پيدا کول	۴۹ – ۵۲
۱۴	د کور د مختلفو برخو په باره کې خبرې کول ؛ د دغو مختلفو برخو د کلمو لوستل او ليکل زده کول ۱. د کور د شيانو په باره کې خبرې کول ؛ د کلمو ليکل او لوستل ۲. دوني ويل او حلول ؛ د نويو کلمو د لوستلو او ليکلو مشق کول	۵۳ – ۵۶
۱۵	په کور کې کار کول ۱. د صحيحو جملو د جوړولو له پاره ورکړای شوې کلمې ترتيبول ۲. د کورنيو فعاليتونو او شيانو په باره کې دوني (معما) جوړول او حلول ؛ په ورکړای شويو جملو کې مناسب فعلونه معلومول	۵۷ – ۶۰
۱۶	په يوې کيسې خان پوهول ؛ پر يوه رسم بحث کول ۱. د ورا مربوط يو متن لوستل ؛ د لمر له موقعيتونو سره اړوندې کلمې معلومول ۲. اړونده سوالونه او ځوابونه معلومول ؛ له واده سره د تړلېو نومونو د جمع او مفرد شکلونو مشق کول	۶۱ – ۶۴
۱۷	د ورځې وختونه ؛ په رسمونو خان پوهول ۱. د ورځې وختونه ؛ په رسمونو خان پوهول ۲. د ورځې د وختونو په باره کې يو متن لوستل ؛ په خالي ځايونو کې غيب فعلونه ليکل	۶۵ – ۶۸
۱۸	زمونږ د کلي جومات ۱. په جومات کې فعاليتونه ؛ د ځينو نويو کلمو ليکل او لوستل ۲. خلك جومات ته څې : د يوه متن لوستل	۶۹ – ۷۲
۱۹	د اونۍ ورځې ۱. د اونۍ ورځې ؛ د کلمو شفاهي مشق کول ؛ د دغو کلمو ليکل او لوستل ۲. يو متن لوستل چې فعاليتونه ، دورځې وختونه او د اونۍ د ورځو نومونه لري	۷۳ – ۷۶

۲۰	له [نن ، سبا ، بل سبا] سره د [به] په یو خای کولو په راتلونکي زمانه کي د فعلونو شکل معرفي کول ۱. له [نن ، سبا ، بل سبا] سره د [به] په یو خای کولو په راتلونکي زمانه کي د فعلونو شفاهي او تحریري مشق کول ۲. د اونۍ ورځي تکرارول ؛ رسمونه او جملي سره مقایسه کول	۷۷ – ۸۰
۲۱	د کال موسمونه ؛ نظم (موسم) ۱. د کال موسمونه ؛ د نظم زده کړې ته دوام ورکول ؛ د موسمونو په باره کي د جملو لوستل او لیکل ۲. د کال موسمونه ؛ د نظم زده کړه جاري ساتل ؛ د عنوان اړوندو جملو کي د [څکه چې] عبارت استعمالول	۸۱ – ۸۴
۲۲	له مؤنثو او مذکرو مفردو نومونو سره په رابطه کي د شپږو رنګونو د نومونو (تور ، سور ، شین ، سپین ، ژېر ، خړ) لیکلی شکل معرفي کول ۱. د رنګونو دنومونو د لیکلو او لوستلو مشق کول ۲. دنظم (موسم) تکرارول ؛ د کال دموسمونو په باره کي سوالونه کول او ځوابونه یې معلومول	۸۵ – ۸۸
۲۳	د ښار سیل ؛ په یوه کیسه او یوه رسم خان پوهول ۱. د مختلفو موټرونو د نومونو لوستل او لیکل زده کول ۲. د ښار سیل ؛ د موټرونو د نومونو تکرارول ؛ د ودانیو په باره کې زده کړه کول	۸۹ – ۹۲
۲۴	د ښار سیل (تکرار) ؛ په لیک کي د رنګونو د نومونو جمع شکلونه معرفي کول ۱. د ښار سیل ؛ د دې صفتونو (وړې ، ټپې ، ستړې) ، د یوه متن لوستل ۲. ستاسو کلي خوښ دی او که ښار ؟ د یوه متن لوستل او بحث پرې کول	۹۳ – ۹۶
۲۵	لمر شیان تودوي ۱. د لمر تودوخه همېشه یو ډول نه وي ۲. متضادي کلمي معلومول	۹۷ – ۱۰۰
۲۶	یوازې لمر شیان نه تودوي ۱. اور رڼا هم کوي ۲. ځینې شیان اور اخلي او ځینې یې نه اخلي ؛ اور ګټه ضرر دواړه لري .	۱۰۱ – ۱۰۴
۲۷	نظافت : لاسونه مینځل د خان د نظافت ساتلو یوه مهمه برخه ده ۱. پاکوالی هر چېرته او هر وخت ضروري دی ۲. نظافت : سوالونه او ځوابونه	۱۰۵ – ۱۰۸
۲۸	پرون مونږ څه وکړل ؟ ساده ماضي زمانه په ډېنا او لیک کي معرفي کول ۱. د ماضي زماني معمول شکلونه ؛ د جملو لوستل ۲. ۲. د ماضي زماني معمول شکلونه ؛ جملي او رسمونه سره مقایسه کول	۱۰۹ – ۱۱۲
۲۹	یوه کیسه (مړې او پیشو) لوستل او خان پرې پوهول ۱. په کیسه (مړې او پیشو) خان پوهول ؛ تر رسمونو لاندې د لیکلو له پاره جملي لوستل ۲. مقایسې معلومول	۱۱۳ – ۱۱۶
۳۰	هغه کلمي چې واولونه یې لیکلای نه شو ۱. د توریو مربع ؛ له ورکړای شویو توریو څخه کلمي جوړول ۲. په پوهېدلو سره لوستل ؛ د رسمونو مطابق د صحیح جملې انتخابول	۱۱۷ – ۱۲۰

۳۱	زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم (نظم) ۱. زموږ پیغمبر (ص) (نظم) ۲. زموږ پیغمبر (ص) ؛ د نظم او اساسي معلوماتو تکرارول	۱۲۱ – ۱۲۴
۳۲	د لوبیا له داني (زړې) څخه بوټی څنګه جوړیږي ؟ ۱. د یوه بوټي لویېدل (تکرار) ؛ د یوه موسمي بوټي او یوې ونې مقایسه کول ۲. مورد له بوټو خواړه تیارول	۱۲۵ – ۱۲۸
۳۳	بوټي ؛ د توت ونه ۱. سلیم وایي ؛ د توت د ونې په باره کې د یوې کیسې لوستل ۲. ۲. د لوستلو مشق کول	۱۲۹ – ۱۳۲
۳۴	ونې بوټي ؛ په کیسه (بودا او پاچا) ځان پوهول ۱. بودا او پاچا ؛ د رسمونو له پاره تشریحي جملې معلومول؛ د سوالونو او ځوابونو لوستل ۲. د یوې املا لیکل ؛ د ونو په باره کې د یوه متن لوستل	۱۳۳ – ۱۳۸
۳۵	اوبه د ژوند یو ضرورت دی ۱. د اوبو وسیلې : په رسمونو ځان پوهول ۲. د اوبو وسیلې : د یوه متن لوستل	۱۳۹ – ۱۴۲
۳۶	مارغان ۱. عام مارغان ۲. زما ښارو : په متن او رسم پوهېدل	۱۴۳ – ۱۴۶
۳۷	د یوې کیسې (بندي او مارغان) لوستل ۱. د رسمونو له پاره تشریحي جملې پیدا کول ؛ جملې مکملول ۲. له مارغانو سره څنګه سلوک په کار دی ؟	۱۴۷ – ۱۵۰
۳۸	په رسمونو کې د ښودل شویو شیانو له پاره عمومي کټګوري (ډلې) پیدا کول ۱. د هغې کلمې پیدا کول چې د یوه کتار له نورو کلمو سره سمې نه خوري ۲. کلمو او رسمونو ته په خپلو کې سره رابطه ورکول	۱۵۱ – ۱۵۴
۳۹	بې پروا هلك : یوه تصویري کیسه ۱. تصویري کیسه : سوالونه او ځوابونه ۲. تصویري کیسه : له ورکړای شویو کلو سره جملې لیکل .	۱۵۵ – ۱۵۸
۴۰	دا څه شی دی ؟ د دوښیو وېل / لوستل او حلول ۱. د متمرکز کېدلو (متوجه کېدلو) لوبه ۲. د متقاطعو کلمو ساده معماګاني حلول	۱۵۹ – ۱۶۲
۴۱	قوت او حرکت ۱. قوت او حرکت : تکرار ؛ یوه کیسه لوستل ۲. قوت او حرکت : تکرار ؛ آخری جمله لیکل	۱۶۳ – ۱۶۶
۴۲	د کلمو په سر کې د [ا] دتوري مختلف آوازونه ۱. د [کولای شي] مختلف شکلونه معرفي کول ۲. خلك څه کولای او څه نه شي کولای ؟	۱۶۷ – ۱۷۰

۴۳	ځان له خطر څخه ساتل ۱. د خطر منابع ۲. د خطر اړونده جملې لوستل	۱۷۱ – ۱۷۴
۴۴	د شیخ عبدالقادر جیلاني (رح) د ژېنتینولې په باره کې یوه کیسه ۱. جملو ته صحیح ترتیب ورکول ۲. متضادې کلمې معلومول	۱۷۵ – ۱۷۸
۴۵	ښه ژوند تېرول ۱. د [ماشومانو] په نامه په یوه نظم ځان پوهول ۲. ښه کارونه او بد کارونه ؛ په رسمونو ځان پوهول	۱۷۹ – ۱۸۲
۴۶	زمونږ د کلي ترکانې ۱. د ترکانې فعالیتونه ۲. د ترکانې ګټورتوب ؛ په یوه متن ځان پوهول	۱۸۳ – ۱۸۶
۴۷	زمونږ د کلي پښې ۱. زمونږ د کلي پښې ؛ رسمونه او جملې مقایسه کول ۲. ښځې هم کسبونه کوي	۱۸۷ – ۱۹۰
۴۸	ځناور : د وحشي او کورنیو حیواناتو تر منځ توپیر کول ۱. د مختلفو معیارونو له مخې د ځناورو ګروپ بندي کول ۲. دا حیوانات څه ډول آوازونه لري ؟ د افغانستان ځینې مشهور وحشي ځناور	۱۹۱ – ۱۹۴
۴۹	ځناور : د ځنارو ګټې ؛ حیوانات له مورچې سره مرسته کوي ۱. له حیواناتو څخه ډېر څه لاس ته راځي ۲. د حیواناتو ګټې	۱۹۵ – ۱۹۸
۵۰	د تګ راتګ وسیلې ؛ په یوه کیسه او رسمونو ځان پوهول ۱. د حمل او نقل (ټرانسپورت) ضرورت ۲. د تګ راتګ وسیلې ؛ یو متن لوستل	۱۹۹ – ۲۰۴
۵۱	ورته آواز لرونکي ببلا ببل توري ۱. ورته آواز لرونکي توري ؛ نظمونه تکرارول ۲. ورته آواز لرونکي توري ؛ د قیاس کولو یوه لوبه تکرارول	۲۰۵ – ۲۰۸
۵۲	د روژې په میاشت کې دسپوږمۍ لیدل ۱. د روژې میاشت ۲. د روژې میاشت : د [و] د توري مختلف آوازونه	۲۰۹ – ۲۱۴
۵۳	د واړه اختر ورځ (د ماشومانو له پاره یوه کیسه) ۱. د لوستلو مقابله ؛ رسمونه او جملې سره اندولول ۲. د اختر ورځ (نظم)	۲۱۵ – ۲۱۸

ARIC
B
6.421
NES
9594
v.8

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

۵۴	موږ پر مخکه ژوند کوو ۱. طبیعي منظره ۲. خلك له مخکې څخه کار اخلي	۲۱۹ – ۲۲۲
۵۵	زموږ هېواد ۱. زموږ هېواد (ادامه) ۲. زموږ هېواد (ادامه)	۲۲۳ – ۲۲۶
۵۶	مهاجر ماشوم : کیسه خان پوهول ۱. دماشومانو ترانه ۲. د ماشومانو ترانه (ادامه)	۲۲۷ – ۲۳۰
۵۷	تکرار : د جمعې صحیح شکلونه استعمالول ۱. د خوږلو وړ او ناوړ بوټي سره ببلول ۲. خواړه : د یوه متن لوستل	۲۳۱ – ۲۳۴
۵۸	تکرار : کسبونه ؛ ساده جملې لیکل ۱. تکرار : څه چې اوراخلي او څه چې اورنه اخلي ۲. تکرار : خان له خطرونو څخه خوندي وساته	۲۳۵ – ۲۳۸
۵۹	وړوکی اختر : د یوه متن لوستل ۱. تکرار : د ورځې وختونه ، داونۍ ورځې ، د کال موسمونه ۲. د کلمو په آخر کې د [ی] توری	۲۳۹ – ۲۴۲
۶۰	تکرار : د ځناورو تیاره رسمونه پېژندل ؛ د متقاطعو کلمو معماګانې حلول ۱. دا کوم حیوان دی ؟ د ځناورو په باره کې دوني ویل / لوستل او حلول ۲. دا څه شی دی ؟ د تګ راتګ د وسیلو په باره کې دوني ویل / لوستل او حلول	۲۴۳ – ۲۴۶
۶۱	کتابې علامه	۲۴۷ – ۲۴۸
۶۲	فهرست	۲۴۹ – ۲۵۴

درسي پلان ۷ ب ۳ - ۷ - ۱	موضوع : د يوه متن لوستل (۱) ؛ د واولونو (ا ، و ، ی) د آوازونو او شکلونو تکرارول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱ . *په ښوونځي کې پر زده کړه باندې خبرې کول ؛ د [زده کول] فعل په ليکلي شکل معرفي کول:*	
– پر تـوره تختـه د عنـوان (پـه ښوونـځي کـې څه زده کوو ؟) ليکل .	– ورته کتل ؛ د لوستلو کوشش يې کول او د يوه نوي عبارت (زده کوو) پېژندل .	تـــوره تختـــه
– لـه زده کوونکو څخه د لوستلو غوښتنه کـول ؛ کـه ضـرورت و نـو د نـوې کلمې پـه تلفظ کـې ورسره مرسته کول .	– د ببل ببل زده کوونکي له خوا يې لوستل .	
– د [زده] کلمې ته اشاره کول .	– د حرفوو پېژندل ؛ تورې په توري يې ويـل ، دغـه کلمې په تکرار سره لوستل .	
– لـه زده کوونکو څخـه غوښتـل چې د پوښتنې لـه پاره خوابونه پيدا کړي . (۲)	– څومره چې ممکن وي هغومره خوابونه پيدا کول (يو زده کوونکی يو خواب) ، غوږ نيول ، تبصرې کول .	
– غوښتنه کول چې تاسو فکر وکړئ او ووايئ چې په تېر درس کې مو څه زده کړې دي ؟	– تېر درس را په زړه کول ؛ څه چې يې زده کـړې دي د هغـه ويـل ؛ مثـلاً : د نظـم (الله پـاک) ويـل ؛ د تولـګي او د تفريـح د وخـت فعاليتونـه بيـانول ؛ دهرې نوې کلمې ، کيسه او داسې نور شيان ويل .	
	۲ . *د يوه متن لوستل :*	
– غوښتنه کـول چې د مشـق پـانې پ۲ - ۷ - ۱ متـن پـه خاموشـۍ سـره ولولـئ (تقريبـاً لـس دقيقې وخت ورکول) .	– کوشش کول چې دومره متـن ولولي څومره چې ممکن وي .	مشـــق پـــانه پ۲ - ۷ - ۱
– غوښتنه کول چې متن دې له يوه انديوال سره پـه تيټ آواز ولوستل شي (مرسته کول) .	– له يوه انديوال سره د متن لوستل ؛ کـه کومـه کلمـه نه شي لوستلی نو مرسته غوښتل .	
– لـه زده کوونکـو څخـه غوښتـل چې دغـه متـن تولګي ته جمله په جمله ولولي . (۳)	– د ببل ببل زده کوونکي لـه خوا د متـن لوسـتل (يو زده کوونکی يوه جمله) ؛ پـه روانـه تـوګه د يوې مکملې جملې د لوستلو کوشش کول ؛ بيـا بيا لوستل .	
– لـه زده کوونکـو څخـه غوښتـل چـې ټول متـن ولولي .	– د څو زده کوونکـو لـه خـوا د دغـه متـن لوسـتل ؛ د نورو له خوا ورته غوږ نيول او پر کلمو ګوته ګرځول .	
	۳ . *د واولونو آواز او شکل تکرارول :*	
– ويل چې اوس به له نژدې څخه ځينو کلمو ته ګورو .	– غوږ نيول .	
– د مشق پانې پ۲ – ۷ – ۲ ورومبی مثال پر توره تخته ليکل : دول دال دبل	– ورته کتل ؛ لوستل .	تـــوره تختـــه

– له زده کوونکو څخه غوښتل چې دغو کلمو ته وګوري او ويې لولي . – له زده کوونکو څخه د دغو کلمو د معناګانو غوښتل . – د [ډېل] پر کلمه چلېپا کښل . – دوهم مثال پر توره تخته ليکل : غار ، غور ، غېر . – له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ – ۷ – ۲ وګوري او له اندېوال سره دې پرې هغسې کار وکړي لکه د مخه چې پر توره تخته وشو . – غوښتنه کول چې د هر مثال دوه دوه با معنا کلمې دې ولوستلې او بې معنا کلمې ته دې اشاره وشي .	– د دغو کلمو د لوستلو کوشش کول ؛ معلومول چې د سر او آخر حرفونه يې يو شی دي ، يوازې د منځ حرف يې بل شان دی ؛ په واضح ډول د دغو کلمو تلفظ کول . – د [ډول] او [ډال] کلمې تشريح کول خو معلومول چې د [ډېل] کلمه بې معنا ده . – ورته کتل . – د مخکې په شان کار کول ؛ بيا د يوه زده کوونکي له خوا دبې معنا کلمې چلېپا کول . – د غوښتنې مطابق جوړه جوړه کار کول . – د يوه زده کوونکي له خوا په يوه بکس کې د دوو با معنا کلمو لوستل ؛ ويل چې په کومه يوه يې چلېپا را کښله ؛ د نورو له خوا چک کول .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه پ۲ – ۷ – ۲

(۱) دا متن د دې له پاره دی چې تکراراً پرې د لوستلو مشق وشي او په دې توګه د زده کوونکو د لوستلو صلاحيت وده وکړي . زده کوونکي به متن په خپله ولوستلای شي ځکه چې په متن کې يوازې د [زده] کلمه نوې ده او په عنوان کې راغلې ده . ښوونکی به ورسره لږه مرسته کوي . له دې امله چې د لومړي ځل له پاره په خاص انداز په اوچت آواز لوستل کوي ، نو زده کوونکو ته به کافي وخت ورکول کېږي .

(۲) په ښوونځي کې زده کړه يوازې د لوستلو او ليکلو د مهارت او د حسابي عمليو زده کړه نه ده ؛ بلکې تردې ډېره پورته ده. پر شيانو باندې خبرې کول ، يو بل ته غوږ نيول ، پر مسايلو بحث کول ، له يوه اندېوال سره کار کول ، ښه سلوک ، د الله جل جلا له په باره کې معلومات حاصلول ، د يوه ښه مسلمان په حيث سلوک کول او داسې نور ټول د ښوونځي په زده کړه کې شاملېږي . ښوونکی به د زده کوونکو لازښوونه کوي چې دغه ډول خوابونه هم ورکړي .

(۳) هغه زده کوونکي چې په اوچت آواز لوستل نه کوي نو د مشق پانې له کلمو سره به ګوته وړي راوړي او دا کار به د يوه عمومي اصل په توګه منل کېږي .

پ۲ | ۷ - ۱

په ښوونځي کې څه زده کوو ؟

موږ ښوونځي ته ځو . په ښوونځي کې ليکل او لوستل زده کوو . حساب او شمېر زده کوو . موږ په ټولګي کې کتاب لولو . په کتاب کې د "الله پاک" سبق دی . بنيادم الله پاک پيدا کړی دی . باغ ، څنګل ، غوا او مېښه هغه پيدا کړي دي . ټوله دنيا الله پاک پيدا کړې ده . موږ ټول مخلوق يو . الله پاک زموږ خالق دی .

بې معنا کلمې دې چلېپا شي :

ډال	زار	هار	وار
ډول	زور	هور	وور
~~ډېل~~	زېر	هېر	وير
غار	مار	لار	نام
غور	مور	لور	نوم
غېر	مېر	لېر	نيم
ناک	مام	تال	جام
نوک	موم	تول	جوم
نيک	ميم	تېل	جيم

پ۲ | ۷ - ۲

موضوع : د یوه متن لوستل (د نویو زده کړیو کلمو تکرارول) پر سلېټونو د کلمو د لیکلو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي له خوا د مشق پاڼې پ۲ – ۷ – ۳ عنوان پر توره تخته لیکل : " تفریح زمونږ خوښه ده "؛ د زده کوونکو له خوا یې لوستل ؛ پر عنوان ځان پوهول او څه چې یې د تفریح په وخت کې خوښیږي د هغو ویل .	توره تخته
۲. پر مشق پاڼه پ۲ – ۷ – ۳ کار کول :	مشق پاڼه پ۲ – ۷ - ۳
الف – له یوه اندیوال سره یو ځای د دغه متن لوستل .	
ب – ټولګي ته د دغه متن لوستل (لومړی یو زده کوونکی یوه جمله او بیا ببل ببل زده کوونکی دېرې جملې په یوه وخت کې) .	
۳. په ښکلي خط د لیکلو مشق کول : د مشق پاڼې پ۲ – ۷ – ۲ معنا لرونکي کلمې تر هغه پورې سلېټونو ته را نقلول چې په آسانه یې ولیکلای شي .	مشق پاڼه پ۲ – ۷ – ۲

پ۲ | ۷ - ۳

تفریح زمونږ خوښه ده

اوس تفریح ده . سلیم لاس مینځي .

زرین تخته مینځي . څوک منډې وهي .

مونږ خبرې کوو . درخو او کریم کورته ځي .

هغوی بیا راځي . هغه یو ډوډۍ خوري .

دا بل اوبه څښي . معلمان دمه کوي او چای څښي .

تفریح زمونږ خوښه ده .

موضوع : د املا ليکل ؛ د رسمونو مطابق جملې ليکل	
د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکې له خوا لـه مشـق پـانې پ۲ – ۷ – ۲ څخه د درېو معنا لرونکـو کلمـو املا ويـل ؛ املا ويل ؛ ليکل ؛ د کتابې علامې مطابق يې چک کول ؛ په مشق پانه کې د نورو کلمو په ذريعه مشق تکرارول (دوه يا درې مشقونه) .	سـلېټونه
۲. د مشق پانو پ۲ – ۷ – ۱ او پ۲ – ۷ – ۳ متنونه لوستل : الف – له يوه انديوال سره يې وار په وار لوستل . ب – ټولګي ته يې لوستل (دوه يا درې ځله) .	مشـق پـانه پ۲ – ۷ – ۱
۳. پر مشق پانه پ۲- ۷ – ۴ کار کول :	پ۲ – ۷ – ۳
الف – مشق پانه مطالعه کول؛ د پاسني کتار د کلمو لوستل او خان پرې پوهول .	مشـق پـانه
ب – رسمونو ته کتل او معلومول چې دا هغه فعاليتونه ښيي چې په پاسني کتار کې ليکل شوي دي .	پ۲ – ۷ – ۴
ج – د جملو مکملول؛ له ورکړې شويو کلموڅخه کار اخيستل چې له رسمونو سره يې مقايسه کړي.	
د – ټولګي ته د دغو جملو څو څو ځله لوستل .	
۴. د خپلې خوښې مطابق پر سلېټونو د دوو يا درېو جملو په ښايسته خط د ليکلو مشق کول .	سلېټونه

تش خايونه دې له رسمونو سره په ارتباط کې د کتار په کلمو / عبارتونو ډک شي :

پ۲ ۷ـ۴		
اوبه څښې	تلې	منډې وهي
چارټ ته ګوري	زانګې	دودۍ خوري
هغه اوبه څښي .		هغه _____
هغه _____		هغه _____
هغه _____		هغه _____

درسي پلان ۸ پ۱ - ۸ - ۱	موضوع : د يوې جګړې فيصله کول ؛ په رسمونو کې په يوه بنودل شوي حال څان پوهول او خبرې اترې وربانديې کول	
د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . د رسمونو يوې سلسلې ته کتل او خبرې پرې کول :	
- په زده کوونکو د مشق پاڼې پ۲ - ۸ - ۱ رسمونه مطالعه کول .	- په وروسېنې رسم کې په بنودل شوي حالت د څان پوهولو کوشش کول او بيا څان پوهول چې تر دې وروسته به څه کېږي .	مشق پاڼه پ۲ - ۸ - ۱
- له زده کووکو څخه غوښتل چې رسمونو باندې تبصرې وکړي . (۱)	- د ښل ښل زده کوونکي له خوا د خپلو نظريو څرګندول ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تبصرې کول .	
- يو يو رسم په زده کوونکو په مفصل ډول بيانول؛ د بحث رهنمايي کول ؛ له زده کوونکو سره د دې تصور په پيدا کولو کې مرسته کول چې په رسم کې بنودل شوي ماشومان به خپل منځ کې جګړه څنګه فيصله کوي .	- د رسمونو تشريح کول ؛ د نورو غوږ نيول ، نور تفصيلات ورسره يو ځای کول ؛ په دې خبرې کول چې رسمونه يو له بله سره څنګه رابطه لري .	
- له زده کوونکو څه غوښتل چې حالت په مسلسله توګه بيان کړي .	- د ښل ښل زده کوونکي له خوا ويل چې په رسمونو کې بنودل شويو ماشومانو اول څنګه جګړه کوله ؛ بيايې په خبرو اترو شروع وکړه او په آخر کې يې د حل يوه لاره پيدا کړه او د هغې مطابق يې عمل وکړ؛ د نورو غوږ نيول ، تکرارول ؛ نور تفصيلات وربانديې علاوه کول .	
- په زده کوونکو د يوې شيبې له پاره کتابونه بندول او ورته ويل چې د رسمونو تر کتلو پرته ټوله کيسه ووايي .	- د ښل ښل زده کوونکي له خوا د کيسې يو يو قدم ويل ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تبصرې کول .	
	۲ . وضعيت / حالت په عمل کې بنودل :	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې رسمونو ته يو خل بيا وګوري او داسې جملې تجويز کړي چې د وروسېنې رسم له ماشومانو سره يې ويل مناسب ښکاري .	- ويل : مثلاً : " اوس وار زما دی . " ، " زه اول وم . " ، " که ماته وار نه راکوې نو وبه دې وهم . " او داسې نور .	مشق پاڼه پ - ۸ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې تر دې دمخه به څه پېښ شوي وي چې ماشومانو له جګړې څخه لاس واخيست او په خپل منځ کې يې خبرې اترې شروع کړې .	- بحث کول ؛ معلومول چې شايد کوم يوه دا وړاندېز کړی وي : راځئ؛ چې له جنګ څخه ټهر شو ځکه چې په دې توګه هيڅاته هم وار نه شي ورتلای " ، " راځئ؛ چې په دې خبرې وکړو چې هر يو په تال کې په کومه طريقه زنګلای شي او څنګه له تال څخه کار واخلو . "	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې داسې جملې پيدا کړي چې د دوهم رسم د تشريح کولو له پاره په کار دي .	- ويل : " هر يو په تال کې د زنګلو حق لري . " ، " مورې ته د يوې لارې لټول په کار دي . " ، " هر څوک به په خپل وار زانګي . " او داسې نور .	
- پوښتنه کول چې په تال کې د زنګلو له پاره به ماشومانو کومه طريقه اختيار کړې وي . (۲)	- ممکنې طريقې پيدا کول .	
- له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې د وضعيت / حالت مختلفې مرحلې په عمل کې وښيي ؛ زده کوونکي انتخابول ، که ضرورت و په اشارو او خبرو کولو کې مرسته کول .	- د څو زده کوونکو د ټولګي مخې ته راتلل ؛ د اول اودوهم رسم دحالت / وضعيت عملاً بنودل؛ د نورو ورته کتل ؛ شابسی ويل .	
- د زده کوونکو په بل ګروپ دغه عمل تکرارول .	- د غوښتنې مطابق عمل کول ؛ که ممکنه وه نو په نورو کلمو دغه عمل ترسره کول (ساده تکرار به نه وي) .	

– د لومړيو شپږو بيتونو د يادولو لـه پـاره وخت ورکول ؛ له يو خو زده کوونکو څخه غوښتل چې دغه بيتونه له يادە ووايي . (۴)	– وړومبـي شـپږ بيتونـه يـادول ؛ د جـلا جـلا زده کوونکو لـه خـوا د شـپږو شـپږو بيتونـو پـه شفاهي توګه د ويلو کوشش کول .	مشـق پـانه پ۲ – ۱ – ۱
	۴. *رسمونه رنګول :*	
– د رسمونو د رنګولو په وخت کې په چپه خولـه دکار کولو غوښتنه کول .	– رسمونه رنګول .	

(۱) که ممکن وي نو ښوونکی دې نظم یاد کړي . نظم دې په لـوړ آواز او مناسب انداز ورو ورو واورول شي . ښوونکی دې دا خبره یقیني کړي چې زده کوونکي يې په غور سره اوري او د کار کتابونه يې ترلې دي .

(۲) په دې قدم کې دې ښوونکی د زده کوونکو د پوهولو رهنمايي وکړي چې دوی هم له مخلوق سره ازه لري او دا خبره دوی په خپله ژبه بيانولای شي . مثلاً : زه يو ماشوم يم . زه له خپل مور او پلار يـا ګلونـو او داسې نورو شيانو سره مينه کوم . زه دوستان لرم او داسې نور ؛ زه الله پيدا کړی يم ؛ زما مور او پلار هم الله پيدا کړي دي او داسې نور .

(۳) کله چې زده کوونکي يوه کلمه په خپله نه شي لوستلی نـو ښوونکی يې دې پر تـوره تختـه وليکي او د کلمې د جوړولو له پاره دې د زده کوونکو لارښوونه وکړي چې د حروفو آوازونه را په زړه او سره يو خای کړي . په کـار ده چې زده کوونکي د لانورو سختو کلمو په لوښتلو په خپله شروع وکړي (کتابي علامه وګورئ !)

(۴) ښوونکی دې د شفاهي يادولو له امله د زده کوونکو داد ګيرنه وکړي . خو په شفاهي يـادولو دې خامخا زور نـه ورکـوي . ښوونکی دې د هغو زده کوونکو هم تعريف وکړي چې د دې نظم يوازې يوه برخه يادولای شي .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي او رنګ دې شي . شعر دې ولوستل اوګرانې کلمې دې معنا شي :

پ۲ | ۱ – ۱
الله پاک
که ونه ده ، که ګل دی
که باغ دی ، که ځنګل دی
که غوا ده او که مېنبه
که چرګ دی او که چرګه
دا واړه د الله دي
هم ستا دي ، هم زما دي
مور ، پلار او که بابا دی
مخلوق د پاک الله دی
ماشوم دی که بوډا دی
خپل کار لره پيدا دی
هغه دی ، که هغوی دي
په دې خبره پوی دي
زه هم چې بنيادم يم
د ده ثنا ته سم يم
هم تاسو يې ثنا کړئ
ښايسته چې يې پيدا کړئ
خالق چې د دنيا دی
زمونږه پاک الله دی .

– له زده کوونکو څخه غوښتل چې د مشق پاڼې پ۲ – ۸ – ۱ د متن عنوان ولولي . – په دوو دوو زده کوونکو په ګډه د متن لوستل ؛ د ضرورت په وخت کې مرسته کول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې متن جمله په جمله تولګي ته ولولي . – غوښتنه کول چې جملو ته له رسمونو سره رابطه ورکړئ . – غوښتنه کول چې دغه عنوان په بنه بنايسته خط پر خپلو سلېټونو څو خله وليکئ او بيا رسمونه رنګ کړئ .	۳ . د يوه اړونده متن لوستل : – د ببل ببل زده کوونکي لوستل ، د نورو غوږ نيول ، تبصره کول . – په ټيټ آواز په دوه دوه کسه لوستل ؛ د ضرورت په وخت کې کومك غوښتل . – د ببل ببل زده کوونکي لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) ؛ د نورو تکرارول . – کومه جمله چې په کوم رسم پورې اړه لري د هغې پيدا کول . – د غوښتنې مطابق په خاموشۍ سره کار کول .	مشق پاڼه پ۲ – ۸ – ۱

(۱) د دې قدم هدف دا دی چې زده کوونکي د خپلو احساساتو او افکارو څرګندولو ته وهڅوي . له دې کبله به ښوونکی د زده کوونکو ډاډګېرنه کوي چې يو بل ته غوږ ونيسي او د مختلفو نظريو په باره کې خپلې تبصرې وکړي . ښوونکی به د زده کوونکو د نظريو او افکارو په باره کې قضاوت نه کوي .

(۲) کله چې زده کوونکي پر اصولو خبرې کوي نو دوه غوره او اساسي تکي به په کې شاملېږي :

االف – دوی به په کوم ترتيب زانګي ؟

ب – يو ماشوم څومره وخت د زنګلو له پاره نيولای شي ؟

د رسمونو په باره کې دي په ترتيب سره خبرې وشي . متن دي ولوستل او له رسمونو سره دي مقايسه شي :


پ۲ ۸ – ۱
۲
۱
۴
لوبې کوئ
په باغ کې يوه ونه ده . په ونه کې ټال دی . ماشومان په ټال کې زانګي . اوس هغوی خبرې کوي او يو بل ته غوږ نيسي . ماشومان د ټال په سر جنګ نه کوي ؛ وار په وار زانګي .
۳

موضوع : په حال زمانه کې د [ته] د مفرد شخصي ضمیر مطابق د فعلونو کارول	
• د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. تکرار : الف – د زده کوونکو له خوا ښیا را په زړه کول چې په تصویري کیسه کې یې جګړه څنګه فیصله کړه ؛ د زده کوونکو له خوا د پ۲ – ۸ – ۱ متن څو خله لوستل .	مشق پانه پ۲ – ۸ – ۱
۲. د [زه] او [ته] د ضمیرونو په کارولو سره پر هرو دوو زده کوونکو د یوه لنډ ډیالوګ مشق کول؛ د زده کوونکو له خوا یې لوستل .ب – له تصویري کیسې څخه د ښوونکي له خوا یومثال ورکول ؛ مثلاً : " زه به اول وزانګم ؛ ته به انتظار کوې . " یا : " زه به انتظار کوم ؛ ته به زانګې . ج – زده کوونکي جوړه جوړه د ټولګي مخې ته راتلل ؛ د هرې جوړې بیانونه ورکول ؛ لکه : زه خبرې کوم او ته غوږ نیسې . زه یې پخوم او ته یې خورې . زه لوبې کوم اوته ګورې . (ماشومان به په واضح توګه خبرې کوي او په [زه] او [ته] به زور اچوي) .	تـــوره تختـــه
۳. د [ته] مفرد شخصي ضمیر په ارتباط د فعلونو آخرنۍ شکل زده کول ؛ د ښوونکي له خوا پر توره تخته د دوو یا درېو مثالونو لیکل ؛ د زده کوونکو له خوا یې لوستل ؛ مثلاً : " زه لوبې کوم ؛ ته هم لوبې کوې . زه زانګم ؛ ته هم زانګې . زه یې لیکم ؛ ته یې هم لیکې .	تـــوره تختـــه
۴. د مشق پانې پ۲ - ۸ – ۲ د متن لوستل : الف - د عنوان او د ورومبیو دوو جملو په ګډه لوستل. ب – د نورو زده کوونکو له خوا په دوه دوه کسه په خاموشۍ سره لوستل . ج – ټولګي ته د غیبو کلمو په شمول د ټول متن لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۸ – ۲
۵. د مشق پانې خالي ځایونه ډکول ؛ پر سلېټونو د ځینو مثالونو د لیکلو مشق کول ؛ مثلاً : ته ګورې؛ ته جنګ کوې ؛ ته زانګې .	

متن دې ولوستل او تش ځایونه دې د [زه] او [ته] په کلمو باندې ډک شي :

پ۲ | ۸ – ۲



زه یو څه کوم
ته بل څه کوې

زه په ټال کې زانګم . ۱ ته په ټال کې نه زانګې .
زه د ټال مخې ته یم . ته د ټال شاته یې .
_____ خبرې کوم . _____ غوږ نیسې .
_____ لوبې کوم . _____ ما ته ګورې .
_____ کور ته ځم . _____ پاتې کېږې .

موضوع : په حال زمانه کې د جمع شخصي ضمير (تاسو) مطابق د فعلونو کارول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د [ته] د مفرد شخصي ضمير په کارولو سره د فعلونو بيا بيا کارول : د بيل بېل زده کوونکي له خوا يو يو مثال پر تخته ليکل (مشق پانه پ۲ – ۸ – ۲ ، د نورو زده کوونکو له خوا يې لوستل ؛ د [زه] او [ته] په ارتباط د فعلونو آخرۍ برخې ويل .	تـــوره تختـــه
۲. د زده کوونکو پر دوو ګروپونو د يوه لنډ ډيالوګ مشق کول (په هر ګروپ کې به له ۳ نه تر ۴ پورې زده کوونکي وي) ؛ په خبرو اترو کې د شخصي ضميرونو د جمع شکل (مورږ) او (تاسو) استعمالول : الف – د ښوونکي له خوا د [مورږ] او [تاسو] پر تخته تخته ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا يې لوستل . ب – د ټولګي په مخکې دوه ګروپونه جوړول ؛ بيانيه ورکول ؛ لکه : " مورږ ليکو . " او " تاسو لولئ . " ، " مورږ لوبې کوو . " او " تاسو ګورئ . " ، " مورږ ښوونځي ته خو . " او " تاسو په کور کې پاتې کيږئ . " کوم زده کوونکي چې خبرې کوي نو د خبرو کولو په وخت کې به اړونده ګروپ ته اشاره کوي ؛ ماشومان به په واضح توګه خبرې کوي . ج – په نويو ګروپونو يې تکرارول .	
۳. د ښوونکي له خوا پر تخته د دوو يا درېو مثالونو ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا يې لوستل او د جمع شخصي ضمير (تاسو) په ارتباط د افعالو د آخرۍ برخې شکلونه زده کول : " مورږ زانګو . " ، " تاسو هم زانګئ . " ، " مورږ ليکو . " او " تاسو هم ليکئ . "	مشق پانه پ۲ – ۸ – ۳
۴. د مشق پانې پ۲ – ۸ – ۳ متن لوستل : الف – عنوان او ورومبۍ دوه کرښې په ګډه لوستل . ب – نور په دوه دوه کسه په خاموشۍ سره لوستل . ج – د غږيو کلمو په شمول د ټول متن ټولګي ته لوستل .	
۵. د مشق پانې د خالي ځايونو ډکول ؛ پر سلېټونو د ځينو مثالونو مشق کول ؛ مثلاً : " تاسو ډوډۍ خورئ . تاسو چای څښئ . تاسو لوبې کوئ . "	سلېټونه

تش ځايونه دې د [مورږ] او [تاسو] په کلمو په مناسبه توګه ډک شي :



درسي پلان ۹ ب ۲ - ۹ - ۱	موضوع : د [دوه] د عددي کلمې اود مشهورو نومونو د جمع عام شکلونه لوستل او ليکل (۱)	
د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱. د جمع يو څو عام شکلونه په شفاهي توګه استعمالول او د [دوه] د عددي کلمې لوستل :	
– همېشه يو شی په يوه لاس کې او همدغه ډول دوه نور شيان په بل لاس کې بنودل ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي د هغه په لاسونو کې څه دي .	– جملې ويل : په يو لاس کې يو ... دی په بل لاس کې دوه ... دي .	پنسلونه ، کتابونه کاڼي ، لښتي خولی، څپلی، د اورلګيتو ډبلي ، بکسونه او داسې نور . تورہ تخته
– له زده کونکو څخه غوښتنه کول چې وړومبی شي او بيا هم دغه ډول دوو نورو شيانو ته اشاره وکړي او بيا يې نوم واخلي . دې خبرې ته توجه کول چې [يو / يوه] او [دوه] او د نومونو د جمع شکلونه صحيح استعمال شوي دي . (۲)	– بنودل او ويل ؛ مثلاً : [يو لاس ، دوه لاسونه ، يوه سترګه، دوه سترګې، يو هلک ، دوه هلکان ؛ يوه جينی ، دوه جينکی] او داسې نور . ډېر ممکن شيان معلومول .	
– پر تورہ تخته پاس په بکسونو کې د [يو / يوه] او [دوه] کلمې ليکل .	– د [يو/ يوه] او [دوه] د کلمو لوستل زده کول.	
	۲. د جمع د عام شکلونو لوستل :	
– د [يو / يوه] تر بکس لاندې يو لاس رسمول او [يو لاس ليکل] ، د [دوه] تر بکس لاندې دوه لاسونه رسمول او يوازې [دوه] ليکل . (۳)	– مشاهده کول ؛ د لاسونو پېژندل ؛ لوستل ؛ معلومول چې يوه کلمه غيب ده .	تورہ تخته
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په [دوه] پسې بايد کومه کلمه وليکل شي ؟	– د [لاسونه] د کلمې نوم اخيستل ؛ دوه لاسونه ويل (په واضح ډول) .	
– له زده کوونکو څخه د [لاسونه] د کلمو د صحيح هجاګانو د معلومولو غوښتنه کول ؛ مرسته کول ؛ په واضح توګه د کلمې تلفظ کول .	– د يوځو زده کوونکو تورې تختې ته راتلل ؛ څنګه چې کلمه تلفظ شوې ده هغسې يې د ليکلو کوشش کول ؛ د [لاسونه] د کلمې صحيح ليکل معلومول .	
– کلمې بنې بنايسته په صحيح ځای کې ليکل .	– مشاهده کول ؛ [يو لاس / دوه لاسونه] لوستل .	
– ويل چې نن به دوی د هغو کلمو د جمع نور شکلونه زده کوي چې دوی ته له پخوامعلوم دي.		
– په ستون [يو/ يوه] کې دمشق پاڼې پ۲ - ۹ - ۱ وړومبې پنځه مفرد شکلونه پر له پسې ليکل .	– غوږ ورته نيول .	
– هر ځل له زده کوونکو څخه د جمع د صحيح شکل د معلومولو غوښتنه کول ؛ په اړونده ستون کې يې ليکل .	– مشاهده کول ؛ د مفرد شکل لوستل ؛ د جمع شکل په واضح توګه تلفظ کول ؛ د جمع د شکل د ليکلو کوشش کول .	
– له زده زده کوونکو څخه د ټولو کلمو د دوارو شکلونو د لوستلو غوښتنه کول .	– تکراراً لوستل .	
	۳. د جمع د زده شويو شکلونو د لوستلو او ليکلو مشق کول	
– له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ - ۹ - ۱ مطالعه کولو غوښتنه کول .	– د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ معلومول چې په بنې اړخ کې هميشه يو شی بنودل شوی دی او په کين اړخ کې دوه شان .	
– له زده کوونکو څخه له خپلو اندېوالاتو سره يو ځای دلومړيو پنځوکرښو دلوستلو غوښتنه کول.	– جوړه جوړه لوستل ؛ هغه د جمع شکلونه معلومول چې پر تورہ تخته ليکلی شوي دي .	
– له زده کوونکو څخه ټولګي ته د لوستلو غوښتنه کول .	– د جلا جلا زده کوونکو له خوا يوه يوه کرښه لوستل ؛ د نورو له خوا غوږ نيول ؛ تکرارول .	

– له زده کوونکو څخه د بلې کړنې د لوستلو او د کار د معلومولو غوښتنه کول .	– لوستل ؛ معلومول چې دوی به په خپله د جمع آخري حروف ورسره اضافه کوي .	مشق پانه پ۲ – ۹ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې له انډيوال سره مکملې کړي . د ضرورت په وخت مرسته کول .	– جوړه جوړه کار کول ؛ لوستل اود اتو واړو د جمع خاص آخري برخې په خالي ځای کې لیکل؛	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې تولګي ته یو یوه جمله ولولي .	– د بېل بېل زده کوونکې له خوا لوستل ؛ د نورو چك کول ؛ اصلاح کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د څو کلمو د دواړو شکلونو پر سلېتونومشق وکړي .	– د خپلې خوښې کلمې ښې ښایسته لیکل ؛ له یادې یې د لیکلو کوشش کول .	سلېتونه
– له زده کوونکو څه د رسمونو د رنګولو غوښتنه کول .	– رسمونه رنګول .	

(۱) په دې درس کې یوازې د مذکرو او مؤنثو نومونو د جمع د هر عام شکلونه په لیکلې بڼه معرفي شوي دي (مشق پانه پ۲ – ۹ – ۱ وګورئ .)

(۲) له دې کبله چې دا یو شفاهي مشق دی ، نو د جمع هر شکل په کې استعمالېدلای شي . خو د جمع شکلونه به صحیح استعمالولای او تلفظ به یې په واضح توګه کولای شي . غلطي به صحیح کولای شي .

(۳) توره تخته به داسې ښکاري :



ښوونکی به یوازې د ورومبی مثال له پاره شی جوړوي .

د جملو نښ ځایونه دي له رسمونو سره په ارتباط کې ډک او رسمونه دي رنګ شي . د [یو] او [یوه] استعمال او د نومونو د جمعې شکلونو ته دي پام وشي :

یو / یوه	دوه (پ۲ | ۹ – ۱)
دا یو کټ دی .	دا دوه کټونه دي .
دا یو مچ دی .	دا دوه مچان دي .
دا یوه چرګه ده .	دا دوه چرګې دي .
دا یو زمری دی	دا دوه زمري دي .
دا یو قلم دی .	دا دوه قل..... دی .
دا یو بوټ دی .	دا دوه بوټ..... دي .
دا یوه ونه ده .	دا دوه ون..... دي .
دا یوه پیشو ده .	دا دوه پیشو..... دي .
دا یو سړی دی .	دا دوه سړ..... دي .
دا یو آلو دی .	دوه آلو..... دي .
دا یو چرګ دی .	دوه چر..... دي .

موضوع : د دوو خاصو شکلونو په شمول د جمع د شکلونو مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي له خوا پاس پر توره تخته په بکسونو کې [یو / یوه] او [دوه] لیکل ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څوک د دغو بکسونو لاندې د شیانو د نومونو مفرد او جمع شکلونه لیکلای شي ؟ د ببل ببل زده کوونکي له خوا دومره مثالونه لیکل څومره چې ممکن وي (یو زده کوونکی یو مثال) ؛ د نورو چک کول .	تـــوره تختـــه
۲. پر توره تخته کلمې لوستل .	
۳. په مشق پانه پ۲ – ۹ – ۲ کار کول :	
الف – وړومبی شپږ جملې مطالعه کول او د مفرد شکل یې لوستل ؛ د جمع صحیح شکل یې لوستل؛ څو څو خله یې لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲ – ۹ – ۲
ب – په خاموشی سره کار کول ؛ د جمع شکلونه په خالي ځایونو کې لیکل (په وړومبیو شپږو کرښو کې) .	
ج – د ښوونکي له خوا پر توره تخته د جمع شکلونه لیکل؛ د زده کوونکو په مشق پانه کې چک کول.	تـــوره تختـــه
د – آخرۍ دوه کرښې لوستل ؛ معلومول چې دا خاص شکلونه دي ؛ پر توره تخته د ښوونکي له خوا د عملي ښودنې پیروي کول او د جمع شکلونه په خالي ځایونو کې لیکل .	
هـ – ټول مثالونه ټولګي ته بیا لوستل .	
۴. پر سلېټونو د ځینو مثالونو د لیکلو مشق کول ؛ مثلاً :	
• یو استاد دوه استادان	ســـــلېټونه
• یو چارټ دوه چارټونه	
• یوه جارو دوه جاروګاني	
• یو اوښ دوه اوښان	

په تشو ځایونو کې دې د نومونو د جمعې شکلونه ولیکل شي :

پ۲ | ۹ـ ۲

یو مېز	دوه مېزونه	یو ټولګی	دوه _____
یوه ښځه	دوه _____	یوه غوا	دوه _____
یو استاد	دوه _____	یوه چارټ	دوه _____
یو اوښ	دوه _____	یوه بیزو	دوه _____
یوه اره	دوه _____	یوه جارو	دوه _____
یو ښوونځی	دوه _____	یوه رسۍ	دوه _____
یوه څپلۍ	دوه _____	یو طوطي	دوه _____
یو حلوایي	دوه _____		

موضوع : له پوهې سره لوستل ؛ د جمع شکلونه معرفي کول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي له خوا د مفرد او جمع د هغو شکلونو املا ویل چې زده کوونکو یې تېره ورځ پر سلېټونو مشق کړی دی ؛ تر هر مثال وروسته یې پر توره تخته چك کول ؛ مثلاً : اوښ – اوښان .	سلېټونه / توره تخته
۲. په مشق پانه پ ۲- ۹ – ۳ کار کول : الف – په پاسني کتار کې د جمع شکلونه لوستل ؛ د نویو کلمو په باره کې خبرې کول ؛ د کلمو په معنا خان پوهول ؛ تولې کلمې تکراراً لوستل . ب – وړومبۍ جمله لوستل ؛ خان پوهول چې په ورکړای شویو کلمو کې یوازې یوه کلمه د خالي خای له پاره مناسب ده ؛ د [کتابونه] کلمه لیکل . ج – جملې تولګي ته لوستل .	مشق پانه پ۲ – ۹ – ۲
۳. د [نال ، نالونه] ، [غاښ ، غاښونه] او [مرغۍ ، مرغان] کلمې پر سلېټونو مشق کول .	سلېټونه

کلمې دې ولوستلې او د جملو په تشو خایونو کې دې په سمه توګه وکارولې شي :

پ۲ | ۹ ـ ۳

هګۍ ماشومان غاښونه کتابونه سترګې نالونه مرغان

۱ ـ د درخو لوستل خوښ دي ؛ هغه ډېر _____ لري .

۲ ـ موږ ډېرې چرګې لرو ؛ هغوی ډېرې _____ اچوي .

۳ ـ کله چې پیشو ونې ته خېژي ، تول _____ الوزي .

۴ ـ په مخ کې یوه خوله ، یوه پوزه او دوه _____ وي .

۵ ـ په ټولګي کې یو استاد او ډېر _____ دي .

٦ ـ په خوله کې یوه ژبه او ډېر _____ دي .

۷ ـ موږ څپلې لرو او اسونه _____ لري .

د درسي پلان ۱۰ ب ۱ - ۱۰ - ۱	موضوع : د نظم (زموږ کور) زده کول ؛ له درېو نه تر لسو پورې د عددي کلمو لوستل او ليکل زده کول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- زده کوونکو ته ويل چې نن به د يوه ښايسته کور په باره کې يو نظم زده کړئ . - د نظم لوستل يا يې له ياده دوه ځله ويل . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د نظم په باره کې ورته څه ور په زړه کيږي هغهووايي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې که په نظم کې د شمېرې په اړه ورته څه په ياد وي هغه ووايي . - له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په نظم کې ذکر شوي شيان ستاسو د کور له شيانو سره يو ډول دي او که ور څخه توپير لري . - د نظم بيا ويل .	۱ . په نظم (زموږ کور) خان پوهول : - د نظم له پاره خان تيارول . - غوږ ورته نيول (د کار کتابونه به بند وي). - هغومره تفصيلات ورکول څومره چې ور په زړه کيږي . - ويل چې په نظم کې له ۱ څخه ۱۰ پورې شمېره استعمال شوې ده او هره شمېره د شيانو د تعداد له پاره ده . - په نظم کې ياد شوي شيان د خپلو کورونو له شيانو سره مقايسه کول . - غوږ ورته نيول .	مشق پانه پ۲ - ۱۰ - ۱
- په زده کوونکو د کار کتابونه پرانيستل او غوښتنه ترې کول چې نظم له انديوال سره په ټيټ آواز ولولي (مرسته کول) . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د نظم يو يو بيت ټولګي ته ولولي . - پوښتنه کول : ټول نظم څوک لوستلای شي ؟ - په زده کوونکو يو يو بيت له ياده ويل .	۲ . د نظم لوستل : - په دوه دوه کسه يو ځايي د نظم لوستل . - د يوه يوه کس له خوا يو شعر لوستل ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تکرارول . - د يوه يوه زده کوونکي له خوا لوستل ؛ د نورو له خوا له کربنې سره سمه ګوته ورډل . - په بهل بهل زده کوونکي يو يو شعر په يادو ويل، د نورو ورته غوږ نيول ، اصلاح کول .	مشق پانه پ۲ - ۱۰ - ۱
- زده کوونکو ته ويل چې د مشق پانې پ۲ - ۱۰ - ۱ لاندنۍ برخه وګورئ . - په زده کوونکو باندې عددي کلمې لوستل او په خوا کې يې د ښودلو شويو شيانو نومونه پرې اخيستل . - غوښتنه کول چې عددي کلمې د مشق پانې لاندې خای ته ور نقل کړئ . - له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې پر سلېټونو د دغو عددي کلمو د ليکلو مشق وکړئ .	۳ . د عددي کلمو د ليکلو زده کول : - د مشق پانې لاندنۍ برخې مطالعه کول ؛ په نظم کې د شيانو رسمونه او د عددونو کلمې موندل . - عددي کلمې لوستل او ويل چې کوم کوم شيان دغه عددي کلمې را ښيي . - عددي کلمې د مشق پانې لاندنۍ خواته نقلول (هره کلمه يو ځل) . - پر سلېټونو د عددي کلمو د ليکلو مشق کول (کوشش کوي چې ځينې کلمې له ياده وليکي) .	مشق پانه پ۲ - ۱۰ - ۱
- غوښتنه کول چې دومره شيان رسم کړئ څومره چې په مشق پانه کې عددي نقطه ښيي .	۴ . د مطلوب شمېر شيانو رسمول : - په خاموشۍ سره کار کول ؛ مطلوب شمېر شيان رسمول او رنګول .	مشق پانه پ۲ - ۱۰ - ۱

(۱) نظم په مشق پاڼه پ۲ - ۱۰ - ۱ کې لیکل شوی دی . خو د درس په وړومبۍ برخه کې به د کار کتابونه نه پرانیستل کیږي . که چېرې داسې ونه شي نو زده کوونکي به نظم ته ښه توجه ونه کړي او خبرې به پرې ونه شي کړای .

لومړی دې عددي کلمې ولوستلې ، د رسمونو نومونه دې واخیستل او له شمېر سره سم رسمونه دې وکښل شي .
بیا دې نظم ولوستل شي :

پ۲	۱۰ - ۱

زمونږ کور

یو کور زمونږه خپل دی ښایسته لکه د ګل دی
دوه دي په کې طوطیان او درې په کې چرګان
څلور په کې کوتې دي څه غټې ، څه وړې دي
پنځه لري مېزونه هم شپږ لري کټونه
اووه یو ټول په شمار بابا مې ، مور او پلار
اته بوټي د ونو نه بوټي د ګلونو
لري لس تصویرونه نور هم رنګ رنګ څیزونه

دا څومره ښایسته کور دی
زمونږ د سترګو تور دی .

یو	دوه
درې	څلور 
پنځه	شپږ
اووه	اته
نه	لس

موضوع : د نظم زده کړه جاري ساتل ؛ د عددي کلمو د لوستلو او ليکلو کوښښ کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ټول نظم يا د هغه د ځينو برخو تکرارول :	مشق پاڼه
الف – د يوه يوه زده کوونکي له خوا د نظم څو څو کلمه په خاص انداز لوستل .	پ۲ – ۱۰ – ۱
ب – د يوه يوه زده کوونکي له خوا څومره چې ممکن وي د نظم له يادې ويل .	
۲. د عددي کلمو املا :	سلېټونه
الف – د ښوونکي له خوا وار په وار د څلورو عددي کلمو املا ويل .	
ب – د زده کوونکو له خوا پر توره تخته د عددي کلمو ليکل .	
ج – د ببل ببل زده کوونکي له خوا پر توره تخته د عددي کلمو ليکل .	
د – همدغسې مشق په نورو عددي کلمو کول .	
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۰ – ۲ کار کول .	مشق پاڼه
الف – مشق پاڼه مطالعه کول او خپل کار معلومول ؛ د هغو موزونو کلمو په ارتباط چې د مشق پاڼې له کينې ډډې څخه انتخاب شوې وي ، له درېو نه تر لسو پورې مختلفې عددي کلمې ليکل؛ مثلاً : څلور سطلونه ، دري چرګې او نور .	پ۲ – ۱۰ – ۲
ب – په کين اړخ کې د ټولو کلمو لوستل ؛ معلومول چې کومې کلمې د ورو عددونو او کومې د لويو عددونو له پاره مناسبې دي .	
ج – په ورو مبيو درېو مثالونو پر توره تخته کار کول .	توره تخته
د – په خاموشۍ سره کار کول ؛ خالي ځايونه ډکول .	
۴. د مشق پاڼې د کين اړخ د ځينو کلمو د ليکلو مشق د واحد او جمع په شکل کول ؛ لکه : کس – کسان ، منګۍ – منګي ، خر – خره ، مېز – ميزونه .	سلېټونه

د جملو تش ځايونه دې د ستون د کلمو په مفرد او جمع شکلونو ډک شي :

	پ۲ | ۱۰ــ۲
زمونږ په کور کې يو قرآن دی .	سطل
زمونږ په کور کې دوه ..... دي .	رسۍ
زمونږ په کور کې دري ..... دي .	قرآن
زمونږ په کور کې ..... دي .	چرګه
زمونږ په کور کې ..... دي .	غوا
زمونږ په کور کې ..... دي .	منګی
زمونږ په کور کې ..... دي .	مېز
زمونږ په کور کې ..... دي .	خر
زمونږ په کور کې ..... دي .	کوټه

موضوع : د نظم يادول ؛ د نوبو کلمو د ليکلو او لوستلو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د زده کوونکوآخري سبق را په يادول ؛ د الله پاک د مخلوقاتو په باره کې بيا خبرې کول . ۲. د جلا جلا زده کوونکو له خوا د نظم د لومړيو شپږو بيتونو په ښه طريقه لوستل . ۳. د جلا جلا زده کوونکو له خوا د لومړيو شپږو بيتونو شفاهي ويل . الف – همدغه شپږ بيتونه مطالعه کول او د معلومو او نا معلومو کلمو د لوستلو کوشش کول . ب – دا شپږ بيتونه د ښوونکي په مرسته لوستل . ج – دا بيتونه په ښه انداز لوستل . ۴. په خاموشۍ سره کار کول ؛ دا شپږ بيتونه يادول . ۵. په مشق پاڼه پ۲ – ۱ – ۲ کار کول : الف - د کار معلومول ؛ غيبې کلمې د مشق پاڼې په پاسنۍ برخه کې موندل او په مناسبو خايونو کې يې ليکل . ب – په پاسنۍ برخه کې کلمې لوستل . ج – يوه يوه جمله لوستل او يوه منتخبه کلمه په کې ليکل (له ملګري سره کار کول) . د – د جلا جلا زده کوونکو له خوا ټولګي ته د ټولو جملو لوستل . هـ – د مشق پاڼې په کينه برخه کې له خپلې خوښې سره سم د هغو رسمونو کښل چې له سبق سره اړه لري .	مشق پاڼه پ۲ – ۱ – ۱ مشق پاڼه پ۲ – ۱ – ۲

د جملو تش ځايونه دې د کتارونو په مناسبو کلمو ډک شي . په خالي چوکاټ کې دې له جملو سره د مربوطو شيانو رسمونه وکښل شي :

ځنګل باغ بنيادم چرګه طوطي ګل پلار واړه مور ماشوم ونه دنيا اس	پ۲ ۱ – ۲
الله ګل پيدا کړې دی . الله پيدا کړې ده . الله پيدا کړې دی . الله پيدا کړې ده . الله پيدا کړې دی . الله پيدا کړې ده . الله پيدا کړې دی .	

موضوع : د نظمونو (زموږ کور) او (الله پاک) تکرارول ؛ په مختلفو جملو کې د جمع په شکل د عددي کلمو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د نظم (زموږ کور) لوستل او ويل . ۲. د نظم (الله پاک) ويل . ۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۰ – ۳ کار کول . الف – د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ د کار معلومول ؛ په صحيحو عددي کلمو او نومونو سره د جملو مکملول . ب – په اول مثال پر توره تخته کار کول. ج – نورې جملې په شفاهي توګه مکملول . د - په خاموشۍ سره کار کول ؛ دغه جملې په ليکلو کې مکملول . ۴. دمشق پاڼې د دغو څلورو نومونو د ليکلو مشق د مفرد او جمع په شکل پر سلېټونو کول ؛ په واضحه توګه يې لوستل . ۵. د رسمونو رنګول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۰ – ۳ توره تخته مشق پاڼه پ۲– ۱۰ – ۳ سلېټونه

د جملو تش ځايونه دې د رسمونو د شمېر له مخې په مناسبو عددي کلمو ډک شي :

	پ۲ ۱۰ – ۳
له ما سره ګلونه دي .	له تا سره ګلونه دي .
له مورِ سره پنسلونه دي.	له تاسو سره دي .
له ما سره قلمونه دي .	له هغه سره دي .
له مورِ سره کېلې دي .	له هغوی سره دي .

درسي پلان ۱۱ / ب ۲ – ۱۱ – ۱	عنوان : په کلي کې (۱)	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه پ۲ – ۱۱ – ۱ کې رسم ته وګوري او څه چې وينې د هغو په باره کې خبرې وکړي ، داډ ورکول چې څومره تفصيلات ورکولای شي ور يې کړي . (۱) – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مختلفو خلکو ته وګوري او ووايي چې څوک دي او څه کوي د دې خلکو د پېژندلو او د دوی د کارونو د نومونو اخيستلو په باره کې د زده کوونکو لازښوونه کول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه کې ښودل شوی رسم له خپل کلي سره مقايسه کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په کلي کې د هغو نورو کارونو په باره کې خبرې وکړي چې په رسم کې نه دي ښودل شوي . – د زده کوونکو لازښوونه کول چې په دې خبره وپوهيږي چې په کلي کې هر کار ته ضرورت وي (ممکنه اشاره) . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دا معلوم کړي چې د کلي کومو خلکو د خپلو کورنيو له پاره له پخوا څخه کار کړي دی .	*۱ . د يوه رسم په باره کې خبرې کول چې د يوه کلي منظره ښيي :* – رسم ته کتل ؛ څه چې وينې د هغو په باره کې خبرې کول ؛ د جلا جلا زده کوونکو له خوا هغه څه بيانول چې د دوی له پاره خوندور دي . – د مختلفو خلکو نومونه اخيستل او فعاليتونه يې بيانول ؛ معلومول چې ځينې خلک دا ډول کارونه هره ورځ کوي . – مقايسه کول ؛ د جلا جلا زده کوونکو له خوا مشابهتونه او يا توپيرونه بيانول ؛ د نورو تبصرې کول . – د نورو کارونو معلومول ؛ مثلاً : پښتوب، ترکاني او داسې نور . – د هغو طريقو په باره کې خبرې کول چې د کلي مختلف خلک پرې د خپلو ماشومانو يا کورنيو خدمت کوي ؛ پوهېدل چې ټول کارونه ضروري او مهم دي .	مشق پانه پ۲ – ۱۱ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پانې پ۲ – ۱۱ – ۱ د لاندې بکس کلمې له يوه اندېوال سره ولولي (مرسته کول) . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې تولګي ته ولولي . – کلمې پر توره تخته ښې ښايسته ليکل . – يې له ترتيب څخه کلمو ته اشاره کول .	*۲ . د کليوالو د نومونو (کلمو) لوستل زده کول او په جملو کې يې په شفاهي توګه استعمالول :* – جوړه جوړه لوستل : الف – کلمې معنا کول . ب – وار په وار د کلمو لوستل . – کلمې تکرار لوستل : الف – يو زده کوونکی يوه کلمه . ب – د يوه زده کوونکي له خوا ټولې کلمې لوستل . – په غور کتل . – په ګډه سره لوستل .	مشق پانه پ۲ – ۱۱ – ۱ توره تخته

– يوې کلمې ته اشاره کول او له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په جمله کې يې وکاروي . – نوې کلمې هم دغه شان کارول ؛ د کليوالي په باره کې خبرې کول .	– جمله ويل ؛ مثلاً : قصاب غوښه خرڅوي . – د کليوالو په باره کې جملې ويل .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نوري کلمې سلېټونو ته ور نقل کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسم ښه ښايسته رنګ کړي .	۲. *نوې کلمې نقل کول ؛ رسمونه رنګول :* – نوې کلمې پر سلېټونو ښې ښايسته نقل کول . – رسم رنګ کول .	سلېټونه

(۱) د کلي په اړه د زده کړې ښه طريقه دا ده چې زده کوونکي دکلي مختلفو ځايونو ته ور وستلای شي چې د حقيقي ژوند مشاهده وکړي او څه چې ويني د هغو په باره کې خبرې وکړي . دا ډول ميدان ته تګ د دې درسي پلان تر تدريس دمخه کيدای شي يا دا چې د درسي پلان په دوران کې دې دغه کار وشي ؛ مثلاً : پر رسم تر بحث کولو وروسته د دې عنوان له پاره دوه درسي پلانونه ځانګړي شوي دي . دا درسي پلان د کلي د خلکو او د هغوی په فعاليتونو متمرکز دی . دغه راز ، درسي پلان پ۲ – ۱۱ – ۱ هم په کليوالي ژوند پورې اړه لري .

(۲) په رسم کې ډېر زيات واړه واړه فعاليتونه ښودل شوي دي چې په ورومبي نظر کې پرې غور کول نه دي په کار . ښوونکي ته په کار دي چې زده کوونکو ته ډېر زيات وخت ورکړي چې دا ټول واړه واړه فعاليتونه معلوم اوويـان کړي . فعاليتونه معلومول او د هغوی په باره کې خبرې کول به رسم د زده کوونکو له پاره ډېر زيات خوندور کړي . په دې توګه به ښوونکی د زده کوونکو د مشاهدې کولو مهارت پياوړی کړي .

د رسمونو په باره کې دې خبرې وشي . د کتارونو کلمې دې په خبرو کې وکارولې شي :



موضوع : د کلیوالو د کارونو په باره خبرې کول ؛ اړوندې جملې لوستل	
د زده کوونکو او ښوونکې فعالیتونه	درسي مواد
۱. د مشق پانې پ۲ – ۱۱ – ۱ کلمې لوستل .	مشق پانه
۲. په رسم کې د ښودل شویو مختلفو خلکو په باره کې خبرې کول ؛ ویل چې آیا په کلي کې ټول خلک کار کوي ؟ او هر کس ته ولې کار په کار دی ؟	پ۲ –۱۱ – ۱
۳. په مشق پانې پ۲ – ۱۱ – ۲ کار کول : الف – د کښ اړخ کلمې لوستل ؛ معلومول چې دا د کلیوالو کسبونه دي . ب – د عنوان لوستل او د هغه په باره کې خبرې کول . ج – په وړومبیو دوو جملو په شریکه کار کول ؛ په خالي ځایونو کې د لیکلو له پاره صحیح کلمې معلومول او لیکل . د – په دوه دوه کسه کار کول ؛ د نا مکملو جملو لوستل ؛ په خالي ځایونو کې د لیکلو له پاره موزونې کلمې پیدا کول او لیکل . هـ – ببله ببله جمله ټولګي ته لوستل ؛ مقایسه کول ؛ اصلاح کول .	مشق پانه پ۲ –۱۱ – ۲
۴. د یو څو کلمو پر سلېټونو مشق کول ؛ د دې کلمو له یادې د لیکلو کوشش کول .	سلېټونه

د جملو تش ځایونه دې د ستون په کلمو په مناسبه توګه ډک شي :

ثوک څه کوي ؟	پ۲ ۱۱ ـ ۲
۱ ـ _____ غواګانې او میښې حلالوي .	ګاډیوان
۲ ـ _____ د خلکو د سر ویښته جوړوي .	قصاب
۳ ـ _____ شلېدلې څپلۍ ګنډي .	دوکاندار
۴ ـ _____ په دوکان کې سودا خرڅوي .	مشران
۵ ـ _____ په ترښځ او اره کار کوي .	ملا
٦ ـ _____ د کلي جرګې کوي .	موټروان
۷ ـ _____ ګاډۍ چلوي .	نایي
۸ ـ _____ موټر چلوي .	ترکان
۹ ـ _____ امامتي کوي .	موچي

عنوان : د درخو خپل کلی خوښ دی

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي له خوا املا ويل ؛ د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو يو څو هغه کلمې ليکل چې تېره ورځ يې د هغو مشق کړی دی (ملا ، موچي ، نايي ، مشران) ؛ تر هرې کلمې وروسته پر توره تخته چك کول .	سلېټونه توره تخته
۲. د ښوونکي له خوا د مشق پاڼې پ۲ – ۱۱ – ۲ عنوان (د درخو خپل کلي خوښ دی) پر توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا د ښوونکي په مرسته د عنوان څو څو ځله لوستل ؛ د زده کوونکو له خوا دلايل ويل چې د درخو خپل کلی ولې خوښ دی ؟	توره تخته
۳. د خپل کلي د ماشومانو په باره کې خبرې کول چې څه کوي ، څه يې خوښ دي او څه باندې خوشحاليږي ؟	
۴. د ښوونکي له خوا د مشق پاڼې د نويو کلمو (اوسي ، خاي ، کوڅې ، کله کله ، اخلي ، شيان) پر توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا يې د ښوونکي په مرسته بيا بيا لوستل .	توره تخته
۵. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۱ – ۳ کار کول : الف – له يوه انديوال سره يو خای د متن لوستل . ب – ټولګي ته د متن لوستل ؛ يو زده کوونکی يوه جمله . ج – د يو څو زده نکوو له خوا ټولګي ته د ټول متن لوستل .	مشق پاڼه پ۲ –۱۱ – ۳
۶. د متن په آخر کې يو څل بيا سوال لوستل ؛ يو يا دوه خوابونه معلومول چې پر توره تخته وليکل شي ؛ مثلاً : په کلي کې مو لوبې کول خوښ دي . په کلي کې مو مندې وهل خوښ دي او نور .	توره تخته
۷. د دې جملو پر سلېټونو مشق کول .	سلېټونه

د متن وروسته سوال ته دې ځواب وويل شي :

پ۲ | ۱۱ - ۳

د درخو خپل کلی خوښ دی

درخو په کلي کې اوسېږي . په کلي کې ډېر ماشومان دي . د درخو ډېرې ملګرې دي . دوی هره ورځ يو ځای لوبې کوي . دوی د کلي کوڅې ته ځي او ډېر خلک ګوري . څوک خلکو ته د سر ويښته جوړوي . څوک څپلی ګنډي . څوک له دوکاندار څخه سودا اخلي او څوک موټر چلوي . کله کله دوی هم له دوکاندار څخه سودا اخلي . بيا بېرته خپل کور ته ځي . ستاسو خپل کلی ولې خوښ دی ؟

درسي پلان ۱۲ پ۱ - ۱۲ - ۱	موضوع : کلی په پتیو کې	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱. پر هغه رسم خبر یکول چې خلك په پتیو کې د کار کولو په حال کې ښیي :	
- په زده کوونکو مشق پانه پ۲ - ۱۲ - ۱ مطالعه کول او څه چې په کې ویني هغه پرې بیانول .	- د مشق پانې رسم مطالعه کول او څه چې په کې ویني د هغه بیانول .	مشق پانه پ۲ -۱۲ - ۱
- په رسم کې چې خلك په کومو کارونو لګیا دي هغه په زده کوونکو بیانول .	- په رسم کې چې خلك په کومو کارونو لګیا ښکاري هغه بیانول .	
- پوښتنه کول چې تاسو کوم ځناور په رسم کې وینئ؛ او څه شی کوي ؟	- ددغو ځناورو نومونه اخیستل ؛ په رسم کې چې په څه لګیا ښکاري د هغه تشریح کول .	
- له زده نکوو څخه غوښتل چې د دهقانانو او شپنو پر نورو فعالیتونو باندې خبرې وکړي. (۱)	- د بېل بېل زده کوونکي له خوا ټولګي ته د بزګرانو او شپنو په باره کې معلومات ورکول ؛ د نورو تبصرې کول .	
	۲. د هغو کلمو لوستل زده کول چې په رسم کې د اشخاصو له پاره راغلې دي :	
- یو ځل بیا له زده کوونو څخه غوښتل چې په رسم کې د لیدل شویو اشخاصو نومونه واخلي. دغه نومونه پر توره تخته په مفرد شکل لیکل .(۲)	- د دغو اشخاصو نومونه اخیستل ؛ د ښوونکي لیکلو ته کتل .	توره تخته
- دغه کلمې ، یوه یوه په زده کوونکو لوستل .	- د بېل بیل زده کوونو له خوا لوستل ؛ د نورو په هغوی پسې تکرارول .	
- له زده کوونو څخه غوښتل چې د دې خلکو د کار په باره کې جملې ووایي .	- هر یوزده کوونکی یو شخص انتخابوي او د هغه په باره کې یوه جمله وایي ؛ لکه : بزګر په پتي کې یوې کوي . دغه زړه بنځه غوا لوشي او داسې نور .	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې دغه کلمې د جمع په شکل ووایي ؛ جمع شکلونه یې د دغو کلمو د مفردو شکلونو په خوا کې لیکل .	- مطلوب جمع شکل یې ویل ؛ د ښوونکي لیکلو ته ښه په غور کتل .	
- دغو کلمو ته اشاره کول .	- مفرد او جمع دواړه شکلونه یې په ګډه سره لوستل.	
	۳. پر کومو فعالیتونو چې خبرې شوې دي د هغوی په باره کې جملې لوستل او مکمل کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د مشق پانې د کښې ارخ کلمې ولولي .	- د دغو کلمو لوستل ؛ معلومول چې دا هغه کلمې دي چې اوس مو زده کړي دي .	مشق پانه پ۲- ۱۲ - ۲
- له زده کوونکو څه غوښتل چې په دوه دوه کسه د مشق پانې عنوان او ورومبۍ جمله ولولي.	- عنوان او ورومبۍ نا مکمله جمله لوستل ؛ معلومول او ویل چې د کښې خوا له کلمو څخه یوه کلمه د جملې په خالي ځای کې لیکل کیږي ؛ د [بنځې] کلمه موندل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د [بنځې] کلمه په خالي ځای کې ولیکي .	- د مشق پانې په موزون ځای کې د [بنځې] کلمه لیکل .	
- له زده کوونکو سره پر نورو دوو جملو کار کول .	- دغه جملې اول په خاموشۍ سره او بیا په لوړ آواز ټولګي ته لوستل ؛ له کښې ارخ څخه کلمې اړونده خالي ځای ته نقلول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې دغه نورې جملې له انډیوال سره یو ځای ولولي او په خالي ځایونو کې یې لیکل .	- په خاموشۍ سره کا کول ؛ په خالي ځایونو کې یې لیکل .	

موزوني کلمې ولیکي (مرسته ورسره کول) . – په زده کوونکو مکملې کړای شوې جملې تولګي ته لوستل . – له زده کوونکو څخه غوښتل چې په آخري سوال خبرې وکړي .	– دبـل بـل زده کوونکـي لـه خـوا لوسـتل (یـو زده کوونکی یـوه جملـه) ؛ د نـورو مقایسـه کـول ؛ تکرارول . – دا چې دوی د پـتې پـه کـار کـې څنګه مرسته کـوي د هغه ویل .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنـه کـول چـې پـه دوو دوو کسانو د جملو د لوستلو مشق تر هغـه وکړي چې بنه په روانه یـې ولوسـتلې شـي او تـر هغـه وروسـته دې رسم رنګ کړي .	*۴. د لوستلو مشق کول او رسم رنګول :* – په دوو دوو کسانو د دغو جملو وار په وار لوستل ؛ په خاموشۍ سره کار کول ؛ رسم رنګول .	

(۱) زده کوونکو ته به ډاډ ورکول کیږي چې په رسم کې د بزګرانو او شپنو پر کارونو سربېره د نوړو خلکو د کارونو په باره کې هم خبرې اترې وکړي . همدارنګه به دوی دې ته هڅول کیږي چې په پټیو کې د بنځو د کار او د ځناورو د کار په باره کې هم خبرې وکړي . په کور کې د بنځو کار به د درسي پلانونو پ۲ – ۱۴ – ۱ او پ۲ – ۱۵ – ۱ عنوان وي .

(۲) بنوونکی به کلمې یوه تر بلې لاندې داسې لیکي چې د جمع شکلونه یې په خوا کې ولیکل شي ؛ مثلاً :

بزګر	بزګران
شپون	شپانه
بنځه	بنځې

د رسم په باره کې دې سوال او خواب وشي :

پ۲ | ۱۲ ـ ۱

هر څوک کار کوي

ټش خایونه دې د ستون په کلمو په مناسبه توګه ډک او وروسنې سوال ته دې خواب وویل شي :

پ۲ | ۱۲ ـ ۲

زمونږ په کلي کې هر څوک کار کوي

۱ ـ ..... د کور لوبني مینځي .
۲ ـ ..... په پټي کې یوې کوي .
۳ ـ ..... تخم کري او یوې کوي .
۴ ـ ..... مېږې او وري څروي .
۵ ـ ..... مېنبې ساتي او شیدې خرڅوي .
۶ ـ ..... بنې بنې خبرې کوي .
او ماشو مان څه کوي ؟

شپانه
بزګران
مشران
ګوجران
بنځې

موضوع : ماشومان له مور او پلار سره څنګه مرسته کوي ؟ د جملو لوستل ؛ مناسبي کلمي په خالي ځايونو کې ليکل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د کلي د خلکو په باره کې چيبستانونه (دوني) ويل : الف – د ښوونکي له خوا يو يادوه مثالونه ورکول ؛ لکه : " زمونږ په کلي کې يو سړی دی ، اسونو ته نالونه وهي چې ښه مزل وکړي ؛ دغه سړی په څه نامه يادېږي ؟ " د زده کوونکو له خوا اتکل او ويل : " آهنګر ، پښې " . ب – په درسي پلانونو ب۲ – ۱۱– ۱ او پ۲ – ۱۲ – ۱ کې د ټولو ذکر شويو اشخاصو په باره کې دهمدغسې چيستانونو ويل .	مشق پانه پ۲– ۱۲ – ۲
۲. په مشق پانه پ۲ – ۱۲ – ۲ کې د جملو لوستل (يو زده کووکی يوه جمله) .	
۳. په مشق پانه پ۲ – ۱۲ – ۳ باندې کار کول : الف – دعنوان لوستل . ب – خپلو تجربو ته ورسره ارتباط ورکول . ج – د مشق پانې د کينې خوا کلمې لوستل .	مشق پانه پ۲– ۱۲ – ۳
۴. د ښې خوا جملې لوستل ؛ خالي ځايونه په موزونو کلمو ډکول ؛ په دوو دوو کسانو ټولګي ته د دغو جملو لوستل (يو زده کوونکی ، يوه جمله) .	
۵. دلوستلو او ليکلو مشق کول : الف – له انډيوال سره جملې تر هغه پورې لوستل چې ښې روانې يې بيا وار په وار ولوستلای شي . ب – پر سلېټونو د نويو کلمو د ليکلو مشق کول ؛ له يادې يې د ليکلو کوښښ کول .	سلېټونه

تش ځايونه دې د ستون په کلمو په مناسبه توګه ډک شي :

ماشومان له مور او پلار سره مرسته کوي	پ۲ ۱۲ - ۳
۱ ـ لور له مور سره لوښي او جامي مينځي .	کوي
۲ ـ نازو له مور سره غوا _____	لوشي
۳ ـ زرين له پلار سره په پټي کې لو _____ .	خرڅوي
۴ ـ ماشومان له پلار سره ګډې او وزې _____ .	څروی
۵ ـ زوی له پلار سره په دوکان کې سودا _____ .	ساتي
٦ ـ لور له مور سره د کور کار _____ .	مينځي
۷ ـ مور او پلار ماشومان خوشحاله _____ .	

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : د [زه] ، [مور] او [هغه] د کارولو تکرار	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د هغو څلورو کلمو املا ليکل چې تېره ورځ يې مشق وشو : لوشي ، خرڅوي ، ځروي ، ساتي .	سلېټونه
۲. زده کوونکي چې له مور او پلار سره څنګه مرسته کوي ، هغه بيانول ؛ د خاصو حالتونو تشريح کول .	
۳. د مشق پانې پ۲ - ۱۲ - ۳ د جملو بيا لوستل .	مشق پانه
۴. مشق پانه پ۲ - ۱۳ - ۴ مطالعه کول ؛ د ورومبيو شپږو جملو له پاره د فعل صحيح شکلونه معلومول او ليکل (ورومبی پر تره تخته او بيا په مشق پانه کې) .	پ۲- ۱۲ - ۳ مشق پانه
۵. د مشق پانې په آخر کې د جملو لوستل ؛ اول په خاموشي سره او بيا په لوړ آواز .	پ۲- ۱۲ - ۳
٦. د مشق پانې د پاسنۍ برخې په شان هره جمله د شفاهي مشق له پاره استعمالول ؛ شخصي ضميرونه او د فعلونو آخرۍ برخې په واضحه توګه تلفظ کول .	
۷. پر سلېټونو د يوې جملې د ليکلو مشق کول ؛ مختلف شخصي ضميرونه اود فعل اړونده شکلونه استعمالول .	سلېټونه

په تشو ځايونو کې دې د فعل (کول) مناسب شکلونه وليکل شي .

پ۲ | ۱۲ ـ ۴

زرين (هغه) له مور او پلار سره مرسته کوي .

زه هم له مور او پلار سره مرسته _____ .

ته هم له مور او پلار سره مرسته _____ .

نازو او زرين له مور او پلار سره مرسته _____ .

مور هم له مور او پلار سره مرسته _____ .

تاسو هم له مور او پلار سره مرسته _____ .

زرين (هغه) په پټي کې غواګاني او مېښې څروي .

نازو (هغه) په ويالې کې لاسونه مينځي .

کريم (هغه) له دوکان څخه سودا اخلي .

درسي پلان ۱۳ پ۲ - ۱۳ - ۱	موضوع : تکرار : په توريو او کلمو مشقونه کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . د کلمو يو زنځير جوړول :	
- لاندې کلمې پر توره تخته خوري وري ليکل : کتاب ، نوک ، بابا ، ستن ، تال ، اس ، بوټ .	- ورته کتل ؛ د دغه کلمو لوستل .	تـــوره تختـــه
- د توري تختې د لاندې برخې په ښي اړخ کې د [بابا] د کلمې ليکل ؛ په زده کوونکو د هغې کلمې پيدا کول چې د [بابـا] د کلمې آخری حرف يې په سر کې راشي . (۱)	- د [بابا] د کلمې لوستل؛ معلومول چې دا کلمه خو په [ا] ختميږي او بله کلمه چې پيدا کول غواړي هغه به په [ا] شروع کيږي ؛ د [اس] کلمه موند ل؛ د يوه زده کوونکي له خوا د [اس] کلمه د [بابا] له کلمې سره په خوا کې ليکل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د زنځير بله کلمه پيدا کړي . (۲)	- د هغې کلمې موندل او ليکـل چې پـه [س] شروع کيږي : بابا ، اس ، ستن .	
- د زنځيـر پـه مکملولـو کـې د زده کوونکـو لاښوونه کول .	- د زنځير مکملول .	
- د زنځير د اوږدولو لـه پاره په زده کوونکو نوې کلمې پيدا کول .	- د نورو کلمو موندل او ليکل .	
- په زده کوونکو د کلمو دغه زنځير لوستل .	- د بيل بيل زده کوونکي له خوا د دغه زنځير لوستل .	
- له زده کوونکـو څخـه غوښتـل چې مشـق پـانه پ۲ - ۱۳ - ۱ مطالعـه او خالي ځايونه په کې ډک کړي .	- د کلمو زنځيرونه مکملول ؛ په خاموشـي سـره کار کول ؛ لـه يـوه انډيوال سـره د کـار مقايسـه کول .	مشـــق پـــانه پ۲ - ۱۳ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کلمـو زنځيرونه ټولګي ته ولولي . (۳)	- د بيل بيل زده کوونکي لـه خوا لوستل ؛ د نورو غوږ نيول ، مقايسه کول .	
	۲ . د با معنا کلمو د جوړولو له پاره توري له سره ترتيبول :	
- د توريو ترکيب [لوړ] پر توره تخته ليکل .	- ورته کتل ؛ د لوستلو کوښښ يې کول ؛ تعجب کول چې دا څنګه کلمه ده !	تـــوره تختـــه
- د [ډول] کلمه د [لوړ] لاندې پرته له خه ويلو ليکل .	- د [ډول] د کلمو لوستل .	
- اول تورو ترکيب [روک] او دهغې لاندې [کور] ليکل .	- ورته کتل ؛ لوستل يې ، معلومول چې يوه کلمه بې معنا ده او بله معنی لري .	تـــوره تختـــه
- پر توره تخته [روت] ليکـل ؛ پوښتنه کول چې با معنا کلمه ور څخه څنګه جوړولای شو ؟	- ورته کتل ؛ لوستل يې ، معلومول چې د با معنا کلمې (تور) د حاصلولو لـه پـاره د [ر] او [ت] دحروفو وړاندې وروسته کول په کار دي.	
- دتوريـو د بـې معنـا ترکيـب نـور ډېر مثالونـه ورکول : لوت ، کوخ ، روخ . (۴)	- د حروفو د بې معنی ترکيـب لوسـتل ؛ د سـر او آخـر حروف يې وړاندې وروسته کول ؛ د نويوکلمو ويـل ؛ پر توره تخته يې ليکل : تول څوک ، خور .	

موضوع : د نظم يادول ؛ د نظم اړوندو جملو کې د [زه] او [مور] مشق کول	
د زده کوونکواو ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱ د جلا جلا زده کوونکو له خوا د لومړيو ډولسو بيتونو په ښه طريقه لوستل .	مشق پانه پ۲ - ۱ - ۱
۲ د جلا جلا زده کوونو له خوا دا بيتونه له ياده ويل : الف - د نظم آخري شپږ بيتونه مطالعه کول او په خپله د معلومو او نامعلومو کلمو د لوستلو کوشش کول . ب - د ښوونکي په مرسته د دې بيتونو يو خای لوستل . ج - ټول نظم په ښه انداز لوستل .	
۳ آخري شپږ بيتونه يادول .	تـوره تختـه
۴ د ښوونکی له خوا د [زه] او [مور] کلمې پر توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا د دې کلمو لوستل او په جملوکې يې په شفاهي توګه کارول .	
۵ پر توره تخته او سلېټونو د دې کلمو مشق کول .	تـوره تختـه / سلېټونه
۶ په مشق پانه پ۲ - ۱ - ۳ کار کول : الف - جملې لوستل او د [يم ، يو ، لرم ، لرو] له کلمو سره اشنا کېدل . ب - غيبي کلمې ليکل . ج - انډيوال ته جملې لوستل .	مشـق پـانه پ۲ - ۱ - ۳

د جملو تش ځايونه دې د [زه ، مور ، يم ، يو ، لرم ، لرو] په کلمو په مناسبه ټوګه ډک شي :

پ ۲ | ۱ - ۳

زه	مور
زه ماشوم يم .	مور ماشومان يو .
زه الله پيدا کړی يم .	مور الله پيدا کړي يو .
ـــ د الله مخلوق ـــ .	ـــ د الله مخلوق ـــ .
ـــ مور او پلار لرم .	ـــ مور او پلار لرو .
ـــ باغ لرم .	ـــ باغ لرو .
ـــ اس ـــ .	ـــ اس ـــ .

زه د الله ثنا وايم .

مور د الله ثنا وايو .

– دمشق پانې پ۲ – ۱۳ – ۲ پاسنۍ برخه په زده کوونکو مطالعه کول او له اندیوال سره په هغوی کار کول (مرسته کول) . – له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې د کلمو جوړې ولولي .	– د مشق پانې مطالعه کول ؛ معلومول چې موږ به صحیح کلمې پیدا کوو ؛ له یوه اندیوال سره کار کول ؛ د صحیحو کلمو لیکل . – د ببل ببل زده کوونکي له خوا لوستل .	مشق پانه پ۲ – ۱۳ – ۲
– په زده کوونکو د مشق پانې پ۲ – ۱۳ – ۲ لاندنۍ برخه لوستل . – د سر د حرف تر یو ځای کولو وروسته په لاس راغلې کلمې په زده کوونکو لوستل . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په مشق پانه کې کلمې مکملې کړي او پر سلېټونو یې د لیکلو مشق وکړي .	۳. غیب توری ور زیاتول؛ د کلمو لوستل او لیکل: – د مشق پانې مطالعه کول ؛ له نامکملو کلمو سره د سر حرف یو ځای کول . – د ببل ببل زده کوونکي له خوا لوستل (یو زده کوونکی یو بکس) . – په خاموشۍ سره کار کول : الف – په مشق پانه کې کلمې مکملول . ب – پر سلېټونو باندې د هغوی د لیکلو مشق کول ؛ له یادې د ځینو کلمو د لیکلو کوشش کول .	مشق پانه پ۲– ۱۳ – ۲ سلېټونه

(۱) د دې درسي پلان هدف د کلمو او توریو دوه واري له نظره تېرول دي . د دې ټول درسي واحد هدف دا دی چې زده کوونکو ته په مشقونو کې د تازه زده شویو کلمو د مشق کولو موقع ور کړای شي .

(۲) د زنځیرونو مفکوره (تصور) داسې کیدای شي :

د منځ توری د دغو دوو کلمو د رابطې توری دی . دا د وړومبۍ کلمې آخرۍ او د وروسۍ کلمې د سر توری دی او زنځیر په همدغه شان مخ په وړاندې ځي .

(۳) د کلمو دهمدغسې زنځیرونو جوړول یو ډېر ګټور مشق دی چې د ماشومانو ډېر خوښیږي او په مناسبه موقع یې کول په کار دي . د بل زنځیر له پاره مثال : ملخ ، خوب ، بیزو ، ور ، رنګ ، ګل ، لړم ، مار .

(۴) که څه هم زده کوونکي به په دې خبره وروسته وپوهیږي چې بې آوازه توري (کانسونینتس) وړاندې وروسته کړای شوي دي خو دوی به یې لولي او تلفظ به یې کوي ځکه چې دا کلمې د دې له پاره ور کړای شوې دي چې زده کونکي په لوستلو کې تکړه شي .

کلمې دې ولوستلې او ور لاندې کړې دي د همدغو کلمو په زنځیرونو باندې د مثال غوندې وکې شي :

پ۲ ۱۳ - ۱

رنګ	لاس	دبګ	ملخ	
خر	ګل			سیند

ملخ خر رنګ /

الو	ګسان	مخ	خوب	واړه
		بودا	نیم	

کسان /

نبک	سبق	کس	مرغان	راځي
مور	قلم			

مرغان /

د یې معنا کلیږ د سر او آخر د توږو په وړاندې وروسته کولو سره دې معنا لرونکې کلمې جوړې . ولیکلې او ولوستلې شي . نیمګړې کلمې دې له مربوطو توږو سره ونښلولې او ولوستلې شي :

پ۲ ۱۳ - ۲

لان	نال	رول	ــــ	لاټ	ــــ		
رام	ملو	لوډ	ــــ	ګبډ	ــــ		
غاب	ــــ	زهم	ــــ	روم	ــــ		
توب	ــــ	مون	ــــ	جات	ــــ		

و	نه لیکه لي	سـ	بق ړی لیم	لـ	اندې وبې مس	نـ	وک یمه- وم
م	وږ ور ښتبه	ب	اندې وډا نیادم	خـ	الق پل وب	کـ	وټه ښله سان

موضوع : په حال زمانه کې د شخصي ضميرونو په ارتباط د فعلونو آخرنۍ برخې تکرارول ؛ د نظم (زمونږ کور) تکرارول؛ همقافيه کلمې پيدا کول

د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱ د ښوونکي له خوا د مشق پاڼې پ۲ – ۱۳ – ۲ د پاسنۍ برخې دولس کلمې د املا په حيث ويل ؛ د زده کوونکو له خوا يې ليکل ؛ تر هرو درېو کلمو وروسته پر تخته د ښوونکي له خوا چک کول ؛ اصلاح کول .	تخته تخته
۲ د ښوونکي له خوا پر تخته داسې جملې ليکل چې شخصي ضمير يې غير موزون وي ؛ د زده کوونکو له خوا دغه غلطي پيدا کول ؛ صحيح شخصي ضيمر په کې کارول ؛ مثلاً : (هغه) زه کتاب لولي . ، (مونږ) هغه خط ليکو .	
۳ د مشق پاڼې پ۲ – ۱۳ – ۳ پر پاسنۍ برخه کار کول : الف – وړومبۍ جمله لوستل ؛ معلومول چې د [زه] شخصي ضمير په دې حال کې صحيح نه دی ، د ده په عوض به د [زمونږ] شخصي ضمير کارول کيږي . ب – دغه نوري جملې هره يوه ببله ببله ټولګي ته لوستل ؛ په هغو کې غلطي پيدا کول ؛ په شفاهي توګه يې اصلاح کول . ج – په خاموشي سره کار کول ؛ په نا موزونو کلمو باندې چليپا را کښل ؛ موزوني کلمې ليکل . د – د صحيح جملو ټولګي ته لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۳ – ۳
۴ د نظم (زمونږ کور) بيا ويل : پوښتنه کول چې دا نظم ولې دومره خوندور دی ؟ معلومول چې د هرو دوو بيتونو آخرۍ کلمې يو شان آواز ورکوي ؛ زده کول چې دا همقافيه کلمې دي .	
۵ د ورکړای شويو کلمو همقافيه کلمې پيدا کول ؛ مثلاً : د ښوونکي له خوا ويل : کټونه ، سترګه ، قلم ، جارو ؛ د زده کوونکو له خوا يې همقافيه کلمې ويل ؛ لکه : لټونه ، چرګه، لرم ، دارو .	
٦ د مشق پاڼې په آخرۍ برخه کار کول : الف – اول د ټولو کلمو لوستل ؛ بيا يې همقافيه کلمې پيدا کول ؛ د کښو په وسيله يې سره تړل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۳ – ۳
۷ د همقافيه کلمو جوړې پر سلېټونو ليکل .	سلېټونه

جملې دې ولوستلې ، د ضميرونو ناسم شکلونه دې چليپا او سم شکلونه يې دې په مربوطو ستونې چوکاټونو کې وليکل شې . د کتارونو همقافيه کلمې دې سره ونښلولې شې:

پ۲ | ۱۳ - ۳

جملې سمې کړئ !

۱

مونږ	~~زه~~ منډې وهو .
	ته کورته ځئ .
	هغه په کټ کښنم .
	مونږ کتاب لولي .
	هغوی اوبه څښي .
	تاسو تاته ګوري .

	ته د خوب نه پاڅي .
	زه جامې ګنډې .
	مونږ سودا خرڅوم .
	تاسو ډوډۍ خوري .
	هغوی لوبې کوئ .
	هغه خط ليکو .

لار	سترګه	ماشومان	قلمونه	ورور	لاندې
چرګه	باباګان	کار	لور	باندې	پنسلونه

موضوع : له پوهې سره لوستل ؛ د هغې کلمې پیدا کول چې په جملې پورې اړه نه لري ؛ همقافیه کلمې پیدا کول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعالیتونه	درسي مواد
۱ په مشق پانه پ۲ - ۱۳ - ۴ کار کول : الف - د عنوان (دا جملې سمې دي ؟) لوستل ؛ دا فکر ورته پیدا کېدل چې خامخا به په دې جملو کې یو څه غلطي وي . ب - د وړومبۍ جملې لوستل ؛ معلومول چې چلیپا شوې کلمه په جملې پورې اړه نه لري . ج - دوهمه جمله لوستل ؛ معلومول چې د [څنبل] کلمه چلیپا کول غواړي . د - په دوو دوو کسانو کار کول : د دغو جملو لوستل او د غیر ضروري کلمې چلیپا کول . هـ - څو څو ځله د صحیحو جملو ټولګي ته لوستل (یو زده کوونکی ، یوه جلمه) .	مشق پانه پ۲- ۱۳ - ۴
۲ د همقافیه کلمو پیدا کول : الف - د تېرې ورځې د همقافیه کلمو تکرارول ؛ د ښوونکي له خوا د یوې کلمې نوم اخیستل ؛ د زده کوونکو له خوا ورسره همقافیه کلمه پیدا کول . ب - د ښوونکي له خوا غوښتنه کول چې د ورکړای شویو کلمو له پاره دې نور همقافیه کلمې پیدا کړای شي (په دې برخه کې د کلمو د جمع شکلونه ډېر امکانات وړاندې کوي) . ج - د ښوونکي له خوا پر توره تخته د ځینو معلومو ساده مثالونو لیکل .	توره تخته
۳ پر سلېټونو د دې کلمود لیکلو مشق کول .	سلېټونه

جملې دې ولوستلې او نا مناسبې کلمې دې چلیپا شي :

پ۲ | ۱۳ - ۴

دا جملې سمې دي ؟

پلار کور او زوی په پټي کې کار کوي .

د نازو او زرین ډوډۍ خوړل او څنبل خوښ دي .

زمونږ په کلي پټیو کې ډېر کسان اوسي .

یو قلم کټ پر پر مېز باندې پورت دی .

زۀ دوه څلور سترګې او دوه غوږونه لرم .

په ټولګي کې ډېر ماشومان باباګان سبق وایي .

د کور مخې ته د بزګر ښځه غوا لوشي لولي .

بزګر په خپلو پټیو کې لیکي یوې کوي .

درس پلان ۱۴ پ۱ - ۱۴ - ۱	موضوع : د کور دمختلفو برخو په باره کې خبرې کول ؛ د دغو مختلفو برخو د کلمو لوستل او لیکل زده کول (۱)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱. د یوه کور د رسم په باره کې خبرې کول :	
- په زده کوونکو د مشق پاڼې پ۲ - ۱۴ - ۱ د رسمونو مطالعه کول او څه چې په کې وینې ، هغه پرې ویل .	- د تصویر مطالعه کول ؛ د کور او دکور د انګړ دمختلفو برخو نومونه اخیستل .	مشق پاڼه پ۲ - ۱۴ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کور د انګړ په باره کې یې څه زده وي هغه ووایي . ممکن سوالونه : • دغه شی یا برخه له څه نه جوړه ده ؟ • دغه شی د څه له پاره استعمالیږي ؟ • دغه شی څنګه استعمالیږي ؟ • د دغه شي رنګ څه ډول دی ؟	- د کوراو د کور د انګړ په باره کې چې څه معلومات لري د هغو ویل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د خپلو کورونو په باره کې خبرې وکړي . (۲)	- د خپلو کورونو په باره کې خبرې کول ؛ مشابهتونه او توپیرونه پیدا کول ؛ مثلاً : ویل : " زموږ په کور کې کوهی نشته . " ، " زموږ د کور په انګړ کې ونې دي . " ، او داسې نور .	
- په رسم کې په ښودل شوي کور کې او په خپلو کورنو کې یې چې څه خوښ وي ، هغه په زده کوونکو ویل .	- څه چې یې په رسم کې په ښودل شوي کور کې او څه چې یې په خپلو کورونو کې خوښیږي د هغوی ویل .	
	۲. د کلمو لوستل او لیکل زده کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له خپل خپل اندیوال سره د مشق پاڼې کلمې ولولي (مرسته کول) .	- له خپل خپل اندیوال سره د دغو کلمو د لوستلو کوښښ کول .	مشق پاڼه پ۲- ۱۴ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دغه کلمې ټولګي ته ولولي ؛ د زده کوونکو له خوا د لوستلو په موقع ددغو کلمو پر توره تخته لیکل.	- د دغې هرې کلمې لوستل (یو زده کوونکي یوه کلمه) د ښوونکي لیکلو ته کتل .	توره تخته
- بې له کوم ترتیب څخه کلمو ته اشاره کول او په زده کوونکو یې لوستل .	- د ښوونکي د اشارې په وخت کې د دغو کلمو لومړی جلا جلا او بیا په ګډه سره لوستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دغو کلمودلوستلومشق وکړي اودلوستلوپه وخت کې اړونده شي ته اشاره کول (له یوه اندیوال سره).	- له یوه اندیوال سره کار کول ؛ د یوه زده کوونکي له خوا د کلمې لوستل او د بل زده کوونکي له خواشي ته وار په وار اشاره کول.	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دغه کلمې خپلو سلېټونو ته نقل کړي .	- دغه کلمې خپلو سلېټونو ته څو ځله وز نقلول .	سلېټونه
	۳. د مشق پاڼې مکمول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې په خپلو مناسبو ځایونو کې ښه ښایسته ولیکي او وروسته دې رسم رنګ کړي (چک کول ؛ مرسته کول) .	- په خپلو مناسبو ځایونو کې د کلمو لیکل ؛ د رسمونو رنګول .	مشق پاڼه پ۲ - ۱۴ - ۱

(۱) په عنوان (زمونږ کور) به په دوو درسي واحدونو کې کار کيږي . په درسي پلان پ۲ - ۱۴ - ۱ کې په خپله کور او د کور شيانو ته توجه کيږي او په درسي پلان پ۲ - ۱۴ - ۱ کې به د کور له کارونو سره سره کار لرو .

(۲) د دې درسي پلان د پلي کولو يو غټ هدف دا دی چې زده کوونکي له خپل چاپېريال سره اشنا کړي او پام يې ور وګرځوي او په ښه طريقه په کې ژوند وکړای شي . مشاهده او مقايسه کول د زده کړې د عمل يوه ضروري برخه ده . د دې خبرې مطلب دا دی چې د يوه رسم په باره کې يوازې خبرې کول کافي نه دي بلکې زده کوونکي به په رسم کې ښودل شوی حال د خپل ژوند د ورځنيو تجربو په ارتباط مطالعه کوي .

(۳) ښوونکی به د زده کوونکو رهنمايي کوي چې د کرښو په مرسته صحيح ځايونه پيدا کړي .

کلمې دې ولوستلې ، په رسم کې دې پيدا او د کرښو د پاسه دې وليکلې شي . رسم دې رنګ شي :

پ۲	۱۴ - ۱

دېوال برنډه چت کوټه کړکۍ ور

فرش نغرې طاق ناوه کوهی انګړ



موضوع : د کور د شیانو په باره کې خبرې کول ؛ د کلمو لیکل او لوستل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د مشق پانې پ۲ - ۱۴ - ۱ د پاسنیو کلمو بیا لوستل ؛ مقایسه کول او چك کول چې په صحیحو خایونو کې لیکلې شوې دي او که نه ؟	مشق پانه پ۲- ۱۴ - ۱
۲. په مشق پانه پ۲ - ۱۴ - ۲ کې د رسمونو مطالعه کول ؛ د شیانو نومونه اخیستل ؛ معلومول چې دا شیان په کور پورې اړه لري .	مشق پانه پ۲- ۱۴ - ۲
۳. د دې شیانو په باره کې خبرې کول چې له څه شي څخه جوړ شوي دي او د څه له پاره په کار یږي .	
۴. د نورو هغو شیانو په باره کې خبرې کول چې په کور کې ورته ضرورت وي .	
۵. د ښوونکي په مرسته د مشق پانې پاسنۍ کلمې لوستل ؛ معلومول چې دا کلمې د رسمونو له پاره دي او دا هم معلومول چې دځو کلمو له پاره چې په منځنیو بکسونو کې لیکل شوې دي ، نه دي جوړې شوي .	
٦. له یوه اندیوال سره د لوستلو مشق کول : د یوه زده کوونکي له خوا د یوې کلمې لوستل او د بل له خوا د دغې کلمې اړونده رسم یا هغې اړوندې کلمې ته وار په وار اشاره کول چې په منځنیو بکسونو کې ده .	
۷. سلېټونو ته د نویو کلمو نقلول .	سلېټونه
۸. د مشق پانې مکملول : الف - تر تصویرونو لاندې د اړوندو کلمو لیکل . ب - د کلمو د پاسه د کلمو اړونده رسمونه کښل . ج - د رسمونو رنګول .	مشق پانه پ۲- ۱۴ - ۲

تر رسمونو لاندې دې د هغوی نومونه او تر نومونو پاس دې د هغوی رسمونه وکښل شي :

پ۲ ۱۴ - ۲	بنانک منګي لوښي زینه برښتن جامې	
	تنور چاتۍ سطل چوکۍ قرآن تبۍ	
چوکۍ	سطل	زینه	منګی

موضوع : دونې ویل او حلول ؛ د نویو کلمو د لوستلو او لیکلو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د هغو شیانو په باره کې دونې ویل او حلول یې چې په کور پورې اړه لري . الف – د ښوونکي له خوا د یو څو مثالونو ورکول ؛ لکه : " یو شی دی چې زمونږ په کور کې دی او اوبه په کې ساتو ؛ دا څه شی دی ؟ " د زده کوونکو له خوا اټکل کول او ویل چې " دا خو منګی دی " . ب – د کور د اړوندو شیانو په باره کې په خپله د زده کوونکو له خوا دونې ویل اوحلول یې .	
۲. د یوه زده کوونکي له خوا پر توره تخته د یوه داسې شي رسمول چې په کور پورې اړه لري ؛ له نورو څخه غوښتنه کول چې د دغه رسم شوي شي صحیح نوم د هغه په خوا کې ولیکي ؛ دا ډول مشق له نورو شیانو سره بیا کول .	توره تخته
۳. په درېمه مشق پانه پ۲ – ۱۴ – ۳ کار کول : الف – د جمع په جوړولو ځان پوهول . ب – دغه کلمې ټولګي ته بیا بیا لوستل اود جمع شکل یې پیدا کول . ج – د جمع شکلونه په خالي ستونونو کې لیکل (ښوونکی به پر توره تخته د لیکلو په ذریعه د ځینو کلمو په لیکلو کې مرسته کوي) .	مشق پانه پ۲– ۱۴ – ۳
۴. په مشق پانه پ۲ – ۱۴ – ۴ کار کول : الف – د عنوان لوستل او پوهېدل چې د خالي ځایونو په ډکولو سره جملې مکمللې غواړي . ب – په ورومبنیو دوو مثالونو په شریکه کار کول ؛ معلومول چې د مشق پانو پ۲ – ۱۴ – ۱ ، پ۲ – ۱۴ – ۲ ، پ۲ – ۱۴ – ۳ په خالي ځایونو کې لیکل کیږي او د دې له پاره تر یوه زیات امکانات شته . ج – له یوه اندیوال سره کار کول : د جملو لوستل او موزوني کلمې په کې لیکل . د – د هرې جملې مختلف عبارتونه ټولګي ته لوستل .	مشق پانه پ۲– ۱۴ – ۴

په تشو ستونونو کې دي د مفرد و کلمو جمع شکلونه ولیکل شي :

پ۲ ۲۳ - ۳

یو / یوه	دوه	یو / یوه	دوه
دېوال	دېوالونه	فرض	_____
سطل	_____	منګی	_____
برېستن	_____	ور	_____
چت	_____	لوښی	_____
زانګو	_____	ښانګ	_____
ناوه	_____	برنډه	_____
کوهی	_____	کوټه	_____
طاق	_____	نغری	_____
کلیې	_____	لرګی	_____

تش ځایونه دې په مناسبو کلمو ډک شي :

پ۲ ۱۴ - ۲

موږ برنډه لرو .	موږ څلور _____ لرو .
زمونږ کور _____ لري .	_____ کې اوبه وي .
_____ په کور کې ده .	_____ په فرش دی .
پلار په _____ کې دی .	_____ نوی دی .
_____ په طاق کې وي .	_____ کې لرګي دي .
_____ برنډه کې دی .	ماشوم په _____ کې دی .
_____ په چت کې ده .	_____ وړه ده .

درسي پلان ۱۵ پ۲ – ۱۵ – ۱	موضوع : په کور کې کار کول	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱ . د کور د فعاليتونو په باره کې خبرې کول :	
– د مشق پاڼې پ۲ – ۱۵ – ۲ عنوان پر توره تخته ليکل: "زموږ په کور کې هر څوک کار کوي." (۱)	– جمله لوستل .	تـــوره تختـــه
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې جملـه ټولګي ته ولولي او تبصره پرې وکړي.	– د يـوه زده کوونکـي لـه خـوا لوســتل ؛ د نـورو تبصرې کول .	
– لـه زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې د خپلـو کورونو د کار په باره کې خبرې وکړي ؛ ممکن سوالونه: " په کور کې څه ډول کارونه کيږي ؟" ، دا کارونه څوک کوي؟ "، " دا کارونه کله کيږي ؟" او داسې نور .	– دمختلفو کارونو پـه بـاره کې خبرې کـول ؛ غـوږ نيـول؛ تبصرې کول ؛ د نورو نيمګړتيا پوره کول.	
– له زده کوونو څخه د مشق پاڼې پ۲ – ۱۵ – ۱ د مطالعه کولو غوښتنه کول .	– د مشـق پـاڼې مطالعـه کـول ؛ د يـوه انـګړ ښځې اوماشومان په کې په کارلګيا دي پېژندل.	مشـــق پـــاڼه پ۲ – ۱۵ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې څه ويني هغه دې په تفصيل سره بيان کړي .	– د اشخاصو نومونه اخيستل او فعاليتونه يې په تفصيل سره بيانول .	
– له زده کوونو څخه پوښتنه کـول چې په کـور کې نور فعاليتونه هم وي ؟	– د هغو فعاليتونو په باره کې خبرې کول چې په رسم کې نه دي ښودل شوي .	
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې انګړونه يو شان وي ؟ ممکن سوالونه : " په ټولو کورونـو کـې کوهـی وي ؟ " ، خلـک لـه کـوم خای څخـه اوبـه راوړي ؟ " کناراب (خاک انداز) چېرته وي ؟ " او داسې نور .	– د خپـل انـګړ او د نـورو د انګړونـو تـوپيرونـه بيانول .	
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی کوم ډول کارونه کوي ؟	– د کور په کارونو کې د خپلې مرستې بيانول .	
– زده کوونکو ته لازښوونه کول چې په دې خانونه وپوهوي چې هر چا ته د کور په کـار کـې برخـه اخيستل په کار دي .	– بحث کول او خانونه پوهول چې هر چاته يو له بـل سره مرسته په کار ده چې په هيڅا هم کار تر حده زيات نه شي .	
	۲ . داسې کلمې را غونډول چې د کـور فعاليتونـه بيانوي:	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې يو څل بيـا د کور د فعاليتونو نومونه واخلي . خينې فعاليتونه پر توره تختـه بنه بنايسته په حال زمانه کې وليکي او د [هغه] شخصي ضمير په کې وکاروي . (۲)	– د کـــور د فعـــاليتونو نومونـــه اخيســـتل ؛ د ښوونکي د ليکلو مشاهده کول ؛ په خاموشۍ سره لوستل .	تـــوره تختـــه
– له زده کوونکو څخه ټولګي ته د کلمو د لوستلو غوښتنه کول (مرسته کول) .	– کلمې څو څو څله ټولګي ته لوستل .	
– کلمو ته بې له ترتيب څخه اشاره کول .	– د هغو کلمو چې اشاره ورته شوې ده ، جلا جلا او په ګډه ، لوستل .	

	۳. د نویو کلمو د لیکلو او لوستلو مشق کول:	
- له زده کوونکو څخه د مشق پانې پ۲- ۱۵ - ۲ د مطالعه کولو غوښتنه کول.	- د مشق پانې مطالعه کول؛ هغه عنوان چې په شروع کې پر تخته لیکل شوی و، معلومول.	مشق پانه پ۲ - ۱۵ - ۲
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له انډیوال سره د مشق پانې د پاسنۍ برخې متن ولولي (مرسته کول).	- جوړه جوړه لوستل.	
- له زده کوونکو څخه ټولګي ته د متن د لوستلو غوښتنه کول.	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا لوستل؛ د یوه زده کوونکي له خوا یوه جمله څوځو ځله لوستل.	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر لاندنۍ برخه کې نا مکملې جملې ولولي او له کیږ ارخ څخه اړونده کلمې معلومې کړي.	- نا مکملې جملې لوستل او د اړونده کلمې د معلومولو کوشش کول.	
- له زده کوونکو څخه د مکملو جملو د لوستلو غوښتنه کول.	- مکملې جملې یوه په بلې پسې لوستل.	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د بکس د څلورو کلمو مشق لومړی پر سلېټونو وکړي، بیا یې د مشق پانې په خالي ځایونو کې ولیکي او په آخر کې رسمونه رنګ کړي.	- په خاموشۍ سره کار کول: الف - پر سلېټونو د څلورو فعلونو د لیکلو مشق کول. ب - مشق پانه مکملول. ج - د مشق پانې رسم رنګول.	سلېټونه مشق پانه پ۲ - ۱۵ - ۱

(۱) ښوونکی به دغه عنوان ېې له دې چې څه تبصره ور باندې وکړي، یا ووایي چې دا د یوې مشق پانې ضمیمه ده، لیکي. په شروع کې به د زده کوونکو د کار کتابونه بند وي.

(۲) ښوونکی به ټول هغه فعالیتونه چې زده کوونکو کړي دي نه لیکي. یوازې هغه فعالیتونه به لیکي چې په رسم کې ښودل شوي دي او یا ځینې نور فعالیتونه چې په لوستلو کې آسان دي.

د رسم په باره کې دې خبرې او بحث وشي. رسمونه دې رنګ شي:

متن دې ولوستل او د جملو تش ځایونه دې د کینې ډډې د چوکاټ په کلمو په مناسبه توګه ډک شي:

پ۲ | ۱۵ - ۲

زمونږ په کور کې هر څوک کار کوي

اوس ورځ ده. سړي په پټیو کې کار کوي.
لوی ماشومان په ښوونځي کې دي. واړه ماشومان او ښځې په کور کې دي.
وګورئ، ښځې کار کوي. بوډۍ ښځه زانګو زنګوي. یوه ښځه پخلی کوي. بله تنور اچوي. یوه بله لوښي مینځي. دوی نور کارونه هم کوي.
او بابا څه کوي؟ هغه قرآن شریف لولي.

ښځه جامې	هغه اوړه	پخوي
څوک کتونه	بله ډوډۍ	سموي
		مینځي
		اغږي

موضوع : د صحيحو جملو د جوړولو له پاره ورکړای شوي کلمې ترتيبول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. املا ويل : الف – د ښوونکي له خوا د هغو څلورو کلمو يوه په بلې پسې املا ويل چې تېره ورځ يې پر سلېټونو مشق شوی دی . ب – د زده کوونکو له خوا د مشق پاڼې پ۲ – ۱۵ – ۲ له کلمو سره خپل ليک مقايسه کول .	سلېټونه
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۱۵ – ۲ د متن د لوستلو تکرار کول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۵ – ۲
۳. د زده کوونکو له خوا په تفصيل سره بيانول چې د کور ځينې فعاليتونه څنګه کيږي ؛ مثلاً : جامې مينځل ، ډوډۍ تيارول ، کور صفا کول او داسې نور .	
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۵ – ۳ کار کول : الف – د ښوونکي له خوا په ورکړای شوي ترتيب کې د وړومبۍ جملې کلمې پر توره تخته ليکل . ب – د زده کوونکو له خوا د کلمو لوستل او معلومول چې دا يوه صحيح جمله نه ده ؛ صحيح جمله به دوی ووايي . ج – د مشق پاڼې عنوان لوستل او د وړومبي مثال د تکرار په ذريعه په کار ځان پوهول . د – لومړی د هر مثال کلمې ټولګي ته لوستل او بيا دغه کلمې په صحيح ترتيب سره ويل . هـ – جوړه جوړه کار کول : صحيح جملې ليکل ؛ وار په وار لوستل . و – ټولګي ته د جملو لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۵ – ۳ توره تخته

د کلمو په ترتيبولو سره دې جملې جوړې او بيا دې ولوستلې شي :

	پ۲ ۱۵ - ۳
کوي کارونه د کور ښځې ښځې د کور کارونه کوي .	لولي هره ورځ قرآن بابا
راځي سړي پټيو له څخه	لور اچوي او مور تنور
کوي اوبه ګلونه ماشومان	پاتې په واړه کور کې کيږي
زنګوي ښځه بوډۍ زانګو	سره يو بل مدد کوي ټول

موضوع : دالفبې د حروفو شکلونه ، آوازونه او نومونه ؛ خپلې حروف په بنه خط لیکل (۱)

د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱ . د ډېرو حروفو د شکلونو ، آوازونو او نومونو تکرارول : (۱)	
– پر توره تخته د یوه حرف مثلاً [ج] لیکل ؛ د حرف د نوم او آواز غوښتنه کول .	– د دغه حرف پېژندل او نوم یې اخیستل ؛ د ډېرو زده کوونکو له خوا یې تلفظ کول .	تـــوره تختـــه
– نور ډېر حروف جلا جلا بیا بیا لیکل ؛ مثلاً [ر ، ډ ، ح ت ، ی ، ن ، م ، ق ، ط ، س]	– د مخکې په شان عمل کول ؛ اول د حرف نوم اخیستل او بیا یې تلفظ کول .	
– حروفو ته یې له څه ترتیبه اشاره کول .	– د دغو حروفو نومونه اخیستل او د ښوونکي په شان یې تلفظ کول .	
– د یوه حرف مثلاً د [ا] آواز ایستل او د نوم د اخیستلو غوښتنه یې کول .	– غوږ نیول ، د آواز پېژندل او د حرف معلومول ، پر توره تخته د یوه زده کوونکي له خوا د دغه حرف لیکل .	تـــوره تختـــه
– د نورو حروفو آوازونه ایستل لکه : [ل ، پ ب ، ش ، ن ، م ، ګ] .	– د مخکې په شان کار کول .	تـــوره تختـــه
	۲ . د الفبې د نظم بیتونه تکرارول :	
– پوښتنه کول چې څوک د الفبې د نظم یو یا څو بیتونه ویلای شي ؛	– د الفبې د بیتونو د را په زړه کولو کوشش کول ؛ د یوه یا څو بیتونو ویل .	
– پوښتنه کول چې ټول نظم څوک ویلای شي ؟ (۲)	– د یوه څو زده کوونکو ټول نظم ویل .	
	۳ . د څو حروفو د بنه لیکلو مشق کول :	
– ویل چې تاسو به اوس پر خپلو سلېټونو د څو حروفو د بنه لیکلو مشق کوئ !	– غوږ نیول ؛ خان مشق ته تیارول .	
– د مشق پاڼې پ۲ – ۲ – ۱ د کېن اړخ ورومبنۍ حروف پر توره تخته لیکل . (۳)	– ورته کتل ، د دغو حروفو پېژندل او نومونه یې اخیستل .	تـــوره تختـــه
– د دغو حروفود لیکلو چل عملاً ښودل ؛ په شکل کې یې فرق ته اشاره کول .	– مشاهده کول ؛ په همدغه شان یې پر سلېټونو مشق کول .	ســـــلېټونه
– د [ض] توری پر توره تخته د [د ، ر] د تورو لاندې لیکل .	– ورته کتل ؛ پېژندل او نوم یې اخیستل .	تـــوره تختـــه
– د [ض] د لیکلو چل عملاً ښودل .	– د ډېلو ډېلو زده کوونکو له خوا پر توره تخته مشق کول د نورو ټولو زده کوونکو له خوا یې پر خپلو سلېټونو مشق کول .	تـــوره تختـــه ســـــلېټونه
– د [ضعیف] کلمه پر توره تخته لیکل او غوښتنه کول چې یې لولي او هغه حرف په کې معلوم کړي چې تازه مو د هغې مشق وکړ .	– ورته کتل او لوستل یې ؛ د سر حرف (ضـ) پېژندل ؛ پر توره تخته او سلېټونو د دې شکل مشق کول .	تـــوره تختـــه ســـــلېټونه
– په همدې طریقه د [ع] د توري د مختلفو شکلونو د مشق لارښوونه کول ؛ [برقع ، ضعیف ، عینك] له کلمو نه کار اخیستل .	– پېژندل ، نوم یې اخیستل او څلور واړه شکلونه یې مشق کول (جلا او د کلمې د سر ، منځ او آخر شکلونه) .	تـــوره تختـــه سلېټونه

موضوع : د کورنيو فعاليتونو او شيانو په باره کې دوني جوړول او حلول ؛ په ورکړای شويو جملو کې مناسب فعلونه معلومول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. دوني جوړول او حلول : الف – د ښوونکي له خوا يو څو مثالونه ورکول : " دا زموږ په کوټه کې دی ، موږ په کې شيان ږدو ؛ دا څه شی دی ؟ " د زده کوونکو له خوا قياس کول : الماری ، تاخ . يا " کله چې جامې خيرنې شي ، موږ ورباندې يو څه کوو ، دا څه شی دی ؟ " ، " د زده کوونکو له خوا قياس کول : " جامې مينځل" يا " د ډوډۍ تر پخولو دمخه خور په اوږو يو څه کوي ؛ دا څه شی دی ؟ " د زده کوونکو قياس کول : اوړه اغړل (اخښل) . ب – د زده کوونکو له خوا د کور د فعاليتونو او شيانو په باره کې په خپله دونې جوړول او حلول .	
۲. د مشق پانې پ۲ – ۱۵ – ۳ د صحيحو جملو د لوستلو تکرار کول / څو ځله لوستل (يو زده کوونکی ، يوه جمله)	مشق پانه پ۲– ۱۵ – ۳
۳. په مشق پانه پ۲ – ۱۵ – ۴ کار کول : الف – په کار ځان پوهول چې د نامکملو جملو له پاره به صحيح فعل معلومولی او غلط به چلیپا کولی شي . ب – پر توره تخه په وړومبي مثال يو ځای کار کول . ب – په خاموشۍ سره کار کول : جملې لوستل ؛ غلطې کلمې چلیپا کول او په خالي ځايونو کې صحيح کلمې ليکل . د – صحيح جملې ټولګي ته لوستل .	مشق پانه پ۲– ۱۵ – ۴
۴. صحيح جملې سلېټونو ته نقلول ؛ څو څو ځله يې مشق کول .	مشق پانه پ۲– ۱۵ – ۴

د جملو تش ځايونه دې په مناسبو کلمو ډک او نا مناسبې کلمې دې چلیپا شي :

	پ۲ | ۱۵ – ۴
مور جامې مينځي. ~~خوړي~~ ~~څښي~~ مينځي	پلار يوې ..... کوي کري اچوي
خور ډوډۍ ..... پخوي غږي	نازوګلونه ..... اوبه کوي خوري کيږي
بوډۍ زانګو ..... وهي کوي زنګوي	مور تنور ..... لولي زنګوي اچوي

درسي پلان ۱۶ ب۲ - ۱۶ - ۱	موضوع : په يوې کيسې خان پوهول ؛ پر يوه رسم بحث کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
– له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی کله چېرته واده ته تللي دي ؟ – اعلانول چې اوس به دوی د يوه واده په اړه کيسه اوري . – کيسه ويل يا لوستل . – له زده کوونکو څخه د سوالونو يا تبصرو غوښتنه کول . – کيسه يو خل بيا ويل يا لوستل . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د پلوشې او د هغې د خور په باره کې يې څه زده وي ، ويې وايي ؛ د [پلوشه] او [سارا] نومونه پر تورې تخته ليکل . – له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې پلوشه په واده کې وړومبی ولې خوشحاله او بيا خفه وه ؟	*۱ . په کيسه (د واده ورځ) باندې خان پوهول :* – په خپل کور کلي کې د واده په اړه خپلې تجربې بيانول . – متوجه کېدل ، د کيسې اورېدلو ته آرام کښېناستل . – کيسې ته غوږ نيول . – آزادانه تبصرې کول ؛ په کومو شيانو چې نه پوهيږي ، د هغو په باره کې پوښتنې کول . – يو خل بيا کيسې ته غوږ نيول . – نومونه په خاموشۍ سره لوستل ؛ د جلا جلا زده کوونکو له خوا د کيسې تفصيلات بيا ويل . – بحث کول او د پلوشې په حالت خان پوهول چې واده د خوشحالۍ خبره ده . خو تر واده وروسته پلوشه خپل تاوان احساسوي خکه چې خوريې له کور څخه تللې ده . هغه په دې پوهيږي چې ناوې د مور او پلار کور پرېږدي .	کيسه ضميمه شوې ده تـــوره تختـــه
– له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ -۱۶- ۱ د مطالعه کولو او څه چې په کې وينې د هغه د ويلو غوښتنه کول . (۲) – په لاندې نوو سوالونو خبرو رهنمايي کول ؛ مثلاً : • په ورا کې څوک برخه اخلي ؟ آيا دغه خاص ګروپونه دي ؟ مختلف خلك په ورا کې څه کوي ؟ • خلك چېرته خي ؟ دوی له کوم ځای څه راغلي دي ؟ – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په رسمو کې ښودلی شوي حالت په خپل کلي کې له شويو تجربو سره مقايسه کړي .	*۲ . د ورا د يوه رسم په باره کې خبرې کول (۱) :* – د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ مُعلومول چې دا د يوه واده ورا ښېي ؛ څه چې وينې هغه په تفصيل سره بيانول . – د ښوونکي د سوالونو په رڼا کې رسم ته په غور کتل ؛ ممکن سوالونه موندل ؛ د نورو خبروته غوږ نيول ؛ تبصرې کول . – څه چې دوی په مختلف ډول يا يوشان وينې هغه بيانول .	مشق پاڼه پ۲- ۱۶ - ۱
– له زده کوونکو څه پوښتنه کول چې څوک د مشق پاڼې پ۲ - ۱۶ - ۱ عنوان لوستلای شي . (مرسته کول) – عنوان پر تورې تختې ليکل ؛ له زده کوونکو څخه يې د لوستلو غوښتنه کول . (مرسته کول) . – له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې د لاندنيو کلمو د لوستلو غوښتنه کول ؛ کله چې يې زده کوونکي لولي نو دغه کلمې ښه ښايسته پر تورې تختې ليکل . – له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې څوک يوه کلمه لوستلای شي ؟ تر هغه د زده کوونکو رهنمايي کول چې څو ټولې کلمې نه وي لوستلې شوي . –	*۳ . د نويو کلمو ليکل او لوستل زده کول :* – د جلا جلا زده کوونکو له خوا کوښښ کول . – جلا جلا او په ګډه لوستل . – جلا جلا يا له اندېوالاتو سره د لوستلو کوښښ کول . – د ټولګي مخې ته د جلا جلا زده کوونکي راتلل ؛ يوې کلمې ته اشاره کول ؛ لوستل يې ؛ د نورو له خوا يې تکرارول .	مشق پاڼه پ۲- ۱۶ - ۱ تـــوره تختـــه

– له زده کوونکو څخه د هغو کلمو د لوستلو غوښتنه کول چې دی ورته اشاره کوي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې سلېټونو نو ته نقل او مشق پرې وکړي ؛ تردې وروسته د رسمّ رنګول .	– هغه کلمې چې ښوونکی ورته اشاره کوي ، په ګډه لوستل . – سلېټونو ته د کلمو نقلول او تر هغه يې مشق کول چې په آسانۍ سره يې ولیکلای شي ؛ رسم رنګول .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ – ۱۶ – ۱

(۱) د ورا رسم به د سیمې له حالت سره برابری نه خوري ځکه چې دمختلفو سیمو رواج کټ مټ یو شان نه وي . کله چې رسم مطالعه او بحث وربانديِ کیږي نو زده کوونکي کولای شي چې دخپل کلي له حالت سره يې توپیر معلوم کړي . په شروع کې زده کوونکو ته ډاډ ګیرنه ورکول په کار دي چې رسم ته په غور وګوري او څه چې وینې په تفصیل سره يې بیان کړي .

(۲) په دې قدم کې زده کوونکو ته په کار دي چې حالت بې د ښوونکي له مداخلې بیان کړي او څومره زده کونکي چې ممکن وي په بحث کې دې برخه واخلي . په ور پسې قدمونو کې ښوونکي ته په کار دي چې د مختلفو تفصیلاتو د معلومولو له پاره د بحث لارښوونه کړي ؛ مثلاً : په ورا کې څوک برخه اخلي ؟ مختلف خلك څنګه ښکاري ؟ دوی څه کوي ؟ سړي څه کوي ؟ ښځې څه کوي ؟ ماشومان څه کوي ؟ او داسې نور .

د واده ورځ

پلوشه او سارا خویندې وي . پلوشه کشره او سارا مشره وه . سارا به پلوشې ته د شپې خوږې خوږې کیسې کولې . یوه ورځ د سارا واده و . دا ډېره شایسته ورځ وه . لمر خاته مهال ګاونډیان راټول شول . چا د حجرې په انګړ کې خیمه درولې ، چا کټونه برابرول اودرې يې غوړولې . بلې خواته د مېلمنو له پاره د ډوډۍ تیاری کېده . پلوشه هر څه ته حیرانه وه . کله به يې یوه ځای ته کتل او کله بل ځای ته او کله به خپلې خور ته راغله . هغه په کټ کې ناسته وه او ملګرې ترې چاپېره ناستې وې . پلوشې به منډه کړه ؛ بهر ته به ولاړه .

مېلمانه به ډلې ډلې راتلل سړي به حجرې ته او ښځې به کور ته ننوتلې . هر چا ښایسته جامې اغوستې وې . د پلوشې جامې هم ښایسته وې او له ماشومانو سره يې لوبې کولې . هغه په ګډه ګونه کې ډېره خوشحاله وه .

مېلمنو ډوډۍ وخوړه . پلوشه بهر ولاړه وه . نور ډېر مېلمانه يې ولیدل. په منډه کور ته را ننوتله . نوي مېلمانه راورسېدل . پلوشه د نویو مېلمنو په نندارې شوه . یوه او بل ته به يې کتل . بیا خور ته ورغله . خو خور يې اوس په ډولۍ کې ناسته وه او مخ يې په ښایسته لوپټه پټ و . لږه شېبه وروسته دعا وشوه او ډولۍ پورته کړای شوه . ورا ببرته روانه شوه . پلوشې ته دا یوه لوبه ښکاره کېده او په دې فکر کې وه چې خور به يې ببرته راشي ؛ خو شېبه شوه او خور يې را نغله . دمور سترګې يې ژړغونې ښکارېدې . پلوشه وپوهیده چې اوس نو په کور کې نه سارا شته او نه د هغې هغه خوږې خوږې کیسې .

د کلمو / عبارت تر لوستلو وروسته دې د رسم په باره کې خبرې او بحث وشي . رسم دې رنګ شي :

موضوع : د ورا مربوط يو متن لوستل ؛ د ساده جملو د ليکلو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د تېرې ورځې کيسه تکرارول : ممکن تفصيلات ورکول . ۲. پر مشق پاڼه پ۲ - ۱۶ - ۲ کار کول : الف - د ښوونکي له خوا نوې کلمې (پلوشې ، لېدلی ، روان ، ګرځي ، تياری ، بهر) ښه ښايسته پر توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو له خوا د يوې يوې کلمې لوستل . ب - له يوه اندېوال سره د متن لوستل . ج - په کين اړخ کې ورکړای شوې کلمې په مناسب ډول په خالي خايونو کې ليکل . د - متن ټولګي ته لوستل (وړومبی يو زده کوونکی يوه جمله، بيا ټول متن په يوه ځای) . ۳. د زده کوونکو له خوا د ورا په باره کې دری جملې ويل : الف - د ښوونکي له خوا پر توره تخته ليکل ؛ مثلاً : دا د واده ورا ده . د هر چا جامې نوې دي . خلک د زلمي کورته ځي . ب - د زده کوونکو له خوا جملې تر هغه پورې بيا بيا نقلول چې په آسانۍ سره يې وليکلای شي .	مشق پاڼه پ۲ - ۱۶ - ۲ توره تخته توره تخته سلېټونه

پ۲ ۱۶ - ۲	
ورا	پلوشه د خور په واده کې څه وينې ؟ پلوشه دخور په _____ کې ډېر خلک وينې . څوک _____ خوري او څوک _____ ته تياری کوي . ماشومان کله کور ته او کله دباندې ځي . هر چا نوې _____ اغوستې دي . د پلوشې جامې هم نوې دي . هغه له ماشومانو سره ګرځي او لوبې کوي . کله چې يې خور په _____ کې کښېنې او ورا روانه شي نو پلوشه کور ته راځي . تاسو هم د چا واده ليدلی دی ؟
ډولی	
واده	
ډوډۍ	
جامې	

موضوع : اړونده سوالونه او ځوابونه معلومول ؛ له واده سره د ترلیو نومونو د جمع او مفرد شکلونو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۱۶ – ۲ متن بیا لوستل .	مشق پاڼه پ۲ – ۱۶ – ۲
۲. په مشق پاڼې پ۲ – ۱۶ – ۳ کار کول : الف – عنوان لوستل ؛ د کار معلومول . ب – په یوه ځای د وړومبي مثال لوستل . ج – جوړه جوړه کار کول : یو سوال لوستل او د هغه اړونده ځواب معلومول؛ ځواب ته د اړونده سوال شمېره ورکول ؛ ټولګي ته د سوالونو او ځوابونو د لوستلو په ډریعه چك کول (یو زده کوونکی ، یو مثال) .	مشق پاڼه پ۲ – ۱۶ – ۳
۳. په ځلورمي مشق پاڼې پ۲ – ۱۶ – ۴ کار کول : الف – د عنوان لوستل ؛ ځان پوهول چې د جمع یا مفرد شکل به معلومولای شي (دواړه شکلونه په مشق پاڼه کې ورکړای شوي دي خو په مختلفو ځایونو کې . ب د یوه یوه زده کوونکي له خوا ټولګي ته د کلمو لوستل . ج – د یوه یوه زده کوونکی له خوا د غیب شکل په اضافه کولو سره ټولګي ته د کلمو لوستل . (یو زده کوونکی ، د کلمو یوه جوړه) . د – په خاموشۍ سره کار کول ؛ له اړونده ستون څخه غیبي کلمې په مناسبو ځایونو کې لیکل .	مشق پاڼه پ۲ – ۱۶ – ۴
۴. په مشق پاڼې پ۲ – ۱۶ – ۳ کې له یوه انډیوال سره تر هغې د لوستلو مشق کول چې متن په روانۍ سره ولوستلای شي ؛ د یوه زده کوونکي له خوا د یوه سوال او د بل زده کوونکي له خوا د مناسب ځواب لوستل (وار په وار) .	مشق پاڼه پ۲ – ۱۶ – ۳

ځوابونو ته دې د مربوطو پوښتنو شمېرې ولیکلې شي :

پوښتنې او ځوابونه پ۲ | ۱۶ - ۳

۱	د چا د خور واده دی ؟		سارا د زلمي کور ته ځي .
۲	د پلوشې د خور نوم څه دی ؟		پلوشه خپل کور ته راځي .
۳	مبلمانه چېرته ځي ؟		د پلوشې د خور نوم سارا دی .
۴	سارا په ډولۍ کې چېرته ځي ؟		مبلمانه د واده کور ته ځي .
۵	ورا چې روانه شي ، پلوشه څه کوي ؟		پلوشه هر څه ته ګوري .
۶	پلوشه څه ته ګوري ؟	۱	د پلوشې د خور واده دی .
۷	پلوشه او ماشومان لوبې کوي .		پلوشه او ماشومان لوبې کوي .

په تشو کوټوکي دې د مربوطو کلمو جمع یا مفرد شکل ولیکل شي :

یو / یوه	ډېر / ډېرې	یو / یوه	ډېر / ډېرې پ۲ | ۱۶ - ۳
ناوې			مبلمانه
	خپلوان	ډولۍ	
	ډولۍ	ګاونډی	
واده			ناوياني
مبلمه			دوستان
	زلميان	خپل	
دوسیت		زلمی	
	ګاونډیان		ودونه

درسي پلان ۱۷ پ۲ - ۱۷ - ۱	موضوع : د ورځې وختونه ؛ په رسمونو خان پوهول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . پر هغه رسمونو بحث کول او خان پوهول چې د ورځې مختلف وختونه ښيي ؛ د څلورو نويو کلمو شکلونه (ليکل) زده کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پاڼه پ۲ - ۱۷ - ۱ مطالعه کړي او چې څه په کې ويني هغه ووايي ؛ ماشومانو ته د څه ويلو ممکنه اجازه ورکول .	- رسمونه مطالعه کول اوچې څه ويني هغه بيانول.	مشق پاڼه پ۲- ۱۷ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په څلورو رسمونو کې توپيرونه وښايي .	- رسمونه يو په بل پسې بيانول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي هر رسم د شپې ورځې کوم وخت ښيي ؛ تر متفق کېدو وروسته څلور کلمې پر توره تخته ليکل : سحر ، غرمه ، مازيګر ، مانښام . (۲)	- د لمر د موقعيتونو په باره کې توپيرونه معلومول .	
- په زده کوونکو تشريح کول چې دوی ته څنګه معلومات کېږي چې په رسمونو کې دورځې څلور وختونه ښودل شوي دي .	- معلومول چې رسمونه د ورځې وختونه (سحر ، غرمه ، مازيګر او مانښام) ښښيي ؛ د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل ؛ کلمې لوستل .	
	- د لمر د مختلفو موقعيتونو په باره کې خبرې کول .	
- په رسمونو کې په ښودل شويو وختونو کې چې خلك څه کوي هغه په زده کوونکو ويل .	- په رسمونو کې د ښودل شويو وختونو مطابق د خلکو د فعاليتونو يو په بل پسې نومونه اخيستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دغه څلور واړه کلمې سلېټونو ته نقل او مشق کړي او بيا يې دې تر رسمونو لاندې په اړوندو بکسونو کې ښه ښايسته وليکي .	- سلېټونو ته داکلمې نقلول او مشق کول، د مشق پاڼې په بکسونو کې کلمې ليکل .	سلېټونه
	۲ . له رسمونو سره د ټرل شويو جملو جوړول ، لوستل او ليکل :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په رسم کې په ښودلای شويو وختونو کې موږ څه کوو هغه په ساده جملو کې يې بيان کړي .	- جملې ويل ؛ لکه : سهار له خوبه پاڅو . سهار چای څښو . د شپې خوب کوو . او داسې نور .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د هر تصوير له پاره د يوې داسې جملې انتخاب وکړي چې دوی يې په آسانه ليکلای شي ؛ منتخب جملې پر توره تخته ليکل .	- د هر رسم له پاره د يوې جملې انتخابول ؛ مثلاً : سهار چای څښو . غرمه ډوډۍ خورو . مازيګر لوبې کوو . د شپې څملو . د ښوونکي ليکلو ته په غور کتل ؛ په خاموشۍ سره لوستل .	توره تخته
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې ټولګي ته ولولي ؛ جملو ته بې له ترتيب څخه اشاره کول .	- د ښوونکي له اشارې سره سم د جلا جلا زده کوونکو لوستل .	

	۳. د جملو د لیکلو مشق کول :	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې سلېټونو ته نقل او تر هغه یې مشق کړي چې له یاده یې ولیکلای شي؛ بیا دې رسمونه رنګ کړي .	– سلېټونو ته دجملو نقلول او مشق کول ؛ رسمونه رنګول .	سلېټونه

(۱) د ورځې د وختونو په اړه درس ورکول به ښوونکی د اړونده تعلیمي نصاب له هدفونو څخه خبر کړي . دا موضوع د ساینس له مضمون سره اړه لري . خو د دې موضوع د زده کړې مطلب دا هم دی چې زده کوونکي پر ژبه په پوهېدلو ، خبرو کولو، لوستلو او لیکلو کې تکړه شي . دا د ژبې او د یوه بل مضمون د یو ځای تدریس او متقابل تعاون یو ښه مثال دی .

دې موضوع ته د داخلېدو له پاره د زده کوونکو د ورځني ژوند تجربه یو مهم اساس دی .

(۲) زده کوونکي د ورځې د مختلفو وختونو په باره کې وپرانديز کولای شي . خو په بحث سره دا خبره واضح کېدای شي چې سهار، غرمه مازیګر او ماښام مناسبې کلمې دي . دا په لوستلو او لیکلو کې اسانه دي . د ورځې د نورو وختونو نومونه به په وروسې درس کې زده شي .

کوم کوم وختونه په کې ښودل شوي دي ؟ نومونه يې دې تر مربوطو رسمونو لاندې وليکل شي



موضوع : د ورځې وختونه : د لمر له موقعيتونو سره اړوندې کلمې معلومول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱ تکرار: د تېرې ورځې جملې لوستل ؛ د مشق پاڼې پ۲ – ۱۷ – ۱ له رسمونو سره جملې يو خای کول ؛ د ورځې ځلور وختونه او اړونده فعاليتونه را يادول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۷ – ۱
۲ مشق پاڼه پ۲ – ۱۷ – ۲ مطالعه کول ؛ د رسمونو په باره کې خبرې کول ؛ د ښوونکي په مرسته پرې خان پوهول : لمر د ورځې په مختلفو وختونو کې زمونږ ورځنی ژوند ټاکي ؛ لمر په مختلفو موقعيتونو کې ليدل کيږي ؛ له لمر پرېواته څخه تر لمر خاته پورې لمر نه ليدل کيږي .	مشق پاڼه پ۲– ۱۷ – ۲
۳ د ورځې دوختونو له پاره ټولې ورکړای شوې کلمې لوستل ؛ د مشق پاڼې د خالي ځايونو له پاره اړوندې کلمې معلومول او د مشق پاڼې له سر څخه دا کلمې جوړو شويو کرښو ته نقلول .	
۴ د ورځې د مختلفو وختونو کلمې لوستل ؛ تر مشق پاڼې لاندې جمله لوستل .	
۵ په صحيح ترتيب سره له ياده د ورځې د وختونو د نومونو اخيستلو کوشش کول .	
٦ د مشق پاڼې پ۲ – ۱۷ – ۳ عنوان لوستل ؛ خان پوهول چې په جملو کې خو څه غلط دي . په ورومبيو دوو جملو په يوه خای کار کول ؛ د وخت نامناسبه کلمه چليپا کول ؛ په جوړ شوي خالي خای کې مناسبه کلمه ليکل ؛ صحيح جملې لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۷ – ۳
۷ له انديوال سره په خاموشۍ کار کول : الف – مشق پاڼه مکملول . ب – د جملو د لوستلو مشق کول. ج – په خالي خايونو کې د ليکل شويو څو کلمو پر سلېټونو مشق کول ؛ مثلاً : مازيګر ، نمرخاته ، سهار ، غرمه .	سلېټونه

د رسمونو په باره کې د خبرې وخې . کلمې دې ولوستلې او په مناسبو تشو خايونو کې دې وليکلې شي :



د جملو نا سمې کلمې دې چليپا او سمې دې ورته په مربوطو تشو چوکاتونو کې وليکلې شي :

ماسختن	
	سهار کريم ويده کېږي . پ۲ ۱۷ – ۳
	ماسپښين پلوشه ښوونځي ته ځي .
	مازيګر سليم دودۍ خوري .
	مانبام بزګر په پټي کې يوې کوي .
	لمر خاته ماشومان ښوونځي ته ځي .
	لمر پرېواته اکرم لوبې کوي .
	غرمه خلک دمه کوي .
	شپه د کار له پاره ده .
	ماسختن شپون ګډې او بزې څروي .

موضوع : د ورځې د وختونو په باره کې یو متن لوستل ؛ په خالي خایونو کې غیب فعلونه لیکل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. په صحیح ترتیب سره د ورځې وختونه یادول : د یوه زده کوونکي له خوا له یاده د وختونو د ویلو کوښښ کول ؛ د نورو له خوا یې له دې مشق پاڼې سره مقابله کول (څو ځله یې تکرارول) .	مشق پانه پ۲- ۱۷ - ۲
۲. د مشق پاڼې پ۲ - ۱۷ - ۳ صحیح جملې ټولګي ته لوستل (یو زده کوونکی یوه جمله) ؛ د نورو له خوا مقایسه کول .	مشق پانه پ۲- ۱۷ - ۳
۳. په مشق پانه پ۲ - ۱۷ - ۴ کار کول : الف - د عنوان لوستل . ب - د کې اړخ ټولې کلمې لوستل ؛ خان پوهول چې دا کلمې به په خالي خایونو کې لیکلې کېږي . ج - له یوه انډیوال سره کار کول : د متن لوستل ؛ په خالي خایونو کې اړوندې کلمې لیکل . د - ټولګي ته د متن لوستل (یو زده کوونکی ، یوه جمله) ؛ د نورو له خوا مقایسه کول .	مشق پانه پ۲- ۱۷ - ۴
۴. د ټول متن لوستل : الف - د ډېرو زده کوونکو له خوا ټولګي ته د ټول متن لوستل ؛ د نورو زده کوونکو له خوا له لوستلو سره سم تر کلمو لاندې خپلې ګوتې وړل . ب - یوه انډیوال ته د متن وار په وار لوستل .	
۵. پر سلېټونو د مشق پاڼې پ۲ - ۱۷ - ۳ د ځینو جملو د لیکلو مشق کول ؛ مثلاً : د درېمې ، اوومې او اتمې جملې . ځکه چې نقلول یې آسان دي .	مشق پانه پ۲- ۱۷ - ۳

تش خایونه دې د ستون په کلمو په مناسبه توګه ډک شي :

پ۲	۱۷ - ۴
پلوشه په شپه او ورځ کې	نیسي
پلوشه سهار وختي پاڅېږي . لمونځ کوي او بیا چای _____ . لمر خاته ښوونځي ته _____ غرمه کور ته _____ . ډوډۍ خوري . د ماسپښین له لمانځه څخه وروسته دمه کوي . مازیګر بیا له ماشومانو سره لوبې کوي . لمر پرېواته کور ته راځي . د ماښام ډوډۍ _____ ماسختن د مور او پلار خبرو ته غوږ _____ بیا ویده _____ او ټوله شپه خوب کوي .	خوري ځي کیږي څښي راځي

درسي پلان ۱۸ پ۲ - ۱۸ - ۱	عنوان : زمونږ د کلي جومات (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د جومات په باره کې خپل معلومات ووايي . (۲) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي خلك په جومات کې څه کوي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ووايي خلك جومات ته کله ځي . (۳) - له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې ووايي خلك تر لمانځه کولو دمخه څه کوي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې فکر وکړي چې خلك جومات ته ولې ځي (د يوه بحث رهنمايي کول) .	*۱ . د جومات او لمانځه په باره کې معلومات ويل :* - جومات ته د تلو ، په جومات کې د خلکو د عبادت او داسې نورو په باره کې تفصيلات ورکول . - د مختلفو فعاليتونو په باره کې خبرې کول (د ډېرو زده کوونکو برخه اخيستل) . - د لمانځه د مختلفو وختونو په باره کې خبرې کول . - د اوداسه په باره کې خبرې کول . - څه چې دوی فکر کوي هغه بيانول ؛ په دې څان پوهول چې کله خلك لمونځ کوي نو الله جل جلا له ته سجده کوي . جومات د لمانځه د ادا کولو يو خاص ځای دی خو د ځينې عذر له کبله خلك په نورو ځايونو کې هم لمونځ کوي ؛ مثلاً : بنځې په عام ډول په کورونو کې لمونځ کوي .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه پ۲ - ۱۸ - ۱ مطالعه کړي او څه چې په رسم کې وينې هغه ووايي . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د جومات د مختلفو برخو نومونه واخلي (مرسته کول) . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دخپل کلي د جومات او په رسم کې د ښودل شوي جومات تر منځ ورته والی او توپير معلوم کړي .	*۲ . د يوه رسم په باره کې ، چې دکلي يو جومات نښيي ، خبرې کول :* - رسم مطالعه کول او څه چې په کې ښودل شوي دي په تفصيل سره يې بيانول . - د جومات دمختلفو برخو معلومول او نومونه يې اخيستل؛ مثلاً: داوداسه ځای ، منبر ، محراب . - ورته والی او توپير معلومول ؛ مثلاً : مناره يې اوچته ده ؛ کوهی په کې نشته ؛ زمونږ د جومات د پاسه ګنبد دی . او داسې نور .	مشق پانه پ۲- ۱۸ - ۱
- له زده کوونکو څخه د عنوان د لوستلو غوښتنه کول . - غوښتنه کول چې د مشق پانې د لاندنيو کلمو د لوستلو کوشش وکړي ؛ د زده کوونکو د لوستلو له پاره کلمې پرتوره تخته په احتياط سره ليکل. - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول : " څوك له دې کلمو څه يوه کلمه لوستلای شي؟ " تر هغه د ټولګي رهنمايي کول چې ټولې کلمې ولوستلې شي .	*۳ . د جومات په اړه د يو څو کلمو زده کول :* - لوستل . - د څنګ د ملګرو په مرسته د کلمو د لوستلو کوښښ کول . - د جلا جلا زده کوونکي د ټولګي مخې ته راتلل ؛ يوه کلمه لوستل ؛ د نورو له خوا يې جلا جلا او په ګډه تکرارول .	مشق پانه پ۲- ۱۸ - ۱ توره تخته

- د مشق پاڼې پ۲ - ۲ - ۱ د مطالعه کولو غوښتنه کول . - په پټه خوله د کار کولو غوښتنه کول ، د مشق پاڼې کار مکمول .	- د مشق پاڼې مطالعه کول ، پوهېدل او دغه دوه کارونه تشریح کول . - له غوښتنې سره سم په پټه خوله کار کول : الف - د الفبې په چارټ کې غيبې کلمې لیکل . ب - په ښکلي خط دنقل کولو په ذریعه کرښې مکمول .	مشق پاڼه پ۲ - ۲ - ۱

(۱) په دې قدم کې به زده کوونکي دا خبره را په زړه کوي چې هر حرف نوم ، اواز او شکل لري . که چېرې یو له دغو درېو نه ورکړای شي نور دوه یې پیدا کېدای شي . په دې ډول ډېر مشقونه ممکن دي : الف - ښوونکی د یوه حرف شکل ورکوي ، زده کوونکي به یې نوم او اواز پیدا کوي . ب - ښوونکی د یوه حرف نوم وایي زده کوونکي به یې شکل او اواز پیدا کوي . ج - ښوونکی به د یوه حرف اواز ورکوي ، زده کوونکی به یې نوم او شکل پیدا کوي . دا ټول مشقونه ډېر رسمي شکل لري ، ښوونکی به یې ډېر نه اوږدوي چې زده کوونکي تنګ نه شي .

(۲) یوازې ډېر لږ زده کوونکي به ټول نظم په یو ځل وایي . نورو زده کوونکو ته به ښوونکی وایي چې تاسو ته به د نظم د ویلو موقع په راتلونکو ورځو کې په لاس درشي .

(۳) دا مشق په مشق پاڼې پ۲ - ۲ - ۱ پورې اړه لري . خو پر توره تخته او سلېټونو باندې د مشق په وخت کې به د کار کتابونه بند وي . د [د] او [ر] د تورو لیکل اسان وي ، خو اکثره وختونه یې زده کوونکي په بې غورۍ سره داسې لیکي چې شکلونه یې یو شان معلومېږي . په دې مشق کې به زده کوونکي د دغو حروفو د شکلونو توپیر کوي او د خپلو خپلو شکلونو مطابق به یې د لیکلو مشق کوي . د [ض] او [ع] د حروفو په باب دا خبره مهمه ده چې د کلمو په مختلفو ځایونو کې به د دې حروفو په مختلفو شکلونو کار او مشق کېږي .

در در در
ض ض
ضعیف ضـ ضـ
ع ع
عینک
برقع ع ع

حروف اوکلمې به پر توره تخته د اسې ښکاري :

د بنې ډډې په تشو کوټو کې دي د الفبې مربوط / غایب توري ولیکل شي او د کینې ډډې په تشو ځایونو کې دي د ورکړل شوې تورې د لیکلو مشق وشي :

ا	ب	پ		ټ	ث	در
	چ			څ	ځ	ض
د		ذ		ړ	ز	ضـ
ژ	ږ		ش		ص	ع
ض		ظ		غ	ف	عـ
	ک	گ	ل	.	ن	عـ
	ه					ع

– لـه زده کوونکـو څخـه دهغـو کلمـو د لوسـتلو غوښتنه کول چې ښوونکی ورته اشاره کوي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ځینې کلمې لکـه [منبر ، محـراب ، لمونـځ ، اودس ، دعـا] سلېټونو ته نقل او تر هغه مشق کړي چې په اسانه يې وليکلای شي ، بيا دې رسم رنګ کړي .	– کومو کلمو ته چې ښوونکی اشاره کوي د هغو په ګډه لوستل . – په خاموشۍ سره کار کول : الف – سلېټونو ته ځينې کلمې نقلول او مشق يې کول . ب – رسم رنګول .	سـلېټونه مشـق پـانه پ۲– ۱۸ – ۱

(۱) جومات ته تلل د زده کوونکو د تجربو يو برخه ده . د جومات په اړه درس د تجربو طرف ته ور اړول او په دې باره کې خبرې کول چې زده کوونکي له ځينو تفصيلاتوسره اشنا کړي ، د اړونده نصاب په مضمون کې شامل دي . دا درسي واحد به زده کوونکي د دې موضوع د مهمو او بيا بيا استعمالېدونکو کلمو د لوستلو او ليکلو وړ کړي .

(۲) د دې قدم په دوران کې دې ښوونکی له تبصرې کولو څخه زده کونکي خبرو کولو ته پرېږدي . هغه دې وخت په وخت د زده کوونکو حوصلې لوړې کړي چې د نورو زده کوونکو پر ويناوو تبصرې وکړي . د راتلونکي بحث له پاره د زده کوونکو ځينې بيانونه مهم دي او ښوونکي ته په کار دي چې وروسته بيا د دې بيانونو حواله ورکړي .

(۳) لکه چې په مخکښني واحد کې يې زده کړي دي ، زده کوونکي به د دې وړ وي چې د ورځې وختونه په صحيح طريقه استعمال کړي .

د رسم په باره کې دې خبرې وشي ؛ د ببلابېلو ځايونو نومونه يې دې واخيستل شي . کلمې او عبارتونه دې ولوستل شي :



موضوع : په جومات کې فعاليتونه ؛ د ځينو نويو کلمو ليکل او لوستل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پاڼې پ۲ – ۱۸ – ۱ په مرسته د جومات مختلفې برخې تکرارول : الف – د زده کوونکو له خوا يې نومونه اخيستل ؛ د ښوونکي له خوا يې پر توره تخته ښايسته ليکل . ب – د زده کوونکو له خوا يې تکراراً لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۸ – ۱ توره تخته
۲. پر مشق پاڼه پ۲ – ۱۸ - ۲ کار کول : الف – مشق پاڼه لوستل ؛ د فعاليتونو پېژندل . ب – د زده کوونکو له خوا د فعاليتونو نومونه اخيستل ؛ تشريح يې کول ؛ د ښوونکي له خوا مرسته کول ؛ د زده کوونکو له خوا ځيني فعاليتونه د ټولګي مخې ته ښودل . ج – د زده کوونکو د هر يوه فعاليت نوم اخيستل ، د ښوونکي له خوا د کلمو ښه ښايسته پر توره تخته ليکل : بوټان ايستل ، وعظ کول ؛ قرآن لوستل ؛ دعا کول ، لمونځ کول او اودس کول . د – د زده کوونکو له خوا پر توره تخته د کلمو لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۸ – ۲
۳. کلمې ښه ښايسته نقلول : الف – وړومبی سلېټونوته . ب – بيا د مشق پاڼې مناسبو ځايونو ته .	سلېټونه
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۸ – ۳ کار کول : الف – په کار خان پوهول ؛ د جملو استعمالول ؛ صحيح جملو ته دا نښه (✓) کول ؛ غلطو جملوته دا نښه (×) کول . ب – پر تولو جملو له يوه اندېوال سره په خاموشۍ کار کول ؛ لوستل ، نښه کول . ج – د چك کولو له پاره جملې ټولګي ته لوستل (يو زده کوونکی ، يوه جمله) ، اول صحيح بيانونو ته دا نښه (✓) بيا غلطو بيانونو ته دا نښه (×) کول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۸ – ۲ مشق پاڼه پ۲– ۱۸ – ۳
۵. له يوه اندېوال سره د صحيح بيانونو د لوستلو مشق کول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۸ – ۳
٦. پر سلېټونو د مشق پاڼې پ۲ – ۱۸ – ۲ په شپږو فعاليتونو کې د ځلورو د ليکلو مشق کول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۸ – ۲ سلېټونه

د بېلابېلو فعاليتونو نومونه دي واخيستل او ترمربوطو رسمونو لاندې دي وليکل شي :



سمو جملو ته دي دا (✓) نښه او غلطو ته دي دا (×) نښه کېښودله شي :

پ۲ ۱۸ ـ ۳	
×	خلک تر لمانځه وروسته په جومات کې پاتې کيږي .
✓	خلک تر اوداسه وروسته لمونځ کوي .
	خلک تر لمانځه وروسته په جومات کې ويده کيږي .
	خلک تر لمانځه وروسته په جومات کې قرآن شريف هم لولي .
	له بوټانو سره د چا لمونځ نه کيږي .
	دعا هر وخت تر لمانځه مخکې کيږي .
	په جومات کې څوک لوبې نه کوي .
	ملا په جومات کې پر منبر باندې وعظ نه کوي .

موضوع : خلك جومات ته ځي : د يوه متن لوستل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د مشق پانې پ۲ – ۱۸ – ۲ کلمې تکرارول : الف – د ښوونکي له خوا د درېو کلمو املا ويل، يوه په بلې پسې يې د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو ليکل . ب – د ښوونکي له خوا د کلمو پر توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو مقايسه کول ، اصلاح کول . ج – دغسې له درې نورو کلمو سره کار کول .	سلېټونه تورته تخته
۲. په مشق پانه پ۲ – ۱۸ – ۳ کې د صحيح بيانونو لوستل .	مشق پانه پ۲– ۱۸ – ۳
۳. په مشق پانه پ۲ – ۱۸ – ۴ کار کول : الف – د ښوونکي له خوا د نويو کلمو يوه په بلې پسې پرتوره تخته ليکل (۱) . ج – له انډيوال سره کار کول ؛ دټول متن لوستل . د – په متن کې چې څه لولي ، د زده کوونکو له خوا د هغه ويل . هـ – ټولګي ته د متن تکراراً لوستل ؛ اول يو زده کوونکی يوه جمله ، بيا له دوو څخه تر درېو جملو پورې په قدمونو کې .	مشق پانه پ۲– ۱۸ – ۴ توره تخته
۴. د مشق پانې پ۲ – ۱۸ – ۳ له صحيح بيانونو څخه د دوه يا دري بيانونو پر سلېټونو د ليکلو مشق کول .	مشق پانه پ۲– ۱۸ – ۳ سلېټونه

(۱) نوې کلمې دا دي : اول ، باسي ، صف ، درېړي ، قرآن .

پ۲ | ۱۸ــ ۴

خلک جومات ته ځي

هلته پنځه وخته لمونځ کوي . اول له جومات څخه دباندې بوتان باسي . بيا اودس کوي او په صف کې درېړي ،لمونځ کوي . تر لمانځه وروسته دعا کوي . بيا له استاد سره قرآن شريف لولي . په آخر کې له جومات څخه را وځي ، بوتان په پښو کوي او کورونو ته ځي . د جمعې په ورځ ملا پر منبر باندې وعظ کوي . خلک د هغه خبرو ته غوږ نيسي .

درسي پلان : ۱۹ پ۲ - ۱۹ - ۱	موضوع : د اونۍ ورځې	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱ . د ورځو نومونه زده کول :	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې نن د څه ورځ ده ؟	- قياس کول يا د دغې ورځې نوم اخيستل .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی ته د اونۍ نورې کومې ورځې معلومې دي ؟	- کومې ورځې چې دوی پيژني ، نومونه يې اخيستل ؛ د نورو غوږ نيول .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دوی په کومه ورځ ښوونځي ته نه ځي ؟	- معلومول : جمعه .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د جمعې په ورځ ښوونځي ولې بند وي ؟ (که ضرورت وي نو اضافي معلومات ورکول) . (۱)	- د جمعې د ورځې په باره کې چې څه ورته معلوم دي ، د هغو ويل .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په يوه هفته کې څو ورځې وي ؟	- قياس کول ؛ صحيح تعدا معلومول (اووه) .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ټول نومونه ووايي ؛ پر توره تخته يې ليکل . (۲)	- د اونۍ د ټولو ورځو نومونه اخيستل .	توره تخته
- له زده کوونکو څخه د نومونو د لوستلو غوښتنه کول (د ضرورت په وخت کې مرسته کول) .	- جلا جلا او په ګډه سره لوستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې داونۍ د ورځو صحيح ترتيب معلوم کړي . پر توره تخته په صحيح ترتيب دغه نومونه ليکل .	- صحيح ترتيب معلومول .	
- د اونۍ ورځې چې څنګه يوه په بلې پسې راځي په هغه ترتيب يې په زده کوونکو لوستل .	- لوستل .	توره تخته
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دورځو نومونه څوک له ياده ويلای شي ؟	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا له يادې د ورځو نومونه ويل ؛ د نورو غوږ نيول (مرسته کول) .	
	۲ . رسمونه تشريح کول ؛ جملې او رسمونه سره جوړه کول :	
- له زده کوونکو څخه دمشق پاڼې پ۲ - ۱۹ - ۱ په پاسنۍ برخه کې د رسمونو د مطالعه کولو غوښتنه کول او څه چې وينې د هغو په باره کې خبرې کول .	- د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ معلومول چې اووه تصويرونه دي او تر هر تصوير لاندې د يوې ورځې نوم ليکل شوی دی .	مشق پاڼه پ۲ - ۱۹ - ۱
- له زده کوونکو څخه د نومونو د لوستلو غوښتنه کول .	- نومونه لوستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې رسمونه يو په بل پسې تشريح کړي .	- رسمونه تشريح کول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ورځې د نومونو په استعمالولو سره د هر رسم له پاره يوه جمله ووايي ؛ مثلاً : د خالي پــه ورځ ګاډيوان ګاډۍ جوړوي (مرسته کول) .	- د اړونده ورځې د نامه د استعمالولو په مرسته د هر تصوير له پاره جملې ويل .	

– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مشق پاڼې د جملو عنوان ولولي. – له زده کوونکو څخه د وړومبۍ جملې د لوستلو غوښتنه کول (مرسته کول) . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نورې نا مکملې جملې ولولي او له اندیوال سره د جملو اړونده رسمونه معلوم کړي . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې جملې تولګي ته ولولي .	– دعنوان بیا بیا لوستل . – د دغې جملې لوستل ؛ معلومول چې دا جمله د جمعې له ورځې سره برابری خوري . – د نامکملو جملو په دوه دوه کسه لوستل ، د جملو اړونده رسمونه معلومول ؛ د [ورځې] له کلمې سره جملې لوستل . – د جلا جلا زده کوونکو له خوا د جملو لوستل (یو زده کوونکی یوه جمله) ؛ د نورو غوږ نیول؛ چک کول .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ورځو نومونه سلېټونو ته نقل او مشق کړي او بیا د مشق پاڼې په خالي خایونو کې مناسب نومونه ولیکي او بیا رسم رنګ کړي .	*۳ . د نویو کلمو د لیکلو مشق کول :* – په خاموشۍ سره کار کول : الف – تر هغې د کلمو نقلول او مشق کول چې په اسانه یې ولیکلای شي . ب – په مشق پاڼه کې خالي خایونه ډکول . ج – رسمونه رنګول .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲– ۱۹ – ۱

(۱) غالباً چې زده کوونکو ته به د جمعې د ورځې مهم خصوصیات معلوم وي ؛ مثلاً : " د جمعې په ورځ خلك دمه کوي . د جمعې ورځ خاص د عبادت ورځ ده . د جمعې په ورځ د مسلمانانو رخصتي وي . "
که دوی دا تفصیلات هېر کړي وي نو ښوونکی یې دي په وریادولو کې ورسره مرسته وکړي .
په دې مرحله کې ښوونکی ته په صحیح ترتیب کې د نومونو د لیکلو کوشش نه دی په کار . ترتیب به زده کونکي په خپله معلوموي . هغه دې خپل لیك ته داسې ترتیب ورکړي چې وروسته بیا په خاص ترتیب سره د نومونو د لیکلو له پاره خالي خای پاته وي .

د ورځو نومونه دي ولوستل اود رسمونو په باره کې دي خبرې وشي . د جملو په پښو خایونو کې دي له رسمونو سره په ارتباط کې د ورځو نومونه ولیکل شي :



د هفتې ورځې

۱. د جمعې په ورځ بابا او کریم یو خای جومات ته خي .
۲. د ـــــــــ په ورځ ګاډیوان ګاډی جوړوي .
۳. د ـــــــــ په ورځ د سلیم پلار سودا اخلي .
۴. د ـــــــــ په ورځ مشران خبرې کوي .
۵. د ـــــــــ په ورځ پلوشه د خور کره خي .
۶. د ـــــــــ په ورځ د نازو مور جامې مینخي .
۷. د ـــــــــ په ورځ ترکان مېز جوړي .

موضوع: د اونۍ ورځې ؛ د کلمو شفاهي مشق کول ؛ د دغو کلمو لیکل او لوستل (۱)

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ورځې نومونه تکرار ول او ترتیبول : الف – د ښوونکي له خوا زده کوونکي د ټولګي مخې ته رابلل ، هر یوه ته یو کاغذ چې د یوې ورځې نوم وربانديې لیکل شوي وي په لاس کې ورکول . ب – د زده کوونکو له خوا ډغه نومونه لوستل . ج – د ورځو نومونه ترتیبول (د خالی له ورځې څخه شروع کول) . نومونه په ترتیب سره لوستل . د – له نورو زده کوونکو سره دوه دري ځله تکرارول (په سلسله کې ترتیب ورکول په مختلفو طریقو سره کېدای شي ؛ مخې ته ولاړ زده کوونکي دې په خپله خان په ترتیب کړي یادې نور زده کوونکي ورته په صحیح ترتیب کې د درېدلو ووایي) .	اووه دکاغذ توتي یا اووه سلېټونه
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۱۹ – ۱ متن بیا لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۹ – ۱
۳. له یادې د اونۍ ورځې ویل .	
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۹ – ۲ کار کول : الف – دا مشق پاڼه له مشق پاڼې پ۲ – ۱۹ – ۱ سره په ذهني ټرون مطالعه کول ، په کار خان پوهول چې دورځې خاص نومونه به په خالي خایونو کې لیکلی شي . ب – په یو خای پر لومړیو دوو مثالونو کار کول . ج – له یوه اندیوال سره کال کول ؛ متن لوستل ؛ خالي خایونو کې د لیکلو له پاره کلمې معلومول ؛ د جملو وار په وار لوستل . د – ټولګي ته د جملو لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۹ – ۲
۵. خالي خایونه ډکول : الف – پر سلېټونو د یوې یوې کلمې مشق کول . ب – په مناسبو خایونو کې یې ښه ښایسته لیکل .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲– ۱۹ – ۲

تش ځایونه دې د ورځو په نومونو ډک شي :

پ۲ | ۱۹ - ۲

له شنبې څخه وروسته د یکشنبې ورځ وي .

له یکشنبې څخه وروسته د _____ وي .

له _____ څخه وروسته د سه شنبې ورځ وي .

له سه شنبې څخه وروسته د _____ ورځ وي .

له _____ څخه وروسته د _____ ورځ وي .

له پنجشنبې څخه وروسته د _____ ورځ وي .

له _____ څخه وروسته د شنبې ورځ وي .

په هفته کې _____ ورځې وي .

موضوع : یو متن لوستل چې فعالیتونه ، د ورځې وختونه او داونۍ د ورځو نومونه لري

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د یوې لوبې په ذریعه د اونۍ د ورځو مشق کول : الف – یو زده کوونکی داونۍ د یوې ورځې نوم اخلي او یو بل زده کوونکی دا غواړي چې د ورپسې ورځې نوم واخلي ؛ د صحیح ورځې تر نوم اخیستلو وروسته دا زده کوونکی یو بل زده کوونکی را غواړي چې د ورپسې ورځې نوم واخلي او په دې توګه لوبې ته دوام ورکوي . ب – یوزده کوونی داونۍ د یوې ورځې نوم اخلي او یو بل زده کوونی تر هغې دمخه ورځې دنوم اخیستلو له پاره راغواړي . د صحیح ورځې تر نوم اخیستلو وروسته دا زده کونکی د اونۍ د یوې بلې ورځې نوم اخلي او یو بل زده کوونکی را غواړي چې تر هغې دمخه ورځې نوم واخلي اوبه دې توګه دغې لوبې ته دوام ورکوي . ج – د مخکښښنۍ او ورستنۍ ورځې د پوښتلو په ذریعه یعنې په دواړو طریقو دغه لوبه کېدای شي .	
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۱۹ – ۲ متن لوستل : چك کول او یاصحیح کول،چې کلمې غلطې لیکلې شوې دي او که صحیح ؟ تولګي ته دمتن لوستل .	مشق پاڼه پ۲– ۱۹ – ۲
۳. په مشق پاڼه پ۲ – ۱۹ – ۳ کار کول : الف – د عنوان یو ځای لوستل . ب – له یوه اندیوال سره د متن لوستل . ج – تولګي ته د متن لوستل . د – دمتن په آخر کې د سوال په باره کې خبرې کول . هـ – د ورځې د نوم په استعمالولو سره د دې سوال ډېر ځوابونه معلومول .	مشق پاڼه پ۲– ۱۹ – ۳
۴. د لیکلو مشق کول : الف – د کوم سوال چې پر سلېټونو مشق کیږي د هغه د درېو ځوابونو په تعبیرونو کې مرسته کول ؛ مثلاً : دا دري ځوابونه : زه هر ورځ ښوونځي ته ځم ؛ زه تر ښوونځي ورسته د کور کار کوم ؛ زه مازیګر لوبې کوم . ب – د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو د جملو ښه ښایسته نقلول او تر هغې یې مشق کول چې په آسانه یې ولیکلای شي .	سلېټونه

د متن په آخر کې شوې پوښتنې ته دې ځواب وویل شي :

پ۲ | ۱۹ - ۳

پلوشه په هفته کې څه کوي ؟

پلوشه هره ورځ سهار ښوونځي ته ځي . له ښوونځي څخه وروسته د کور کار هم کوي . د شنبې په ورځ مازیګر چرګو ته دانه اچوي . د یکشنبې په ورځ ماسپښین له مور سره جامې مینځي . د دوشنبې په ورځ مازیګر له پلار سره له دوکان څخه سودا اخلي . د سه شنبې په ورځ مابنام له مور سره پخلی کوي . د چارشنبې په ورځ ماسپښین ورور ته خط لیکي . د پنجشنبې په ورځ مازیګر باغ ته ځي . د جمعې په ورځ رخصتي وي ؛ پلوشه ښوونځي ته نه ځي . تاسو په هفته کې څه کوئ ؟

درسي پلان ۲۰ پ۱ - ۲۰ - ۱	موضوع : له [نن ، سبا ، بل سبا] سره د [به] په یو ځای کولو په راتلونکي زمانه کې د فعلونو شکل معرفي کول (۱)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱. د یوې لوبې په مرسته د [سبا] کلمه په صحیح جملو کې کارول :	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې سبا به تاسو څه کوئ ؟	- د ببل ببل زده کوونکي له خوا داسې ځوابونه ویل : " سبا به زه د کا کا کور ته ځم . سبا به زه په پټي کې له پلار سره مرسته کوم . " او داسې نور .	
- ویل چې یو زده کوونکی له نورو زده کوونکو څخه پوښتنه کوي ؛ کوم زده کوونکی چې ځواب ووایي نو هغه به له بل څخه پوښتنه کوي او په دې توګه به دغه سلسله روانه وي . (۲)	- سوالونه او ځوابونه د یوه زنځیر په شکل ویل ؛ له یوه زده کوونکي څخه پوښتنه کول : " سبا به ته څه کوي ؟ " د بل زده کوونکي له خوا ځواب ویل او بیا به دغه زده کوونکی له بل زده کوونکي څخه پوښتنه کوي او په دې توګه به دغې لوبې ته دوام ورکوي (سوال یو دی خو ځوابونه یې مختلف دي) .	
	۲. د [نن ، سبا ، بل سبا] کلمې لوستل او لیکل :	
- د [نن ، سبا ، بل سبا] کلمې پر تخته لیکل .	- د ښوونکي لیکلو ته کتل ؛ په خاموشۍ سره یې لوستل .	تخته
- له زده کوونکو څخه د دغو کلمو د لوستلو غوښتنه کول .	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا لوستل .	
- بې له ترتیب څخه دغو کلمو ته اشاره کول ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په یوه آواز یې ولولي .	- کله چې ښوونکی یوې کلمې ته اشاره کوي نو په یوه آواز یې لوستل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دې کلمو د استعمالولو مثالونه ورکړي .	- د جملو د ویلو کوشش کول ؛ معلومول چې دا د دري ورځو یوه سلسله ده .	
- په زده کوونکو د [نن ، سبا ، بل سبا] کلمې ویل .	- د ببل ببل زده کوونکي له خوا داسې جملې ویل ؛ مثلاً : " نن ... دی / ده . سبا به ... وي . بل سبا به ... وي . " د نورو تکرارول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر سلېټونو د دې کلمو مشق وکړي .	- پر سلېټونو د دغو نویو کلمو مشق کول .	سلېټونه
- غوښتنه کول چې څوک له دې کلمو څخه یوه کلمه پر توره تخته له یاده لیکلای شي ؟ (۳)	- د ببل ببل زده کوونکي له خوا یوه یوه کلمه پر توره تخته لیکل ؛ د نورو ورته کتل ؛ شاید اصلاح یې کول .	
	۳. له دغو نویو کلمو سره د جملو لوستل او لیکل :	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې مشق پاڼه پ۲ - ۲۰ - ۱ مطالعه کړي .	- مشق پاڼه مطالعه کول ؛ په عنوان کې د نویو کلمو پېژندل ؛ ورومبنۍ دري جملې له اندیوال سره لوستل .	مشق پاڼه پ۲- ۲۰ - ۱

– زده کوونکو ته ویل چې دغه جملې ټولګې ته ولولي .	– د ببل ببل زده کوونکي له خوا یوه یوه جمله لوستل ؛ هره جمله څو څو ځله لوستل .	
– زده کوونکو ته ویل چې د دغې مشق پاڼې لاندې برخه مطالعه کړي .	– معلومول چې دلته هم د پاس په شان مشابه جملې دي خو نا مکملې دي .	
– په شفاهي ټوګه په زده کوونکو دغه جملې مکملول . ویل چې زه به مکملې جملې پر تخته لیکم او تاسو به یې د امکاناتو وړاندیز کوئ (جملې پر تخته لیکل) .	– د جملو د مکملولو امکانات پیدا کول .	
	– ممکن وړاندیزونه کول ؛ لکه : " مور به د ښوونځي درس وایو . مور به مازیګر لوبې کوو . مور به ګلانو ته اوبه ورکوو . " د ښوونکي لیکلو ته کتل .	تـــوره تختـــه
– په زده کوونکو دغه جملې لوستل .	– دغه جملې ټولګې ته لوستل .	
– له زده کوونکو څخه غوښتل چې لومړی پر سلېټونو د دې جملو مشق وکړي او بیا د مشق پاڼې خالي خایونه په صحیحو کلمو ډک کړي .	– څنګه چې تري غوښتل شوي دي هغسې په خاموشۍ سره کار کول .	مشق پاڼه پ۲– ۲۰ – ۱

(۱) له دې کبله چې په راتلونکي زمانه کې د فعل شکل په حال زمانه کې د فعل له شکل سره ډېر فرق نه لري ، یوازې د [به] کلمه / ادات ورسره یو ځای کېږي ، نو څه خاص مشق ته یې ضرورت نشته . خو د [نن ، سبا ، بل سبا] صحیح استعمال تشریح ، پوهېدنه او مشق غواړي . دا د دې درسي پلان یوازېنی هدف دی . دا درسي پلان دا هدف نه لري چې د راتلونکي زمانې په جوړښت کې ژور معلومات وړاندې کړي .

(۲) د خبرو کولو لوبې لکه د سوال او ځواب سلسله ډېرو زده کوونکو ته د څه ویلو موقع ورکوي . ښوونکی به دې خبرې ته ښه توجه کوي چې هر ځل نوي زده کوونکي ته وار ورشي . خو دا د خبرو کولو لوبه یوازې هغه وخت ګټه لري چې زده کوونکي مکملې او صحیح جملې ووایي . ښوونکی به دې خبرې ته ډېر اهمیت ورکوي .

(۳) څنګه چې زده کوونکو ته کلمې له یاده لیکل په کار دي نو کله چې پر توره تخته کلمې لیکي نو ورته ګوري به نه . د دې خبرې مطلب دا دی چې تر لوستلو او چک کولو وروسته به هر ځل کلمې ورانیږي او بیا به یې له یاده لیکي .

د جملو تش خایونه دې ډک شي :

پ۲ | ۲۰ - ۱

نن سبا بل سبا

پلار وایي :

نن جمعه ده ؛ ماسپښین به زه جومات ته ځم .

سبا شنبه ده ؛ زه به په پټیو کې کار کوم .

بل سبا یکشنبه ده ؛ زه به نوې جامې اخلم .

مور وایو :

نن _____ ده ؛ مور به د ښوونځي سبق _____ .

سبا _____ ده ؛ مور به _____ .

بل سبا _____ ده ؛ مور به _____ .

موضوع : له [نن ، سبا ، بل سبا] سره د [به] په يو ځای کولو په راتلونکي زمانه کې د فعلونو شفاهي او تحريري مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ورځې د وختونو تکرارول . ۲. د خبرو يوه لوبه کول : د سوالونو او ځوابونو زنځير ؛ مثلاً : سبا سهار به ته څه کوې ؟ سبا سهار به زه ښوونځي ته ځم . - نن مابنام به ته څه کوې ؟ - نن مابنام به زه په کټ کې خوب کوم . او داسې نور . کوم زده کوونکي چې ځواب ووايي نو هغه به بل سوال کوي . ۳. د مشق پاڼې پ۲ - ۲۰ - ۱ جملې يو ځل بيا ويل . ۴. په مشق پاڼه پ۲ - ۱۰ - ۲ کار کول : الف - مشق پاڼه مطالعه کول ؛ په ښي اړخ کې نا مکملې جملې او په کين اړخ کې فعلونه پيدا کول . ب - په کينه اړخ کې د کلمو لوستل : اول په خاموشۍ سره ، بيا په لوړ آوا ز ټولګي ته . ج - وړومبۍ جمله ټولګي ته لوستل ؛ معلومول چې له کين اړخ څخه [ليکل] په دې جمله کې استعمال شوي دي خو شکل يې له [ليکل] څخه په [ليکم] اوښتی دی . د - د زده کوونکو له خوا د هرې نا مکملې جملې لوستل (يو زده کوونکي يوه جمله) او له ورکړای شويو فعلونو څخه هر څل يو فعل په خپل صحيح شکل استعمالول ؛ معلومول چې د فعل آخري برخه په شخص پورې اړه لري . هـ - د زده کوونکو له خوا په دغو درېو جملو کې د [مور] په کارولو سره تر هغې پر سلېټونو مشق کول چې ښه په اسانۍ سره يې وليکلای شي .	مشق پاڼه پ۲- ۲۰ - ۱ مشق پاڼه پ۲- ۲۰ - ۲ سلېټونه

تش ځايونه دې د کينې ډډې په عبارتونو په مناسبه توګه ډک شي :

تاسو به څه کوئ ؟	منډې وهل اوبه څښل خط ليکل کتاب لوستل ډوډۍ پخول خوب کول انګړ جارو کول جامې مينځل ګلان اوبه کول جامې اغوستل ډوډۍ خوړل
نن به زه خط ليکم . سبا به زه _____ اوبه څښم . بل سبا به زه _____ . نن به مور _____ . _____ به مور _____ . _____ به مور _____ نن به هغوی _____ . _____ به هغوی _____ . _____ به هغوی _____ .	پ۲ ۲۰-۲

د ... تعقیبي درس څرګند

موضوع : د الفبي د حروفو تکرارول ؛ په ورکړای شویو کلمو کې د حروفو معلومول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱ د حروفو املا: د ښوونکي له خوا د دري حروفو نومونه بیا بیا ویل ؛ د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو د دغو حروفو لیکل ؛ پر تورې تخته یې چک کول .	تـــوره تختـــه
۲ په ګروپونو کې په مختلفو حروفو سره د دي مشق تکرارول ، هر ګروپ به په درېو کسانو مشتمل وي .	
۳ د دري کسیزو ګروپو نو په وسیله د مشق پاڼې پ۲ - ۲ - ۱ د ښي اړخ د حروفو لوستل ؛ د دې خبرې کنټرولول چې په مخکې درس کې یې غیب حروف سم ډک کړي دي او که نه ؟	مشـــق پـــاڼه پ۲ - ۲ - ۱
۴ د ببل ببل زده کوونکي له خوا د الفبي د نظم څخه بیتونه یا ټول نظم ویل .	
۵ په مشق پاڼه پ۲ - ۲ - ۲ کار کول : الف - د مشق پاڼې د ښي اړخ نوي کلمې څو څو خله لوستل؛ په خپلو خپلو بکسونو کې د کلمو د سر د حروفو څانګړي شکلونه لیکل . ب - د کېن اړخ حروف د تېر درس په شان اول پر سلېټونو او بیا په مشق پاڼه کې لیکل .	مشـــق پـــاڼه پ۲ - ۲ - ۲

کلمې دې ولوستلې او د سر توري یې دې په مربوطو وړو چوکاټونو کې ولیکل شي . د مشق پاڼې په کینه خوا کې دې د ورکړل شویو تورپو د لیکلو مشق وشي :

خ خپل	ټول	پ۲ ۲ - ۲ ق
لږ	کال	ی
بودا	نوم	ط
غر	قد	م

موضوع : د اونۍ ورځې تکرارول ؛ رسمونه او جملې سره مقايسه کول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱. په مختلفو مشقونو کې د اونۍ ورځې تکرارول : • ورځې له يادې ويل • تېرې ورځې معلومول • وروسۍ ورځې معلومول • د ښوونکي له خوا د يوې ورځې نوم پر تخته ليکل؛ مثلاً: جمعه تر جمعې دمخه او وروسۍ ورځې معلومول او ورسره نژدې يې ليکل (دزده کوونکو له خوا): پنجشنبه جمعه شنبه .	تـــوره تختـــه
۲. په مشق پاڼه پ۲ - ۲۰ - ۳ کار کول : الف - تصويرونه مطالعه کول ؛ ښودل شوي فعاليتونه تشريح کول . ب - د ورځې د وختونو په استعمالولو سره د رسمونو اړونده جملې ويل . ج - له يوه انديوال سره کار کول . د مشق پاڼې لاندې جملې څو څو ځله لوستل ؛ رسمونه او جملې سره مقايسه کول ؛ د رسمونو شميرې له يوه انديوال سره چک کول .	مشـــق پـــاڼه پ۲- ۲۰ - ۳
۳. د رنګولو او ليکلو د مشق له پاره د هر زده کوونکي له خوا د خپلې خوښې دري جملې او د هغوی اړونده رسمونه انتخابول : الف - دري انتخاب شوي رسمونه رنګول . ب - پر سلېټونو د دغو درېو جملو مشق کول .	ســـــلېټونه

جملې او رسمونه دې سره مقايسه شي . کومه جمله چې له کوم رسم سره سمون خوري ، د هغې شمېره دې ، د هغه رسم په مربوط واړه چوکاټ کې وليکله شي :



۱. د شنبې پر مازيګر به بزګر په پټي کې يوې کوي .
۲. هره ورځ سهار وختي شپون ګډې او بزې څروي .
۳. د دوشنبې پۀ مازيګر به پلوشه ګلان اوبه کوي .
۴. مور به ټول کور د سه شنبې پر ورځ جاړو کوي .
۵. بابا کله کله غرمه په کور کې خوب کوي .
۶. مور هرمانبام په تناره باندې دوډۍ پخوي .
۷. زرين پلار ته په هفته کې يو خط ليکي .
۸. نن مازيګر به زه باغ ته ځم .
۹. مورِ به سبا وختي قرآن شريف لولو .

درسي پلان ۲۱

ب۲ - ۲۱ - ۱

موضوع : د کال موسمونه ؛ نظم : موسم

د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . د څلورورسمونو په باره کې چې ښه ښه موسمونه ښيي خبرې کول :	مشق پانه ب۲- ۲۱ - ۱
- لـه زده کوونکـو څخـه د مشـق پـانې ب۲ - ۲۱ - ۱ د مطالعه کولو او له يـوه انډيوال سره دهغې پر رسمونو د بحث غوښتنه کول .	- دغه رسمونه مطالعه کول او له يوه انډيوال سره پرې بحث کول .	
- لـه زده کوونکو څخه غوښتنه کـول چې پـر رسـمونو تبصرې وکړي . (۲)	- ښه ښه زده کوونکی چې څه ورته مهم ښکاري، هغه بيانوي .	
- له زده کوونکو څه غوښتنه کول چې ښه ښه رسم په تفصيل سره بيات کړي (بحث رهنمايي کول) .	- پر دې بحث کول چې له کوم رسم څخه شروع په کار ده ؛ ډېر زده کوونکي ښه ښه تفصيلات ورکوي .	
- لـه زده کوونکـو څه د مشـق پـانې د منځنيـو کلمـو د لوستلو غوښتنه کول .	- د [يو کال] عبارت لوستل .	
- لـه زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې کـال څه معنـا لري ؟	- معلومول چې مورډ په کلونيو حساب کوو . زمورډ ژوند په کلونو حسابيږي او نور .	
- په رسم کې د نورو کلمو د لوسـتلو غوښتنه کول ؛ کـه ضرورت و نو د [موسم] معنا تشريح کول .	- له څلورو موسمونو څخه يو کال جوړيږي . تر يوه کـال وروسته بيا هغه موسم وي .	
- لـه زده کوونکـو څه د موسـمونو پـه بـاره کـې د معلوماتو غوښتنه کول ؛ د موسمونو د فرقونـو پـه پيدا کولو کې مرسته کول .	- د ښه ښه زده کوونکي په دې باره کې خپل معلومات وپل ؛ دنورو غوږ نيول ؛ تبصرې کول.	
- لـه زده کوونکو څخه غوښتنـه کـول چې د موسـمونو نومونه په ترتيب سره ووايي . (۴)	- د موسمونو نومونه په سم ترتيب سره څو څو خله ويل .	تـوره تختـه
- پر توره تخته د څلورو وارو موسمونو نومونه ليکل ؛ بې له ترتيب څخه دغو کلمو ته د لوستلو اشاره کول .	- د بنوونکي ليکلو تـه کتـل ؛ پـه خاموشـي سره يـې لوسـتل ؛ کلمې ته د بنوونکي د اشارې په وخت کې هغه په يوه آواز لوسـتل .	
	۲ . په نظم (موسم) خان پوهول :	
- ويل چې تاسو به اوس د موسمونو په باره کې يو نظم واورئ .	- د نظم اورېدلـو تـه متوجـه کـېدل ؛ د کـار کتابونـه بندول .	
- دوه څله د نظم لوسـتل يا ويل .	- نظم ته غوږ نيول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کـه د نظم کومـه برخه يې په ياد پاتې وي هغه ووايي .	- د ښه ښه زده کوونکي لـه خوا د تفصيلاتـو ورکـول ؛ د نورو غوږ نيول ، تبصرې کول .	
- لـه زده کوونکو څخـه پوښتنـه کـول چـې د دې شـعر د شاعر کوم موسم ډېر خوښ دی ؟	- معلومـول چـې د شـاعر هـر موسـم خـوښ دی ؛ د هـر موسم د صفتونو نومونه اخيستل .	
- لـه زده کوونکو څخه پوښتنـه کـول چـې سـتاسـو کـوم موسم خوښ دی ؟	- ډېر ښه ښه زده کوونکي چـې پـه کـوم موسـم کـې څه څوښيږي هغه ويل ؛ د نورو غوږ نيول ، تبصرې کول .	
- يو څل بيا د نظم ويل .	- نظم ته غوږ نيول .	
	۳ . د نظم لوستل :	
- لـه زده کوونکو څخه لـه يوه انډيوال سره د وړومبـۍ بند د لوسـتو غوښتنه کول (مرسته کول) . (۵)	- له يوه انډيوال سره يې لوسـتل ؛ کومې کلمې چې نـه شي لوستلای دهغوی په باره کې پوښتنه کول .	مشـق پـانه ب۲- ۲۱ - ۱
- لـه زده کوونکو څخه غوښتـل چې دا بنـد تولـګي تـه ولولي .	- د ښه ښه زده کوونکي له خوا لوسـتل .	

– د ټول نظم په لوستلو کې د زده کوونکو رهنمايي کول (يو يو زده کوونکي يو يو بند)	– د مخکې په شان کار کول .	
– په زده کووونکو دنظم وړومبی نیمایي برخه لوستل (دوه بندونه) او د يادولو کوشش يې کول ؛ تر هغې وروسته پرې د رسمونه رنګول .	۴. *په خاموشۍ سره کار کول :* – په خاموشۍ سره يې لوستل (شاید د يوه اندیوال په مرسته) تر دې چې دا برخه په روانه ولوستلای شي ؛ له يادې يې د تکرارولو کوشش کول ؛ د رسمونو رنګول .	

(۱) دا ځلور رسمونه د يوې دايرې په شکل د ساعت د ستنو په شان ترتيب شوي دي چې د کال دوران تعقيب کړي . زده کوونکي به په خپله دا معلوموي چې دا دوران کال په کال تکراريږي . که چېرې زده کوونکي د کال د برخو د ځينو نورو کليوالیو نومونه لکه د [پشه کال] ذکر وکړي نو پر هغو دې هم بحث وشي .

(۲) په دې قدم کې به ښوونکی زده کوونکي کوم خاص طرف ته نه رهنمايي کوي ؛ څه چې ويل غواړي ازاد به وي .

(۳) کال ډېر اوږد وخت دی . ماشوماتو ته د تجربې د نه لرلو له امله د لويانو په شان د کال د سر او آخر معلومات نه کيږي . زده کوونکو ته دا معلومات هم نه کيږي چې کال څنګه تېريږي . دا ټولې خبرې د دې سبب کيږي چې ماشوم ته د کال پر معنا سخته کړي . خو د کال په دوران کې ماشوم په خپله شاوخوا کې د طبعيت بدلون ليدلای شي . دوی وينې چې بوټې زرغونيږي ، لوييږي او بهرته له منځه ځي . دوی وينې چې د کال په اوږدو کې تخم کرل کيږي، راټوکيږي ، وده کوي ، پخيږي او بيا رهبل کيږي . دغه راز دوی وينې چې ونې پانې کوي ، وروسته ژړې شي او بيا ورژيږي . په همدې ډول دوی احساسوي چې هوا تودريږي او بيا بهرته سړيږي او داسې نور . دا تغيرات د کال موسمونه ښيي چې کال په کار همدغه شان تکراريږي .

(۴) موسمونه په طبيعي ترتيب يو په بل پسې راځي . که چېرې زده کوونکي د هر موسم په اهميت او خواصو وپوهېږي نو د موسمونو د صحيح ترتيب په پېژندلو او زده کولو کې به مشکل ونه لري .

(۵) د نظم هر بند کې دوه بيتونه لري . د هر بيت آخری کلمې يو ډول آواز لري چې په لوستلو او زده کولو کې اسانتيا پيدا کوي له دې کبله زده کوونکو ټول نظم په يوه درسي واحد کې لوستلای شي .

په رسمونو کې ښودل شوي فعالېتونه دي بيان شي :



موسم

يو له بل نه که جدا دی خو دا هر يو د دنيا دی
که دا يو دی او که بل دی
هر موسم زموږه خپل دی
که پسرلی لري ګلونه منی الوځي بادونه
يو له بل نه که بدل دی
هر موسم زموږه خپل دی
ګلان ډېر لري رنګونه او مېوې عجب خوندونه
جهان ښکلی يو په سل دی
هر موسم زموږه خپل دی
که په اوړي کې ګرمي وي که په ژمي کې يخني وي
پاک الله زموږ مل دی
هر موسم زموږه خپل دی .

موضوع : د کال موسمونه ؛ دنظم زده کړه جاري ساتل ؛ د موسمونو په باره کې د جملو لوستل او ليکل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د موسمونو د نومونو تکراراً ويل ؛ د موسمونو مختلف خواص بيانول ؛ د موجوده موسم نوم اخيستل .	
۲. د نظم وړومبی برخه ټولګي ته څو څو ځله لوستل (وړومبی يو يو بند بيا لومړني دواړه بندونه .	مشق پانه
۳. د نظم دوهمه برخه (آخري دوه بندونه) لوستل : الف – په ټولګي کې د يوه يوه بند په قدمونو .	پ۲– ۲۱ – ۱
ب – له يوه انديوال سره لوستل ؛ په متن کار کول ؛ د جملې غيبه برخه معلومول ؛ جملې وار په وار لوستل . ج – آخري دوه بندونه په خاص انداز سره د ببل ببل زده کوونکي له خوا ټولګي ته لوستل .	مشق پانه پ۲– ۲۱ – ۱
۴. په دوهمه مشق پانه پ۲ – ۲۱ – ۲ کار کول : الف – ټولګي ته دعنوان او جملو لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) ؛ غيبې کلمې پيدا کول .	مشق پانه پ۲– ۲۱ – ۲
ج – پر سلېټونو د موسمونو د کلمو د ليکلو مشق کول ؛ بيا يې په خالي ځايونو کې ښه ښايسته ليکل .	سلېټونه
۵. په خاموشۍ سره کار کول : الف – د هر موسم له پاره پر سليټونو د يوې جملې د ليکلو مشق کول .	مشق پانه
ب – د نظم د لوستلو او يادولو مشق کول .	پ۲– ۲۱ – ۲
	سلېټونه
	مشق پانه
	پ۲– ۲۱ – ۱

په تشو ځايونو کې دې د کال دموسمونو نومونه وليکل شي :

په کال کې څلور موسمونه وي . پ۲ ۲۱ - ۲

پسرلی	منی
په _____ کې هر رنګ ګلونه کيږي .	په _____ کې ډېر بادونه وي .
_____ ډېر ښکلی موسم دی .	په _____ کې بزګر غنم کري .
اوړی	**ژمی**
په _____ کې ډېره ګرمي وي .	په _____ کې خلک ځان تود ساتي .
په _____ کې خلک تر ونو لاندې کښيني .	په _____ کې ډېره يخني وي .

موضوع : د کال موسمونه ، د نظم زده کړه جاري ساتل ؛ د عنوان اړوندو جملو کې د [څکه چې] عبارت استعمالول	
د زده کوونکو او ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱. د کلمو املا : د څلورو موسمونو نومونه	سلېټونه
۲. د سوالونو او ځوابونو ويل ؛ لکه : پسرلی ستا ولې خوښ دی ؟ ، پسرلی زما ځکه خوښ دی چې ګلونه په کې ډېر وي .	
الف – د ښوونکي له خوا پوښتنه کول ؛ د ببل ببل زده کوونکي له خوا ځوابونه ويل ؛ همېشه د [څکه چې] عبارت استعمالول .	
ب – د ببل ببل زده کوونکي له خوا پوښتنه کول ؛ د ببل ببل زده کوونکي له خوا ځواب ويل .	
۳. په دريمه مشق پانه پ۲ – ۲۱ – ۳ کار کول :	مشق پانه
الف – عنوان او ورومبۍ جمله يو خای لوستل ؛ پر کار بحث کول او خان پرې پوهول .	پ۲– ۲۱ – ۳
ب – له يوه اندېوال سره لوستل ؛ پر متن کار کول ؛ د جملې غيبه برخه پيدا کول ؛ د جملو وار په وار لوستل .	
ج – ټولګي ته د جملو لوستل(يو زده کوونکی يوه جمله) .	
۴. په خاموشۍ سره کار کول :	سلېټونه
الف – پر سلېټونو د څلورو جملو (زما سپرلی خوښ دی . زما اوړی خوښ دی .) او نورو دوو جملو مشق کول .	
ب – په اړونده خالي خای کې دغه جملې ښې ښکلې ليکل .	مشق پانه
ج – د نظم يادول .	پ۲ –۲۱ – ۱
د – له ياده د نظم ويل .	

تش خايونه دې په مناسبو جملو ډک شي :

پ۲ | ۲۱ - ۳

هر موسم زموږ خوښ دی

پسرلی زموږ خوښ دی ؛ ځکه چې ډېر ګلونه وي .

_____ ځکه چې هوا ښه وي .

اوړی زموږ خوښ دی ؛ ځکه چې ډېر امونه وي .

_____ ځکه چې موږ لامبو .

منی زموږ خوښ دی ؛ ځکه چې موږ ګودی الوزوو .

_____ ځکه چې موږ املوک خورو .

ژمی زموږ خوښ دی ؛ ځکه چې موږ مالتې خورو .

_____ ځکه چې مچان او ماشي نه وي .

د درس ګلان : ۲۲	موضوع : له مؤنثو ، مذکرو او مفردو اسمونو سره په رابطه کې د شپږو رنګو د نومونو (تور ، سور ، شین ، سپین ، ژیړ ، خړ) لیکلی شکل معرفي کول (۱)
د ۲ - ۲۲ - ۱	

د بنوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
– اعلان کول چې دوی به یوه لوبه کوي ؛ اصول تشریح کول ؛ مثلاً : " زه په خپلو وړو سترګو یو سور شی وینم . " (۲) – د لوبې په کولو کې مرسته کول .	۱ . *د شیانو او رنګونو اتکل کول :* – متوجه کېدل ؛ اتکل کول ؛ جلا جلا تر هغه د شیانو نومونه اخیستل د هغه شي نوم واخلي چې دبنوونکی په ذهن کې دی . – د هغه زده کوونکي له خوا چې د مطلوب شي نوم یې اخیستی دی د یوه بل چیستان ویل (زه ... وینم .) او داسې نور . تر هغه دا لوبه کول چې نور رنګه شیان معلوم نه شي .	
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې هغه نومونه را یاد کړي چې دوی تازه په چیستانونو کې استعمال کړي دي ؛ د رنګونو نومونه پر تورې تختې لیکل ؛ مثلا : تور ، سور ، سپین ، شین ، خړ ، ژیړ . (۳) – زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر تورې تختې د رنګونو لیکلي نومونه ولولي . – له زده کوونو څخه په ګډه د کلمودلوستلوغوښتنه کول ؛ کلمو ته یې له ترتیب څخه اشاره کول . – له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ - ۲۲ - ۱ د لوستلو او د کار د معلومولو غوښتنه کول . – له زده کوونکو څخه د رسمونو د رنګولو او له غیبو کلمو سره یو ځای د جملو د لوستلو غوښتنه کول . (۴) – له زده کوونکو څخه ټولګي ته د جملو د لوستلو غوښتنه کول .	۲ . *په مذکر شکل د شپږو رنګونو د نومونولیکلی شکل زده کول :* – رنګونه یادول ؛ د بنوونکي د لیکلو مشاهده کول ؛ په خاموشۍ سره لوستل . – د جلا جلا زده کوونکي له خوا لوستل . – په ګډه د کلمو لوستل . – مشق پاڼه مطالعه کول ؛ کار معلومول : هغه شیان داسې رنګول څنګه چې د بنې ستون کلمې ورته اشاره کوي . – په خاموشۍ یا له یوه اندیوال سره کار کول : رسمونه رنګول ؛ د جملو لوستل . – د جلا جلا زده کوونکي له خوا په تکرار سره لوستل (یو زده کوونکی یوه جمله) .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــاڼه پ۲- ۲۲ - ۱
– له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ - ۲۲ - ۲ د لوستلو او په بنې ستون کې د کلمو د لوستلو غوښتنه کول . – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کلمې ټولګي ته لولي . – له زده کوونکو څخه د جملو د لوستلو او د هغوی د اړوندو کلمو چې رنګونه بنیي د اضافه کولو غوښتنه کول . – مؤنثې کلمې پر تورې تختې لیکل (۳) تشریح کول چې د رنګ له پاره د کلمې د شکل دارو مدار په شي پورې اړه لري . – له زده کوونکو څخه یو خل بیا د جملو د لوستلو غوښتنه کول .	۳ . *په مؤنث شکل درنګونو د نومونولیکلی زده کول :* – د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ د کلمو په خاموشۍ لوستل ؛ معلومول چې دا هم د هغو رنګونو نومونه دي خو شکل او آواز یې جدا دی . – د جلا جلا زده کوونکي له خوا لوستل ؛ د نورو غوږ نیول ؛ اصلاح کول . – د یوه یوه زده کوونکي له خوا د جملو لوستل . – د بنوونکي د لیکلو مشاهده کول ؛ د کلمو لوستل ؛ د کلمو په استعمال خان پوهول . – یو خل بیا د جملو لوستل (یو زده کوونکی یوه جمله).	

– لـه زده کوونکـو څخـه غوښتنـه کـول چې اول دې پـر سلېټونو د نويو کلمو د دوارو اشکالو مشق وکړي ، بيا دې په مشق پاڼه کې خالي خايونه ډک کړي او بيا دې رسمونه رنګ کړي .	۴ . د نويو کلمو د ليکلو مشق کول : – له غوښتني سره سم کار کول : الف – پر سلېټونو د کلمو مشق کول . ب – د مشق پاڼې خالي خايونه ډکول . ج – رسمونه رنګول .	سلېټونه مشق پاڼه پ۲ -۲۲ - ۱ مشق پاڼه پ۲- ۲۲ - ۲

(۱) تور ، سور ، شين ، ژېړ ، سپين او خړ داسې کلمې دي چې د کليوالي سيمو ماشومان په کې هغه واړه رنګونه شامولوي چې دوی يې په شاوخوا کې وينې . ښوونکی ته په کار دي چې يوه ګرامري اصطلاح هم استعمال نه کړي ؛ لکه : مذکر / مونث / اسمونه . کله چې ماشومان د رنګونو له پاره کلمې استعمالوي او مشق يې کوي نو دوی ته په کار دي چې له [يو] او [يوه] يا [دی] او [ده] سره مختلف شکلونه او آوازونه زده کړي .

(۲) د لومړي ټولګي د ښوونکي د لارښود په (۴۹) مخ کې د لوبې د اصولو تشريح په تفصيل سره شوې ده . د لوبې د خوندور کولو له پاره ښوونکي ته په کار دي چې يو خو رنګه شيان ټولګي ته راوړي چې پر مېز يا بل ځای کې کېښودل شي او داسې نور .

(۳) ښوونکی دې د رنګونو نومونـه په مذکر شکل وليکي . زده کوونکي يې په مشق پاڼه پ۲ – ۲۲ – ۱ کې په اسانه پېژندلای شي . ښوونکی دې کلمې په يوه ستون کې وليکي چې بيا ورته هغه مونث اشکال مخامخ وليکلی شي ؛ لکه :

سور – سره ؛ تور – توره ؛ شين – شنه ؛ خړ – خړه ؛ ژېړ – ژېړه ؛ سپين – سپينه .

(۴) که چېرې رنګه پنسلونه نه وي نو ښوونکی دې زده کوونکي د کلمو په لوستلو کې رهنمايي کړي او په ټولګي کې دې دغه يو رنګ شي ورته وښيي .

کلمې (د رنګونو نومونه) دې د مربوطو جملو په تشو خايونو کې وليکلې او رسمونه دې رنګ شي :

		پ۲ ۲۲ - ۱
سور		دا ګل ..... دی .
تور		دا سلېټ ..... دی .
شين		دا طوطي ..... دی .
خړ		دا خر ..... دی .
ژېړ		دا ام ..... دی .
سپين		دا چرګ ..... دی .

د پاسنۍ مشق پاڼې په شان دې کار وشي :

		پ۲ ۲۲ - ۲
سره		دا مڼه ..... ده .
توره		دا برقع ..... ده .
شنه		دا پاڼه ..... ده .
خړه		دا پيشو ..... ده .
ژېړه		دا کېله ..... ده .
سپينه		دا هګۍ ..... ده .

موضوع : د رنګونو د نومونو د ليکلو او لوستلو مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. له ټولګي څخه بهر تلل ؛ د رنګا رنګ شيانو لټه کول ؛ د شيانو د رنګ په وسيله يې اندازه لګول يا بيانول . (۱)	
۲. د ښوونکي له خوا يو په بل پسې د مختلفو شيانو ښکل ښکل رنګونه ښودل ؛ د زده کوونکو له خوا بيانول لکه : دا شمع سره ده . يا : دا کتاب سور دی .	د مختلفو رنګونو شيان
۳. د ښوونکي له خوا د يوه شي ښودل ؛ د زده کوونکو له خوا پر خپلو سلېټونو د دغه شي د رنګ نوم ليکل ؛ د يوه زده کوونکي له خوا دغه کلمه پر توره تخته ليکل ؛ د ټولو مقايسه کول ؛ د مختلفو شيانو د ښکلو ښکلو رنګونو نومونه تکرارول .	مختلف شيان سلېټونه توره تخته
۴. په مشق پانه پ۲ - ۲۲ - ۳ کار کول : الف - د عنوان لوستل او په ورومبي مثال کار کول ؛ د ښوونکي له خوا پر توره تخته خواب ليکل . ب - د زده کوونکو له خوا په خاموشۍ سره دوهم او دريم سوال لوستل ؛ خوابونه پر سلېټونو ليکل ؛ داسې عددونه ورباندې ليکل لکه په مشق پانه پ۲ -۲۲ - ۳ کې چې دي . ج - د جلا جلا زده کوونکي له خوا يو په بل پسې ټولګي ته سوالونه او خوابونه لوستل (يو زده کوونکی يو سوال او يو خواب) ؛ د اړونده عدد (شمېرې) داستعمالولو په وسيله د ښوونکي له خوا صحيح يا ممکن خوابونه پر توره تخته ليکل ؛ د ټولو زده کوونو مقايسه کول ، اصلاح کول . د - له خلورم څخه تر شپږم سوال پورې په همدغه طريقه کار کول . هـ - له اووم څخه تر نهم سوال پورې په همدغه طريقه کار کول .	توره تخته
۵. په خاموشۍ سره کار کول : خوابونه په مشق پانه کې ښه ښايسته ليکل .	مشق پانه پ۲ -۲۲ - ۳
٦. له يوه انډيوال سره کار کول : د لوستلو مشق کول ، د يوه زده کوونکي له خوا يو سوال لوستل ؛ د نورو له خوا يې وار په وار خواب لوستل .	

پوښتنو ته مخامخ دې د هغوی خوابونه وليکل شي :

پ۲ | ۲۲ - ۳

څواب ووايئ !

۱. د رنګونو نومونه څه دي ؟ _____

۲. ته په ټولګي کې کوم رنګونه وينې ؟ _____

۳. ستاسو کوم رنګ خوښ دی ؟ _____

۴. د تبې رنګ څه ډول وي ؟ _____

۵. په پسرلي کې د ونو پاڼې څه رنګ وي ؟ _____

٦. هګۍ څه ډول رنګ لري ؟ _____

۷. ستا څپلۍ څه ډول رنګ لري ؟ _____

۸. منه څه رنګ وي ؟ _____

۹. په مني کې د ونو پاڼې څه رنګ وي ؟ _____

موضوع : د نظم (موسمونه) تکرارول ؛ د کال د موسمونو په باره کې سوالونه کول او خوابونه يې معلومول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د نظم تکرار کول . ۲. شفاهي مشق : د موسمونو په باره کې سوالونه او خوابونه . الف – د ښوونکي له خوا پوښتنې کول: " په کوم موسم کې يخني وي ؟ تاسو څو موسمونه پېژنئ ؟ " ؛ د زده کوونکو له خوا خوابونه ويل . ب – د ښوونکي په خای دېبل ببل زده کوونکي له خوا پوښتنه کول ؛ د نورو زده کوونکو له خوا خواب ورکول . ۳. په مشق پانه پ۲ –۲۲ – ۴ کار کول : الف – له يوه څخه تر دريم پورې د سوالونو په خاموشي سره لوستل ؛ خوابونه پرسلېټونو ليکل او شمېره ورکول . ب – د جلا جلا زده کوونکي له خوا تولګي ته يو په بل پسې د سوالونو او خوابونو لوستل (يو زده کوونکی ، يو سوال او يو خواب) ؛ د ښوونکي له خوا د اړونده عدد د استعمالولو په وسيله صحيح يا ممکن خوابونه پر توره تخته ليکل ؛ د تولو زده کوونکو مقايسه کول ، اصلاح کول . ج – له څلورم څخه تر شپږم پورې سوالونو باندې په دغه طريقه کار کول . د – له اووم څخه تر نهم پورې سوالونو باندې په دغه طريقه کار کول . ۴. په خاموشي سره کار کول : پر سلېټونو د ليکلو مشق کول ؛ خوابونه په مشق پانه کې ښه ښايسته ليکل . ۵. له يوه انډيوال سره وار په وار لوستل (يو زده کوونکی يو سوال او يو خواب) .	مشق پانه پ۲– ۲۲ – ۴ سلېټونه توره تخته سلېټونه

د پاسنۍ مشق پانې په شان دې کار وشي :

پ۲ | ۲۲ـ۴

څواب ووايئ !

۱. په يوه کال کې څو موسمونه وي ؟ څلور موسمونه

۲. اوس کوم موسم دی ؟ _____

۳. په پسرلي پسې کوم موسم وي ؟ _____

۴. له اوړي څخه وروسته کوم موسم وي ؟ _____

۵. په مني پسې کوم موسم وي ؟ _____

٦. په کوم موسم کې هوا سړه وي ؟ _____

۷. د ونو پانې کله رژېږي ؟ _____

۸. په کوم موسم کې نه ګرمي وي او نه يخني ؟ _____

۹. ماشي او مچان په کوم موسم کې وي ؟ _____

درسي پلان ۲۳ پ۲ - ۲۳ - ۱	موضوع : د بنار سيل ؛ په يوه کيسه او يوه رسم ځان پوهول (۱)	
د بنوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
	۱ . په يوه کيسه ځان پوهول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د بنار په باره کې خپل معلومات ووايي .	- د ببل ببل زده کوونکي له خوا د بنار په باره کې خپل معلومات او تجربې ويل ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تبصرې کول .	
- اعلان کول چې تاسو به اوس يوه کيسه واورئ .	- متوجه کېدل .	کيسه له درسي پلان سره ضميمه ده .
- د کيسې لوستل .	- کيسې ته غوږ نيول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې دکيسې په باره کې سوالونه يا تبصرې وکړي .	- سوالونه کول ؛ تبصرې کول .	
- کيسه يو ځل بيا لوستل .	- يو ځل بيا کيسې ته غوږ نيول .	
- له زده کوونکو څخه د کيسې په باره کې سوالونه کول ؛ لکه : هلک له پلار سره چېرته ولاړ ؟ هلک کله بنار ليدلی و ؟ د هلک نوم څه و ؟ تاسو څه فکر کوئ چې هلک څوک و ؟ دوی په بنار کې څه کول ؟ هلک د بنار او خپل کلي په منځ کې څه توپير پيدا کړ ؟ هغه ولې حيران و ؟	- د بنوونکي د پوښتنو خوابونه ويل ؛ غوږ نيول ؛ پر بيانونو تبصرې کول .	
- له زده کوونکو څخه د بنار په باره کې پوښتنې کول؛ د زده کوونکو لازښوونه کول چې په خپله سوالونه وکړي (يوازې د ضرورت په وخت کې معلومات ورکول) . (۲)	- پوښتنې کول ؛ پوښتنو ته خوابونه ورکول ؛ غوږ نيول ؛ تبصرې کول .	
	۲ . پر يوه رسم بحث کول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پاڼه پ۲ - ۲۳ - ۱ وګوري او له خپلو انديوالانو سره پرې خبرې وکړي .	- د رسم مطالعه کول ؛ خبرې ورباندې کول (چې څه يې په زړه وي پر هغې بحث کول) .	مشق پاڼه پ۲-۲۳ - ۱
- رسم چې څه ښيي هغه په زده کوونکو ويل .	- معلومول او ويل چې دا د يوه بنار رسم دی .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په رسم کې څه ويني هغه ووايي او د هغه په باره کې پوښتنې وکړي	- څه چې په رسم کې ويني هغه تشريح کول ؛ څه چې واضح نه وي پر هغه بحث کول .	
- زده کوونکو ته ويل چې ودانۍ ښه په غور وګورئ او څه چې په کې پېژنئ هغه ووايئ .	- په رسم کې پر مختلفو ښودل شويو ودانيو خبرې کول ؛ د مختلفو ودانيو او دوکانونو له پاره نومونه پيدا کول ؛ ويل چې خلک په دې ځايونو کې څه کوي او څه خرڅوي ؟	
- زده کوونکو ته ويل چې په رسم کې ښودل شوي سړک ته ښه وګورئ او څه چې په کې وينئ هغه ووايئ .	- پر سړکونو د مختلفو موټرو او ګڼې ګوڼې په باره کې خبرې کول .	
- زده کوونکو ته ويل چې خپل کلی مو را په زړه کړئ او د بنار له دې رسم سره يې مقايسه کړئ . (۳)	- فرقونه پيدا کول ؛ لکه : په بنار کې ډېر خلک وي . کورونه لوړ لوړ وي . ډېرې موټرې وي . او نور .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې د وطن د کوم لوی بنار نوم چاته ورځي ؟ د دې بنار په باره کې اضافي معلومات ورکول .	- د کابل نوم اخيستل ؛ څو ځله يې تکرارول ؛ زده کول چې کابل د افغانستان مرکز دی .	

د دوهم تعقیبی درس خاکه

موضوع : د آواز لرونکو حروفو (واولونو) پېژندل	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱ د الفبې حروف په نظم کې او بې له نظم نه تکرارول .	سلېټونه
۲ د آواز املا : د ښوونکي له خوا بیا بیا د درې حروفو آوازونه ورکول ؛ د زده کوونکو له خوا پر سلېټونو باندې د حروفو لیکل ؛ چک کول ؛ په مختلفو آوازونو سره د دې مشق څو خله تکرارول .	تخته ،
۳ د مشق پانې پ۲ - ۲ - ۳ په اول مثال پر تخته کار کول : الف - په بکس کې د حرف نوم اخیستل . ب - تر حرف چاپېره د ټولو کلمو لوستل . ج - په دې کلمو کې د [ا] ټول حرفونه معلومول او کرښه ترې چاپېره ول . د - په مشق پانه کې د دې مشق تکرارول . هـ - په نورو مثالونو په خاموشۍ سره کار کول . ؛ له یوه اندیوال سره د خپل کار مقایسه کول .	مشق پانه پ۲ - ۲ - ۳
۴ په مشق پانه پ۲ - ۲ - ۴ کار کول . الف - مشق پانه مطالعه کول او د هغې په اول مثال پر تخته کار کول ، معلومول چې دغه نوې کلمه چې تصویر ښیي د کلمې د منځ د حرف له بدلولو نه جوړه شوې ده . ب - یا په همدغه شان پر تخته په یوه بل مثال کار کول ؛ یا زده کوونکي پرېښودل چې په خاموشۍ سره کار وکړي . (۱)	مشق پانه پ۲ - ۲ - ۴ تخته
۵ دغه کلمه څو څو خله لوستل .	
٦ پر سلېټونو باندې د کلمو د جوړو د لیکلو مشق کول .	سلېټونه .

(۱) ښوونکی به دا خبره ښه یقیني کوي چې زده کوونکو دهر بکس په دواړو کلمو کې دغه دوه واولونه پیژندلي او توپیر یې کولای شي ؛ مثلاً : د [دال] په کلمه کې [ا] او د [دول] په کلمه کې [و] . واول هغه حرف دی چې خپل آواز لري . د دې مشق پانې ټولې کلمې درې درې حرفونه لري او د هرې یوې په منځ کې یو یو واول راغلی دی . د دې واولونو تلفظ په آسانۍ سره په جلا جلا توګه کېدای شي .

به کږیو کې د لیکل شوې توپیر نومونه دې واخیستل ، په مربوطو کلمو کې دې پیدا او د مثال غوندې دې کرښه خنې چاپېره شې :

ګمسا	ما شوم	پ۲ ۲ - ۳
زانګو	ا چاینک	لړم مار
پاک	بنیادم	هم م زمری
		مچ شمع
ونه	چاقو	لور جال
وړوکی	و مور	ملخ ل مخلوق
جارو	ولیکه	ګل لړم

کلمې دې ولوستلې او تر رسمونو لاندې دې د هغوی نومونه ولیکل شې :

		پ۲ ۲ - ۳
		
دال دودۍ	هېر هـ..	
مور	- نوم	
لار	غور	

	۳. د بنار په اړه د یو څو کلمو لوستل او لیکل :	
– زده کوونکو ته ویل چې د رسم د پاسه لیکلی عنوان ولولي ؛ د [بازار] د کلمې د معنا د پوهېدنې له پاره زده کوونکي رهنمايي کول .	– د عنوان لوستل ؛ د [بازار] د کلمې په معنا خان پوهول .	مشق پانه پ۲– ۲۳ – ۱
– له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې لاندې کرښې له یوه اندیوال سره ولولي ؛ دغه کلمې پر تخته ښه ښایسته لیکل .	– په دوه دوه کسه د کلمو لوستل ؛ څو څو خلـه يې لوستل .	
– په زده کوونکو دغه کلمې ټولګي ته لوستل ؛ اول په ورکړای شوي ترتیب او بیا ورته د اشارې کولو پر وخت .	د بنوونکي لیکلو ته کتل .	
– زده کوونو ته ویل چې اول پر سلېټو د دې کلمو مشق وکړي اوبیا رسم رنګ کړئ .	– د دغو کلمو لوستل : د ببل ببل زده کوونکي څو څو خله لوستل (یو زده کوونکی یوه کلمه)؛ په یوه آواز يې لوستل (کله چې اشاره ورته وشي) .	
	– له غوښتنې سره سم په خاموشۍ کار کول : الف – پر سلېټونو د دې نویو کلمو مشق کول . ب – رسمونه رنګول .	سلېټونه

(۱) بنايـي ټولـو زده کوونکـو د بنار پـه بـاره کـې يـو څه اورېدلـي وي خـو ځينـو بـه لابنار نـه وي ليدلـی . هغـو زده کوونکـو ته چې يو لوی بنار يې ليدلی دی اجازه ورکړئ چې پر خپلو تجربو خبرې وکړي چې نور ورځخه يو څه زده کړي .

(۲) هغو زده کوونکو چې بنار يې لانه دی ليدلی ، هغوی به هم د بنار په باره کې يو څه تصور لري . هغوی به هم د بنار په باره کې خپل تصورات بيانوي .

کـه غلـط وو اصـلاح بـه شـي او کـه صحيـح وو نـو تصديـق بـه يـې وشـي . بنوونکـی بـه د خـبرو لاښوونـه داسـي کـوي چـې زده کوونکي د تجسس له فطري انداز څخه کار واخيستلای او ډېر سوالونه وکړای شي .

(۳) کله چې دوه زده کوونکي رسمونو ته ګوري نو له یوه سره به د بنار رسم وي او له بل سره به د کلي رسم وي (مشق پانه پ۲ – ۱۱ – ۱ په دې طريقه دوی ښه مقايسه کولای شي .

د بنار سيل

بنار ته تر تللو دمخه زه له خپل کلي څخه چېرته نه وم تللی . د دغې ورځې په سهار وختي موږ چای وڅښه . مور مې بنايسته جامې را واغوستې . پلار مې له خان سره د کاکا کورته روان کړم . د کاکا کور مې په بنار کې و . موږ په بس کې سواره شوه . بس روان شو . تر ډېر مزل وروسته بس په يوه خای کې ودرېد . ټول خلك تري کوز شول . موږ هم تري کوز شو . د بسونو له اډې څخه داسې خای ته ورووتو چې ډېره ګڼه ګونه وه . دومره ډېري موټري ، بسونه ، رکشي اونور ګاډي وو چې زه وېرې واخيستم . خو پلار مې لـه لاسـه نيولی وم او ډاډ بـه يـې راکـاوه . د بازار د لويو لويو ودانيو او بسونو نندارې دومره حيران کړی وم چې کله به مې له يوه سره او کله به مې له بل سره ډغره وخوړله . خو پلار به مې له لاسه کلك ونيوم او راته وبه يې خندل . ما به د بازار په دوکانونو کې رنګ رنګ شيانو ته کتل . څوك به يوه دوکان او څوك به بل دوکان ته ولاړ وو او شيان به يې اخيستل . ما د مېتايانو يو دوکان وليد چې زمونږ د کلي د مېتايانو له دوکان څخه ډېر غټ و . پلار مې ماته هم مېتايان واخيستل او په خوند خوند مې وخوړل . تر دې وروسته د کاکا کورته ولاړو او هلته مو د غرمې ډوډۍ وخوړله . مـازيګر بيا بـازار تـه راووتـو او پلار مې راته ډېر شيان واخيستل ؛ لکه : جامې او د لوبو سامان .

بيا ببرته کلي ته را روان شو . چې خپل کلي ته را ورسېدو شکر مې ويوست . په کور کې مې مور ته د بنار کيسې وکړې . بنار مې هم خوښ دی خو کلی مې تر دې هم ډېر خوښ دی . زمونږ په کلي کې ډېري موټري شته . بنيادم هر چېرته تللای شي او چېرته چې يې زړه وغواړي لوبې کولای شي. په بنار کې به هر څوك په خان پام کوي . او ماشومانو ته بيا ډېر احيتاط په کار دی.

د رسم په باره کې دې خبرې وشي او کلمې دې پر سلېټونو مشق شي

بنار بازار سړک بس رکشا موټر بايسکل هوټل

موضوع : د مختلفو موټرو د نومونو لوستل او لیکل زده کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د کلمې املا : د ښوونکي له خوا د زده کوونکو دوو ګروپونو ته د دغو اتو کلمو املا ویل (هر ګروپ څلور څلور کلمې) تر دې وروسته د دري کلمو یوه په بلې پسې املا ویل ؛ د چک کولو له پاره د ښوونکي له خوا پر توره تخته د دې کلمو ښه ښایسته لیکل ؛ د ښوونکي د املا مطابق د زده کوونکو له خوا د دې کلمو لیکل ، بیا یې د توري تختې له کلمو سره مقابله کول او د کلمو په صحیح لیکلو سره غلطي اصلاح کول .	توره تخته
۲. د تېر شوي درس کیسه را په یاد ول .	
۳. مشق پانه پ۲ – ۲۳ – ۱ یو خل بیا مطالعه کول ؛ د موټرو په باره کې چې دوی یې پېژني ، خبرې کول .	مشق پانه پ۲– ۲۳– ۱
۴. په دې باره کې خبرې کول چې چېرته ډېرې موټرې وي نو خان ورځخه ځنګه ساتلای شي . په مشق پانه پ۲ – ۲۳ – ۲ کار کول . الف – د عنوان لوستل . ب – د مشق پانې مطالعه کول ؛ په تصویر کې د ښودلای شوبو مختلفو موټرو پېژندل . ج - د زده کوونکو له خوا د مختلفو موټرو نومونه اخیستل ؛ د ښوونکي له خوا د دغو نومونو پر توره تخته په یوه ستون کې لیکل ، دغه کلمې څو څو ځله لوستل . د – د جمع اړونده اشکال یې پیدا کول ؛ د دغو کلمو دواړه شکلونه لوستل .	مشق پانه پ۲– ۲۳– ۲
۵. پر سلېټونو د دغو کلمو مشق کول او د مشق پانې په خالي ځایونو کې یې ښه ښکلي لیکل .	سلېټونه

په تشو چوکاټونو کې دې د مربوطو رسمونو د نومونو مفرد او جمع شکل ولیکل وشي :

پ۲ | ۲۳ ـ ۲

په ښار کې هر رنګ موټرونه وي

	موټر سایکل		موټر سایکلونه
			
			
			

موضوع : د ښار سیل : د موټرو د نومونو تکرارول ؛ د ودانیو په باره کې زده کړه کول

د زده کړونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د دوښیو په وسیله د موټرو دنومونو تکرارول : د ښوونکي له خوا د ټولو موټرو په باره کې دوښي ویل ؛ مثلاً : په ښار کې یو ډول موټر دی چې د دري ټایرونه لري ؛ د دې موټر نوم څه دی ؟ د زده کړونکو له خوا قیاس کول ؛ د یوه زده کړونکي له خوا د دغه موټر نوم پر توره تخته لیکل ؛ د نورو له خوا یې لوستل .	تـــوره تختـــه
۲. کیسه را په زړه کول : د ښوونکي له خوا د دې خبرې را یادول چې هغه هلک یوازې موټرو نه و حیران کړی بلکې ډېرو ډول ډول ودانیو هم حیران کړی و ؛ د زده کړونکو له خوا د ودانیو په باره کې خبرې کول .	
۳. په رسم کې مختلفې ودانۍ پیدا کول ، تشریح کول ، خبرې ورباندې کول ، د کلي له کورونو سره یې مقایسه کول .	مشـــق پـــانه پ۲-۲۳ - ۱
۴. په درېمه مشق پانه کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول ، شیان په کې پېژندل او تشریح کول . ب – د زده کړونکو له خوا د دغو شیانو نومونه اخیستل ؛ د ښوونکي له خوا دغه نومونو پر توره تختـــه لیکـــل ؛ بیـــا بیـــا یـــې لوســـتل : کورونـــه ، جوماتونـــه ، رېکشـــاګاني ، دوکانونـــه . ج – د زده کړونکو له خوا له یوه اندیوال سره د غیبو کلمو په شمول د متن لوستل ؛ دغه جملې څو څو خله وار په وار لوستل . د – متن ټولګي ته لوستل ، یو زده کړونکی یوه جمله .	مشـــق پـــانه پ۲-۲۳ - ۳ تـــوره تختـــه
۵. پر سلېټونو باندې د دغو پنځو کلمو چې په خالي ځایونو کې لیکل کیږي مشق کول .	ســـــلېټونه
٦. د مشق پانې په خالي ځایونو کې دغه کلمې صفا سوتره لیکل ؛ د رسمونو رنګول .	مشـــق پـــانه پ۲-۲۳ - ۳

په تشو ځایونو کې دې د مربوطو رسمونو نومونه ولیکل شي . رسمونه دې رنګ شي :



په ښار کې هر رنګ ځایونه وي

په ښار کې ډېر بازارونه وي .

۱ په بازار کې ډېر _____ وي .

۲ په ښار کې ډېر _____ وي .

۳ په ښار کې ښایسته _____ وي .

۴ هلته اوچت اوچت _____ وي .

ښار له خلکو څخه ډک وي .

درسي پلان ۲۴ ب۲ – ۲۳ – ۱	موضوع : د ښار سيل : تکرار (۱) ؛ په ليک کې د رنګونو د نومونو جمع شکلونه معرفي کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
د يوه بحث رهنمايي کول چې ډېر زده کوونکي خپل ساده بيانونه ورکړي ؛ ممکن سوالونه دا دي : • په ښار کې څه ډول دوکانونه دي ؟ • په دغه دوکانونو کې ته څه شی اخيستلای شې ؟ • د ښار د سرکونو په باره کې درته څه يادداشت دي ؟ • مهرباني وکړه ، تولګيوالو ته دې ووايه چې په خپل رسم کې يې موټر څنګه رنګ کړی دی ؟	۱ . د رنګونو او د ښار د اړوندو شيانو د نومونو تکرارول : – د ښار په باره کې چې څه ور په زړه کيږي هغه ويل ؛ د ښل ښل زده کوونکي له خوا ساده ساده بيانيې ورکول ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تبصره کول . • مختلف دوکانونه را يادول . • کوم شيان چې په دوکانونو کې اخيستلای شي پر هغو خبرې کول . • په سرکونو د زياتو او مختلفو موټرو تګ راتګ را په زړه کول ؛ د مختلفو موټرو نومونه اخيستل او تشريح کول . • په خپلو رسمونو کې ښودل شوي موټرونه د رنګونو له مخې تشريح کول ؛ مثلاً : زما په رسم کې د رکشې رنګ شين او سور دی. زما په رسم کې د بس رنګ ژېړ دی . او داسې نور .	مشق پانه پ۲ –۲۳– ۱
– په زده کوونکو مشق پانه پ۲ – ۲۴ –۱ مطالعه کول او څه چې په کې وينې هغه پرې ويل . – د ښې ستون کلمې په زده کوونکو لوستل : – کلمې چې کوم رنګونه ښيي هغه رسمونو ته ورکول . (۳) – زده کوونکو ته ويل چې شيان د هغوی رنګونو له مخې تشريح کړئ ؛ لکه : " د دې موټرو رنګونه شنه دي . " زده کوونکو ته ويل چې خبرې په وضاحت سره وکړي او په غور سره غوږ ونيسي (مرسته کول) .	۲ . د رنګونو جمع شکلونه په شفاهي توګه په جملو کې استعمالول : – مشق پانه مطالعه کول ، د شيانو پېژندل اونومونه يې اخيستل . – د رنګونو نومونه يو په بل پسې تولګي ته لوستل (يو زده کوونکی يوه کلمه / يو نوم) . – دغه شيان رنګول . – د ښل ښل زده کوونکي جملې ويل لکه څنګه چې مشق پانه کې ورکړای شوې دي ؛ د رنګونو د جمع صحيح اشکال استعمالول ؛ د نورو غوږ نيول ؛ توجه کول چې صحيح جملې ويل کيږي ؛ پوهېدل چې کله له يوه څخه زيات شيان تشريح کيږي نو د رنګونو نومونه / کلمې بدل آوازونه لري .	مشق پانه پ۲ –۲۴– ۱
– په زده کوونکو د مشق پاني پ۲ – ۲۴ – ۱ رومبۍ دوه جملې لوستل اودرنګونو صحيح نوم ورسره زياتول – غوښتنه کول چې په دې جملو کې د رنګونو نومونه پيدا کړي او ويې وايي . – دوه کلمې پر تخته ليکل : شنه ، شنې . – په همدغه طريقه زده کوونکي په نورو جملو کې رهنمايي کول ؛ د رنګونو د نومونو جمع	۳ . په ليکلي ډول د رنګونو د جمع اشکال زده کول : – د ښل ښل زده کوونکي لوستل ؛ د نورو غوږ نيول . – د رنګونو نومونه په وضاحت سره ويل . – د ښوونکي ليکلو ته کتل ؛ د دغو کلمو لوستل . – د مخکې په شان کار کول : د يوې جملې لوستل ؛ د رنګ نوم په وضاحت سره ويل ، د ښوونکي	مشق پانه پ۲ –۲۴– ۱

اشکال پر توره تخته لیکل . – غوښتنه کول چې د رنګونو نومونه په یوه آواز ولولي؛ بې له څه ترتیب څخه کلمو ته اشاره کول .	لیکلو ته کتل ؛ په خاموشۍ سره لوستل . – د ښوونکي له اشاري سره سم کلمې په یوه آواز لوستل .	تـــوره تختـــه
– له زده کوونکو څخه غوښتل چې له توري تختې څخه کلمې نقل او پر سلېټونو یې مشق کړي او بیا د مشق پاڼې خالي خایونه په مناسبو کلمو ډك کړي .	۴ . په خاموشۍ سره کار کول : – له غوښتنې سره سم کار کول : الف – د کلمو نقلول او تر هغې ورباندې مشق کول چې په آسانه یې ولیکلای شي . ب – د مشق پاڼې خالي خایونه ډکول . ج – د رسمونو رنګول . د– له یوه اندیوال سره د جملو وار په وار لوستل.	ســـــلېټونه مشـــق پـــاڼه پ۲ –۲۴– ۱

(۱) د دې درس په وړومبۍ برخه کې به زده کوونکي هغه څه تکراروي چې د ښار په باره کې یې زده کړي دي . ښوونکی کولای شي چې په درسي پلان کې پر شاملو پوښتنو سر ببره نورې داسې پوښتنې هم وکړي چې د زده کوونکو د خاصې دلچسپۍ وړ وي . له دې سره سره به ښوونکی د زده کوونکو ډاډګیرنه کوي چې ډېر لږ تون او ډېرې پوښتنې وکړي . که چېرې د کوم بل ښار نور رسمونه لاس ته راشي نو ودې ښودلای شي او بحث دې پرې وکړای شي .

(۲) که رنګه پنسلونه نه وي نو دا قدم دې پرېښودلای شي .

(۳) په لیکلو کې د رنګونو د نومونو د جمع اشکالو صحیح استعمال په واضح او خاص تلفظ پورې اړه لري . ښوونکی به د زده کوونکو له خوا د کلمو تلفظ ته پوره توجه کوي . د دې له پاره چې لیکل صحیح وکړای شي نو ښوونکی او زده کوونکي به د هغو حروفو آوازونه را په زړه کوي چې په تېرو درسونو کې یې زده کړي او مشق یې پرې کړی دی . دوی به تلفظ ته خامخا پام کوي .

رسمونه دې له مربوطو رنګونو سره سم رنګ شي . د جملو په تشو خایونو کې دې د رنګونو نومونه ولیکل شي (د شیانو د نومونو تاریته او بخښنه شکل ته دې پام وشي) :

د دې شیانو رنګونه څه ډول دي ؟	ب۲ | ۲۴ ـ ۱	
شین	دا قلمونه ـــــــــ دي .	
	دا رکشې ـــــــــ دي .	
سپین	دا موټرونه ـــــــــ دي .	
	دا سوزکی ـــــــــ دي .	
سور	دا بسونه ـــــــــ دي .	
	دا څپلی ـــــــــ دي .	
ژېړ	دا کورونه ـــــــــ دي .	
	دا ګوډی ـــــــــ دي .	
خړ	دا موټرسایکلونه ـــــــــ دي .	
	دا پیشوګانې ـــــــــ دي .	
تور	دا سایکلونه ـــــــــ دي .	
	دا خولی ـــــــــ دي .	

موضوع : د ښار سيل ؛ د درې صفتونو (وړې ، تړې ، ستړې) ليکل ؛ د يوه متن لوستل .	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. په واحد مذکر شکل کې د شپږو رنګونو د نومونو املا : شين ، سپين ، سور ، زېر ، خړ ، تور (کتابي علامه وګورئ) .	تـــوره تختـــه
۲. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۴ – ۲ عنوان لوستل : الف – د زده کوونکو له خوا په دوه دوه کسه لوستل ؛ دغه درې نوې کلمې لوستل (وړې ، تړې ، ستړې) . ب - پر وړې کېدلو ، تړې کېدلو او ستړې کېدلو باندې خبرې کول . ج – دا کلمې پر توره تخته لوستل .	مشـــق پـــانه پ۲ –۲۴– ۲
۳. د مشق پاڼې پ۲ – ۲۴ – ۲ د متن لوستل : الف – په دوه دوه کسانو د متن لوستل . ب – ټولګي ته وړومبی جمله په جمله د متن څو څو ځله لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) او بيا په دوه دوه يا درې درې جملو کې د متن لوستل (زده کوونکی به د لوستلو په وخت کې تر هرې کلمې لاندې ګوته وړي) .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه پ۲ –۲۴– ۲
۴. په دوو دوو کسانو په خاموشۍ سره کار کول : الف - پر سلېټونو د دغو درېو نوو کلمو د ليکلو مشق کول . ب – د مشق پاڼې په خالي خايونو کې د مناسبو کلمو ليکل . ج - له يوه انډيوال سره د متن د لوستلو مشق کول (وار په وار) .	ســـــلېټونه مشـــق پـــانه پ۲ –۲۴– ۲

تش خايونه دې په نوټو کلمو (وړې ، تړې ، ستړې) په مناسبه توګه ډک شي :

پ۲ | ۲۴ـ ۲

د ښار ترسيل وروسته ماشومان وړې ، تړې او ستړې شي

ماشومان په ښار کې هر څه ته ګوري . دوی ډېر ښايسته ښايسته شيان وينې . د لوبو شيان يې ډېر خوښ دي . دوی دا ټول شيان د بازار له دوکانونو څخه اخلي .

کله چې _____ شي ډوډۍ خوري . چې _____ شي نو اوبه څښي . چې _____ شي ، په موټر يا ګاډۍ کې کښېني او ښېرته خپل کلي ته ځي .

موضوع : ستاسو کلی خوښ دی او که ښار ؟ د یوه متن لوستل او بحث پرې کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. پر عنوان خبرې اترې کول . الف - د ښوونکی له خوا پر تخته د مشق پانې پ۲ -۲۴ - ۳ لیکل ؛ د زده کوونکي له خوا لومړی په خاموشی سره او بیا په لوړ آواز تولګي ته لوستل . ب- پر دغه سوال بحث کول : د زده کوونکو له خوا د دې خبرې له پاره ډېر دلیلونه ویل چې ښار یا کلی یې ولې خوښ دی .	تخته
۲. پر مشق پانه پ۲ - ۲۴ - ۳ کار کول : الف - د مشق پانې مطالعه کول ؛ د یوه کلي او د یوه ښار د رسم پېژندل . ب - لومړی کرښه په ګډه لوستل ؛ معلومول چې د ښې خوا جملې ښار او د کینې خوا جملې کلی تشریح کوي . ج - له یوه اندیوال سره د متن لوستل . د- څه چې ورته له متن څخه په ذهن کې پاتې شوي وي هغه ویل . هـ - تولګي ته متن کرښه په کرښه لوستل چې د کلي او ښار په مقایسه پوه شي ؛ پر ځینو بیانونو بحث کول . و - په عنوان کې شوې پوښتنې ته د ځواب ورکولو یو ځل بیا کوشش کول .	مشق پانه پ۲ -۲۴- ۳
۳. په خاموشی سره کار کول : الف - په دوو دوو کسانو د متن وار په وار لوستل (یو زده کوونکی د ښار او بل د کلي په اړه جملې لولي) . ب - له هرې خوا پر سلېټونو باندې د خپلې خوښې د دوو جملو د لیکلو مشق کول .	سلېټونه

پوښتنې ته دې مدلل ځواب وویل شي :

پ۲ | ۲۴ - ۳

ستاسو کلی خوښ دی او که ښار ؟

په ښار کې ډېر زیات خلک اوسیږي	په کلي کې لږ خلک اوسیږي .
دلته ډېر کورونه پاخه دي .	هلته ډېر کورونه کچه دي .
یو ځای لوی لوی دوکانونه دي .	بل ځای واړه واړه دوکانونه دي .
په ښار کې پاخه سړکونه وي .	په کلي کې کچه سړکونه وي .
په ښار کې ډېر بازارونه وي .	په کلي کې بازارونه نه وي .
دلته ډېر شور وي .	هلته چپه چپتیا وي .
د ښار هوا ناپاکه وي .	د کلي هوا پاکه وي .

درسي پلان ۲۵ ب ۲ - ۲۵ - ۱	موضوع : لمر شيان تودوي (۱)	
د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . بيوه تجربه کول ؛ په نتيجو خان پوهول . (۲)	
- اعلان کول چې دوی به د باندې خې او ګوري به چې پر هغه سلېتونو څه شوي دي چې په مختلفو ځايونو کې څه وخت مخکې اينبودل شوي وو .	- غوږ نيول .	يو څو سلېتونه
- بهر ته بوول .	- له بنوونکي سره بهر تلل .	
- يوځو زده کوونکي انتخابول چې په لمر او سيوري کې پرتو سلېتونو ته ګوتې ور وړي او چې احساس کړي هغه دي ووايي .	- د يوځو زده کوونکو له غوښتنې سره سم عمل کول ؛ د نورو مشاهده کول ؛ انتظار کول ؛ د يو څوزده کوونکو ويل چې په سر کې پروت سلېټ په سيوري کې د پراته سلېټ په نسبت تود دی .	
- نورو زده کوونکو ته موقع ورکول چې دغو سلېتونو ته ګوتې ور وړي او د مشاهدې تصديق وکړي .	- تکرار کول ؛ خپل معلومات وړاندې کول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د فرق په باره کې يې څه فکر کوي .	- وجه معلومول : لمر سلېتونه تاوده کړي دي .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې يوځو داسې شيان وښيي چې په لمر کې تودېږي .	- معلومول او بنودل ؛ مثلاً : کاڼي ، خښتې او داسې نورد سيوري په نسبت په لمر کې تاوده وي.	
- زده کوونکي ټولګي ته بهرته راوستل .	- ټولګي ته بهرته راتلل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې بهر يې د څه تجربه کړي ده هغه يو خل بيا تشريح کړي .	- تجربه تشريح کول او د نتيجې بيانول .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د شيانو د تودېدو په باره کې پر خپلو نورو تجربو خبرې وکړي .	- تر کومه چې دوی ته معلوم يا زده دي د لمر د اثر بيانول .	
	۲ . له تجربې څخه ترلاسه شوبو معلوماتو ته په بيوه رسم کې له بنودل شوي حالت سره رابطه ورکول:	
- له زده کوونکوځخه پوښتنه کول چې مشق پاڼه۲-۲۵-۱ مطالعه کړي او څه چې په کې وينې هغه ووايي .	- مشق پانه مطالعه کول ؛ حالت په تفصيل سره بيانول .	مشق پانه پ۲ -۲۵- ۱
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په لمر کې څه دي او په سيوري کې څه دي ؟	- هم دغه شان د اشخاصو او شيانو نومونه اخيستل .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې ولې ځينې شيان او اشخاص په لمر يا په سيوري کې دي ؟	- مثلاً ويل : د سون لرګي په لمر کې ښه وچيږي . جامې په لمر کې ژر وچيږي . د ماشوم ، نيا او پيشو له پاره لمر ډېر تود دی او داسې نور .	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې آيا دوی ته نورداسې شيان معلوم دي چې په لمرکې وچيږي ؟ (۳)	- څه چې دوی ته معلوم دی ، د هغو ويل .	
	۳. د نورو کلمو لوستل او ليکل :	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې له انډيوال سره د مشق پاڼې کلمې ولولي، د زده کوونکو له خوا د لوستلو په وخت دوران کې دغه کلمې پر توره تخته ليکل .	- په دوو دوو کسانو د کلمو لوستل ؛ کلمې ټولګي ته لوستل .	مشق پانه پ۲ -۲۵- ۱
- کلمو ته بې ترتيب څخه اشاره کول .	- کومو کلمو ته چې اشاره کيږي ، دهغو په ګډه لوستل .	توره تخته
- له زده کوونکو غوښتل چې د دې کلمو په استعمالولو سره د رسم مطابق جملې ووايي .	- جملې ويل ؛ لکه : لرګی په تاوده لمر کې دي . پيشو په يخ سيوري کې ده . او داسې نور .	

- له زده کوونکو غوښتل چې په دې څلورو کلمو دوه داسې جملې معلومې کړي چې تر رسم لاندې ولیکلې شي ؛ جملې پر توره تخته لیکل . - له زده کوونکو په خاموشۍ د کار کولو غوښتنه کول : الف – لومړی دځلورو کلمو او بیا د دغو دوو جملو پر سلېټونو د لیکلو مشق کول . ب – تر رسم لاندې دغه دوه جملې بڼه بنایسته لیکل . ج – رسم رنګول .	- مناسبې جملې معلومول ؛ لکه : لمر تودی دی . سیوری یخ دی د بنوو لیکلو ته کتل ؛ د جملو لوستل. - د غوښتنې مطابق په خاموشۍ سره کار کول .	سلېټونه

(۱) دا درس دې په داسې ورځ وښودل شي چې لمر وي . که د دې درس د بنودلو په ورځ لمر نه وي ، نو بنوونکی دې په دغه ورځ دا درس نه بنیي او د یو بل درس تکرار دې وکړي .

(۲) د دې درسي پلان د تطبیق له پاره د تجربې عملي کول ډېر ضروري دي ، ځکه چې د طبیعت مطالعه او ژوره مشاهده د تدریس یوه برخه ده او دا د حقیقي ژوند په ډګر کې کول په کار دي . یوازې دا ویل چې شیان په لمر کې تودېږي ، مناسب نه دي . په زده کوونکو کې د مشاهدې په وسیله ذریعه تجسس پیدا کول په کار دي چې د وجوهاتو پوښتنه کول زده کړي . په دې تجربه کې له دوی څخه دا پوښتنه کول په کار دي چې د سیور په نسبت په لمر کې پروت سلېټ ولې تود دی ؟ بنوونکي ته په کار دي چې دا تجربه د درسي پلان تر تطبیق څه نا څه یو ساعت دمخه تیاره کړي . بنوونکی ته د دې تشریح کول په کار دي چې زده کوونکي به له سلېټونو سره د یوې تجربې کولو له پاره بهرته خي . یو څو سلېټونه به په لمر او یو څو به په سیوري کې ږدي . بنوونکی ته په کار دي چې دې خبرې ته توجه وکړي چې ځینې سلېټونه واقعاً لمر ته بنکاره پراته دي او لمر پرې نېغ (عمودي) لګیږي . د دې تجربې مقصد دا دی چې لمر شیان تودوي او په سیوري کې شیان یخ وي . زده کوونکو ته په کار دي چې دا تجربه په احساسولو او لمسولو سره په خپله وکړي .

(۳) کېدای شي چې ځینو زده کوونکو ته معلومه وي چې ځینې مېوه ، ، غوښه او ماهی په لمر کې د وچولو له پاره ایښودل کیږي . که دا شیان موندلای شي نو مثالونه یې بنودل په کار دي .

د رسم په باره کې دې خبرې او بحث وشي . رسم دې رنګ شي :



موضوع : د لمر تودوخه همېشه یو ډول نه وي	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. یو خل بیا د مشق پاڼې پ۲ – ۲۵ – ۱ رسم مطالعه کول : الف – پاسنۍ کلمې او لاندنۍ جملې لوستل . ب – تشریح کول چې رسم د لمر او سیوري په باره کې څه ښیي .	مشق پاڼه پ۲– ۲۵– ۱
۲. د اوړي اوژمي په منځ کې توپیرونه معلومول : الف - د ښوونکي د سوال (په رسم کې کوم موسم ښودل شوی دی ؟) ځواب ویل ؛ تشریح کول چې په رسم کې ولې د اوړي موسم ښکاري . ب – بیانول چې د انګړ حالت به په ژمي کې څنګه ښکاري . ج - په دې باره کې خبرې کول چې خلك په ژمي کې لمر ولې خوښوي .	
۳. پر دې سوال چې " په ژمي کې دومره ګرمي ولې نه وي څومره چې په اوړي کې وي ؟ " بحث کول ؛ دلیلونه ویل ؛ مثلاً : لمر په اسمان کې دومره اوچت نه وي ؛ په ژمي کې لمر دومره وخت نه وي څومره چې په اوړي کې وي ؛ ورځې لنډې او شپې اوږدې وي ؛ په ژمي کې د شپې او سحر وختي ډېره یخني وي ؛ کله چې وریځ وي نو ډېره یخني وي .	
۴. په مشق پاڼه پ۲ – ۲۵ – ۲ کار کول : الف – د عنوان لوستل ؛ ځان پرې پوهول او بحث پرې کول . ب – د ښوونکي له خوا د نویو کلمو او عبارتونو (غوږوو ، فایدې ، وچ ، ډډو ، د سون لرګي سابه اینبودل) پر تورې تختې لیکل او په لوستلو کې یې د زده کوونکو لاز ښوونه کول . د زده کوونکو له خوا په تکرار سره لوستل . ج – له یوه انډیوال سره د ټول متن لوستل ؛ د ښوونکی له خوا مرسته کول . د – د زده کوونکو له خوا هغه څه ویل چې دوی یې لولي ؛ بحث پرې کول ؛ هـ - ټولګي ته د متن لوستل ؛ وړومبی یو زده کوونکی یوه جلمه ، بیا یو زده کوونکی دوه یا درې جملې .	مشق پاڼه پ۲– ۲۵– ۲ تورې تختې
۵. پر سلېټونو د وړومبیو درې جملو نقلول او مشق کول .	سلېټونه

د متن په پای کې شوې پوښتنې ته دې ځواب وویل شي :

پ۲ | ۲۵ - ۲

د لمر فایدې

خلک په ژمي کې لمر ته کښېني . په اوړي کې سیوري ته کښېني . لمر تود او سیوری یخ وي .

لمر ډېرې فایدې لري . موږ لمر ته مینځلې جامې غوږوو . د سون لرګي هم لمر ته ډډو چې وچ شي . خلک سابه هم په لمر وچوي . د خوږو لوښي هم تر مینځلو وروسته لمر ته اینبودل کېږي .

تاسو له لمر څخه څه کار اخلئ ؟

درسي پلان ۳ پ ۲ - ۳ - ۱	موضوع : د هغو افعالو معرفي کول چې د تولګي فعاليتونه تشريح کوي (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . *د تولګي د فعاليتونو په باره کې پر يوه رسم خبرې کول :*	
- له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ - ۳ - ۱ د مطالعه کولو غوښتنه کول او دا ويل چې دوی څه وينې . (۲)	- مشق پاڼه مطالعه کول ؛ څه چې وينې هغه بيانول .	مشق پاڼه پ۲ - ۳ - ۱
- د هغه حالت د ويلو غوښتنه کول چې په رسم کې ښودل شوی دی .	- معلومول چې ښوونکی هغه وخت تولګي ته را ننوخي چې ټول زده کوونکي په خپلو خپلو کارونو لګيا وي .	
- تولګي ته د ښوونکي د راننوتلو په وخت کې چې زده کوونکي کوم کار کوي د هغه د تشريح غوښتنه کول . (۳) د بحث رهنمايي کول .	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا په رسم کې د ښودل شويو ماشومانو د مختلفو فعاليتونو نومونه اخيستل ؛ ويل چې کله ښوونکی را ننوخي نو دوی څه کوي ؛ د رسم په باره کې تبصرې کول .	
	۲ . *د تولګي له فعاليتونو سره د ترليو فعلونو لوستل :*	
- غوښتنه کول چې يوځل بيا په رسم کې د ماشومانو د فعاليتونو نومونه واخلئ ، څکه چې هغه په دې کې ځينې پر تورې تختې ليکل غواړي ؛ د [هغه] او [هغوی] په استعمالولو سره پر تورې تختې د هغو افعالو ښايسته ليکل چې زده کوونکو يې سپارښتنه کړې ده ؛ لکه : " هغه ليکي . " ، " هغوی خبرې کوي . "	- د فعاليتونو نومونه اخيستل ؛ مثلاً: يو ليکي ، يو شمېر کوي ، يو څو خبرې کوي او داسې نور .	تـــوره تختـــه
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دا کلمې ولولئ .	- د لوستلو کوشش کول ؛ له غوښتنې سره سم د جلا جلا زده کوونکو له لورې تولګي ته لوستل .	
- له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې پ۲ - ۳ - ۲ د کتلو غوښتنه کول او معلومول چې آيا دوی په غټو حروفو ليکلې کلمې لوستلای شي ؟	- معلومول چې دا کلمې هم هغه څه ښيي چې زده کوونکي يې کوي ؛ يو څو معلومې کلمې پېژندل ؛ د يوه انډيوال په مرسته د دې کلمو د لوستلو کوشش کول .	مشق پاڼه پ۲ - ۳ - ۲
- له جلا جلا زده کوونکو څخه تولګي ته د نويو کلمو د لوستلو غوښتنه کول .	- د جلا جلا زده کوونکي له خوا لوستل ؛ د نورو غوږ نيول ؛ تکرارول .	
- له جلا جلا زده کوونکو څخه د متن د يوې يوې جملې د لوستلو غوښتنه کول ؛ د ضرورت په وخت کې مرسته کول .	- د جلا جلا زده کوونکو له خوا په اوچت آواز لوستل (يو زده کوونکی يوه جمله) ، د تولګ له خوا غوږ نيول ؛ د يو څوو تکرارول .	

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

د ښوونکي لارښود

د دوهم ټولګي پښتو

بـــيفـــيـــر

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړې

BEFARe

د ښوونکي لارښود

د دوهم ټولګي پښتو



بـيـفـيـر

د افغـان مهـاجـرو لـه پـاره اسـاسي زده کړې

Title of the book :
Teacher's Guide
Pashto, Grade II

Editorial Board :
Nurul Habib Nisar
Mohammad Nasim Qasimi
Prof . Dr. M . R . Elham

Composer :
Noor Mohammad Noor

Publisher :
GTZ – BEFARe
Production & Publication Section

No. of Copies : 1000
Revised Version, March, 2001

د کتاب نوم :
د ښوونکی لارښود
پښتو ، د دوهم ټولګي له پاره

کتونکي ډله :
نور الحبیب نثار
محمد نسیم قسیمي
پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام

کمپوزر :
نور محمد نور

خپروونکی :
جي . تي . زیډ – بیفیر
د تألیف او خپرونو څانګه

تیراژ : ۱۰۰۰
تجدید نظر شوي نسخه ، حوت ۱۳۷۹

بسم الله الرحمن الرحيم

پېژند ګلوي

د ښوونکي دغه لارښود او ورسره دزده کوونکو د کار کتاب او نور درسي مواد د دوهمو ټولګيو د پښتو ښوونکو ته يو شمېر ضروري معلومات ورانديږ کوي او له دوی سره د پښتو ژبې په تدريس کې مرسته کوي .

۱. دغه لارښود شپېته (٦٠) درسي واحدونه لري . هر واحد يو مفصل درسي پلان او دوه تعقيبي درسونه لري چې د زده کوونکو مشق پانې، کيسې ، لوبې ، د درسي موادو له پاره لارښوونې او د تدريس د طريقو په باره کې خپنې تبصرې ورسره شاملې دي . له ښوونکي څخه هيله کېږي چې په هره اونۍ کې دوه درسي پلانونه له اړوندو تعقيبي درسونو سره تدريس کړي . دا لارښود ښوونکي ته د ورځنۍ درس له پاره يو څه لارښوونه کوي . البته ، ښوونکی اجازه لري چې د ټولګي له خصوصياتو سره سم نور ضروري مشقونه هم تيار کړي.

۲. دا درسي مواد اړونده ښوونيز نصاب تعقيبوي. يعنې د ژبې په تدريس کې نورو موضوعګانو لکه ديني، تربيتي ، ملي ، ټولنيز ، جغرافيايي ، ساينسي او نورو ته ځای ورکړل شوی دی . طبيعي خبره ده چې دغه موضوعګانې د ماشومانو له چاپېريال سره سمون لري او په مناسبه طريقه به ښودل کېږي .

لاندنيو ټکو ته پاملرنه ضروري ده :

الف – ښوونکی به په ورځنۍ تدريس کې دې خبرې ته پوره پام کوي چې زده کوونکي لا د لوست او ليک د زده کړې په مرحله کې دي . ځکه نو هر درس د تېر درس پر اساس جوړېږي او ورو ورو د لغتونو په زېرمه او پوهه کې زياتوالی راځي .

ب – هر درسي پلان له تعقيبي درسونو سره يو ځای درې پر له پسې درسي ساعته وخت اخلي . نو د اړونده ښوونيز نصاب له لارښوونې سر سم د ژبې د تدريس له پاره زيات وخت ورکړای شوی دی .

ج – د هر درس په آخريو قدمونو کې د زده کوونکو د پټې خولې او ځانګړي کار له پاره سپارښتنه شوې ده . کله هم چې ښوونکی بل ټولګي ته ځي ، زده کوونکي يوازې پاتې کېږي . نو وخت په وخت دې سر ور ښکاره کوي او ګوري دې چې دوی جلا جلا يا له انديوالانو سره پر دغو قدمونو باندې کار کوي او که نه ؟ خو که ښوونکی په ټولګي کې پاتې کيږي نو د ضرورت سره سم دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي .

۳. د ښوونکي د لارښود او د زده کوونکو دکار د کتاب د استعمال په باره کې ځینې لارښوونې :

الف – ښوونکی به بشپړ درسي واحد همېشه مخکې له مخکې لولي . له دې سره به ښوونکی د اړوندو لارښوونو له پاره خان پوره چمتو کړای شي ؛ مثلاً : په درس کې استعمالېدونکي شیان به تولګي ته برابر کړای شي ؛ خان به له یوې لوبې سره اشنا کړای شي ؛ یوې لوبې یا یوه میدان ته د وتلو له پاره به ښه تیاری وکړای شي اوداسې نور . دغه ډول مطالعه او مخکښې تیاری به ډېر وخت نه نیسي. خو د تدریس په بریالیتوب کې به پوره مرسته وکړي .

ب – ښوونکی به د کار د کتابونو د پاک ساتلو ټه باره کې زده کوونکو ته لارښوونه کوي . یعنې په درس کې تر استعمال مخکې به ، زده کوونکي په مشق پانو کې نه څه کربنې کاږي او نه به په کې څه لیکي . ښوونکی دې د ماشومانو لارښوونه او مرسته وکړي چې لیکل او تصویرونه جوړول او رنګول په غور سره وکړي . ځومره چې د ماشومانو مودې په ښوونځي کې ډېره تېریږي ، هومره ورسره د خپلو کتابونو د پاک ساتلو روحیه پیدا کیږي .

ج – ښوونکی به تولې مشق پانې د ښوونکي په لارښود کې وموسي . خو دلته د ځینو مشق پانو اندازې وړې شوې دي. ښوونکی به تر تدریس مخکې اصلي مشق پانه مطالعه کوي چې له تولو تفصیلاتو څخه یې ښه خبر شي .

د – په مشق پانه کې یا پر سلېټونو باندې د څه شي رسمول او لیکل به په پوره غور او احتیاط سره کیږي.

i. په رسمولو او رنګولو کې به ماشومانو یو څه تجربې حاصلې کړې وي او کولای به شي چې تصویرونه ښه جوړ او رنګ کړي . ښوونکی به د لا زیاتې اصلاح په خاطر په ځینو مواردو کې ورته ځینې لارښوونې کوي .

ii. د مشق پانو لیک د ښوونکي او زده کوونکو له پاره نمونه او مثال دی . توري او کلمې په یوه ډول لیکل شوي دي چې د ماشومانو له پاره یې پېژندل او لوستل آسان وي . کله چې ښوونکی پر توره تخته څه لیکي نو د لیکلو همدغه طریقه به غوره کوي . دا ډېره ضروري خبره ده چې ښوونکی به صفا صفا ، ورو ورو او غټ غټ لیکل کوي . دا به له زده کوونکو سره په آسانه لوستلو او روښانه لیکلو کې مرسته وکړي .

هـ – په ډېرو درسي پلانونو او تعقیبي درسونو کې سپارښتنه شوې ده چې زده کوونکي دې د کار د کتابونو د ښایسته کولو له پاره تصویرونه رنګ کړي . دا مشقونه له زده کوونکو سره د حسن خط ، ښکلایېز ذوق او داسې نورو مهارتونو په ښه کولو کې مرسته کوي . که چېرته رنګه پنسلونه نه وي ، زده کوونکي کولای شي چې تصویرونه یا د هغوی ځینې برخې په غور سره په پنسل توري کړي .

۴. د درسي موادو د اساسي اصولو په باره کې ځینې تبصرې :

الف – درسي مواد زده کوونکو ته مرکزي حیثیت لري . د دې خبرې مطلب دا دی چې د زده کوونکو فعالیتونه دې د زده کړې او تدریس هسته وګرځول شي . یا په بله ژبه ، د زده کړې په عملیه کې دې زده کوونکو ته فعاله ونده

ورکړای شي او ټول فعالیتونه دې د ماشومانو د ورځنۍ ژوند په تجربو ، پوهې او قابلیت باندې بنا کړای شي .

د ښوونکي د لارښوونې په رنا کې به زده کوونکي د کار د کتاب او عملي کارونو په وسیله بنه زده کړه وکړي ؛ خپل فکر به په خپله په کار واچوي او د حل لارې به یې پیدا کړي . دې او منظم مشقونه زده کوونکي د دې جوګه کوي چې خپلمنځي رابطې ټینګې کړي او خپلو قابلیتونو ، مهارتونو او تجربو ته وده ورکړي .

ب - زده کوونکي یوازې له کتابونو څخه زده کړه نه کوي . دوی هغه وخت بنه زده کړه کولای شي چې په پوره مینه او پاملرنې سره د زده کړې په عملیه کې برخه واخلي او خپل ښکلا ښکل حواس ؛ لکه : ستړکې ، غوږونه ، لاسونه او نور په کار واچوي . له همدې امله په کار دي چې د تدریس په جریان کې ځومره چې ممکن وي له حقیقي شیانو څخه کار واخیستل شي . د دې له پاره چې زده کوونکي حقیقي حالت او شیان په طبیعت کې مشاهده او مطالعه کړي نو بنه به دا وي چې د زده کړې له پاره کله کله له ټولګي څخه دباندې زمینه برابره کړای شي .

ج - په لومړي ټولګي کې د لوستلو زده کړه یوه صوتي طریقه ده . د دې مطلب دا دی چې زده کوونکي به لومړی د تورو آوازونه زده کوي او د هغو په منځ کې به توپیر کوي او بیا به یې له نومونو او شکلونو سره آشنا کیږي . د دوهم ټولګي ښوونکی به هم د نویو کلمو په زده کړه کې دا طریقه جاري ساتي . ښوونکی به په خپله د الفبې د ټولو تورېو د آوازونو او نومونو په توپیر باندې ځان پوهوي . که زده کوونکي کومه کلمه نه شي لوستلای ، یا د تورېو په مشقونو کې له مشکل سره مخامخ شي نو ښوونکی به زده کوونکو ته داسې لارښوونې کوي چې د تورېو اړونده آوازونه هغوی ته ور په زړه کړي او په دې توګه ستونزه هواره شي .

۵. د ښوونکي دغه لارښود ، چې د پاک - جرمن اساسي زده کړې پروژې پخوا تیار کړی و او [بیفیر] له سره کتلی دی ، هر ډول بدلون او اصلاح مني . که اوس هم څه ابهام یا ستونزې په کې پاتې وي ، هیله ده چې د جي . تي . زیډ - بیفیر د تألیف او خپرونو ځانګې ته په لیکلې توګه په ګوته شي .

په درنښت